# کونړ

## غرونه ، غورځنګونه

ولي الله ملکزی

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:

# کـــونـړ

## غرونه، غورځنگونه


| | |
|---|---|
| ليکوال | ولي الله ملکزی |
| کمپوز | پخپله ليکوال |
| ډيزاين | عبدالرحمن "دانش" |
| خپرندوی | هاشمي خپرندويه ټولنه/ جلال اباد |
| چاپ وار | لومړی |
| چاپ شمېر | ۵۵۰ ( پنځه نیم سوه ) |
| چاپنېټه | ۱۴۰۰ل/۲۰۲۱م |




**د چاپ حقوق خوندي دي**


### د تر لاسه کولو پتې:


ننگرهار/ هاشمي کتاب پلورنځی، بزازۍ څلور لارې، اسحاقزی مارکېټ، جلال آباد

ښار. اړيکشمېرې :۰۷۸۰۰۰۶۱۶۶ - ۰۷۷۷۶۱۸۰۱۷

ننگرهار: ميهن کتاب پلورنځی /گرديز: علمي کتاب پلورنځی/کندهار :عرفان کتاب پلورنځی/خوست: ملي کتاب پلورنځی /کابل: اکسوس او سروش کتاب پلورنځي پېښور: قلم کتاب پلورنځی.



# ډالۍ!

دا کتاب د هغه ګران استاد روح ته ډالۍ کوم چې
د افغانستان د دوو سترو شخصیتونو،
ولسمشر برهان الدین رباني او شهید وزیر، وفي الله سمیعي
ترڅنګ یې په زرګونو کونړیان هم شاګردان دي.
دا کتاب هغه غازي ته ډالۍ کوم چې په میاشتو میاشتو به له کوره لیرې؛
په سپینه ږیره؛ د روسي ښکیلاک خلاف؛ په مورچل کې پروت شپې رڼې کولې.
دا کتاب هغه شمله ور کونړي ته ډالۍ کوم چې د عمر ډیره برخه یې
پګړۍ تړله.
دا کتاب هغه زاهد ته ډالۍ کوم چې د پالکو او کوچو لسمه برخه به یې
د زکات په څیر اړمنو ته ورکوله.
په فقر کې دا مستغني انسان، بل څوک نه دی؛
هغه زما اروا ښاد پلار، استاد محمد امین ملکزی دی.
ای، ځما د زړه په تل کې میشته پلاره!
دا چې تا ته خپل هیواد او هیوادوال، کونړ او کونړیان ګران وو،
نو د کونړ په هکله دا کتاب دې ستا اروا ته ډالۍ وي.

ستا ځوی
ولي الله ملکزی

## په کونړۍ مینه!

محمد اکبر کرگر

د ملکزي صیب دې کور آباد وي چې په دې ښکلو کرښو اوعناوینو یې یو وار بیا زما مخ خپل ماشومتوب، زلمیتوب او تېرعمر ته ستون که، راته یې وویل: « دا یوه هڅه مې کړې چې ستا په نظر به څنګه وي؟» ما د دې اثر چې ملکزي صیب په کې زیات کړاو ګاللي ولیده، لومړې خو د هغه د احساس قدردانی کوم او بله دا چې یو څوک له خپل کلي او کوره لیرې شي، له خپلې دیرې، هوجرې او هدیرې لیرې لاړ شي، له خپلو ونو او غنو لیرې شي نو بیا یوه ژوره نوستالژیا د تیر د یاد په پار د هغه په اندامونو لکه خپسه، خوله لګوي۔ پر ما یې هم دا کانې وکړې. زه چې هرکله (هسې خو ټول افغانستان زموږ په تنګ او مساپر زړه کي پروت دې) د کونړ نوم اورم نو دا شعر مې سم دواره خولې او ذهن ته راځي چې وایي:

ای مسته، مسته کونړه مسته

د غم جاله مې درکې لاهو کړه

اوس یې در نیسه، ای زبردسته

یو وخت قدرمند، شاه محمود میاخیل صیب خپل یو ډیر با ارزښته اثر چې نوی چاپ شوي وو، راولیږه. کله چې مې کتاب خلاص کړ، یوې کلیمي زما ټول تن او بدن وریږداوه او هغه دا وه «په کونړۍ مینه!» زه همدې کلیمې دوه شیانو ته په فکر کي یوړم؛ یو د کونړ ولسونه او بل د کونړ طبعیت، دا دواړه ستر موهبتونه دي۔ د کونړ د خلکو مینه، صداقت، ربنتینولي، میړانه په زغرده خبره، بې ترهې پریکړه لکه د کونړ د سرشاره

طبعیت نه مالا مال هستي ده. رښتیا هم، هلته چې څوک د یو ولسي کونړي سره مخامخ شي، نو ټېر در سره جنګوي. د دې ټېر له لارې د خپل زړه مینه در سره شریکوي، صداقت درسره شریکوي او لکه د کونړ باعظمته غرونه، تا ته په ښه بده کې لکه د کونډ غر دریږي۔ حکومتونه هغوئ نه شي رعیت کولي، بلکې د هغوئ دود او سنت داسې ټینګ، سپیڅلي او د درناوي وړ قانون دې چې هر زور ور ورته غاړه ږدي.

که ته د یو کونړي کور، یا دېري او هوجري ته ورشې، هغه که تازه د خپل پټي او کار نه راغلې وي، پایڅې به یې لمدې وي، خولې به پرې راماتې وي، خو هر څه چې په کور کې لري، ستا مخ ته به یې کیږدي او درته وایي به « تور توتان، له یار نه قربان» د کونړي په هماغه سپیره سوکړک او د شوتلو په سبو کې داسې خوند وي چې د دنیا د سترو رستورانونو په خوړو کې نه وي۔ دا کیفیت په څه کې دې؟ کیفیت یې په دې کې دې چې کونړی مینه په خوړو کې، په سوکړک او د شوتلو په سبو کې یوځاې شوې وي او هغې ته یې جلا خوند او مزه ورکړې وي۔ په دغو خوړو کې روحانیت او معنویت غځیدلی وي، مینه او صمیمیت په کې وي او ریا او تظاهر ترې تښتیدلی وي۔ نو همدا کونړی مینه ده او همدا د کونړیانو ځانګړتیا ده۔

زه او ټول کونړیان، د درانه ملګري ولي الله ملکزي پوروړي یو، چې زموږ د بیوزلي خو په هوډ او عزم کې د هندوکشي کونړ یادونه یې کړې ده. ښه یادونه یې کړې ده. غرونه یې ورله ستایلي دي. درې یې ورله ستایلې دي او باتور ولس یې ستایلی دی۔ ملکزي ته مبارکي وایم او په دې برخه کې یې نوره زیاته بریا غواړم۔

( لندن / د اپریل نهمه / ۲۰۲۱ )

# د کونړ غرونه، غورځنګونه او ښاغلی ملکزی

## حيات الله پياوړی

زه د کونړ د غرونو، غورځنګونو او عامو کونړيانو سره له ډيره وخته څه نا څه بلدتيا او خوږه راشه درشه لرم. هلته يو شمير درانه ملګري او دوستان لرم چې د ټولو په پيژندګلوۍ، دوستۍ او ملګرتوب زښت ډير وياړم. سره له دې چې زه د ډيرې لږې پوهې او تجربې څښتن او يو غريب افغان وګړی يم، خو ډير دوستان لرم چې د هغو خوږو دوستانو په ډله کې مې يو هم د همدې کتاب ليکوال، ګران دوست او اشنا ښاغلی ولي الله ملکزی صاحب هم شامل دی. دا چې زه د کونړ د ولسونو، غرونو او غورځنګونو سره ولې او څرنګه بلدتيا لرم، د هغه لاملونه روښانه او څرګند دي. يو لامل يې دا دی چې زه د لومړني ښوونځي له مهاله بيا تر اوسه د جغرافيې د مضمون سره يوه ځانګړې مينه لرم. البته د يو مضمون په توګه د خپل هيواد د ولايتونو او بيلا بيلو سيمو سره يوازې فطري مينه نه، بلکې د نړۍ د جغرافيې او د هغې پورې نورو اړوندو موضوعاتو او معلوماتو سره هم مينه لرم. د کونړ سره زما ځانګړې بلدتيا او مينه له دې امله ده چې د جهاد د لومړيو کلونو د پيل راهيسې مونږ هم هلته ډير جهادي او مبارز ملګري او دوستان درلودل، چې البته يو شمير يې په ډيره ميړانه د جهاد او مبارزې په دې برحقه او مقدسه لار کې خپل سرونه ښيندلي دي او د خدای شکر دی يو شمير لا اوس هم ژوندي دي.

د کونړ د غورځنګونو سره زما د مينې او څه نا څه زما خبرتيا له دې سرچينه اخلي چې زه د يو نيمګړي ژورناليسټ او همدارنګه د يو داسې کس په توګه چې د علمي او سمو معلوماتو، ګران هيواد افغانستان د خپلواکۍ او ښيرازۍ او افغان ولس د سرلوړۍ، پرمختګ او سوکالۍ سره مينه لرم، ما ته دا فرصت را په برخه کړی چې هم د خپلې خاورې او هم خپل ولس سره په پرتليزه توګه ښه پياوړې او نژدې اړيکې او پيوند ولرم. د ملکزي صاحب د کتاب د لوستلو پر مهال له داسې موضوعاتو او اشخاصو له نومونو سره مخامخ شوم چې ما لا پخوا ډير ښه پيژندل، خو د کتاب د مطالعې له برکته د هغوی نومونه راته بيا مخ ته راغلل او ډير ارزښتمند يادونه را تازه شول. البته ځينې داسې نومونه او موضوعات هم مخ ته راغلل چې زما لپاره يا هغه نوي وو او يا مې معلومات د هغوی په اړه نيمګړي درلودل، چې د دی کتاب د مطالعې له امله ور سره اشنا يا مې معلومات يو څه نور غني شول.

څومره چې زه معلومات لرم، نو ښاغلی ملکزی په يوې نامتو، علمي، روڼ اندې، جهادي او مبارزې لويې کورنۍ کې زيږيدلې او ور سره تړاو لري. په خپله هم د ښه لوړ تعليم لرونکی او يو نامتو ژورناليسټ او ليکوال دی. زه د ملکزي صاحب سره د څو ډوله پيژندګلوۍ تر څنګ اوس نژدې ملګرتيا هم لرم. د نورو ډيرو ځانګړنو تر څنګ هغه يو دروند، متدين، مسلمان او په وطن مين افغانپال، ميلمه پال او د پراخه اړيکو درلودونکی افغان انسان دی. دلته په لنډه توګه زه غواړم تاسې سره د خپلې پيژندګلوۍ د بيلا بيلو لاملونو يادونه وکړم. لومړی دا چې په ټوليزه توګه د مطالعې سره زما مينې، د دې ښاغلي له نوم سره څه نا څه بلد کړی وم.

دوهم دا چې د ده ښاغلي د کورنیو له نورو غړو سره زه بلد وم او د هغوی له لارې مې هم دی پېژانده.

د هغه د کاکا زامن لکه د بیلګې په توګه د کابل پوهنتون پخوانی استاد عبدالقادر ملکزی زما مشر او زما سره د یو سنګر ملګری دی. ښاغلی ډاکټر محمد فرید بزګر (ملکزی) او زه په پېښور کې په داسې یوه مؤسسه کې همکاران وو چې په نشه یي توکو د روږدو ناروغانو روغتیایي، اقتصادي او ټولنیزه بیا رغونه یې تر سره کوله. د ډاکټر فرید بزګر په واسطه د هغه اروانښاد پلار او د هغه یو ورور طارق بزګر (ملکزی) سره چې د دعوت د رسنیو مسئول چلونکی دی، بلد شوی وم. د دوی کورنۍ بل ځوان غړي او با استعداده کدر، ښاغلي قدرت الله هیوادپال ملکزی مې هم په یوه اداره کې همکار و. په غیری مستقیمه توګه د هغه د کورنۍ نور ښاغلي غړي هم پېژنم خو د لیکنې د اوږدیدو د مخنیو په خاطر د هغوی د نومونو د یادونې څخه لږ څه څنګزن تیریږم. دریم دا چې له دوهم ځل کډوالۍ وروسته زما د اوسیدو لومړۍ قرارګاه یا زما د ورور د کور څخه وروسته لومړی کور چې زه هغه ته د میلمه په توګه لاړم، له نیکه مرغه هغه د ملکزي صاحب کور و چې د یو خپلوان په ذریعه هلته ولاړم او د ملکزي صاحب سره د مخامخ پیژندلو له نعمت څخه برخمن شوم. او څلورم داسې وخت هم راغی چې ملکزی صاحب او زه په یوه اداره کې د یو څه وخت لپاره سره همکاران هم وو.

ښایي د همدې پورته پیژندګلویو او اړیکو له برکته به وو چې ښاغلي ملکزي پر ما د دې کتاب د لوستلو او له نظر څخه تیرولو باور وکړ. زه یې له دې باور څخه ډیر منندوی یم. د کونړ ولایت په اړه د ده دې کتاب د لیکلو او د هغه د دې کوښښ د زړه له تله او تود هرکلی او د زیار ګاللو

ستاینه یې کوم. دا کتاب د کونړ ولایت د بشپړې جغرافیې، اقتصاد، سیاست، خلکو د عقایدو، دودونو، قومي جوړښتونو، ژبو، د ځایي اوسیدونکو ټولنیز ژوند په اړه د غني معلوماتو درلودونکی کتاب دی، نو ځکه یې لوستل یوازې د کونړي عزیزانو لپاره نه، بلکې د نورو هیوادوالو لپاره هم ډېر ګټور بولم. هیله ده د هیواد د نورو ولایتونو اوسیدونکي هم په خپل وار د خپلو ولایتونو په اړه همداسې د هر اړخیزه او اړینو موضوعاتو او معلوماتو درلودونکی کتابونه ولیکي. دا کار به زموږ د هیواد د نورو ولایتونو په اړه لوستونکو ته له یو پلوه ډېر ښه ګټور معلومات چمتو او وړاندې کړي او له بله پلوه به د خپل هیواد د بیلابیلو سیمو سره زموږ د اوسني او راتلونکي نسل اړیکې او پیوندونه لا پیاوړې کړي.

ټینګ باور لرم چې د نوموړي کتاب د لیکلو پر مهال، ښاغلي ملکزي صاحب زیات وخت لګولی او کوښښ یې کړی چې ژور، باوري او ریښتینې معلومات راټول کړي. سره له دې چې دا کار ډېر او نه ستړی کیدونکي زغم او زیار غواړي، خو ښاغلي ملکزي دې ستړیا ته په نره غاړه ایښې ده او د کتاب د لیکلو لپاره یې ډېر هر اړخیز معلومات او موضوعات را ټول کړي او ترتیب کړي دي. زما ارزونه داسې ده چې هغه د دې کار په تر سره کولو کې د یو څه بیړې څخه کار اخیستی دی. زما غوره وړاندیز به هغه ته دا وه چې هغه باید له بیړې کار نه وای اخستی او لا نور کار یې پرې کړی وای، تر څو یې په شیدو لږ څه سوچه غوړي هم اچولای وای. سره له دې چې هغه د معلوماتو د راټولولو پر مهال د هغو د پخلي او کره کولو لپاره د بیلابیلو سرچنیو او اشخاصو څخه ګټه اخیستې ده. بیا هم په ځینو مواردو کې سړي ته داسې بریښي چې ښایي ملکزي صاحب ځینو برخو، موضوعاتو یا معلوماتو ته لاسرسی نه دی پیدا کړی او یا هم د چراغ

لاندې تيارې د حالت سره مخامخ شوی وي. بله کومه ستونزه چې زه ور ته د سمون په موخه گوته نيول غواړم هغه دا ده چې په ځينو برخو کې د معلوماتو په وړاندې کولو کې ډېر لنډ راڅرخيدلی دی او په ځينو برخو کې پرې خپلې سليقې غلبه کړې ده او تر اندازې زيات معلومات يې وړاندې کړي دي، چې زما په اند به ښايي د ځينو لوستونکو لپاره ډېر په زړه پوې تمام نه شي.

د معياري ژبې څخه د گټې اخستې په برخه کې بايد و وايم چې سره له دې چې ملکزي صاحب د هيواد د بيلابيلو سيمو د پوهو او عامو خلکو سره اړيکې لري، خو د کتاب له متن څخه سړی داسې انگيرنه تر لاسه کوي چې پر هغه د کونړی لهجې يا د خپلې سيمې د ژبې اغيز ډېر دی او له همدې امله يې په کتاب کې داسې کلمات هم کارولي دي، چې ښايي د هيواد د نورو سيمو اوسيدونکو ته په هغه پوهيدل يو څه سخت وي. ډېره به ښه وه چې د خپلې سيمه ييزې ژبې په پرتله، ډېره پاملرنه د هغو معياري کلماتو کارولو ته شوی وای چې ډېر ساده او يا زمونږ ډېر هيوادوال پرې په آسانه پوهيږي. دا سپارښتنه ځکه کوم چې نوموړی کتاب يوازې د کونړي عزيزانو د مطالعې لپاره نه دی ليکل شوی، بلکې د نورو د لوستلو لپارهم يو ښه کتاب گڼل کيږي. دا چې ملکزی صاحب د لوړو زده کړو څښتن او زياتره لوړې زده کړې يې له هيواده بهر په سعودي عربستان او د امريکا په متحده ايالاتو کې تر سره کړې، نو د ملکزي صاحب په څير نامتو ليکوالو ته بايد سپارښتنه وشي چې د وطن څخه د يو څه وخت ليرې پاتې شوی، نو له همدې امله د پښتو ژبې د معياري کلماتو په ليکلو کې ور ته لا نوره پاملرنه په کار ده. دا سپارښتنه هم کوم چې د سرچينو څخه د اړينو موضوعاتو په اړه د معلوماتو د را نقل کولو پر

مهال يې باید د اړینو نخبنو څخه کار اخیستی وایي چې له بده مرغه دا کار د کتاب په متن کې ډېر نه تر سترګو کیږي. د لیکل شوو موضوعاتو او معلوماتو د کره کولو او پر هغې د خلکو د لا ډیر باور لپاره به دا ډیره غوره وه چې د کتاب د هر مخ او یا د کتاب په پای کې د هرې موضوع اړوند د را نکل شوي معلومات مآخذ یې د ګڼې په ترتیب یاد کړی وای.

هیله لرم چې ملکزي صاحب به زما ځینې وړاندیزونه چې زه د خپل اند پر بنسټ د هغوی په پام کې نیول بې ګټې نه بولم، رغنده و ګڼي. زه په همدې نیت خپل وړاندیزونه او سپارښتنې له هغه سره شریکوم تر څو د هغه د راتلونکي کار او زیار سره مرستندوی ثابت شي. په خپله ښاغلی ملکزی صاحب او هم نور لوستونکی کولای شي زما وړاندیزونه او سپارښتنې د انصاف په تله وتلي او هغه تایید او یا رد کړي. ټول ګران هیوادوال او په ځانګړې توګه ځوانان د دې ګټور کتاب لوستلو ته رابولم.

په پای کې ملکزي صاحب ته د ستر رب څخه ښه روغتیا، خوشحالۍ او د سوکالۍ سره مل اوږد عمر او په راتلونکي ژوند کې لا ډیر او نور بې شمیره بریالیتوبونه غواړم. قلم یې تاند اوسه!

په وطنی مینه

۱۴۰۰ لمریز لیږدیز کال، د وري د میاشتې ۳۱ نیټه

## له هېواد سره مينه (زړ بېلګه) ده

**سيد اصغر هاشمي**

د هڅاند ژورناليست ملکزي(کونړ، غرونه او غورځنګونه) کتاب د کونړ پېژندنې هڅه ده. د کونړ ولايت لنډه پېژندنه، د ولسواليو پېژندنه او د دې ولايت د ځينو پوهانو، ليکوال او مشهورو کسانو لنډه پېژندنه پکې راوړل شوې ده. دغه هڅه د ستايلو وړ ده خو د دې خبرې واضح کول پکار دي چې هغه کوم لاملونه دي چې دی يې دې کار ته هڅولی دی؟

فکر کوم يوه لامل يې له کونړ سره مينه، عشق او محبت دی چې د ليکوال په داخلي نړۍ کې جريان لري. له هېواد سره مينه ډېره پخوانۍ سابقه لري او د نړۍ لويو پوهانو د خپل هېواد ارمان کړی دی او تېر ته ګرځېدلي دي. ماضي زموږ په دنننې رغښت کې داسې پروت دی، لکه په اوبو کې چې مالګه رسوب کړي وي، لکه څنګه چې په اوبو کې د لاس وهلو په وسيله مالږه د اوبو سرته راځي، کله کله د ځينو بهرنيو عکسل العملونو او د حسونو د بېلابېلو اغېزو په وسيله تېر ته ځو او دغه کړنې د دې لامل کېږي چې ليکوال د خپل تېر د تغذيه کولو او ځان ته يو ډول ډاډ ورکولو لپاره داسې کړنې سرته رسوي چې ځان ته ارامښت ورکړي او په حال کې ماضي خړوب کړي.

له هېواد سره مينه د هر انسان په داخلي نړۍ کې شته او ځينې پوهان په دې نظر دي چې د ټولنې په داخلي کې ځينې داسې شيان او مسايل شته

چې انسان ته په میراث کې پاتې کېږي چې له دې جملې له هېواد سره مینه او یا هم د مینې زړ بېلګه (صورت مثالي ـ زړ بېلګه) ده.
د مینې مفهوم د نړۍ ټولو انسانانو په ذهنونو کې شته. مینه د نړۍ له بېلابېلو شیانو سره کېدلی شي، څوک به د حقیقي مینې لاروی وي او څوک به د مجازي مینې په لومو کې نښتی وي. د لومړنیو بدوي انسانانو په رغښت کې هم د مینې ماده لېدل کېده؛ خو د وخت په تېرېدلو چې کله ټولنه پرمختګ کوي د مینې برخه پیاوړې کېږي. کله چې ماشوم نوی پیدا شي، د مینې ماده پکې لیدل کېږي. مینه د یو زوړ ارکي ټایپ په ډول د نړۍ په انسانانو کې لیدل کېږي. د جسم، روان، شعور او لاشعور تر منځ یو ډول هماهنګي پیدا کوي.
د نړۍ په لومړنیو اسطورو کې افرودیت د مینې یوه لرغونې زړبېلګه ده. د ښځینه وو هغه ښکلا ده چې د مقابل لوري د داخلي شور لامل ګرځي. افرودیت له ښځینه وو سره مرسته کوي چې جذاب وي او په دې فکر کې وي چې څنګه خپل داخلي ښکلا ښکاره کړي. دا له بهرنۍ ښکلا پرته داخلي ښکلا ته ډېر ارزښت ورکوي او له صورت څخه سیرت ورته اهمیت لري.
د افردویت ښکلاییز سېمبول په لاتیني ژبه کې د «ونوس» په نوم یادېږي او په اسطورو کې د ښکلا ملکه ده. په یوناني ادبیاتو کې افرودیت اولاد نه زېږوي، چې لوی لامل یې دا کېدای شي چې ښکلا ته یې زیان ونه رسېږي.
د سومریانو په حماسه کې په ګلګمېش د الهې مینیدل، شپږ ورځې او شپږ شپې له انکیدو سره د الهې شپې تېرول او له هغه سره مینه کول، د هندوانو په «راماین او مهابهارت» کې د «رام او سیتا» د مینې داستان،

په الیاد او اودیسه کې د «اولیس» د مینې خبرې او داسې نور په دې دلالت کوي چې مینه او مینیدل یوه زړه زړېبلگه ده.
له هېواد سره مینه داسې مانا لري لکه څوک چې له مور سره مینه کوي، نو ځکه یونګ د مور ارکي (Mother Archetype) ټایپ یادونه په ( Four Archetypes)کې کوي. له هېواد سره مینه د هغې جغرافیې له خلکو سره د مینې په مانا ده. له یو ځای او یا مملکت سره هغه وخت مینه پیدا کېږي چې هلته یو کس پیدا شوی وي، خاپوړې یې کړې وي، لوی شوی وي، پلرنۍ هدیره یې وي، تېر یادونه یې پکې پراته وي او همدارنگه په لسگونو داسې نورې خبرې دي چې د ده له روان او روح سره اړیکې لري او د سایکالوژي له مخې څېړنې ته اړتیا لري. کله کله داسې هم کېږي چې یو کس په خوبونو کې خپل تېر او ماضي ته ځي او د خپلو اجدادو او مشرانو سره په خوبونو کې د مینې اظهار کوي او په هغه ځای کې چې دی پیدا شوی وي په خوبونو کې گوري. په خوبونو کې د خپل پیدایښت ځای لیدل په دې دلالت کوي، چېرته چې موږ پیدا شوي یو له نورو ځایونو سره توپیر لري، لامل یې دا دی چې هر انسان ته په ځان ناخبري او ټولنیز ناځانخبري کې ځینې داسې شیان په میراث پاتې کېږي چې هغه خبرې او واقعې د یو زمان او مکان سره تړاو لري چې دغه وخت او ځای د انسان له ماضي سره تړاو پیدا کوي او د یوې ځانگړې مینې لامل گرځي.
د ملکزي په کتاب کې له هېواد سره د مینې اغېزې له ورایه ښکاري او دغه مینه د ده له روان سره تړاو لري. دا هغه تېرې هېرې خاطرې دي چې د نورو اغېزو پرته د نوستالژیکو تاثیرات څخه پیدا شوي دي.

په پای کې لیکوال ته خوښۍ او خوشحاله وخت غواړم چې نور علمي کارونه وکړي او هاشمي خپرندویه ټولنه ویاړي چې داسې علمي اثار چاپوي.

(ن. وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ)

## بنې چارې!

زه اعتراف کوم چې زما دا کتاب (کونړ، غرونه او غورځنګونه) نیمګړی او له عیبه خالي نه دی. ځکه د نړۍ پرمخ یوائځنی کتاب چې خاوند یې په پیل کې د هغه د کره توب او له هر ډول شک او شبهې څخه د پاکۍ او برائت اعلان کوي، هغه قرآنکریم دی (ذلک الکتاب لاریب فیه) د دې کتاب لیکلو، شپږ میاشتې ونیولې ترڅو ستاسو درنو لوستونکو چوپړ ته یې وړاندی کړم. له ګران افغانستان او په ځانګړي ډول د کونړ سره زما مینه، زه له مکې سره د پیغمبر (ص) د مینې، لمانځنه او تسلسل بولم. یثرب ته د هجرت په شپه یې کعبې ته مخ کړ او داسې یې وویل « په الله قسم چې ته د ستر رب ډیره مبارکه مځکه یې؛ الله ته هم ګرانه یې؛ که زه مجبور شوی نه وای؛ هیڅکله به هم نه ووم تللې».

ځما د خاړپوڅو کوڅو، د کونړ ختېنو منارو، د ختریزو او نرګسو خوشبویۍ، د ځپانده سیند رڼو اوبو، د دنګو غرونو سپینو واورو، هسکو نښترو او شنو درو بیا بیا زما احساس وتخنولو او رابیدار یې کړم. هڅه مې وکړه چې د خپل مات ګوډ قلم له لارې د راتلونکو اقتصادي، تعلیمي او پرمختایي پلانونو د جوړونکو لپاره، د یوې کوچنۍ معلوماتي سرچینې په توګه څه ولیکم. فکر کوم ځما دا لنډه سیاسي، ټولنیزه او تاریخي څیړنه، د شمله ورو پیژندګلوي، د غورځنګونو یادونه، د کلتوري دودونو معرفي او په خپلې ژبې، د خپلو خلکو د ولسي ژوند انځور، په خروار کې چیټاکۍ ګټه لري.

له همدې بابته غواړم د چارواکو او مرستندویه مؤسسو پام دیخوا ته را واړوم. ترڅو د کونړیانو ستونزې د خپلو پرمختیایي پلانونو په بهیر کې نادیده ونه ګڼي. دلته غټې پروژې په کار واچوي؛ د ځوان کول د پوهاوي کچه لوړه کړي او د دې ولایت د باتورو خلکو د ژوند په سمون او رغون کې هغه څه وکړي چې دوئ یې مستحق او حقدار دي.

په دې کتاب کې د کونړ د غرنۍ او اقلیمي جغرافیا، د اوبو او سیندونو د بهیدو، د شنو ځنګلونو د بې رحمه غوځولو د مخنیوي او سیلانیانو د راجلبولو لپاره وړاندیزونه شویدي. په کونړ کې د استوګنو ۱۹ قومونو لنډه تاریخچه او د پښتنو له پنځو سترو ښاخونو سره د هغوئ مزي تړل شوي دي. ښایي دا به لومړی ځل وي چې په کوم کتاب کې د کونړ د ساداتو د سترې روحاني کورنۍ په هکله دومره تفصیلي یادونه شوې وي. ما د کونړ میشتو پاچایانو د هر نیکه شجره د هغوئ له لمسیانو سره شریکه کړه چې د دوئ له خولې یې واورم او هم یې د استوګنې سیمې په نښه شي. په کونړ کې د پنج پیري او سلفي غورځنګونو په جوړښت باندې خبرې شوې دي ترڅو د ولس په متن کې د هغو اغیز او غبرګون څرګند شي. همدارنګه مې له ۲٦ تنو سره مخامخ او ټلیفوني مرکې وکړې، کتابونه مې ولټول، ویکیپیډیا، ګوګل او نورو ډیجیټل سرچینو ته مې سر ورښکاره کړ. په پایله کې مې د دې کتاب لپاره د ۱۰۸ شمله ورو او تعلیم یافته کونړو سوانح (بیوګرافۍ) پیدا کړې او د نژدې ۲٦۵ نورو مخورو کونړیانو نومونه او ځایونه مې ومیندل.

دلته د کونړ د شپاړسو اداري واحدونو پیژندګلوي، د هرې ولسوالۍ نفوس، د ښوونځیو شمیر، د مشهورو درو، غټو کلیو او بانډو نومونه، کونړي دودونه، سپورتي لوبې، سندریز هنرونه او د واده او جنازې مراسم او

رواجونه په گوته شوي دي. په ناخوالۍ سره، زموږ يوه غميزه دا ده چې تاريخ مو بل څوک، په پردۍ ژبه ليکي. د خيرات او درويزې کلتور دومره لټان کړي يو چې د کوهي او پلچک جوړل هم له بل چا غواړو. اوسيږو په حال کې، خو د خولې خوند د ماضي په تشو يادونو خوندور ساتو. زه هيله مند يم چې د دې کتاب تورې کرښې به زموږ نوی کول، خپله ماضي له مستقبل سره وتړي او له خپلو اقدارو او ارزښتونو سره به لږ څه نور هم اشنا شي. د کونړ په هکله دا کتاب نه لومړنی دی او نه به وروستنی وي. د کونړ يو شمير پخو ليکوالانو او پوهانو ډيرې هر اړخيزې او پراخه څيړنې کړې او د شاباس او قدردانۍ وړ دي. ما دلته په هغه څه باندې زيات لنگر اچولی چې په نورو اړونده کتابونو کې لږ په سترگو کيږي او يا دا مهال يې اړتيا زياته محسوسيږي.

له خپلو ډيرو درنو دوستانو؛ ليکوال او څيړونکي ډاکټر عبدالرحمن زماني، ليکوال او سياستوال، محمد اکبر کرگر، ليکوال او ژورنالست، حيات الله پياوړي او (هاشمي د څيړنې او ژباړې مرکز) د مشر، استاذ سيد اصغر هاشمي څخه د کونړ د غرونو په تول او تله، مننه کوم چې ما ته يې مسلکي مشورې را کړې. د خپلو مصروفيتونو سره سره يې، د دې کتاب ارزونه وکړه او زه يې داسې ټکو ته متوجه کړم چې ځما ورته هډو پام نه وو. زه د خپلې ميرمن د ننگې او هڅونې مننديوئ يم چې کله به ستړی او زړه تنگې شوم، نو هغې به ډاډ راکړ. د خپلې ننگور د همکارۍ هم قدر کوم چې د کتاب د لومړۍ پښتۍ (وقايې) دغه ښکلی انځور يې په ډير زحمت او دقت سره رسم کړ.

**انتظار مو نه اوږدوم. تور توتان، له تاسې قربان**

**ولي الله ملکزی**
**د سکرمنټو ښار / کليفورنيا**
**د روژې مبارکې وروستی مازيګر**
**د غوايي دوه ويشتمه / ۱۴۰۰ هجري لمريز کال**
**د مې د مياشتې دولسمه / ۲۰۲۱م**

# يو څو ټکي

د باغي هندوکش د هسکو څوکو، ناوونو او شيلو په غيږ کې غزيـدلی کـونړ، که يو پلو ته د افسانوي سرښندونو خاوره ده، نو بله خوا د وياړونو ځـانګو او د شمله ورو ټاټوبی دی. دلته د يرغلګرو پښې ګوډې شوې او د پان اسلاميزم او ولسي غورځنګونو سالار (نابغه سيد جمال الدين افغاني) زيږيـدلی دی. د پيرنګيانو له سترګو سره، سترګې جنګول شوې او په ارنوۍ او چـترال کـې د خپلواکۍ د څلورمې جبهې د سوبې جنډه پورتـه شـوې ده. دلتـه د شـوروي د سور لښکر ارتينه بوره شوې او د الحادي رژيـم پـه تـابوت د ګـل ميخـۍ پـه ټـک وهلـو سره، د هيـواد د لـومړني آزاد ولايـت بيـرغ پورتـه شـوی دی. د جهادي سمبول په توګه، د پکول کلچر له دې ځايه خپور شوی او د عقيدې او مذهب پر بنسټ ولاړ، پنج پيري او سـلفي غورځنګونـه راټوکيـدلي دي. د کابل راډيو لومړنۍ کونړۍ ويانـده (مسـتوره شـال) او د جـادوګر آواز ميـرمن (ګلنار بيګم) دواړه هم دلته څيږيدلې دي.

کونړ د امير شير علي خـان د واکمنـۍ پـه مهـال د ننګرهـار اړونـده سـاحه ومنل شوه او درې برخې يې درلودې: بر کونړ (اسمار) کوز کونړ (ښـيوه او شګه) او خاص کونړ چې په رسمي ډول کونړونه يا (کنرها) بلل کيـده. پـه

۱۳۴۴ لمریز (۱۹٦۴م) کـال کـې د صـدراعظم، ډاکټـر محمـد یوسـف پـه وړاندیز او د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په منظـورۍ، کونړونـه پـه کـونړ بـدل شـو چـې اوس شـپاړس اداري واحدونـه لـري. خـو ډیـره د تاسـف او اندیښـنې وړ خـبره دا ده چـې حتـی د کـونړ د والي دفـتر او د دې ولایـت ځینی تعلیم لرونکي او لیکوال وګړي، اوس هم کونړونه لیکي چې دا یـوه تـاریخي او تخنیکـي تیروتنـه ده. ځکـه د اسـمار ولسـوالي اوس پـه څـو ولسوالیو ویشل شوېده، ښیوه د ننګرهار اړونده ولسوالي ده او خاص کـونړ په خپل حال پاتې دی. شهید سردار محمد داود د خپلې سپینې کودتا پـه لومړیو کې کونړ بیرته لویه ولسوالي او اروا ښاد حاجي محمد خان څمکنی یې د لوی ولسوال (حکمران) په توګه وګماره. دوه کاله وروسته یـې کـونړ له لویې ولسوالۍ څخه بیرته ولایت اعلان کړ چې اسعد آبـاد یـې مرکـز او شپږ ولسوالۍ یې درلودې؛ خاص کونړ، څوکۍ، سرکانو، د پیچ دره، اسمار او کامدیش.

د افغانستان په لیرې ختیځ کې پروت د کونړ ولایت ۴۹۲٦ کیلو متر مربـع مساحت لري. ۸۷٪ دنګو غرونو، همیشه بهار نښترو او د رڼو اوبـو څپانـدو سـیندونو نیـولې، پـاتې ۱۳٪ یـې هـواره ده. دا ولایـت د افغانسـتان د ۳۴ ولایتونو په کتار کې د دریمې درجې ولایت دی، په هر یو کیلو مـتر مربـع مساحت کی یې ۱۴۳ تنه میشت دي. ٦٪ یې په ښارونو کې او ۹۴٪ یې په کلیو او بانډو کې اوسیږي. د کونړ شمال ته نورسـتان، شـمال لویـدیځ تـه یې لغمان، لویدیځ ته یې ننګرهار او جنوب او جنوب ختیځ تـه یـې د ۱۷۵ کیلو مترو په اوږدوالي د ډیورنډ کرښه پرته ده. د دې ګډې لیکې په اوږدو کې د تګ راتګ لپاره ۲٦ لارې دي چې د ناوه پاس، بنه شۍ او دوکلام د غاښي له لارې د موټرو لپاره ترانسپورټي آسانتیاوې لري خو پاتې ۲۳ یې د

پلو تلونکو، خرو او کچرو لپاره دي.
د اټکل لـه مخـې، د حکومـت د احصـائې رسـمي ادارې د کـونړ د نفوسـو شمیر پنځه لکه ښودلی، خو ځینو روغتیایي او خپلواکو مؤسسو دغه شمیره دوه چنده په ګوته کړې ده. ما څلور جلا جلا سر شـمیرنې یـو لـه بـل سره پرتله او دوه ځلي وکتلې، د هغو په رڼا کې زه خپله دې پـایلې تـه رسـیدلې یم چې ښایي د کونړ نفوس « اوه لکه او اتیا زره تنه» وي، مګر باید ومنـو چې دغه یوه احصائیه هم سل په سلو کې کره نه ده. د یوې احصـائې لـه مخې د کونړ ۹،۱۰ سلنه خلک د پیچ په درې کې ۲۳،۸ سلنه په شیګل او شلتن کې ۹،۷ سلنه په ناړی کې، ۷،۷ سـلنه پـه خـاص کـونړ کـې او نـور پاتې په اسعد آباد او پاتې ولسوالیو کـې میشـت دي. کـونړ تـه هرکـال لـه ۱۰۰۰ څخه تر ۱۳۰۰ پورې کوچیان راځي چې اکـثره یـې تـر غـازي آبـاد پورې سفر کوي او بیا بیرته ستنیږي.
په کونړ کې د یوې بلـې احصـائې لـه مخـې، پـه مجمـوعي توګـه ۶۴۵۸۸ کورنۍ ژوند کوي او د غټو کلیـو تعـداد یـې ۷۷۱ دی، لـه دې ډلـې څخـه ۷۰۵ کلي یواځی پښتانه دي او په ٦٦ کلیو کې د پښتو ترڅنګ په نورو ژبو هم خبرې کیږي. اوسمهال د کونړ نژدی ٪۱۱ خلک د خپلـو کورونـو دننـه په تشنابونو کې کمودونه کاروي، ٪۵۴ د رواجي کنارابونو څخه کـار اخـلي او پاتې ٪۳۵ خلک د کورونو د باندی خپل قضای حاجـت تـرسره کـوي. د کونړ د ټول نفـوس ٪۹۷ پښـتانه او ٪۳ یـی ګـوجر، سـاوجي، کوهسـتاني، ګورایي، پشه یي او نورستانیان دي. دلته بیلا بیـل ۱۹ قومونـه اوسـیږي، دوئ سل په سلو کې سني مذهبي او ٪۹۹ یې حنفیان دي. ٪۱ سلفیان یا اهل حدیث هم شته او دغـه شـمیره مـخ پـه بـره روانـه ده. پـه کـونړ کـې دمګړۍ ۱۴۳٦ جامع او واړه جوماتونه شتون لري او د نورو جوماتونو رغول

او جوړول روان دي. په يوه سيمه کې د خپل تعداد له مخې، تر ټولو زيات جوماتونه، په اسعد آباد کې او تر ټولو لږ د غازي آباد په ولسوالۍ کې دي.

## د کونړ د غرونو لړۍ

د هماليا او پامير په لويديځ ګاونډ کې، د هندوکش د اوږدو، دنګو او ځيږو غرونو لړۍ د افغانستان د خورو ورو غرونو سکنۍ مور ده چې په يوناني ژبې کې د ښاپيريو د سيل غرونه ياد شوي دي. دغه نوم د لومړي ځل لپاره د مشهور مراکشي سيلاني (سياح) ابن بطوطه له خوا استعمال شو چې د څوارلسمې ميلادي پيړۍ په دريمه لسيزه کې دې سيمې ته په سفر راغلی وو. نوموړی د دې غرونو د نوم د وجه تسميې په هکله داسې کاږي: کله چې افغان واکمنانو له هندوستان څخه يو ګڼ شمير هندوان د هيواد شمالي برخو ته له ځانونو سره راوستل، نو د ژمي په واورين او کنګليز موسم کې يو غټ شمير يې دلته مړه شول، نو له همدې امله يې وربانديې د هندوکش نوم کيښود.

تاريخي اسناد څرګندوي چې له اسلام د مخه، دلته هندوان او زردشتيان اوسيدل او کله چې اسلامي فتوحات پيل او بيا خونړي شول نو په زرګونو هندو مذهبه خلک دلته ووژل شول. اسلامي مؤرخينو او فاتحينو دې غرونو ته په اصطلاح (د تبرک په خاطر) د هندوکش غرونه وويل او په دې ترتيب زموږ د جغرافيا په پاڼو کې ورته دغه نوم غوره وبلل شو. يو شمير لرغون پيژندونکي (ارکيالوجستان) په دې اند دي چې کله مقدوني سکندر د خپلو مستو او تکړه پوځونو سره دې سيمې ته راغی، نو د کوه

قاف سره د ورته والي له مخې يې دې غرونو ته د اندوکس نوم ووايه چې د وخت په تيريدو سره له هغه څخه هندوکش جوړ شو. په يونان کې اندوکس هغه ځای ته ويل کيده چې افسانوي شاپيرۍ به يې سيل او سياحت ته ورتللې. مشهور څيړونکی، ډاکټر زمان ستانيزې په دی باور دې چې دا اصلا د دغې سيمې د خلکو د لهجې پورې تړلې خبره ده، څکه هغوئ د پيښ په ځای د زير تلفظ کوي. يعنې هندوکيش (هندو مذهبه) خو بيا دغه زير (کسره) په پيښ (ضمې) باندې اوښتې او هندوکش ورڅخه جوړ شوی دی، دغه مهال د دې سيمې ټول خلک هندوان او زردشتيان وو. زما په فکر، دا نظر کره او ژور بريښي.

هندوکش د افغانستان د ډېرو لويو غرونو له ډلې څخه دی چې د افغانستان په شمال ختيځ کې، له کوچني پامير څخه پيل او د سويل لويديځ په لور د باميان پورې غزيدلې لړۍ ده او د هيواد مرکزي برخې په بر کې رانغاړي. د هندوکش د غرونو لړۍ په دوو برخو ويشل شوی ده، ختيځ هندوکش او لويديځ هندوکش. ختيځ يې د بدخشان له زيباک درې څخه د خاواک تر کنډو پورې غزيدلی او زيات لوړوالی لري. جگه څوکه يې تراجمير نوميږي چې په چترال کې پرته ده او ۷۷۰۸ متره لوړوالی لري. بله لوړه څوکه يې د افغانستان په خاوره کې نوشاخ نوميږي چې د سمندر له سطحې څخه ۷٤۹۲ متره لوړه ده. لويديځ هندوکش د خاواک له کنډو څخه د باميانو تر درې پورې غځېدلی دی چې لوړوالی يې له ختيځ هندوکش نه لږ دی او د کنډوونو تر منځ تنگ راتگ په کې نسبتا اسانه دی. د سالنگ کنډو د ۳٤۰۰ مترو او د شيبر کنډو د ۳۲۰۰ مترو په لوړوالي سره، د لويديځ هندوکش له مشهورو کنډوونو څخه دي.

د هندوکش د غرونو لړۍ د کونړ، کابل، هلمند، آمو او اباسين په گډون د

ټولو سیندونو د اوبو اصلي سرچینه بلل کیږي. دا غرونه په ځینو ځایونو کې نژدې شپږ نیم زره متره لوړوالی لري او په ځینو برخو کې څلورنیم زرو مترو ته راټیټیږي او په ټولیز ډول یې اوږدوالی شپږ سوو کیلو مترو تـه رسي. د کونړ غرونه، د بابا غر، د سلیمان غر، سالنګونه، سپین غر، تورغر، خیبر او د لته بند درې سپیره غرونه د هندوکش سره تړلـې برخـې ګڼـل کیـږي. دا سلسله، کونړ له چترال او بدخشان له پاکستان، تاجکسـتان او چـین سره نښلوي.

پوهاند رازقي نړیوال په خپل کتاب «لرغونی او اوسنی کـونړ» کـې کـاږي (کونړ یوه نورستانۍ لرغونې کلمه ده او د ښـونانو یـا زیتونـو درې تـه ویـل کیږي). همدارنګه د (ګل) کلمه هم لرغـونۍ ده او د درې پـه معنـې داه، لکه شیګل، دیوه ګـل، ګنجګـل، کوړنګـل، باجګـل او... پـه چپـې درې، ماڼوګي، باډیل، وټـه پـور او شـیګل کـې د ډبـرو ډول ډول قیمتـي کانونـه شتون لري چې ډیره برخه یې د سیمه ییزو، خلکو او مافیا په کنټرول کـې ده، حکومت چندان کنترول وربانـدې نـه لـري. دلتـه د بیـروچ، کونزیـت، اکومارین او مرمرو کانونه په غیر مسلکي او بی رحمه ډول راویستل کیږي او د توړنې او خـرڅلاو لپـاره بهـر اسـتول کیـږي چـې پـه ملیـاردونو ډالـره ارزښت لري.

## د کونړ سمسور ځنګلونه

ځنګـل د الله تعـالی نعمـت او د ږنـو اوبـو سرچینـه ده. همـدا ځنګلونـه د اکسـیجن د پیدایښـت ځایونـه او د حیوانـاتو او مرغـانو غیـره ده. هغـه د سیلابونو د مخنیوي لـومړنی دیـوال دی او د دنګـو غرونـو د ښـکلا اصـلي

لامل. څومره چې ټکنالوژي پرمخ تللې او صنعت پراختیا میندلې، په هماغه کچه د ځنګل اقتصادي اهمیت زیات شوی او د ملتونو په ژوند کې یې بدلون راوستی دی. د کونړ شنه او پراخه ځنګلونه چې مجموعي مساحت یې دری لکه او دری دیرش زره هکتاره مځکې ته رسي، د افغانستان ملي او طبیعي شتمني ده او د ټول هیواد د نښترو د طبیعي ځنګلونو اویا سلنه دلته ده. خو د روسي ښکیلاک له ماتې، د مجاهدینو د کاواکې واکمنۍ، د طالبانو د امارت او د ډیموکراسۍ د موجوده معجون له راتګ سره دغه ملي شتمني د مافیایي کړیو او زور واکانو له خوا په ډېرې بې دردۍ سره وهل کیږي. د خپلمنځي تربګینو له امله ورته څو څو ځلې اورونه واچول شول او په پرله پسې ناقانونه ډول، بهر ته په قاچاقي توګه استول کیږي. د کونړ د غرونو ٪۵۵ سلنه څېړۍ او ښونان، ٪۳۰ نښتر او پاتې ٪۱۵ یې مختلف النوع میوه لرونکې او بې میوې بوټي دي.

افغانستان د یوې بهرنۍ جیولوژیکي سروې له مخې، د دری ټریلنو (درې زره میلیاردو) ډالرو په ارزښت طبیعي زیرمې لري چې د افغان ولس ملکیت دی. د دغې بې جوړې طبیعي پانګې یوه غوښنه برخه همدا د کونړ ځنګلونه او د کونړ د غرونو په خیټه کې پرتې خزانې دي. د کونړ په ځنګلونو کې درې ډوله ونې کېږي: لومړۍ پاڼه رژوونکی ونې لکه غوزان (چار مغز) او د پنجه چنار ونې دي. دوېم همیشه بهار پاڼې لروونکې ونې دي چې تل شنې وي، لکه د ښونانو او څېړیو ونې. درېم د تېرو څوکو لروونکې شنې ونې دی لکه نښتر، لمنځې او کاچل (ارچه).

د ۱۹۹۰م راهیسې داسې اټکل کیږي چې د افغانستان نیم په نیمه ځنګلونه وهل شوي دي. د نړۍ د وحشي چاپېریال د ساتنې ادارې (ډبلیو ډبلیو ایف) په ۱۹۹۷م کې یو راپور خپور کړ چې په افغانستان کې هر کال

شاو خوا د شل زره هکټارو ځمکې ونې بوټې وهل کیږي، خو بیرته څوک نوي بوټې او نیالګي نه لګوي. د کونړ ولایت د کرنې ریاست د معلوماتو له مخې د دی ولایت له پنځه شپیته سلنې ډیره ځمکه د نښترو، ښونانو، ګور ګورو، څیړیو او نورو میوه لرونکو او بی میوې ځنګلونو پوښلې ده. په کونړ کې د لرګیو د صنعت د کارو باریانو په وینا، پخوا به د اسعد آباد په ښار کې د نښتر یوه برابره ونه تر اتیا زرو افغانیو پورې پلورل کیدله، مګر اوس یې بیه درې چنده لوړه شوې ده.

د کونړ پخواني والي، عبدالستار میرزکوال د خپل ماموریت د پیل په مهال د انیس دولتي ورځپاڼې ته ویلي وو چې له دې وروسته به دولتي ځنګلونه د خلکو پرملکیت بدل شي او د دې کار لپاره یې د ولسوالیو او کلیو په کچه ۷۵ ولسي شوراګانې جوړې کړېدي. هم به د ځنګلونو ساتنه وشي او هم به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. همدا شان د کونړ د کرنې پخواني رئیس هم د (آوا) خبري اژانس سره په خبرو کې د دغه پروګرام د مخ ته وړلو لپاره د ولسمشر له لوري د ۱۹ میلیونه ډالرو د منظورۍ خبره کړې وه. د کونړ د ځنګلونو د عمومي مدیر، مطیع الله صبور د معلوماتو له مخې دا ژمنې او خبرې یوازې پر واوره ولیکل شوې، لمر ته کېښودل شوې او هېڅ عملي ګام وانخیستل شو.

د افغانستان د جزا کوډ ۸۲۱ ماده کې د ځنګل وهونکو لپاره له پنځو زرو څخه تر شپیتو زرو افغانیو پورې نقدي جریمه ټاکل شوې او د ځنګل وهل، قانوني جرم ګڼل کیږي. د پوهنتون استاد، محب الله د قانون په پورتنۍ مادې د نیوکې تر څنګ دغه نقدي جریمه د خندا او حیرانتیا وړ ګڼي او وایي چې یاد قانون باید تعدیل او د ملي شتمنیو قاچاق کوونکو لپاره دې درنه سزا وټاکل شي. د آزادۍ راډیو د یو راپور پر بنسټ د

ماڼوګي ولسوالۍ د کوړنګل درې یو قومي مشر سلام الدین وایي «په سیمه کې یې ښکلا د نښترو دنګې او د سلګونو کالو ښکلا ونې ولاړې وې، خو کله چې کونړ کې د جنګونو او پاکستان ته د هجرتونو لړۍ پیل شوه هلته یې د لرګیو د سوداګرو او ځنګل وهونکو سره لاس یو کړ. موږ خپله لږه ځاني ګټه په نظر کې ونیوله خو وطن او راتلونکو نسلونو ته مو سخت زیان ورساوه. دغه سیمه اوس سپېره شوې ده، ښکلا به په کې راز راز ځنګلي ځناور او مرغان وو، خو اوس څه نه لیدل کېږي. زموږ د کوړنګل ښایست له خاورو سره خاورې شو او که څوک لږ بصیرت او ژوندی احساس هم ولري، په دې حالت یې زړه غمژن کیږي».
خسرو مومند د ځنګل د اهمیت په اړه د یوې ساینسي څېړنې په ترڅ کې لیکي « یو هکتار ځنګل کولای شي چې په یو وخت کې ۲۷۵ کیلو ګرامه کاربن اکسایډ او ۳۵ ټنه ګرد او دوړې جذب کړي او هم د تودوښې د درجې په راټیټولو کې مهم رول ولوبوي». په هیواد او په ځانګړې ډول په کونړ کې د ځنګلونو وهل او ورکېدل درې ستر لاملونه لري: اول په خپله ولس؛ دوهم تېل شوې جګړې او دریم کورني او بهرني قاچاقبران. ځنګلونه په هغو ځایونو کې وهل کیږي چې دولت هلته حاکمیت نه لري. په ټولنیزو رسنیو کې ځینې داسې راپورونه هم خپاره شوي چې قاچاقبران د چپې درې څخه د غرونو له لارې د ننګرهار ولایت ښیوې ولسوالۍ ته لرګي لیږدوي، بله لار یې د اسمار ولسوالۍ د اوغز باغ د درې لار ده چې د ډیورنډ بلې غاړې ته اوښتې ده.
د کونړ د ولایتي شورا منشي، حاجي جمال الدین سیار وایي «اوس هم د چپې درې، ماڼوګي او د څوکۍ په ولسوالیو کې په بې رحمه ډول د برقي ارو په وسیله ځنګلونه پرې کېږي؛ د غرونو له لارې د ننګرهار دره نور ته

لیږدول کیږي او د ننګرهار ځینې مافیایي کړۍ په لاس لري». د کونړ د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي « پخوا دلته (۳۳۴۰۰۰) هکتاره ځمکه شنو ځنګلونو پوښلې وه او دا سیمه ښکلې ښکارېده، خو اوس یې ځلویښت سلنه ځنګلونه وهل شوي او لا هم دغه پرې کول روان دي. دغه ځنګلونه د نورو ګټو تر څنګ، د پاک چاپیریال، کورنیو حیواناتو، وحشي ژوو، هوایي مرغانو او د رنځو اوبو د سلګونو چینو په درلودولو سره ځانګړی مقام او ارزښت درلود چې اوس ورته نه دی پاتې».

د شهید محمد داود د صدراعظمۍ په مهال، د پنځه کلن پرمختیایي پلان له مخې په سالار باغ کې د دې ځنګلونو څخه د سالمې ګټې د ترلاسه کولو په موخه د نجارۍ یوه فابریکه جوړه شوه. دغې فابریکې په ۱۳۴۷ لمریز کال کې د فرانسویانو په همکارۍ او سامان آلاتو سره خپل لومړني تولیدات پیل کړل. همدا شان د قیمتي ډبرو د توږلو او سمون لپاره پلان جوړ شو او د چای صنعت ته ودې په پار، له چین سره د چای د کرلو یو تړون لاسلیک او د چایو مختلف النوع بوټي راوړل شول. خو کله چې دغه بوټي په حاصل راغلل د جنګونو اور په غرغنډو شو، د فابریکې ټول وسائل له منځه ولاړل او هر څه کنډر شول. د اسعد آباد په ګډون، په یو شمیر ولسوالیو کې د ترکاڼۍ (نجارۍ) زیات شمیر وړو کارخانو شتون درلود چې نژدې پنځه زره تنه په کې مصروف وو، مګر د دغو کارخانو زیاته برخه اوس د دولت د نه پاملرنې له امله تړل شوې ده.

سیمه ییز خبریال، محفوظ الحق کاکړ د ۱۳۹۷ کال د کب په لومړۍ نیټه په خپل راپور کې ولیکل « د نرنګ او باډیل په ولسوالۍ کې یوې نامسئولې وسله والې ډلې د یو ځایي چارواکي په همکارۍ، په تېر یو کال کې د سل ملیونو افغانیو په ارزښت د باډیل ځنګل د نښترو ونې لوټلې

دي. دغې خپل سرې ډلې ۱۸ امنيتي پوستې جوړې کړې دي او تر اوسه يې لـه ۱۲۰۰ څخـه زيـاتې د نښـتر ونـې وهلـې دي» راپـور زيـاتوي « د ولسوالۍ له لوري يو مکتوب د دغه ولايت ملي امنيت، امنيه قوماندانۍ او د کرنې رياست ته وليږل شو چې د ۲۲ کسانو نومونه په کې ياد شوي او د ځنګل په وهلو او قاچاق تورن شوي دي، خو چا پرې سر نـه دی ږرولـی» د پيک د څېړنيز ژورناليزم مرکز موندنې هم ښرګندوي چې پـه ۱۳۹٦ لمريـز کال کې د کونړ د ځنګلونو عمومي مديريت د ځنګلونو د خپلسري وهلو پـه تړاو ولايتي چارواکو ته نږدې اتيا رسمي مکتوبونه ليږلې، مګر دمګړۍ يـو مکتوب ته هم ځواب نه دی ويل شوی.

د نرنګ ولسوالۍ د باډيل درې يو قومي مشر، عبد القـادر صـافي د پيـک خبريال ته وويـل « د کـونړ سـيمه ييـزه اداره ټولـه ښـه خـبره ده چـې يـوه مافيايي کړۍ د يو سيمه ييز چارواکي په همکارۍ د باډيل ځنګل قاچـاق کوي، خو هېڅ اقدام نه کوي» په ولسي جرګې کې د کونړ سناتور، محمد طيب عطا وايي «هره ورځ نژدې ۳۰۰۰ ونـې د کـونړ پـه ځنګلونـو کـې پـه خپل سري او غير قانوني ډول وهل کېږي او د هيواد دغه مـلي شـتمني د له منځه تلو په حال کې ده» د امريکايي معتبرې ورځپـاڼې، وال سـټريټ ژورنال خبريال د ۱۳۸۸ لمريز کال د وري په دوه ويشتمه په خپل راپور کې داسی ليکلي: « د کونړ د لرګيو نوعيت له دې څخه څرګنديږي چې د شپږ فوټه لرګي بيه په کونړ کې لس ډالره ده، په کراچۍ کې ۱۵۰ ډالره او کله چې دوبۍ يا قطر ته ورسيږي نو دغه قيمت درې سوه ډالره شي».

## د ځنګلونو  په اړه سپارښتنې

په لومړي قدم کې د ځنګلونو د پرې کولو د مخنيوي لپاره بايد په ټولو هغو

توکو چې د ونو د پرې کولو لپاره ترې کار اخیستل کیږي، بندیز ولګول شي. برقي ارې، لویې لاسې ارې، لوی تبرګي او نورو آلات، یواځی د چارواکو د نظر لاندې دې وپلورل شي چې کنترول او څارنه یې ممکنه شي. دوهم ګام، له ځنګلونو څخه د ولسوالیو مرکزونو ته دی د هر ډول لرګیو په لیږد، په ځانګړي توګه په تازه پریکړل شویو لرګیو باندې سخته جریمه او سزا وټاکل شي. دریم ګام، د پخوانیو لرګیو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې لپاره باید په کونړ کې د لویو صنعتي فابریکو جوړولو ته زمینه برابره او خصوصي سکتور دی وهڅول شي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. څلورم ګام، د دولت له خوا دې ورته ځمکه، بریښنا او نورې آسانتیاوې برابرې او د کور دننه دی هغې ته بازار پیدا شي. پنځم ګام، دا فابریکې باید د دې وړتیا ولري ترڅو له لرګیو اغیزمنه ګټه واخلي او په نړیوالو معیارونو برابر د کورونو او دفترونو توکي تولید کړي. شپږم ګام، دولت باید ټولې ادارې په دې مکلفې کړي چې د بهرنیو توکو پر ځای، د دوئ تولیدات واخلي. اووم ګام، دولت او مرستندویه ټولنو ته په کار ده چې د یو بدیل په توګه، د کونړیانو مالداری، کرهنیزو فارمونو او د میوه لرونکو ونو ترویج ته وده ورکړي ترڅو د ځنګلونو د وهلو په مخنیوي کې اغیزمن ثابت شي. اتم ګام، حکومت دی د ځنګلو د ساتنې لپاره تمرین شوي ساتونکي پر دندو و ګوماري، ترڅو د غاصبینو لاسونه لنډ کړي.

د کورنیو چارو وزارت پخواني ویاند، لطف الله مشعل «آی ډبلیو پې آر» ته ویلي وو «اوسمهال د ځنګلونو د ساتنې لپاره به د ۳۰۰ تنو یو وسله وال غونډ د هېواد په سرحدي سیمو، په تېره بیا له ډیورنډ سره په ځنګلي سیمو کې ځای په ځای شي او دغه شمېره به تر ۲۰۰۰ تنو پورې لوړه شي.

دوئ به د ډیورنډ په پوله، نورستان او له ترکمنستان سره د بادغیس په ولایت کې وګومارل شي» د کرنې وزارت د ځنګلونو رئیس، سید بهرام سعیدي د اټکل له مخې د هیواد د دوو ملیونو هکتاره ځنګلي سیمو نیمایي برخه، د وروستیو جګړو او وچکالۍ له امله په وچو ډاګونو اوښتي ده. د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام د وینا له مخې، د افغانستان د طبیعي ځنګلونو ٪۷۵ له منځه تللي او یو شمېر ځایي ماهرین خو دا شمېره تردې هم ډېره لوړه ګڼي. د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکي پروګرام د ځنګلونو د برخې مشر، حسن خاورین د کورنیو چارو د وزارت د وړاندیز په غبرګون کې وایي «هغوئ د اوس لپاره نه بودیجه لري او نه سامان او لوازم».

له بله پلوه، د کونړ د لرګیو قاچاقبران په دې خبرو پورې ملنډې وهي. یو ځنګل وهونکی سړی د خپل هویت د نه رسوا کولو په شرط وایي «هغه د کونړ په ولایت کې ۳۰۰ تنه په کار اچولي، ۸۰ د بریښنا ارې لري او د دغو خلکو لپار هره ورځ شپږ پسونه حلالوي. د حکومت هڅې بې ګټې دي ځکه پولیس او ځایي لوړ پوړي چارواکي ټول بډې اخلي. څوک چې دلته نوی وټاکل شي یو څو ورځې جدیت ښیي، خو لږ وروسته راسره بیا روغه جوړه کوي». د کونړ پخوانی والي، اسدالله وفا منې چې چارواکي بهر ته د لرګیو په غیر قانوني لېږدونه کې ښکیل دي او هغه مامورین به له کاره وشړي چې له قاچاق وړونکو څخه بډې اخلي. که ما ته د فرقې واک راکړل شي نو څوک به یوه ونه هم غوڅه نه کړي.

د کونړ په ځنګلونو کې څو واړې ډېر بد بد اورونه بل شول او په لسګونو زره غټ او واړه بوټي یې ایره ایره کړل. له همدې امله د کونړ له ځنګلونو څخه رقم رقم لیوان، پړانګان، هوسۍ، سوی، شکانه، ګیدړان، سور

لنډي، بی شمیره حشرې او خزندې یا سوځېدلې او یا نورو سیمو تـه کـډه شوې دي. د مرغانو بی شمیره ډولونه لکه غـرني چرګـان، بـازان، بابښـې، خیراړي، کوترې او مرغ زرین نورو خوندي سیمو ته والوتل. یوه سروې په ګوته کوي چې په کونړ کې له ۱۳۵۸ لمریز کال وړاندې (۳۳۲۵۰۰) جریبه زمکه په ځنګلونو پټه وه او ۲۵ میلیونه متر مربع صنعتي لرګي یې درلودل، خو اوس دغه کچه ۸٦ زره مترو مکعبو ته را ټیټه شوې ده.

مشهوره ژورنالسته او د بي بي سي پښتو څانګې پخـوانۍ خبریالـه، صـفیه حلیم په دې باور ده چې « د ځنګلدارۍ په ادارې کې د سروې او څېړنـې خیال ساتل او په بیارغونې کې د تخنیکي او اقتصـادي اصـولو کـارول، د ځنګلونو تنظیم بلل کیږي. عادي ځنګلونه هغه دي چې نباتات یې پـه زړه پورې تنې، ریښې او مناسبه اندازه ولري. هر هېواد وال باید وپوهـول شي چې د خپلو ځنګلونو څخه معقوله استفاده وکـړي او هغـه ځنګلونـه چـې د طبیعي یا قصدي پیښو له املـه د منځـه تللـي، دوه ځـلي بایـد پـه نیـالګېو وپوښل شي. که څوک د کونړ او نورستان پر درو د هوایي سفر په ترڅ کې لاندې وګوري، نو د اسمار او کامدېش هغه شنه ځنګلونه بـه یـې لـه نظـره تیر شي چې په وروستیو څلورو لسیزو کې وهل شوي او د ګنجـي سـړي د سر په شان لوڅ ښـکاري. د ځنګلونـو وهلـو نـه یـوازې کـونړ تـه، بلکـې د افغانستان چاپېریال ته درونډ زیان اړولی دی».

## کونړ او سیلانیان

هغـه هیوادونـه چـې شـنه ځنګلونـه لـري، غرنـی سیاحت او تـوریزم یـې د اقتصاد او ګټې وټې ستره سرچینه ګڼل کیږي. که چیرې د کونړ ځنګلونـه مناسبې آسانتیاوې پیدا او د سیلانیانو امنیت خوندي شي، نو کونړیـان بـه

یوه مهمه اقتصادي منبع تر لاسه کړي. ما پخپله د کالیفورنیا، کاناډا، ترکیې او تایلنډ ځنګلونه له نژدی څخه لیدلي او په جرئت سره ویلای شم چې د کونړ او نورستان د ځنګلونو طبیعي ښکلا، له هغوئ سره په یوه تله او توله برابره ده. دغه هیوادونه هر کال له دی لارې په ملیاردونو ډالرې لاسته راوړي. د کونړ ځنګلونه دومره ډیر او پراخه دي چې د ډیر لږ څه په ترسره کولو سره به د هر کورني او بهرني سیلاني زړه را مات کړي.
پخوانې خبريال او په ولسي جرګې کې د کونړ استازی، نعمت الله کریاب وایي « که څه هم په اسعد آباد کې یو څو مسافر خانې او هوټلونه جوړ شوي دي، خو هغه اړتیاوې چې یو سیلاني یې غواړي دلته په پام کې نه دې نیول شوې. د بیلګې په توګه د اسعد آباد په یو دوه پوړیز هوټل کې د هرې کوټې لپاره ځانګړی تشناب نشته ټول خلک له یو یا دوو تشنابونو څخه کار اخلي. د سړو او تودو اوبو اسانتیا په کې نشته، په کوټه کې یو یو چپرکټ او ځمکني توشکونه غوړیدلي خو ټلویزیون په کې نشته. که څه هم د ودانۍ په جوړښت ډیر لګښت راغلی خو دغه نورې آسانتیاوې په کې نشته. د کونړ په مسافر خانو او هوټلونو کې نه د سیمې د اوسیدونکو اړتیاوې او نه د سیلانیانو غوښتنې او معیارونه مهم ګڼل شوي دي. پخوا به دلته فرانسویان او نور اروپایي سیلانیان راتلل چې ښځې به هم ورسره وې، تر برګیمټاله پورې به تلل خو اوس د امنیتي او نورو ستونزو له امله څوک د ولایت له مرکز څخه د باندې نه شي وتلی».
د فنلنډ له هلسنکي څخه رشید یوسفزی وایي «زما په نظر د افغانستان حکومت ته په کار ده چې د ملګرو ملتونو د ګرځندوئ له ادارې څخه مرسته وغواړي او هغوئ و هڅوي چې په کونړ کې ژوبڼ او د سیاحت ځایونه جوړ کړي» له ریاض څخه عبد القدوس وایي «که څه هم زه د

ارزګان ولایت اوسېدونکی یم خو کونړ ربښتیا هم ډېره ښکلا لري، د کونړ خلک دې اول پخپله د دې ښکلا خیال وساتي. څنګلونه دې نه وهي، اور دې ورته نه اچوي، بیا دې د سیلانیانو د راجلبولو او د هغوئ د اوسېدو بندو بست وکړي» له سویس زرلینډ څخه ډاکټر احمد احسان لیکي « زما لپاره د حیرانتیا یوه لویه خبره وه، کله چې دلته په سویس کې یوی زړې سویسۍ مېرمنې د خپل هېواد د ډېرو ښایسته ځایونو په پرتله، د کونړ او نورستان ولایتونه غوره او ښایسته وبلل. دغه مېرمن د اعلیحضرت ظاهر شاه او شهید داود خان د واکمنیو پر مهال له کونړ او نورستان څخه لیدنه کړې وه» له پیښور څخه سعاد شفق په دی ټینګار کوي چې د امنیت او سهولتونو تر اړخه بل مهم شی د رسنیو له لارې پرله پسې تبلیغ او د خلکو د پام را اړول دي. زه چې ګورم د کونړ خلک سیلانیانو ته د اسانتیاو په چمتو کولو کې کمزوري دي. که په خپل نوښت او مټ له دولت څخه د سیلانیانو لپاره بودیجه نه شي اخیستلای، نو د بامیانو ولایت له چارواکو دی مشوره واخلي چې څرنګه یې دولت قانع کړ او په څه ډول یې سیلانیان راجلب کړل؟».

## د کونړ ښپانده سیندونه

مـا د کونړ له سینده جار کړې
زما لالي به په کې مخ و ینځلی وینه

اوبه نه یواځې د ژوند کولو او هر ساکښ او نبات لومړنۍ اړتیا ده، بلکې هغه د جماد او د دې پراخه طبیعت ښکلا هم ده. قرانکریم فرمایي « وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ - موږ هر څه له اوبو څخه پیدا او ژوندي کړي دي» اوبه زراعت دی، سیاست دی، اقتصاد دی او پرمختګ دی.

له نن څخه اویا کاله پخوا، یو کاناډایي پوهاند یوه تیوري وړاندې کړې وه چې د را روانې پیړۍ جنګونه به د تیلو پر ځای د اوبو پر سر وي چې نښې یې ورو ورو څرګندېږي. د نړۍ په پنځو سترو وچو کې له یو نیم زر څخه زیات غټ او واړه سیندونه بهیږي، خو د امریکا د جان هاپکنز پوهنتون خبرداری ورکوي چې له ۲۰۲۵ م کال وروسته به د نړۍ د هرو دریو تنو څخه یو تن په داسې یو هیواد کې ژوند کوي چې هلته به د اوبو کمښت وي. یو بل پوهاند وایي «که ولاړې اوبه د ژوند سرچینه ده، نو روانې اوبه د انرژۍ منبع ده» افغانستان د اوبو له بابته یو بسیا او بډایه هېواد دی چې د اوبو کلنی جریان یې ۷۵ میلیاردو مترو مکعبو ته رسي. د پرله پسې بهرنیو یرغلونو، کورنیو جګړو، د ځینو مغرضو او بدنیته ګاونډیانو لاسوهنو او د تخنیکي ظرفیتونو د کمي له امله، یوازې شل ملیارده مکعبه اوبه په هېواد کې مصرفېږي او پاتې یې وړیا په وړیا د ګاونډیانو په لور بهیږي. افغانستان ټول ۱۳۰ لوی او کوچني سیندونه او روان خوړونه لري چې د کونړ سیند، د دغو سیندونو په لومړي کتار کې ولاړ دی.

د کونړ لنډی یا د اسمار سیند چې په تاریخي لحاظ ورته راسا او ځینې خلک یې د چترال سیند هم بولي، د پامیر د څلور زره متره لوړې څوکې څخه د بروغل کوتل سره پیل او د هندوکش غر په ختیځه څنډه کې واخان له یارقند سره نښلوي. دغه سیند چې کله د چترال له لوري د ارنوۍ په برخه کې د ډیورنډ له کرښې را واوړي، نو د کونړ سیند نوم خپل کړي. د غرنیو ناوونو او کږلیچونو په اوږدو کې د پامیر څخه رابهیدونکې د ګڼو کمکیو شیلو او خوړونو سره یوځای او د اوبو کچه یې ورو ورو لوړیږي. د کونړ د سیند بله مهمه برخه د هندوکش له غرونو څخه د ۴۴۷۶ مترو له لوړې څوکې څخه را بهیدونکې اوبه دي چې له باشګل، وایګل او پارون

ځخه راکوزیږي او د پیچ سیند جوړوي. دغه سیند د خپل مزل په ترڅ کې د شوړیک خوړ، د کوړنګل خوړ او د وټه پور په سیمه کې له غټو چینو ځخه له راغلو اوبو سره یو ځای او په اسعد آباد کې له لنډي سیند سره غاړه غړۍ کېږي. د کونړ سیند ۱۱ ملیارده متر مکعبه اوبه لري او په بهسودو کې د کابل له سیند سره ګډیږي. دغه سیند د غرونو له جګو ځوکو تر ننګرهاره اویا میله (۱۱۲کیلو متره) واټن لري. د کامې، ګوشتې، لعلپورې او نورو سیمو ځخه تېرېږي او بیا د کوزې پښتونخوا په لور ځي چې له آباسین سره یوځای شي. د کونړ د سیند مجموعي اوږد والی، له پیله تر پایه ۴۱۱ کیلو متره دی.

له بده مرغه، نه کونړیانو او نه پاتې هیوادوالو له دې ځپانده سیند ځخه د زراعت، انرژۍ او بریښنا په برخو کې چندان ګټه وانخستله. یواځې د نو آباد، نرنګ، ځوکۍ، نورګل، پشد، سرکانو او خاص کونړ په سیمو کې ویالې تیرې شوې او په اسعد آباد کې یو وړوکې بریښنا بند جوړ شوی دی. د کونړ سیند د امو سیند ځخه وروسته د اوبو له مخې د هېواد دویم لوی سیند دی. د هندوکش په لمنو کې د دې سیند غاړو ته میشت ولسونه او د اریایي قبیلو مهاجرتونه، د کونړ د سیند نامتوالی ښایي کوم چې زموږ د هېواد د لرغوني تاریخ سره نه شلېدونکې اړیکه لري. د تل لپاره به دا اهمیت وساتي او زموږ په ملي، کلتوري او اقتصادي سرچینو کې به د یوې شتمنې پانګې په توګه پاتې وي.

## د کونړ پر سیند د بندونو، د نه جوړیدو لاملونه

د کونړ پر سیند د بندونو خبرې د شهید ولسمشر، محمد داود له وخته کیږي خو تر اوسه داسې کار ونه شو چې د دې سیند اوبه مهار او د

کرهڼې او انرژۍ په برخه کې ور څخه سم کار واخیستل شي. اوس د بندونو د جوړیدو په ځای داسې ګونګسې دي چې کونړ ته وارداتي بریښنا را روانه ده. د شهید داود خان په پلان کې وه چې د اسمار د سور طاق د بریښنا پروژه په ۱۳۵۸هجري لمریز کال کې پیل شي، خو د غوایي خونکارې کودتا هرڅه په همدغه سیند کې لاهو کړل. له یو څو ویالو پرته، د کونړ سیند یا ځوانان وړي او یا د وهل شوو نښترو ګرګې او شاوړي راوړي. د کونړ د اوبو د مهارولو او په نرنګ، مره ورې، څوکۍ، نورګل او خاص کونړ کې د استحکامي او پخو ویالو د جوړولو په منظور، زموږ یو شمیر هیوادوالو او امنیتي ځواکونو خپل ژوند له لاسه ورکړ. همدارنګه یو ترکې، یو هندي او یو جاپاني انجنیر هم د پردیو د نغښتو قرباني شول. د کونړ ولسونه به د تل لپاره د دغو انجنیرانو سربښندنو او پیرزونو ته درناوی کوي او هغوی به هیڅکله هم له یاده ونه باسي.
لیکوال او څیړونکی، داود نیازی فکر کوي چې د کونړ په سیند د بندونو د نه جوړیدو ستر عامل د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوبو د ویش مسئله ده چې د ډیورنډ د لیکې پورې په مستقیم ډول تړلې بریښي. سیاسي پنډتان او د انرژۍ سیمه ییز څارونکي انګیري، کله چې دغه حیاتي ستونزه حل شي نو د اوبو او بندونو ستونزه به ورسره په ورته مهال خپل منطقي انجام ته ورسي. پاکستان دعوه لري چې د کونړ سیند له چترال څخه سرچینه اخلي اوغواړي چې له افغانستان څخه ډیرې اوبه ترلاسه کړي. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې پاکستان د اوبو د کمښت هیوادونو په اووم نمبر کې ځای لري او په افغان سوله کې د پاکستان د دلچسپۍ یو عامل، اوبه دي. پاکستان لا ډیر پخوا د کابل پر سیند ګڼ شمیر بندونه جوړ کړیدي او هر وخت چې د اوبو د ویش مسئله رامنځ ته کیږي،

پاکستان به د ډېرو اوبو مستحق شي. ځکه د نړیوالو اصولو له مخې هغه هېواد چې د اوبو له تقسیم څخه وړاندې یې ډېر تاسیسات جوړ کړي وي، ډېره برخه اوبه ترلاسه کوي.

اکرام ایمان، د سیندونو په هکله پخپلې څېړنې کې کاږي «زموږ د هیواد طبیعي جوړښت د بندونو جوړولو ته ښه ساز ګار دی او په کم لګښت کولای شو ډېر بندونه وتړو. په دې سره به موږ د ګاونډیو هیوادونو له وارداتي بریښنا څخه خلاص او د خپلې انرژۍ څښتنان شو. ګاونډیان بیا نه شي کولای چې زموږ له مجبوریتونو څخه بده استفاده وکړي او موږ به د یو آزاد ملت په توګه، له دوئ سره د متقابلو اړیکو او ګټو پر بنسټ چلند کوو. د اوبو د ښه کنټرول او مدیریت بله ګټه دا ده چې د کرنې سکتور مو پیاوړی کوي، د نهرونو اوبه بې ځایه نه مصرفیږي، خپلې اړتیاوې پوره کوو او د نړۍ مارکېټونو ته لار مومو».

په جرمني کې میشت افغان انجنیر، عبدالغفار ستارزوی د یوې څېړنیزې مقالې په ترځ کې یادونه کوي «اوس د افغانستان حکومت له ازبکستان څخه د خپلې بیړنۍ اړتیا له مخې بریښنا واردوي چې د شپږ سوه کیلومترو واټن وهي. د دغه برق انتقال او په ځانګړې توګه د پایو ساتنه په دې نا امنه شرایطو کې ډېرې ستونزې لري. افغانستان اوس مهال هر کال له ازبکستان څخه زر میګا واټه بریښنا واردوي چې کلنۍ بیه یې ۱۲۰ملیونه ډالره ده. په هېواد کې د شته امکاناتو په کارولو سره، د کونړ د سیند د پاسه د سور طاق، مناګي، کامې او ګمبیري پروژې که په عمومي ډول پلې شي او د برېښنا ستر بندونه جوړ شي، نو د لومړۍ سروې له مخې ۱۳۰۰ مېګا واټه برق لاس ته راځي. دا اندازه برق د کونړ له اړتیا زیاته او کابل ته د ۳۰۰ کیلو مترو په واټن انتقال کیدلای شي. کونړ او ننګرهار به

هم گل گلزار شي او د گمبيرۍ دښته بـه د سمسـورو او ښـکلو منظـرو پـه ټاټوبي بدله شي».
د کونړ ولايت ډيرې لړې هوارې ځمکې لري او د سيند دواړه خـواوې يـې جلگو او بېلو نيولې دي. که چېرته په عصري سيستم سره بندونه او ويـالې جوړې شي او په ځينو برخو کـې استنادي دېوالونـه پورتـه شي، نـو تقريبـاً شپيته زره جريبه نـوره ځمکـه بـه د کرنـې وړ وگرځـي او دغـه شـته آبـادې ځمکې به د سيند له همېشـني خطـر څخـه خلاصـې شي» د سـور طـاق د پروژې په څنگ کې د وخت حکومت پلان درلود چې پـه مـره ورې کـې د لاهور ډاگ ته ځيرمه يو کانال وباسي. دغه کانـال تقريبـاً شـل زره جريبـه ځمکې ته اوبه ورکولې، خو دغـوايي کودتـا دا هرڅـه پـه لغتـه ووهـل او د کاغذ پر مخ پاتې شول. د حامـد کـرزي پـه لـومړۍ دورې کـې فرانسـوۍ مؤسسـې، مـديرا پـه کـونړ، نورسـتان، جـلال ابـاد او لغـمان کـې ځينـې پرمختيايي پروژې درلودې او د دغه کانال د جوړېدو بوديجې ته چمتو وه. د مديرا د زون مشرـ ځـوان او هيـواد پـال انجنيـر عبـدالرحمان سـتارزي ډيرې منډې ترړې وکړې او غوښتل يې چې د پخواني پـلان پـر بنسـټ د مره ورې د کانال کار شروع کـړي، خـو مـخ تـه يـې ډيـرې ډبـرې واچـول شوې.
شک نشته، جنرال اسماعيل خان د جهاد په مهال په هرات کـې د روسي يرغلگرو په وړاندې ښه مقاومت او قومنـداني کړيـده، ولـی هغـه د اوبـو او بريښـنا د وزارت لپـاره وړ کـس نـه وو. دا يـو مسـلکي وزارت دی او يـو عسکري قومندان دغه وړتيا نه لري، نو ځکه يې ونه شـو کـولاې چـې پـه کونړ کې بريښنايي بنسـټيزې پـروژې پـه کـار واچـوي. عبـدالله سـتانکزی کاږي« د افغانستان نـژدې ۷۰٪ اوبـه گاونـډيو هېوادونـو تـه بهېـږي چـې

کېدای شي ۲۵ زره مېگا واټه برېښنا تولید کړي، په داسې حال کې چې اوس یوازې د ۵۰۰۰ مېگاواټه برېښنا څخه ګټه اخیستل کېږي. که چیرې یواځې د مناګي بند د یو افغاني شرکت سره د شوې هوکړې له مخې جوړ شي، نو د کونړ څلور زره کورنۍ به له برېښنا برخمنې او یو شمیر کسانو ته کار پیدا شي» د مناګي د برېښنا بند د کونړ په ماڼوګي ولسوالۍ کې د نژدې ۱۰ ملیونه ډالرو په ارزښت جوړېږي چې پیسې یې د افغان دولت له بودیجې څخه ورکول کېږي.
د کونړ د ماڼوګي اوسیدونکی او ژورنالست، عبدالله هوډ وایي « د مالیې پخوانی وزیر، ډاکټر عمر زاخیلوال د یو پلاوي په ترکیب کې کونړ ته سفر درلود او ویې ویل چې د سور طاق د بند پروژه په دوو پړاوونو کې جوړیږي. په لومړي پړاو کې به۸۰۰ ملیونه امریکایي ډالره لګښت ورباندې راشي چې له ۲۵۰ څخه تر۳۰۰ مېګا واټه برېښنا به تولیدوي او په دوهم پړاو کې به پری نور ۸۰۰ ملیونه ډالر مصرف شي چې او تولید به یې ۱۰۰۰ مېګاواټو ته ورسي. د ۱۳۸۹ لمریز کال د غبرګولي په پنځلسمه د اوبو او انرژۍ وزارت له یوې ایرانۍ کمپنۍ سره د کونړ پر سیند د اوبو د یو بند د جوړولو تړون لاسلیک کړ چې تر دربو ملیونو امریکایي ډالرو پیسې به پری ولګېږي او د ګمبیري په دښته کې به د بریښنا یوه تولیدي دستګاه هم نصب شي. د دغې پروژې له مخې به د شګې په سیمه کې د اوبو یو بند وتړل شي چې د جلال آباد ښار ته اوبه ورکړي. د بند جوړل دومره ستونزمن کار نه دی، خو پر وړاندې یې پراته خنډونه لکه د سیمې د هیوادونو سیالي، ترهګریزې کړنې، د هیواد دننه سیاسي کړکیچ، په حکومت کې پراخه فساد، کمزوری اقتصاد، د ډیورنډ کرښه، د ملي ویښتیا او عامه پوهاوي کمې، د افغانستان د نظام راتلونکی برخلیک او روانه تېل

شوې جګړه، ټول هغه خنډونه دي چې د دغې سترې، غښتلې او ملي پروژې مخه يې ډب کړې ده.
(افغان ولس د کونړ پر سیند د بریښنا د بندونو جوړېدل غواړي) دا په ټولنیزو رسنیو په ځانګړي ډول فیسبوک او ټویټر کې د بندونو د جوړېدو په پار د یو کمپاین شعار دی چې په دی وروسیتو کې پیل شویدی. د کمپاین ګډونوال وایي چمتو دي چې د بریښنا د بندونو د جوړېدو په چاره کې د خپل وس په اندازه له افغان حکومت سره مالي مرستې وکړي. د افغانستان د اوبو د تنظیم ادارې ویاند، نظام خپلواک د ازادۍ راډیو ته وویل « د کونړ پر سیند د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې پنځه بندونه په نښه کړي دي، د ځینو بندونو د سروې او ډیزاین چارې روانې او د ځینو بشپړې شوې دي. موږ خپل مسئولیت ادا کوو او له ولس نه مو هم غوښتنه ده چې د داسې پروژو ملاتړ وکړي».
د رسنیو کارونکي وايي: دولت ته په کار دي چې سر له اوسه سلګونه ځوانان د مسلکي زده کړو او تخنیکي مهارتونو د تر لاسه کولو په پار وروزي او حتی بهر ته يې واستوي ترڅو د ملي احساس لرونکي ژمن مسلکي کدرونه ولرو. په عین حال کې، د دې لپاره چې د نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک مالي مرستې ترلاسه کړو، په کار ده چې افغانستان د پاکستان سره یوې معقولې پریکړې ته ورسیږي. یاد بانکونه په هغو پروژو کې پانګونه کوي چیرته چې د هیوادونو ترمنځ شخړې نه وي او د همکارۍ هوکړې ولري. که موږ داسې یوې موافقې ته ورسیږو چې زمونږ ګټې په کې خوندي وي، نو د بهرنیو پورونو او مرستو په تر لاسه کولو کې به له اقتصادي فشار سره نه مخ کیږو. ځینې پوهان بیا په دی فکر دي چې د ګمبیري په دښتې کې د یو نړیوال هوایي میدان د جوړېدو خبره

اصلا د اوبو پورې تړلې ده، ترڅو اوبه دلته مصرف نه شي، ښکته ته وبهيږي او د بند په ځای ميدان جوړ او د خلکو پام بدل شي.
په ولسي جرګې کې د کونړ د خلکو استازی، نعمت الله کرياب د کونړ پر سيند د بندونو د جوړولو په اړه کمپاين ګټور بولي، خو وايي « ترڅو په افغانستان کې کورنۍ سياسي کړکيچ او استخباراتي جګړه پای ونه مومي، نړيوال مرستندويه بنسټونه ښايي دې برخې کې پانګونه ونه کړي. ځکه نړيوالې ټولنې د اقتصادي ګټو په څنګ کې سياسي ابعاد هم سنجوي. کله چې يو څوک راپيدا کېږي او د همکارۍ په ځای درته ګواښونه کوي او ورور وژنه روانه وي، نو د غټو پروژو تطبيقول به يواځې هيلې وي».

## د کونړ پر سيند، ۲۳ جوړ شوي پلونه

د اروابښاد اعليحضرت محمد ظاهر شاه او شهيد ولسمشر، محمد داود د واکمنۍ پر مهال د کونړ په سيند باندې يواځې درې پاخه پلونه وو. لومړی د کامې په برخه کې وو، دوهم د سرکانو او دريم په اسمار کې، خو اوس دغه شمير ۲۳ پلونو ته رسيدلی دی. د تازه جوړ شوو پلونو په لړ کې يو د زيړي بابا په سيمه کې دی چې له ګاشکوټ او ګوريک سره يې نښلوي، بل د سپين جومات او خاص کونړ تر منځ دی چې پخوا به خلک دلته په جالو کې پورې وتل. ورپسې پل د څوکۍ او حکيم آباد په ساحه کې دی، بيا د کوټکي او پشد ترمنځ، بيا د ډنډونو او بيلې تر منځ کيبلي پل دی چې البته دا د موټرو لپاره نه دی. د سرکانو او ډنډونو مشهور پل، د مره ورې او اسعد آباد ترمنځ يو لوی پل او دوه نور د لاهور ډاګ او پلوڅې له ناو سره دي. د بيلې او شلتن تر منځ کيبلې پل، د شلتن او اسمار ترمنځ د ډمبر

پل، د شین کوړک په ساحه کې پل او د شیګل او شلتن تر منځ پل. د اسمار نوی غټ پل، په دانګام کې دوه پلونه، د ناړی په سیمه کې کیبلي او د لرګو پلونه او د دوکلام او بریکوټ ترمنځ ګڼ شمیر پلونه د یادونې وړ دي چې له برکته یې د خلکو په ورځني ژوند کې ډېرې ترانسپورټي اسانتیاوې رامنځ ته شوی دي.

## کونړ میشتي قومونه

وړاندې له دې چې د کونړ په ولایت کې د میشتو ۱۹ قومونو په اړه لنډه ځرګندونه ولرو، غوره بولم چې د پښتنو د ستر قوم د تاریخچې په اړه یوه ځغلنده یادونه وکړم. ځینې مغرضې او متعصبې کړی په لوی لاس تور لګوي چې ګوندې پښتانه قبطیان او یا د موسی علیه السلام اولاده ده. ځینی بیا وایي چې دوئ د بني اسرائیلو ورکه شوې دولسمه قبیله ده، دا هم ویل کیږي چې پښتانه د خالد بن ولید ځامن دي. که چیرې پښتانه په رښتیا سره د انبیاوو او یا د کوم قدرمند صحابي بچیان و اوسي، نو دا خو به د شرم او عیب په ځای د ویاړ او عزت خبره وي. ولی د باوري، کره او تاریخي اسنادو پر بنسټ، پښتانه د مرکزي آسیا د هیوادونو په میشتو ولسونو کې تر ټولو ستر اریایي قوم او د سلیمان د غره اصلي اوسیدونکي دي. ځمونږ په ټوله سیمه کې له ترکانو وروسته تر ټولو غټ توکم همدا پښتانه دي او د نفوسو شمیر یې د پنځه شپیتو او اویا ملیونو ترمنځ دی. د پښتو ژبه د نړی د شپږ زره اوه سوو پیاوړو او ژوندیو ژبو د پوړی په یو دیرشم پاټکي ولاړه ده. ځینی ژبپوهان انګیري چې ګوندې پښتو د نړیوالو ژبو په شپاړلسمه لیکه کې ځای لري، خو فکر کوم چې دا مبالغه ده.

## د پښتنو سترې پنځه ستې

پټه خزانه، تاریخ مرصع، نومیالی استاذ، پوهاند عبد الحی حبیبي او مشهور څیړونکی، ډاکټر عبد اللطیف یاد د معاصرې ژبپوهنې د تاریخي اسنادو په رڼا کې په دی باور دي چې پښتانه د ختې او نسب لـه پلوه آریایان، ژبه یې آریایي او دوئ هیڅکله د بني اسرائیلو له نسل څخه نه دي. پښتانه په بنسټیزه توگه په پنځو لویو ښاخونو یا پنځو پلرونو باندې ویشل شوي او د اوسني افغانستان اصلي اوسیدونکي دي.

### لومړی، کرلاڼي

دوئ د کرلاڼ بابا اولاده ده چې د افغانستان په جنوبي ولایتونو خوست، پکتیا، وردگو او ډیورنډ د کرښې اخوا سیمو کې اوسي. د کرلاڼي پښتنو مهمې قبیلې یا څانگې دا دي: وردگ، اورکزي، منگل، ځدراڼ، بنگښ، اپریدي، خټک، اتمان خیل، خوږیاڼي، ځاځي، توري، دوړ یا داوړ، تڼي، بنوڅي او مندوزي. دوئ ته ځکه کرلاڼي وایی چې د کر کیلې سره زیاته مینه لري. کرلاڼي پښتنو د هند په بنگال کې هم واکمني کړې ده چې سلیمان خان کرلاڼي، او تاج خان کرلاڼي د هند په تاریخي شخصیتونو کې شمار دي.

### دوهم، غرغښت

غرغښت، د پښتنو د یادو پنځو سترو قبیلو بل مشهور ټو لنیز گروپ او د غرغښت اولاده ده چې مؤرخینو دغه ټبر د ده له نوم سره تړلی دی. په بهرنیو مؤرخینو کې ابو الفضل علامي چې د مغول واکمن، جلال الدین محمد اکبر د دربار نامتو مؤرخ دی لیکي: درې ورونه هر یو؛ بیټنی، غرغښت او سړبن د پښتنو نیکونه گڼل کیږي او د ۳۸۸ هجري قمري

کال په شا او خوا کې يې ژوند کړی دی. پروفيسور، ولي محمد خان سيال کاکړ کاږي: غرغښت په اصل کې له دوو کلمو څخه مرکب دی چې يو يې غر او بل يې غښت دی. «گور گښت» يوه زړه اريايي کلمه ده چې د غرونو گرځيدونکو او هستوگنو ته ويل کيده. په مجموعي ډول د غرغښت پښتنو په ټولنيز گروپ کې دا قبيلې ډېرې مشهورې دي: صافي، کاکړ، گدون / جدون، مندوخيل، لودين او مشوانې.

## دريم، سړبن

د پښتنو دغه ستر ټبر د خپل غټ نيکه، سړبن (سړبني) په نوم شهرت لري چې اصلي نوم يې ابراهيم وو. سليمان ماکو په خپل تذ کرة الاولياء او د مغلي دربار مشهور مؤرخ ابو الفضل علامي دواړه په دې باور دي چې سړبن د قيس عبدالرشيد زوی او د غرغښت او شيخ بيټني ورور دی. سړبن دوه ځامن درلودل چې د يو نوم شرخبون (شرف الدين) او د بل نوم خرښبون (خير الدين) وو. د پټې خزانې له مخې، نوموړی په ٤١١ هجري قمري کال کې وفات شوی دی. ابداليان/ درانيان، محمد زي، ترين، شيرانې، بابړ، بړيڅ، پوپلزي، بارکزي، اڅکزي، اسحاقزي، موسی زي، نورزي، يوسفزي، مندړ، داود زي، ترکانې، گگيانې، سرکانې، څمکني، ملا گوري، مومند، او شينواري د ده اولاده ده.

## څلورم، بيټني

د دغې قبيلې خلک د خپل لوی نيکه بيټ د نامه له کبله په بيټنو شهرت لري. ځينو تاريخونو د هغه نوم بيټ نيکه، بيټنی او بټن هم ليکلې دی. نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې د شيخ بيټني په هکله کاږي: هغه د خپلو دوو ورونو، غرغښت او سړبن څخه کوچنی او د زهد او تقوی له

امله ډېر شهرت درلود او په کوچنيوالي کې يې عربستان او عراق ته سفرونه کړي وو. سليمان ماکو، اخوند درويزه او علامه عبد الحی حبيبي وايي چې هغه د ۳۵۰ هجري قمري په حدودو کې ژوند کړی او يو روحاني شخصيت وو. تذکرة الاولياء د ده يو مناجات راوړی:

لويه خدايه، لويه خدايه ستا په مينه په هر ځايه

غر ولاړ دی درناوی کې، ټوله ژوي په زاری کې

دلته دي د غرو لمنې، زموږ کيږدی دي په کې پلنې

دا وګړي ډېر کړې خدايه!

لويه خدايه، لويه خدايه!

په پخوا وختونو کې د دغې قبيلې خلک د سليمان غره په لويديځه خوا کې اوسيدل، خو په هندوستان کې د پښتون واکمن سکندر لودي د واکمنۍ په وخت دوئ د خپل اصلي ټاټوبي څخه وکوچيدل او د ګومل د سيند پرغاړه په ټانک کې ميشت شول. بيټني په ننګرهار، غزني، کابل، جنوبي وزيرستان، ديره اسماعيل خان، ټانک، بنو او لکي مروت کې آباد دي. همدارنګه په هندوستان کې د لودي او سوري پښتنو د واکمني په مهال، دوئ په پوځ کې ستره ونډه درلوده او په دربار کې په مهمو ځايونو کې ګمارل شوي وو. اورکزي، مزياڼي، مندوخيل، ادم خيل، معروف خيل، حسن خيل او ملا خيل د بيټني اولاده بلل کيږي.

## پنځم، غلجيان / لوديان

غلجيان په افغانستان کې د پښتنو د شجره انساب او تاريخي روايتونو له مخې د بيټ نيکه د لور، بي بي متو او لاده ده. په ځينو مخطوطاتو کې دوئ غلجي، خلجي، غلزي او غوري بلل شوي دي. سلطان علاء الدين غوري، سلطان غياث الدين غوري، سلطان شهاب الدين غوري، سلطان

قطب الدین غوري او لومړنۍ مسلمانه پښتنه ملکه، سلطانه رضیه د همدې غوري واکمنې شاهي کورنۍ غړې وه چې له ۱۲۳۶ څخه تر ۱۲۴۰م پورې یې په هندوستان واکمني کړې ده. د غلجیو د ټولنیز ګروپ مهمې قبیلې په دې ډول دي: هوتک، توخي، اندړ، تره کي، خروټي، سلیمان خېل، ابراهیم خېل، توتا خېل، علي خېل، عمر خېل، عیسی خېل، ملا خېل، یوسف خېل، اکاخېل، امرخېل، اوریا خېل، حسین خېل، هودخېل، بابکرخېل، جبارخېل، کړوخېل، معروف خېل، تره خېل، رستم خیل، احمدزي، ستانکزي، دولتزي، ملکزي، جلالزي، شملزي او عبد الرحیمزي.

په غور کې سلطان شهاب الدین غوري او د هغه ورور، غیاث الدین غوري د یولسمې میلادي پیړۍ په مهال په چغچران (فیروز کوه) کې یوه ستره او متمدنه واکمني جوړه کړې وه، غوري شاهان د پښتنو لومړني واکمنان بلل کیږي. همدارنګه ګورګانیانو ته له ماتې وروسته، د هند په شمال کې شیر شاه سوري (فرید خان) د لودیانو بل یاد واکمن وو چې په ختټه پښتون او له قندهار څخه هلته تللی وو. په ډیلي کې د ابدالي احمد شاه بابا ستره واکمني د پښتنو د تیر برم او سیاسي ورتیا تر ټولو ستره بیلګه او د دې قوم د ویاړمن تاریخ ژوندۍ شاهده ده.

د پښتو ژبه له اریایي لرغونو ژبو څخه ګڼل کیږي او عمر یې له ۳۵۰۰ کالو څخه کم نه دی. د پښتو ژبې لیکل د عربي ژبې د الفبا هجایي بڼه ده، البته په عربي تورو سربیره خپل نهه ځانګړي توري هم لري چې غږیزه لهجه او لیک دود یې له عربي سره توپیر لري، توري دا دي (ټ، ډ، ړ، ږ، ژ، ځ، څ، ښ، ڼ). د دغو ټولو یادو واکمنانو مورنۍ ژبه پښتو وه، خو د دوئ په دربارونو کې فارسي او عربي ژبې کاریدله او دغه لړۍ د

امیر شیرعلي خان تر واکمنۍ پورې روانه وه. ولې د هغه له مرگ وروسته دري / فارسي یوځل بیا د دربار رسمي ژبه شوه او تر ننه حاکمه او مسلطه ده.

د یو مځکني حقیقت په توگه، د استعماري ځواکونو یوه همیشنۍ حربه دا ده چې د خپلې واکمنۍ په قلمرو کې لږکیو (اقلیتونو) ته واک سپاري. د جاسوسۍ فعالیتونه او د خپلو مخالفینو ځپل او د مقاومتونو د څارنې چارې د اقلیتونو په لاس پرمخ بیايي، ځکه دوئ یو بل ته ډېر اړ وي. همدا نن گورو چې په افغانستان کې زیاتره مهم ټلویزیوني چینلونه، راډیویي سټیشنونه، میډیا گروپونه، چاپ خانې او د تجارتي اعلانونو شرکتونه د اقلیتونو په واک کې دي او مالي ملاتړ او پالیسۍ یې د بهرنیو اړخونو له خوا برابرېږي. دغه رسنۍ، په ځانگړي ډول بصري میډیا په هیواد کې د قومي تعصب، مذهبي کرکې، پردي پالي فکر ترویج او د ملي ټرمنالوجۍ په پیکه کولو کې ډېر رول لري او ناوړې پایلې یې په غړیدلو سترگو گورو.

په کونړ کې د میشتو قومونو شمیر ۱۹ ته رسي چې د نفوسو د اکثریت له مخې، د صافي قوم په لومړي کتار کې راځي. د قومونو نومونه دا دي: سادات (پاچایان) شینواري، مشواڼي، مومند، ماموند، سالارزي، یوسفزي، الکوزي، ملکزي، ملا گوري، سرکاڼي، ترکلاڼي، افریدي، بزرگ خیل، گجر، ساوجي، نورستاني او پشه یي چې په دره نور کې ورته شاړي هم ویل کیږي. په کونړ کې ځینې کسب کار او هنر پیشه خلک هم اوسیږي چې له یادو قومونو او قبیلو څخه نه دي لکه دوزگران (نجاران) اهنگران، جولاگان، جاله وانان او مسگران. دوئ دلته د دیگانو او تاجکو په نوم یادیږي او داسې انگیرل کیږي چې دوئ له نورو ځایونو څخه د خپلو کسبونو سره راغلي او بیا دلته میشت شویدي.

## صافي (ساپي)

د کونړ د پنځو غټو او له نفوسو ډکو درو (پیچ، باډیل، دیوه گل، مزار، شونکړۍ) غوڅ اکثریت صافي دي. یوه احصائیه څرگندوي چې د کونړ د ټول نفوس ۲۷ سلنه خلک، صافي دي. همدارنگه د صافي قوم ځیني خیلونه د کاپیسا په تگاب او نجراب، د پکتیا په گربز، د لغمان په علي نگار (الینگار) دولت شاه، عمر زیو او د ډیورنډ د لیکې پورې غاړه د مومندو، شمالي او جنوبي وزیرستان په ایجنسیو کې آباد دي. صافی قوم چې په غټه کې د پښتنو د غرغښت له ټبره دي، په دریو لویو خیلونو یا څانگو باندې ویشل کیږي: گربز، مسود (مسعود + محسود) او ودیر (وزیر+ قندهاري). په پخوانیو ټولو تاریخي اسنادو او کتابونو کې دغه قوم د صافي یا صافیانو په بڼه لیکل شوی دی چې عربي توري دي. په انگریزۍ کې د Safi (اف) په توري لیکل کیږي خو هیڅ چیرې د (پي) په توري نه دې لیکل شوې. ولې په دی وروستیو کې د یو ډول ژبنیو تعصبونو او بدلونونو په پایله کې د صافي په ځای ساپي او جمع یې ساپیان لیک دود شوی او حتی ځینې یې څاپیان لیکي چې ډیر نا اشنا بریښي. البته په ځینو کلاسیکو مخطوطاتو کې د سوپتا، سابیت او ساپیتا نومونه یاد شوي او مؤرخین فکر کوي چې ښایي مطلب به همدغه اریایان صافي دي.

تاریخپوهان په دی اند دي چې دغه قوم د جنوبي هندوکش په لمنو کې میشت وو او بیا ورو ورو د ختیځ او سهیل هوارو سیمو ته را وکوچیدل او همدلته میشت شول. ولی یوه خبره ډیره جوته ده، صافیان چې هر ځای اوسیږي خویونه، عادتونه او حتی لهجې یې بیخي سره ورته او یو شانته دي. گڼ شمیر صافیان د اعلیحضرت ظاهرشاه د واکمنۍ په وروستیو

دریـو لسـیزو کـې د دولـت لـوړو مقـامونو تـه ورسـیدل، خـو د خپـل غـرني موقعیت او د شاهي نظام سره د مخالفتونو له کبله یې اقتصادي حالت ډیر کمزوری دی. زیاتره یې په داسی غرنیـو سـیمو کـې اوسـیږي چـې ډیـری کمې یا هیڅ د کر کیلې ځمکې نه لري. نو د ډیـر مجبوریـت لـه وجـې پـه هوارو سیمو کې د نورو خلکو په ځمکو کې په دهقـانی کـار کـوي، یـا پـه کوزې پښتونخوا، پنجاب او سند کې پـه چوکیـداری پیسـې ګټـې او خپلـو کورنیو ته یې را استوي. پخـوا بـه صـافیانو پـه خپلـو لاسـونو د ځـان لپـاره وړینې جامې جوړولې. د بزو (اوزو) او سیرلیو له وژغنو څخه شړی، چپنې، پیتاوې او لمڅي جوړول او خپله ګوزاره به یې کوله. دوئ اوس هم د خپلـو غواګانو او بزو په شیدو، پنیرونو او غوړو باندی د ورځني ژوند چارې پر مخ بیایي.
د اقتصـادي حالـت د کمزورتیـا سره سره، صـافیان پـه عمـومي ډول ډیـر ډوډیمار، غیرتي او په تنګه کې د کنډو خلک دي. جـوار او وربشـې یـې د خوراک عمده برخه ده او له وریجو او پلاو سره چندان اشنایي نه لـري. د غرونو او بانډو خلک هیڅکله سر لوڅي نه ګرځي، پکول یا سپینه تیله داره خولۍ په سر کوي. ملایان، حاجیان، ملکان او مخه ور سپین ږیـري یـې پګړۍ تړي او هغه د دوئ د وقار او مشرۍ نښه ګڼل کیږي. لـه موسـیقي سره ډیره علاقه لري؛ منګي، سیتارونه، بینجوګـانې، ربابونـه او شـپلۍ پـه دوئ کې ډیره دود او د ساتیرۍ او خوښیو یوه مهمه مشغولا ده. همیشـه په کورونو کې ټوپکونه ساتي، خو له بده مرغه زیاتره یـې پـه خپـل منځـي دښمنیو او فتنو کې ژوند کوي. د صافو په سیمو کې د ټولنیز عدالت زیات خیال ساتل شویدی، حتی د کمزورو کورنیو لکه کسبه کارو سـهم هـم پـه ټولنه کې خوندي دی او دوئ د نورو میشتو قومونـو پـه مـنځ کـې مسـاوي

حقوق لري.

## ساپي کال

کله چې د امير عبد الرحمان خان له خوا فرمان صادر شو چې په هرو اتو نارينه وو کې به د کورنۍ يو غړی په لازمي توګه عسکري خدمت کوي. هيوادوالو د دغه فرمان په منلو کې کوم مخالفت او سرغړونه ونه کړه او ځو لسيزې دغه د جلب او جذب لړۍ روانه وه. مګر د اعليحضرت ظاهر شاه تره او صدراعظم، سردار محمد هاشم خان له خوا په دی فرمان کې بدلون راوستل شو چې تر مخه به يې هر ځوان چې عمر يې د دوه ويشتو او اوه ويشتو کلونو ترمنځ وي، په جبري ډول د عسکرۍ لپاره خپل نوم ثبتوي. دا يو له هغو لاملونو څخه وو چې د کونړ صافيانو او په ځينو جنوبي او ختيځو ولايتونو کې د دې فرمان په خلاف د بغاوت سرونه راپورته شول. د حکومت بې ځايه بيګارونه، رشوتونه، په کال کې څو ځلي ماليات، د غلو دانو لپاره د دولتي ګودامونو لری والی، بی کاري، بيوزلي او د تعليمي کچې ټيټوالی د صافو د خوابدۍ او پاڅون نور لاملونه وو.

د ۱۳۲۳ لمريز کال د وږي په يويشتمه نيټه (۱۹۴۴م) کال د ديوه ګل درې د ملک mamوند صافي په مشرۍ د کونړ يوه ډله مخه ور مشران جلال آباد ته لاړل تر څو د سردار محمد داود خان، د ننګرهار د والي او د يولسمې فرقی له قومندان سره وګوري. خو جرګه بيرته تش لاسونه راستنه او د حکومت له خوا ورته هيڅ کوم ډاډ ور نه کړل شو چې ګوندی د دوئ ستونزې به هوارې کړي او يا به خپل قوانين بدل کړي. ما د ساپي کال په اړه درى بيلا بيل تاريخي اسناد پيدا او ولوستل، په ټولو ليکنو کې تقريبا په متحد المال ډول راغلي چې د صافي قوم ملکانو د ديوه ګل په پلار درې کې غونډه ترسره او د حکومت سره يې د مخالفت جنډه پورته

کړه. د غونډې د مشرانو نومونه دا دي: د باډېل درې څخه ملک میر سلام خان، ملک رحیم دل خان، ملک سیدان شاه او ملک دوا جان. له دیوه گل درې څخه ملک মামوند صافي، ملک گلزار خان او ملک میرزا عبد الکریم خان. له مزار درې څخه مولوي ابا (عیان) خان، ملک الله داد خان او ملک دابن (دائین) خان. د پیچ له درې څخه ملک عظیم خان، وکیل محمد سید، ملک محمد جمال، ملک محمد شاه، ملک محمد صفدر خان، حاجي غلام عمر خان او ملک سید ستار خان. د شونکړۍ له درې څخه عبد الجلال خان او د دره نور څخه ملک دلاور خان او ملک شاد نور برخه اخیستې وه.

د لسو ورځو اوږدو جرگو مرکو په پای کې دغو مشرانو پریکړه وکړه چې یو ځل بیا د اوو تنو سپین ږیرو یوه جرگه جلال آباد ته واستوي او خپلې غوښتنې د یو څه تنازل او ټیټې اوړې سره حکومتي چارواکو ته وسپاري. په دغې ډلې کې د ټولو غټو درو، یو یو تن استازي برخه درلوده او مخامخ یې د صدر اعظم، سردار محمد هاشم خان سره خبرې وکړې. څرنگه چې خبرې بیا بې خونده وې، نو کونړ ته له راستنیدو سره جوخت یې د حکومت سره د ډاگیز مخالفت تابیا ونیوله. په خاص کونړ، باډېل، مزار درې، چغسرای او د پیچ درې په گډون ځای ځای غلچکي او وسله وال بریدونه پیل شول.

میرویس جمال ساپی د دغه خونړي پړاو د جگړې او بیا د روغې جوړې په هکله د محوري کسانو د نومونو او ځایونو په اړه داسې لیکي « شیر داد خان او میا عمر د دیوه گل له درې، سردار خان او وکیل فضل جمیل د وطلې له کلي. مولوي عبدالصمد خان، محمد زاده خان او سلطان محمد خان د گل سلک له کلي. محمد صفدر اخند زاده، راز الدین او سید اکرام

د بسطلې له کلي. ملک ایشان د کنډۍ له کلي، ګل میران د لینډه لام له کلي، ملک محمد حسن د سینزو له کلي، محمد جمال خان، ملک محمد لایق، محمد صدیق او ملک حیدر د لېچلام له کلي، ملک عمرا خان د ماڼوګي له کلي او حاجي ظفر د وره دیش له کلي څخه. ملک سید خان د کولک کلي، ملک ایشان د کنډګل، ملک عزیز الله، ملک عین الله خان د برکنډۍ، ملک عبد القادر د کور باغ کلي، میر اعظم خان د شوړیک څخه».

همدارنګه « وکیل میر اعظم خان او حاجي جمدر خان او وکیل محمد اکرام د وټه پور څخه. ملک عطاء الله د کیرالې څخه، حاجي نظام الدین د دم کلي، حاجي سیف الرحمن او ملک عزیز د مره ورې څخه. ملک معبود او حکیم اخند زاده د نرنګ او میر سلام خان د باډیل علاقې څخه. ملک شین ګل، وکیل میر باز، ملک زرین، مولوي فقیر الله (صاحب الحق) د څوکۍ څخه. ملک محمد عمر، ملک جمیل د دیوه ګل نه، ملک متصل، علي خان، دوست خان او باز محمد خان د نورګل څخه. وکیل محمد قدیر د خاص کونړ، وکیل محمد جان، ملک رحمت، ملک کریم د سرکاڼو نه، ملک نور بازی، علي خان، مفاد خان او تاج محمد خان د شیګل نه، سید ملک او حاجي محصل د اسمار څخه».

دغه جګړه چې په ساپي کال سره شهرت لري یولس میاشتې یې دوام وکړ. ولې دغه ترینګلی او ناکراره حالت په ۱۳۲۴ لمریز کې پیل او د ۱۳۲۶ کال په ژمي کې پای ته ورسید. زرګونو کونړیانو او دولتي ځواکونو خپل ژوند له لاسه ورکړ او د بې شمیره مادي تاوان لامل وګرځیده. د حکومت یوه جنګي الوتکه د نرنګ د چار قلعه کلي په عیدګاه کې را وغورځیدله. یو پیلوټ یې ځای په ځای مړ او بل پیلوټ، ګلبهار خان

ځائې په ټپي حالت کې ونیول شو. ارواښاد حاجي حکیم خان صافي او ارواښاد منجور صافي چې دواړه اصلا د شونکړۍ دي او په چارقلعه او کړه مار کې اوسیدل، پیلوټ ته پناه ورکړه او بیا یې د حکومت ځواکونو ته وسپارلو. څه موده وروسته، جنرال گلبهار خان ځائې د افغانستان د هوايي ځواک عمومي قومندان وټاکل شو. نوموړي پیښور ته هجرت وکړ او غالبا چې په ۲۰۰۸م کال کې په حیات آباد کې وفات شو.
د ساپي کال د جگړې پایلې د صافي قوم د مشرانو لپاره ډیرې دردونکې وې. ځینې یې د جنگ په مهال ووژل شول، څه ټپیان شول او څه یې ولچک کابل ته واستول شول او هلته په زندانونو کې وفات شول. د شهسوار، سلیمي او طالب اخند زاده نومونه ښه وځلیدل، خو د څوکۍ د رباط او چغسرای د چونۍ له تالان پرته، صافو بل هیڅ ترلاسه نه کړل.
عبد المالک صافی په دې هکله په خپلې څیړنې کې کاږي « نژدی ۴۰۰ کورنې د جگړې په پای کې نورو ولایتونو تبعید شوې. د ځینو مشرانو نومونه یې دا دي: منصور خان، میرزا خان، شهسوار جمیل، سلیمان خان چمبیل، ملک خان، تجور خان، امان خان، گلوخ خان او انځر خان. رحم دل خان، دوا جان، میر اعظم خان، غلام جان، قطب خان، عبد القادر خان. ملک عظیم، شاه جهان، څرگند خان، غلام عمر او هاشم خان. وکیل محمد صدیق، محمد کمال، کپتان حضرتیا گل، عبدالواحد او محمد جلال. سید عظیم، کریم، محمد جمال، عبد الکریم، محمد لیق (لایق) محمد قاسم، شریف الدین، مبین، مالي جان، سید اکرم، میا عمر، سردار خان، سید عمر، عین الله خان، حضرت ولي، یوسف، ایکه خان، گل میران، سلیمان شاه، حبیب گل، هجران او رحمت الله خان».

## مشواڼي

مشواڼي د غرغښت له پښته، پښتانه دي او په ځينو تاريخي اسنادو کې کاکړ بلل شوي دي. دوئ د هيواد په جنوب او جنوب لويديز کې د ډيورنډ د ليکې په اوږدو کې اخوا ديخوا پراته او اصلي ټاټوبی يې د سليمان د غرو لمنې دي. بيا په مزه مزه له هغه ځايه د هجرتونو د سترې لړۍ په پيل کې، د بلوچستان شمالي او شمال ختيزو څنډو ته، ورپسې د ډيورنډ ختيځې ليکې دواړو غرنيو خواو ته چې اسمار، دانګام، ناړۍ او شلتن هم په بر کې نيسي، ځای په ځای شوي دي. د ننګرهار په بټي کوټ، د کابل په کوهدامن، د قندهار په سنګ حصار، د هلمند په ګرمسير، د زابل په قلات، بغلان او پروان په ولايتونو کې په زرګونو مشواڼي آباد دي. همدا ډول د دې غټ قوم بې شميره کورنۍ او واړه واړه خيلونه د کوزې پښتونخوا په پيښور، مردان، کاټلنګ، صوابۍ، ديره اسماعيل خان، دير، جندول او باجوړ کې خال خال پراته دي.

په کونړ کې د دوئ شميره د پنځه ديرشو او پنځه څلويښتو زرو تنو ترمنځ ښودل شوی، مګر په دې شمير کې د زياتي او کمي امکان په خپل ځای وزن لري. د مشواڼيو د مړي او ژوندي دودونه، ژبه، راشه درشه او کلتور د کونړ د نورو قومونو سره غټ توپير نه لري. دا هم ويل کيږي چې دوئ د لوديانو نژدې تربوران او شريکه وينه ده. د کوزې پښتونخوا په ګنډا پور، هريپور، هزاره، او سريکوټ کې ميشت پښتانه په اصل کې همدغه مشواڼي دي. سيد يوسف شاه (شاه جي) په خپل کتاب (حالات مشواڼي) کې چې د پاکستان له جوړيدو څخه پنځلس کاله وړاندې په اردو ژبه

لیکلی وایـي « پـه دغـو سـیمو کـې نـژدې دولـس زره مشـوانې اوسـیږي. ځرنګه چې دوئ ډیر میړني او جنګیالي خلک وو، نو پیرنګیانو به له هغوئ ځخه د خپلو پوځونو په لیکو کې کار اخیسته او پوځ کې لـوړو مقـامونو تـه رسیدلي وو. سلیم شاه مشوانی چې په ۱۸۹۱ میلادي کال کې د سـیکانو له لښکر سره د تاریخي جګړې په پای کې ووژل شـو، پـه مشـوانو کـې د شهید او اتـل پـه نـوم کـافي شـهرت لـري او پـه درنـاوي سره یـادیږي. د هندوستان په دکن او پاکستان د سند د صوبې پـه ځینـو صـحرایي سـیمو کې یو زیات تعداد مشوانې اوسیږي. ولی اوس د هغه ځـای پـه خـم کـې رنګ او تش په نامه د پټان په نومونو سره یادیږي چې له نورو پښـتنو سره بیخي جلا او بدل شوی کلتور لري» د سـلیم شـاه مشـوانې دغـه شـمیره، ممکن اوس مهال پنځه چنده لوړه و اوسي.

## شینواري

د پټې خزانې، پښتانه د تاریخ په رڼا کـې او د پښـتنې قبیلـې (شـجرې) د اسنادو له مخې، شینواري د خرښبون په زوزات کې د کنـد او خمنـد اولاده او په غټه کې د سړبن ځانګـه ده. شـینواري د سـلیمان د غرونـو او نـاوونو ځخه د هیواد ختیځو ځنډو ته کوچیدلي او په ځانګړي ډول د سپین غر په دواړو خواوو کې میشت شوي دي. په ننګرهار کې د شینوارو لویه ولسوالي په اوسنی اداري تشکیل کې د نازیانو، هسکې مینې، اچین، دور بابا، غني خیلو، سپین غر، روداتو، چپرهار او مومند درې ولسوالۍ دي او د اسـتوګنو اکثریت یې شینواري دي. همدارنګه د پروان په ولایت کې د شینوارو پـه زرګونو کورنۍ میشتې دي او د هغه ځای خوئ بوئ یـې خپـل کـړی دی. په کوزې پښتونخوا کې د شینوارو زیاتره خیلونه د تورخم او لواړګي ځخه د کوهاټ تر هوارو میرو پوری تیت پرک پراته دي او دغه لړۍ تر پاکستاني

کشمیر پورې رسي. همدا راز په باجوړ، چمرکنډ، څاګي، شېخ بابا او سره کمره کې هم شینواری استوګنه لري. په کونړ او ګرد چاپېره نږدې سیمې کې د شینوارو څلور ښاخونه آباد دي چې هغه: هلال زي، عبد الرحیم خیل، شبیل خیل او سلیمانخیل دي.

د شیګل ولسوالۍ ٨٠٪ خلک شینواري دي، دوئ دوه نیمې پېړۍ وړاندې د کوزې پښتونخوا د مومندو ایجنسۍ د شیخ بابا او سره کمر څخه کونړ ته راغلي دي. شینوارو د پخواني کافرستان (اوسني نورستان) په نیولو او هلته یې د اسلام په خپرولو کې عمده او بنسټیز رول لوبولی دی. شیخ بابا چې خپل نوم یې شیخ زکریا دی، د سور کمر او چمرکنډ له سیمې څخه دلته راغلی، د اسلامي دعوت په تبلیغ او غزاګانو کې یې مخکښ رول درلود. په یو شمیر تاریخي او ادبي لیکنو کې شینوارو ته خیبریان هم ویل شوي؛ د تورې، میلمه پالنې او وفا داستانونه یې یاد شوي دي. د شینوارو حجرې او جوماتونه تل د مېلمنو او مسافرو پرمخ خلاصې وي. د شینوارو د جرګې سیستم ډېر پیاوړی او د خپلو مشرانو خبره، د کاڼي کرښه ګڼي. ښایي له همدې امله دوئ اکثره خپلې حقوقي لانجې او کورنۍ ستونزې د حکومت په ځای د قومي جرګو له لارې هواروي.

ډیر کله چې د شینواري نوم یاد شي، نو په غیر ارادي او ناخاپي ډول د هنر او ادب د خلکو په ذهن کې د پښتو د غزل بابا، حمزه شینواري انځور په ذهن کې چورلک ووهي، دغه شعر یې له خپلو وړمو او خوشبیو سره را یاد چې:

ستا په اننګو کې، د حمزه د وینو سره دي

ته شوې د پښتو غزله ځوان، زه دې بابا کړم

د ۱۳۸۳هجري لمریز کال په لومړیو کې ګڼ شمېر شینواري د کابل ښار په

باغ علیمردان کې سره راټول شول او د یوې قومي شورا بنسټ یې کیښود. څو میاشتې وروسته شینوارو خپله دغه نوی شورا د عدلیې وزارت د سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو په ریاست کې ثبت او د فعالیت اجازه یې ترلاسه کړه. دوئ اوس یوه ویبپاڼه او خپرونه هم لري. د سر محقق دوست شینواري، ماما زرغون شاه او زما د ښاغلی دوست، زرغون شاه شینواري له نوم سره بیخي ډیر خلک اشنا دي. نوموړی یوه تکړه او پیژندل شوی ژورنالست دی، د کلیفورنیا په لاس انجلس کې د سولې کاروان په نوم یوه ټلویزیوني اونیزه خپرونه لري چې زیاتره سیاسي او ټولنیز موضوعات راسپړي او څیړي.

## سالارزي

که چېرې د سالارزیو د قبیلې شجره په غور سره وڅېړو، نو څرګنده به شي چې دوئ هم سړبني پښتانه او د ترکاڼیو د پنځو ښاخونو (ماموند، ابراهیم خیل، سالارزي، اسوزي او شمل زي) څخه یو مهم ښاخ ګڼل کیږي. سالارزي د ډیورنډ د لیکې هغه غاړه د باجوړ په لر او بر امدک، لر او بر سدین، د باجوړ ښار، ناوه ګۍ، کوټکي، الیکي، چار منګ، بابو قره، رودکې او نو ښار کې ځای ځای آباد دي. د کونړ په کیرالې، دم کلي، مرورې، دانګام، بارګام، اسمار، شونکړی، اوغز باغ، ساو، نرنګ، سرکاڼو، ګنجګل، باروګۍ، پشد او دونایي کې میشت او په خپلو منځونو کې ډیرې مزبوتې او نه شلیدونکې اړیکي لري.

ډاکټر لطیف یاد په خپل کتاب، پښتنې قبیلې وپیژنۍ کې لیکي « د سالارزو یو بل ښاخ د سدین او امدک په دوو لویو څانګو وېشل شوی دي. د سدین څانګې دا دي: سین خېل، کټکي خېل، عالي خېل، قلندر خېل، خیر خان خېل، کندریان.  د امدک څانګې دا دي: ابراهیم خېل،

برم خېل، هلال خېل، مېر داد خېل، شومه خېل، اکا خېل، محمود خېل، ګبري، فتح خان خېل، حیدر خېل، تور خېـل، څرګنـد خېـل او تـاراڼ». د ۱۹۶۱م کال د سر شمېر نې له مخې په باجوړ کې د سالارزیو ټول شـمېر اویا زره تنه او په کونړ کې څلویښت زره تنه ښودل شـوی وو. اوس چـې د دغې سر شمېرنې څخه پوره شپیته کلونـه تېـر شـوي، ښـایې د دغـو وګـړو شمیر اوس درې چنده وي.

سالارزي په پښتنې ننګ، غـیرت او پښـتو نـوالې بانـدې ټینـګ ولاړ، ډېـر میلمه پالي او تورزن خلک دي. تل یې حجرې له میلمنـو ډکـې او ټوپـک او غاړه کۍ دیوالونو ته ځوړندې وي. د هند په نېمه وچه باندې د انګریزي یرغلګرو په وړانـدې یـې ډېـرې غټـې جګـړې کـړې دي. دوئ د شـوروي اتحاد د لښکرو سره د کونړ پـه سرحـدي جبهـو کـې، هـم خپلـې او هـم د ښکیلاک ګرو پریمانه وینې توئ کړېدي. د افغانستان د علومو د اکاډمۍ پخوانی غړی، سر محقـق محمـد نعـیم سـالارزی او د ولسمشرـ پخـوانی وياند او په ملګـرو ملتونـو کـې د افغانسـتان د دایمـې نمایـده ګـۍ غـړی، نظیف الله سالارزی د یادولو وړ شخصیتونه دي.

## یوسفزي

د سړبن د ټولنیزې ستري قبیلې له غټو څانګو څخه یوه هم یوسـفزي دي چې د خرښـبون اولاده بلـل کیـږي. دوئ د کـوزې پښـتونخوا پـه مـردان، صوابۍ، د پیښور په هشنغر، دیر، باجوړ، هزاره او ملکنډ کې آباد دي. ولی د خرشبون د دریو ځامنو هر یو کند، زمند او کاسي اولاده په کـویټې، ژوب او لوی قندهار کې هم په پراخه کچـه میشـت او خـواره واره پراتـه دي. د اخوند درویزه د وینا له مخې، یوسفزي او مندوړ د کند ځامن او د خرشبون کړوسي دي چې د پیړیو پیړیو راهیسې دلتـه آبـاد او د مغلـو سره د مقـابلو

اوږد تاریخ لري. د حیات افغاني په ګډون، ځینی مؤرخین په دی باور دي چې یوسفزي اصلا د ارغستان او سورغر څخه راکوچیدلی قوم دی چې سوکه سوکه د کوزې پښتونخوا هوارو مځکو ته راکوز او بیا میشت شوي دي. د کونړ په سرحدي ولسوالیو کې د یوسفزو ګڼ شمیر خیلونه اوسیږي چې زیاتره یې د خاص کونړ، سرکانو، پشد، اسمار، دانګام او اسعد آباد کې دي.

## بابړ

بابړ په اصل کې سړبني پښتانه او د شیرانیو د قبیلې یوه څانګه ده، خو نن دوئ خپل ځانګړی هویت لري او د یوې جلا قبیلې په توګه پیژندل کیږي. د تاریخ حیات افغاني د شجرې پر بنسټ بابړ د ودم ځوی، د شیرانی لمسی او د شرخبون کړوسی دی. بابړ د انجر او سنجر په نامه دوه ځامن درلودل او د استوګنې اصلي ځای یې د سلیمان غر ګڼل شوی دی. د بابړو د قبیلي خلک د پخوا زمانو راهیسی د سوداګرۍ د کاروانو سره لیوالتیا درلوده او هندوستان او د منځنۍ اسیا د بخارا او سمرقند ترمنځ د پوستینونو، اینجې او وریښمینو ټوکرانو سوداګري کوله. د افغانستان د لوی بابا، احمد شاه دراني په وخت کې نور محمد خان بابړ ته د مستوفي الممالک او ګل محمد خان بابړ ته د امین الملک (لوی خزانه دار) مهمې د ندې سپارل شوې وې.

## ترکاڼي

ترکاڼي د پښتنو یوه ډیره مشهوره قبیله ده چې د سړبن په ټولنیز ښاخ پورې تړاو لري. دوئ یوسفزو، مندوړو او ګګیاڼو ته ډیر نږدې او تربوران یې ګڼل کیږي. په پخوانیو متونو او هم د اخوند درویزه په «تذ کرة الأبرار

والأشرار» کې «ترکلنې» بلل شوي، خو اوس د ترکاڼي په لیکدود سره لیکل کیږي- ترکاڼي په اصل کې د قندهار د ارغستان د غونډان او سره غره اوسیدونکي دي، مگر وروسته د مقر غوریاخیلو او بیا د تیموري مرزا ابوسعید د واکمنۍ په مهال کابل ته کوچیدلي دي. له اتمانخیلو سره د خپلوۍ او ملگرتیا په پایله کې د کابل اړونده شنو غرونو او هوارو سیمو کې دوئ په یو مهم ځواک بدل شول. مرزا ابوسعید د دوئ د تورزنو ځوانانو له برکته په ۱٤٦۹م کال کې له کابل څخه تر غزني پورې پراخې سیمې ونیولې. کله چې مغول په پښو ودریدل نو لومړنې گوزار یې د همدوئ په سرونو وکړ. له کابل څخه راښکته شول او په لغمان کې یې واړول، مگر یوسفزو، گگیاڼو او اتمانخیلو ننگرهار ته مخه کړه. مغولو واکمنو دغه درې واړه قبیلې د خپل ځان لپاره یو جدي گواښ گڼلو، له همدې امله یې تل د فشار او څارنې لاندې ساتل او دیته یې اړ ویستل چې کونړ، باجوړ او سوات ته کډه شي. ماموند، سالارزي، شملزي، اسوزي او ابراهیم زي د ترکاڼي ټبر پنځه مهمې څانگې دي.

## خلیل

خلیل د غوریاخیلو له پښته راوتلې قبیله ده، لوی نیکه یې غوریا نومیده او څلور ځامن یې درلودل چې یو یې خلیل وو. که چیرې د خلیلو قبیلې شجره په غور سره تر څیړنې لاندې ونیسو نو جوته به شي چې دغه قبیله هم د سړبني پښتنو د ټولنیز ښاخ پورې اړه لري او د ظهیر الدین بابر د واکمنۍ په لومړیو وختونو کې له قندهار څخه غزني ته، بیا کابل او ننگرهار ته راغلل او د څو لسیزو پاتې کیدو وروسته، د خیبر د تاریخي درې له لارې پیښور ته وکوچیدل. د حیات افغاني د تاریخ مؤلف داسي لیکلي دي « د دغې قبیلې وگړي چې د پیښور په میداني برخو کې

استوګنه لري، د مومندو او برو درانيو سره يو ځای له قندهار څخه غالبا د دراني احمد شاه بابا په و خت کې دلته راغلی او ميشت شوي دي».
د دې قبيلې زياتره خلک د پيښور ښار چونې، برتهکال، کوز تهکال، سپينه وړۍ او لنډۍ کې اوسيږي. خليل زړور، علم خوښوونکي او په پښتو او پښتونولۍ باندې ولاړ خلک دي او په پيښور کې يې مشران د اربابانو په نامه يادېږي۔ د خيبر پښتونخوا پخوانی ستر وزير، ارباب جهانګير، د افغان مهاجرينو کمشنر ارباب نياز محمد خان، ارباب سکندر خان، ارباب ولي محمد خان، ارباب امداد خان او مشهور ليکوال او شاعر، هميش خليل د دی قبيلې ياد خلک دي. همدارنګه د افغانستان پخوانی لوی څارنوال او سياستوال، عبد الهادي خليلزی د خليل قوم سره تړاو لري.

## سرکاڼي

نسب پېژندونکي په دې باور دي چې سرکاڼي قبيله، د سړبن ټولنيز ښاخ اړونده قبيله ده، په الکوزو ورګډيږي او اصلي ټاټوبی يې قندهار دی. بيا وروسته د ځينو اقتصادي ستونزو، کورنيو جګړو او غوره فرصتونو د لټون په خاطر د هيواد ختيځو برخو ته کډه شوي او يو ګڼ شمير يې دلته د کونړ د سرکاڼو ولسوالۍ ته راغلي دي. د دې ولسوالۍ نوم هم، د همدغې قبيلې له امله غوره شويدی. ولی ځينی مؤرخين بيا فکر کوي چې دوئ اصلا درانيان دي او د امير دوست محمد خان او امير شيرعلي خان په لښکرو کې د صاحب منصبانو او پوځيانو اولاده ده چې دلته د خپلو دندو په پای کې پاتې شوي او بيرته لوی کندهار ته نه دي تللي.
د سرکاڼو باتورو او جنګاليو ولسونو نه يواځی د پيرنګيانو په خلاف په درې واړو جنګونو کې پراخه برخه اخيستې، بلکې د شوروي يرغل او کورنيو کمونستي رژيمونو پر ضد يې کلکه مجاهده کړې؛ په زرګونو ځوانان يې

شهیدان او ټپیان شوي دي. یوه وروستۍ احصائیه څرګندوي چې د ملي اردو په لیکو کې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱م کلونو په ترځ کې یواځې د سرکاڼو د لوي کلي ۲۸ تنه ځوانان شهیدان شوي دي. دوئ اوس ځنګ په ځنګ، لکه د خپلو قشلو په څیر د ناوه پاس د سړک خوا ته څیرمه په یوې هدیرې کې خاورو ته سپارل شوي او د افغانستان ملي بیرغ وربانديې رپیږي.

## الکوزي

الکوزي د پښتنو لرغونې قبیله ده، د آرا کوزیا په نامه سیمې کې اوسیدل او سړبني پښتانه دي. شکرزي، سرکاڼي، ملازي، یعقوب زي، دولتزي، ابراهیم زي، موسی زي، عمرزي، خان خیل، اکا خیل، سید خیل، پانیزي، باروزي، بیان زي، جیلانزي، راموزي، او لالګي خیل هم د همدی ټبر هډ او وینه ده. د الکوزو د قبیلې خلک د کندهار په مرکز، ارغنداب، خاکریز، ارغستان، میوند او پنجوایي، د ارزګان په تیرین کوټ او دهراود، د زابل په میزان، ترنک او جلدک، د هلمند په لښکرګاه، نادعلي او بغران او د هرات په انجیل، ګذرې، پښتون زرغون، زنده جان، ادرسکن او کهسان کې د زرګونو په شمیر آباد دي. همدارنګه د لغمان په الینګار او د ننګرهار په روداتو، د مومندرې په ګردي غوث او د جلال آباد په ښار کی هم په غټ شمیر کې الکوزي آباد او ډیر تجارت پیشه او تعلیم یافته خلک دي.

د الکوزو ګڼ شمیر کورنۍ د خاص کونړ په شامکار، کیلګرام / حکیم اباد کې میشتې دي. د افغانستان د سوداګرۍ د خونې اوسنی مشر، خان جان الکوزی، ډاکټر عبد الواحد الکوزی او څارنوال عبد الشکور الکوزی، د سرکاڼو یاد خلک دي. له تاریخي پلوه، د کشمیر لپاره د احمد شاه بابا

والي، شاه غاسي نواب الکوزی، د اعلیحضرت ظاهر شاه مور، د مشروطه غوښتونکي غورځنګ ځیني مشران لکه مولوي محمد سرور خان واصف، بابا عبد العزیز او قومندان نقیب الله (د والي ګل آغا شیرزي پلار) ټول الکوزي وو. الکوزي زړور، میلمه پالي او په علم مین خلک دي. د یادونې ده چې د مرحوم مولوي شامکار الکوزي ځوی، محمد الله الکوزی د شهید ولسمشر محمد داود یاور وو.

## ګګیاڼي

ګګیاڼي له آره سړبڼي پښتانه دي او دا قبیله د خپلې مور، ګاګۍ د نوم له وجې په ګګیاڼیو مشهوره شوې ده. د مستندو تاریخي روایتونو پر بنسټ، د ګګیاڼیو اصلي استوګنځی د قندهار د ارغستان د غوړې مرغۍ سیمه ده. ګګیاڼي له نن څخه پنځه پیړۍ وړاندې، د یوسفزو، مندړو او ترکاڼیو سره یو ځای لومړی غزني او وروسته د کابل ورشوګانو ته تللي چې هغه وخت په کابل کې مغولي میرزا الغ بیګ واکمني وه. سره د دې چې پښتنو له نوموړي سره د غزني او کابل د نژدی سیمو په نیولو کې لویه ونډه واخیسته، خو هغه ور سره سخته جفا وکړه او دیته یې اړ ویستل چې د هیواد ختیځو سیمو ته کډه وکړي.

لکه د نورو پښتنو چې تل په تربګنیو او کورنیو جنګونو کې د خپلو ورونو او خیلونو سره په ډغرو بوخت وي، ګګیاڼیو د دله زاکو، یوسفزو او مندړو سره تل دښمنۍ کړی دي. بالاخره دغه ګګیاڼي له پیښور څخه تقریبا ٦٣ کیلومتره لیرې د دوابې په منطقه کې ځای په ځای او میشت شوي دي. دوابه د ټل او سدې ترمنځ ښکلې سیمه ده، سرسبزه غرونه لري او د ګګیاڼو د ښاخي خیلو، تورغالي، سورغالي، ترکاڼي، میري خیل، مندرا خیل، مزنړي او د حیدر خیلو ښانګې همدلته استوګن دي. د دوئ ستانه

او مشر نیکه چې غني بابا نومیده، د سیمې عام خلک یې مزار ته د تبرک او دعا په خاطر ورځي او ویل کیږي چې په دوابې کې د ګګیانیو نفوس د ۱۵ او ۲۰ زرو ترمنځ دی. په سرکانو، نرنګ، خاص کونړ او اسعد آباد کې د ګګیانیو محدودې کورنۍ آبادې دي او له نورو قومونو سره د ښځینه خپلولیو په تارونو تړل شوي دي.

## مومند (مهمند)

د پښتنو د سړبن ټبر د لویې څانګې بل غټ قوم، مهمند یا مومند چې د غوریا (غري) اولاده ده او د ډیورنډ د لیکې دواړو غاړو ته پراته دي. زیاتره تاریخي اسناد او میندل شوې مخطوطات څرګندوي چې د مومند نیکونه په اصل کې د غزني مقر او قره باغ اوسیدونکي وو. دوئ بیا له هغه ځایه د زابل د قلات او د ترنک د سیند غاړو کې آباد شول. د نفوسو د ډیروالي، قومي شخړو او د زراعتي مځکو د لټون په موخه، دوئ له غزني څخه د ختیځ په لور، لومړی کابل او بیا د هیواد ختیځو او جنوب ختیځو څنډو ته وکوچیدل. د کوزې پښتونخوا د نن ورځې د مومندو ایجنسۍ کې یې دیره ونیوله او له هغه ځایه بیا د پیښور په ګډون د خیبر پښتونخوا نورو سیمو ته خواره واره شول.

مومند د مومندرې، کامې، ګوشتې، لعل پورې، روداتو، چپرهار، هزار ناو، شګې، بټي کوټ او باسول په ګډون، د کونړ ولایت په هغو ولسوالیو کې میشت دي چې د ډیورنډ د فرضي کرښې سره جوختې پرتې دي. دوئ زیاتره د خاص کونړ، سرکانو، پشد، نرنګ، نورګل او اسعد آباد په ښارګي آباد او نسبتا تعلیم لرونکي او هوښیار خلک دي. د دوئ مځکې اکثره للمېزې او غرنۍ دي او زراعتي محصولات یې چندان ډیر نه دی. ښویزي، اتمانزي، حلیمزي، بایزي، ترکزي، بابازي، کوډا خیل،

خوګاخیل، میتاخیل او کاچي یې مشهورې پښې او څانګې دي.
لکه د نورو پښتنو قومونو چې تل یې د بلواکۍ او استعمار په خلاف د خپلواکۍ بیرغ پورته کړی، مومند هم د هر لښکر په لومړي کتار کې دریدلي او د خپلې عقیدې، خاورې او ناموس څخه یې دفاع کړیده. د مغولي امپراتورۍ له خوا په پښتنو باندی د ظلمونو د مخنیوي په خاطر د ایمل خان مومند مبارزه او میړانه زموږ د معاصر تاریخ یو عمده څپرکې او فصل دی. شهید صدراعظم، محمد موسی شفیق، حمید مومند بابا، د هیواد په شمال کې د ټولنیز سمون او ملي دفاع لپاره د پښتنو د ځای په ځای کولو د سترې کارنامې او مشورې نوښتګر، ارواښاد وزیر محمد ګل خان مومند، استاذ قیام الدین خادم، قلندر مومند، دوست محمد کامل، مولانا امیر محمد (چکنور ملا صیب) صنوبر مومند، غازي محصل خان مومند او میرا جان سیال مومند د یادولو وړ شخصیتونه دي. د مومندو په میړانه د ښمنان هم معترف دي او مني چې دوئ ډیر بهادر خلک دي. له ۱۸۵۱میلادي کال څخه رانیولې د خپلواکۍ د اعلانیدو پورې، دوئ له پیرنګیانو سره ۸۱ غټې او وړې جګړې کړې دي. مومندو له خپل ناموس، کلیو او بانډو دفاع کړې او د کوزې پښتونخوا په شبقدر او میچنۍ کې د سیکانو ړنګې برجه ورې قلاګانې، د مومندو د شهامتونو او کارنامو شاهدي ورکوي.

## ماموند

د پښتنو د شجرو او قبیلو د څیړونکو د معلوماتو له مخې، ماموند د ترکاڼیو پښتنو یو ښاخ دی چې په لویه کې د سړبني له ټولنیز ګروپ سره نښلي او په دوو غټو ښاخونو باندې ویشل کیږي: لوی ماموند چې کاکازي هم ورته وایي او واړه ماموند. د دوئ لوی اکثریت د پښتونخوا د باجوړ په ایجنسۍ

(ضلع) کې استوګنه لري، ختیځ ته یې سالارزي، شمال ته یې دانګام او اسمار، شمال لویدیځ ته یې شلتن او مره وره او لویدیځ ته یې چارمنګ پروت دی. لوی ماموند بیا په مسعود خیلو، مغدو خیلو، عمرخیلو، یوسف خیلو، سلیمان خیلو او خلوزو باندی تقسیمیږي. د لوی ماموندو ځینې خیلونه د مره ورې په دره کې هم استو ګنه لري.

واړه ماموند یې درې څانګې لري چې هغه برهوزي، اوریا زي او برم کازي دي. د وړو ماموندو ځینې خیلونه په شلتن، دانګام، پیچ درې، وټه پور او اسعد آباد کې میشت دي. واړه ماموند د سالارزو څخه وروسته دانګام ته راغلي او د ګوریګا په دره کې ځمکې لري او مالداري کوي. کاکازي / لوی ماموند په مره ورې، شولتن، دانګام او پیچ سربیره، د کوزې پښتونخوا د باجوړ غاښي، زري، ترخو، لغړی، کالوزی، کړه، پېښور او ایبټ اباد کې هم استوګن دي. همدا شان د کاکازي د قبیلې غټ شمیر خلک د پاکستان په لاهور، کشمیر، جهلم، سرګودې، سیالکوټ، دیره غازي خان او چکوال کې هم په پوره اندازه شتون لري. د عوامي نشنل ګوند د بلور کورنی، مشهوره وکیله اسما جهانګیر او مشهور قاضي عبد الوحید خان په خټه ماموند پښتانه دي چې د وخت په تیریدو سره یې د خپلې ژبې او خلکو سره واټن نیولی دی.

## ملاګوري

ملاګوري په غوریاخیلو پښتنو باندې ورګډیږي او د موموندو د ستر قوم یوه مهمه څانګه ده، په غټه کې سرېښي پښتانه دي. د دوئ اکثریت د خیبر په ایجنسی کې اوسیږي چې یوه یې هواره سیمه ده هغې ته ښکته مېنه وایی او بله یې لوړه سیمه ده چې لوړه مېنه یې بولي. همدا راز ملاګوري د شبقدر په منډا، د پیښور د ډبګری، شاه قبول او دله زاک روډ، د مردان په

پیر سادو، د چارسدې په هري چند، شکور کلي او د ملاکنډ په بدرګه سیمو کې استوګن دي. ملاګوري د ننګرهار په لعل پورې او دور بابا ولسوالیو کې آباد دي. د ملا ګورو سیمه د اپریدو د تاترې له غرونو نیولې د مومندو ایجنسۍ په پاسنۍ برخې کې د کابل د سیند پورى اوږده پرته ده.

د پښتو ژبې ستر شاعر او لیکوال، امیر حمزه بابا د (پښتانه) کتاب په لومړي ټوک کې داسي لیکي « ملاګوري د ژبې، لهجې او کړو وړو له پلوه د موmندو د سترې قبیلې سره تړاو لري، دوئ د کمکي شلمان لمر خاته لوري ته د تاترې د مشهور غره په لمنو کې اوسیږي او د سیمو نومونه یې مراد ډنډ، شهید مینه او لوړه مینه ده» د پښتونخوا بل مؤرخ، سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل او د حیات افغاني د تاریخ لیکوال، محمد حیات هم ملاګوري مومند بللی دي. احمد خیل، دولت خیل، پارخیل، تار خیل، میاخیل، چمیار خیل، اره خیل او علي خیل یې مشهورې څانګې دي. ملا ګوري میلمه پالي، په علم او پوهې مین او په پښتني ننګ او غیرت ټینګ خلک دی. د مغولو او پیرنګیانو پر ضد یې مقاومت کړی او په اکثرو جګړو کې یې برخه اخیستې ده، بله دا چې دوئ همیشه د خدایي خدمتګار، عبدالغفار خان په څنګ کې دریدلي دي.

## بزرګ خیل

بزرګ خیل د پښتنو بله نسبتا وړه، مګر یاده قبیله ده. دوئ په بر نرنګ، کوډو، څوکۍ او خاص کونړ کې په یوه محدوده پیمانه آباد دي. دوئ هر چیرې چې دي، په خپلو منځونو کې ښه وحدت لري، یو شمیر ډیر تکړه او نومیالي پوهان لري چې یو له هغو څخه پوهاند رازقي نړیوال دی.

## د کونړ سادات (پاچایان)

د (سید) لفظ د قرانکریم د آل عمران د سورت په ۳۹ مبارک آیت کې د یحیی علیه السلام د شخصیت او نبوت په هکله د قدردانۍ په بڼه داسی راغلی دی « أَنَ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَى مُصَدِّقاً بِكَلِمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَ سَيِّداً وَ حَصُوراً وَ نَبِيّاً مِنَ الصَّالِحِينَ - الله تا ته د یحیی زیری درکوي چې هغه به خبره رښتینې ګڼي، هغه به غوره مشر وي، هغه به پاک نفسی او لـه منلو پیغمبرانو څخه وي» همدارنګه رسول صلی الله علیه وسلم د خپلو دوو نـازولو لمسیانو؛ حسن او حسین رضي الله عنهما پـه اړه د (سید) کلمه استعمال کړې ده « الحسن والحسين سيدا شباب أهل الجنة - حسن او حسین به په جنت کې د ځوانانو سرداران او سر لښکري وي» نو د عربي ژبې د لغوي مانا له مخې (سید) بادار، سردار، منلي، قدرمند او عزتمند شخص ته ویل کیږي. څرنګه چې د رسول الله (ص) ځامن په وړوکوالي کې وفات شوي وو، نو له یواځنۍ لور، حضرت فاطمې (رض) څخه چې د څلورم راشد خلیفه حضرت علي (رض) میرمن وه، همدغه دوه لمسیان درلودل.

کوم خلک چې په عربي نړۍ کې په قریشيـ، هاشمي، شریف او علوي سره یادیږي، هغوئ ته په افغانستان کې د سید، سیدګي، بخاري، آغا، ګیلاني، بادشاه، باچا، پاچا او ایشان نومونه ویل کیږي. له بله پلوه، اهل تشیع خپل سیدان د حسني، حسیني، جعفري، موسوي، کاظمي، عابدي، باقري، نقوي، رضوي او فاطمي پـه لقبونو او مقامونو سره یادوي. پـه اسلامي هیوادونو او ټولنو کې عام ولسونه د خپل رښتیني پیغمبر سره د

مینـې، عقیـدت او دینـي سـپیڅلتیا لـه مخـې، د هغـه اولادې تـه پـه یـو ځانګړي درناوي او مقام قایل دي.

د سیدانو په څنګ کې، اخوند زادګان، صاحب زادګان او میاګـان هـم پـه ټولو پښتنو په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې له درناوي څخـه بـرخمن دي او خلک د دعا په تمه، د دوئ خانقاه، لنګرونو او کورونو تـه ورځـي او له ځانونو سره تحفې او ډالـۍ ور وړي. د تـبرک پخـاطر د هغـوئ لاسـونه ښکلوي، څپلۍ ورته سیخوي او له ښیرو او آزار څخه یې ځانونه سـاتي. د حنفي فقهې له مخې، سیدانو ته زکات نـه ورکـول کیـږي، البتـه هدیـه او تحفه سمه ده. لکه د نورو ختیځو ټولنو په څیر، کونړیان هـم دوئ تـه ژور درناوی لري او په ولسي ژبـه کـې ورتـه سـادات، سـیدان او پاچـا صـیبان وايي.

د همدې ځانګړي درناوي، پیرۍ او مریدۍ په پلمه به پیرنګیانو او سـیمه ییزو واکمنانو د ساداتو مشران او ستانې هغو ځایونو ته استول، چیرته چې بـه د هغـوئ د ښـکیلاک (اسـتعمار) او حکومتونـو خـلاف د بغـاوت او نافرمانۍ لـوګي را پورتـه کیـدل. ښـایي لـه همـدې املـه، د افغانسـتان او کوزې پښتونخوا په لر او بر کې به داسې غټ کلی او سیمه نه وي چېرتـه چـې پاچـا، سـید، میـر، خواجـه، آغـا، مخـدوم او پیـر نـه وي. پخوانیـو ښکیلاکي او یرغلګرو ځواکونو له یو شمیر مذهبي روحانیونو څخه د خپلـې سلطې د پراخولو، جاري ساتلو او د خپلـو مخـالفینو پـه ځپلـو او لـه منځـه وړولو کې له دوئ څخه روا او ناروا استفادې کړې دي.

د مغلو او پیر بابا د لمسیانو اړیکې، د اخوند درویزه او روښـانیانو مبـارزې، د هند او پاکستان له پیرانو سره د پیرنګیانو روابط او د کافرستان او نورستان پیښې، زموږ د معـاصر تـاریخ بابونـه او فصلونه دي. ولـی د کـونړ ویـاړلي

پاچایان زموږ د مبارزو، جهادونو او غورځنګونو مخکښ او سرلاري دي. له دې جملې څخه کولای شو د علامه سید جمال الدین افغاني، د پشد سید محمود پاچا، د کوز کونړ شیخ پاچا او د شینکوړک سید حضرت شاه (د سید شمس الدین مجروح پلار) یادونه وکړو.

## نابغه، سید جمال الدین افغاني

د ۱۲۵۴هجري قمري کال د شعبان په میاشت کې چې د ۱۸۳۹میلادي کال سره سمون خوري، د کونړ د مرکز اسعد آباد په ښارګوټي کې د سید صفدر په کور کې یو ماشوم وزیږید چې مور او پلار یې د هغه لپاره د سید جمال الدین نوم غوره کړ. خو هیڅ څوک نه پوهیدل چې دغه ګلالی ماشوم به یوه ورځ د پان اسلامیزم بنسټګر، په ختیځه نړۍ کې د خپلواکۍ د معاصروغورځنګونو سپاه سالار او د سیاست او صحافت نابغه وي. د علامه افغاني د پلار نیکه، له پشد څخه کاشکوټ ته تللی دی. ولې د سید صفدر پلار له هغه ځایه لومړی اسلامپور او بیا اسعد آباد ته کډه شوی او هلته پاتې شوی دی. علامه لومړنۍ دیني زده کړې په چغسرای کې د هغه وخت د مشهور عالم، سید فقیر پاچا څخه وکړې بیا یې پلار د کامې د شیرګړ د حضرتانو په مدرسه کې شامل کړ. سید جمال الدین لا تنکی ځلمی وو چې د امیر دوست محمد خان د امر له مخې یې پلار کابل ته کډه شو. اروابناد سید صفدر خپل ځوی د ګدای ګذر په جامع جومات کې د هغه مهال د مروجه علومو د زده کړې په موخه چې تفسیر، حدیث، فقه، بدیع، بیان، منطق او اصول فقه په بر کې نیسي، داخل کړ.

سید په شپاړس کلنۍ کې (۱۸۵٦م) کال د هند په لور رهي شو او هلته يې د پښتو، دري او عربي تر څنګ، انګليسي او اردو ژبې هم زده کړې. يو کال او څو مياشتې وروسته د حج د فريضې د اداء کولو په خاطر د حجاز په لور رهي او له هغه ځايه بيرته وطن ته راستون شو چې په دغه وخت کې هغه ۲۷ کلن وو. لږه موده وروسته د امير محمد اعظم په لنډې پاچاهۍ کې (۱۸٦۷م کال د اکتوبر له اومې څخه د ۱۸٦۸ د فبرورۍ تر يويشتمې پورې) د نوموړي نژدې سلاکار وګمارل شو. يو کال وروسته چې امير شير علي خان له خپل ورور څخه د حکومت واګې په خپل لاس کې واخيستې نو محمد اعظم خان له خپل وراره سره ايران ته پښې سپکې کړې او د پيرنګيانو په شرارت، سيد جمال الدين هم له دربار څخه وويستل شو. له بله پلوه علامه سيد جمال الدين د امير شيرعلی خان د لوي مختار (صدراعظم) سيد نور محمد شاه سره سيالي درلوده، ځکه دواړه سيدان وو او دواړه د شاهي دربار د ملا تير په څير وو. نو بالاخره د علامه او صدراعظم ترمنځ اختلافات دومره ژور او ستونزمن شول چې کابل پريږدي او بيا ځلي هند ته ولاړ شي.

علامه سيد جمال الدين په ۱۸٦۹م کال کې د سمندر له لارې مصر ته ورسيد او څلويښت ورځې وروسته استانبول ته په سفر لاړ، چيرته چې د عثماني سلطان، عبد العزيز محمود لخوا په خپل قصر کې ومنل شو. د وخت په تيريدو يې د دربار له واکمنانو سره دوستي مزبوته او پراخه شوه. د استانبول په مشهورو جوماتونو کې د جمعې د ورځو په خطبو کې د نوي سياسي خوځښت او بيدارۍ د موعظو په ورکولو سره درباريانو، د سلطان په غوږونو کې د خطر زنګونه وشرنګول. سلطان هم پرته له کوم تحقيق او څيړنې د سيد د تبعيد او له ترکيې څخه د ويستلو فرمان صادر کړ. سيد

جمال الدين د ۱۸۷۱م کال د مارچ په یو ویشتمه بیرته قاهرې ته لاړ او د مصر د صدراعظم، ریاض پاشا لخوا ورته هرکلی وویل شو او د دولت لخوا ورته کور او میاشتینی معاش وټاکل شول. د مصر په نړیوال مشهور پوهنتون (الازهر) کې ورته د استاذۍ دنده ورکړل شوه.

اته کاله وروسته بیرته اړ ویستل شو چې د دریم ځل لپار هند ته ولاړ شي او درې کاله وروسته لندن ته په تګ مجبور شي. په ۱۸۹۳م کال کې یې د «ضیاء الخافقین» په نوم یوه سیاسي خپرونه پیل کړه، کومه چې انګریزانو ته له همیشني سرخوږي کمه نه وه. نو د پیرنګیانو پلازمینه هم ورباندی سره بټۍ وګرځیده او فرانسې ته کډه په سر شو. په پاریس کې یې د عروة الوثقی په نوم بله جریده پیل کړه کومه چې د پان اسلامیزم، پیلامه ګڼل کیږي، ولی هغه هم له اتلسو ګڼو وروسته سانسور او چاپول یې بند شول. فرانسویان هم د ده له شخصیت او فعالیت څخه وډاریدل او په بهانو او چلوټو یې وهڅولو چې د هغوئ خاوره پریږدي.

سید جمال الدین، دا ځل تهران ته لاړ او د ایران د شاه، ناصر الدین قاجار لخوا په ورین تندي ومنل شو، مګر په شیراز کې له مذهبي آیت الله ګانو سره د تمباکو د څکلو په حرمت او حلال والي باندی د یوې اختلافي مسئلې له جنجال وروسته، عراق ته لاړ او له هغه ځایه بیا لندن ته کډه شو. په ۱۸۹۲م کال کې عثماني سلطان بیرته دعوت کړ چې استانبول ته ورشي او د هغه له نظر لاندی کار وکړي. خو د ۱۸۹٦میلادي کال د مې د میاشتې په لومړۍ نیټه، سلطان د هغه چا لخوا ووژل شو چې د سید جمال الدین افغاني د شاګردۍ دعوه یې درلوده. له همدی امله سید نظر بند او د هر ډول سیاسي، اصلاحي او دعوتي فعالیتونو څخه منعه شو. دا هم ویل کیږي چې علامه جمال الدین افغاني ته د هغه ترکي طبیب لخوا

زهر ورکړل شول چې د ده د غابښونو د درملنې لپاره ګمارل شوی وو. دغه ستر نابغه، دعوتګر، فیلسوف او نومیالی سیاستوال د اته پنځوس کلنۍ په عمر د ۱۸۹۷م کال د مارچ په نهمې نېټې، د غابښونو د سرطان له امله، له دی نیمګړې دنیاګۍ سترګې پټې او هلته خاورو ته وسپارل شو.

۴۷ کاله وروسته، د افغانستان د شاهي دولت او ترکیې د حکومت د ګډې همکارۍ او موافقې له مخې، په ۱۹۴۴میلادي کال کې د علامه سید جمال الدین افغاني تابوت کابل ته راوړل شو او په پوره درناوي او حکومتي مراسمو سره د کابل پوهنتون په انګړ کې خاروته وسپارل شو. د زرګونو لیکچرونو، سلګونو مقالو او واکمنانو ته د لسګونو پیغامونو ترڅنګ یې ځینې لیکنې لکه نیچریه، تتمة البیان في تاریخ الافغان او د هند سفر نامه څموړ د سیمې د مشهورو پوهنتونونو، کتابونو او تدریسي نصابونو مهمې سرچینې ګڼل کیږي.

په ۱۹۹۲م کال کې د ډاکټر نجیب الله حکومت د نسکوریدو او د مجاهدینو ترمنځ د کورنۍ جګړې په مهال، د کابل پوهنتون سیمه د حزب وحدت په لاس کې وه. دغې کور ړنګې جګړې د پوهنتون د نورو تاریخي ودانیو او ارشیف تر اړخه، د علامه قبر هم ډیر بد بد ویجاړ کړ. د ۲۰۰۷م کال په ډسمبر کې زه د هغه د قبر سلام او درناوي ته ورغلم، خواو شا سیمټ، شګې او د لرګیو قالبونه لیدل کیدل او کار ور باندې روان وو. خو اوس تازه په ټولنیزو رسنیو کې لاس په لاس شوي انځورونه څرګندوي چې د قبر تور رنګې مرمرې تختې بیا ماتې شوې ښکاري. بله د پام وړ خبره دا ده چې د سید د قبر تر اړخه د مشهور شاعر، استاذ خلیل الله خلیلي خښولو هم ځینې حساسیتونه را وپارول چې باید دلته نه وای دفن شوی. خو د زور ورو اوبه همیشه په بره ځي او اوس د هغوئ واکمني ده.

له ویکي پیډیا څخه په منني سره، سید جمال الدین افغاني د خپلې یوې مناجات ډوله لیکنې په ترځ کې داسی وایي « اې لویه خدایه! زموږ له سترګو څخه د وهم پردې پورته کړه ترڅو حقایق هغسي ووینو لکه څنګه چې دي، تر څو له بدمرغۍ او ګمراهۍ څخه وژغورل شو. لویه ربه! ته وهم ټپ کړه ځکه کله، کله هغه د ډار هنداره شي او ډاروونکي څېرې په کې لیدل کیږي او کله نا کله انسان ته بې حقیقته خوشحالي ځلوي. وهم په هر حال د حقیقت په وړاندی حجاب دی او پر لیمو باندې پرده غوړوي. وهم په ارادې واکمن او پر عزم غالب دی، نو ځکه شر زیږوي او د خیر مخه نیسي. وهم د امن ځای، له خطره ډک څرګندوي او د پناه ځای، د مرګ خوله ښکاره کوي. وهم یو ناولی روح دی او وهمېدلي انسان د ګمراهۍ چول ته غورځوي. پر نالیدلو او کږو وږو لارو یې سر کوي ترڅو د مقصد لوری ورڅخه ورک او لا درکه کړي».  منلی ادیب او شاعر، ګل پاچا الفت د سید جمال الدین افغاني په ستاینه کې داسې وایي:

د کونړ د لوړو غرونو په لمن کې
نابغه فرزند پیدا د سید صفدر شي
ښتنه مور هسې زوی واخلي په غېږ کې
چې د دهر او جهان نامي پسر شي

## سید شمس الدین مجروح



اروانباد سید شمس الدین مجروح، د شیګل ولسوالۍ د شین کوړک د ساداتو

د درنې کورنۍ د مشر پاچا صیب ځوی دی او په پنځه کلنۍ کې د خپل پلار له سیوري څخه محروم شوی دی. سید مجروح په ۱۲۸۹هجري لمریز کال کې زیږیدلی، پلار یې (مرحوم سید حضرت شاه) د لغمان له ولایت څخه کونړ ته راغلی چې د تیرګړو په پاچا صیب باندی مشهور وو. نوموړی د هدې صیب (نجم الدین اخند زاده) د صوفي طریقت پیرو او یو زاهد انسان وو. هغه مهال چې نورستان لا کافرستان بلل کیده، د سید کورنۍ د دغې نارامې سیمې په ارامولو او دیني دعوت او تبلیغ کې عمده رول درلود. له همدې امله، امیر عبد الرحمن خان، امیر حبیب الله خان، غازي امان الله خان او اعلیحضرت ظاهر شاه، دغې اغیزمنې کورنۍ ته ځانګړې پاملرنه درلوده او په شاهي دربارونو کې دوئ ته په درنه سترګه کتل کیدل.

وزیر، سفیر او شاعر شمس الدین مجروح د خپل شخصیت د ودې، لوړ همت او فعالیت په اړه داسی لیکي « ما چې د خاورو خاشاکو د لوبو دوره طی کړه او پاڅېدم، نو جامې مې وڅنډلې او له قلم او کتاب څخه پرته بله هیڅ مشغولا می نه درلوده. زموږ د کلي شا او خوا لوړو غرونو، ګڼو ځنګلونو، روانو اوبو او نورو قدرتي مظاهرو په ما کې د شعر او شاعرۍ قریحه ژوندۍ کړه ».
د سید مجروح مشر ورور، مرحوم سید عبد الرزاق نومیده چې د شال په پاچا صیب باندې مشهور دی. شال پاچا ډیر بارسوخه او غښتلی سړی و؛ درې ځامن یې درلودل؛ سید علي اکبر (ګل آغا) سید علي اصغر (شیر آغا) او سید فضل عظیم. همدارنګه هغه پنځه لوڼې لرلې چې یوه یې د راډیو کابل مشهوره ویانده، شاعره او معلمه، مستوره شال وه. د سید شمس الدین مجروح کشر ورور، سید جلال الدین نومیده چې په شینکوړک کې اوسیده او دوو دورو لپاره د مشرانو جرګې غړی وو.

اروانښاد مجروح په ۱۳۱۳هجري لمریز کال کې د صدراعظم محمد هاشم خان لخوا کابل ته ور وغوښتل شو او د نظربند په توګه د مشرانو جرګې انتصابي غړی شو، کوم ته چې هغه وخت د اعیانو مجلس ویل کیده. دري کاله وروسته د افغان ملي بانک د تفتیش رئیس، بیا د قند جوړولو د فابریکې رئیس، وروسته د پیټرولو د شرکت مشر او د ۱۳۲۹م په پای کې د قبایلو د مستقل رئیس په توګه مقرر شو. کله چې په ۱۳۴۲ لمریز کال کې د ډاکټر محمد یوسف له خوا نوی کابینه جوړه شوه نو سید شمس الدین د عدلیې وزیر او دوه کاله وروسته د صدارت مرستیال و ټاکل شو. له بله پلوه، اروانښاد مجروح د ډیموکراسۍ په لسیزې کې د افغانستان د اساسي قانون د جوړولو د کمېټې مشر هم وو. په ۱۳۴۶ کال کې مصر ته د افغانستان د سفیر په توګه واستول شو او د څلور کلنې ډیپلوماتیکې دندې په پای کې بیرته هیواد ته راغی. په ۱۳۵۸ لمریز کې د شورویانو له یرغل سره جوخت د هېواد پرېښودو ته اړ شو او له خپلې کورنۍ سره لومړی پېښور او څو کاله وروسته د امریکا د جورجیا ایالت ته کډه او د ژوند تر وروستۍ ورځې هملته پاتې شو.

که څه هم مرحوم مجروح رسمي زده کړې نه وې کړې، خو ډېر ښه استعداد یې درلوده او په پښتو، دري، عربي، انګلیسي او اردو ژبو یې خبرې کولې او د نثر تر اړخه یې ډېره روانه شاعري هم کوله. اروانښاد استاذ، ګل پاچا الفت د مرحوم مجروح د منتخبو اشعارو د ټولګې په سریزه کې داسې لیکي: « د ښاغلي ادیب، سید شمس الدین مجروح له لوړې قریحې او شعري استعداد څخه ځینې داسې اشعار پیدا شوي چې که چیرې د اشعارو پېرل او پلورل رواج وای او یا د راکړې ورکړې په بازار کې د یو تن شعر د بل کېدل شوني وای، نو ما به خپل څو شعرونه، د ده په

یو شعر ورکړي وو». همدارنګه، وياړلی اديب او څېړونکی، عبدالروف بېنوا د مجروح په اړه داسې وايي: « ښاغلی مجروح د پراخې مطالعې له مخې په اکثرو ادبي، ټولنيزو، فلسفي او سختو مذهبي مسائلو کې د ژورې څېړنې خاوند بلل کيږي. هغه يو با وقاره او د خپلواک طبيعت څښتن دی چې د حق په ويلو کې د هيڅ چا پروا نه ساتي».

سيد شمس الدين مجروح د افغانستان په حکومت کې، له کونړ څخه لومړنی کس و چې د وزارت مقام ته ورسيد. هغه يو ښه سياستوال، خوله ور او مخه ور شخصيت او د ښه قلم او فکر خاوند وو. مجروح د لسګونو تحقيقي او علمي مقالو تر څنګ، د پريشانه خوب، د عمر خيام د رباعياتو پښتو ژباړه، ياد فرياد او د منتخبو اشعارو مجموعه چې د نوموړي د شعرونو ټولګه ده، ليکلي او پخپل ژوند يې چاپ ته سپارلي دي. د کونړ دغه منلی شخصيت، سيد شمس الدين مجروح د ۱۳۸۱ هجري لمريز کال (۲۰۰۲ د جون ۲۴مه) د امريکا د متحدو ايالتونو د جورجيا د ايالت په مرکز اټلانټا کې د ۹۲ کالو په عمر وفات او جنازه يې هيواد ته واستول شوه. د نوموړي جنازه د کابل په هوايي ډګر کې د ولسمشر حامد کرزي او دولت د لوړ رتبه مامورينو له خوا استقبال او د چورلکې په واسطه کونړ ته واستول شوه چې د خپل شهيد ځوی، ډاکټر سيد بهاء الدين مجروح په څنګ کې خاورو ته وسپارل شي.

په مننې سره، د مرحوم سيد شمس الدين مجروح لمسي- او زما محترم دوست، سيد مسعود مجروح د اروابناد درې واړه چاپ شوي کتابونه ماته ډالۍ کړي دي.

## پوهاند سید بهاء الدین مجروح

پوهاند ډاکټر سید بهاء الدین مجروح، د هیواد په کچه یو له هغو استاذانو او پوهانو څخه دې چې کله د فلسفې، تاریخ، جبر او اختیار ډیالکټیک بحثونه رامنځ ته کیږي، نو د هغه نوم ورسره جوخت ذهن ته راځي. سید مجروح د کونړ د یو درونـد شخصـیت، سـید شـمس الـدین مجـروح ځـوئ دی، د ۱۹۲۸م کال د فبرورۍ پـه دولسـمه نیټـه (۱۳۰٦هجـري لمریـز) د شیګل ولسوالۍ د شـینکوړک پـه غرنـۍ او لـه طبیعـي ښکلا څخـه ډکـې سیمې کې زیږیدلی دی. لیک لوست یې پخپل جومات کې پیـل کـړل او په دیارلس کلنۍ کې یې پلار د کابل د استقلال لیسې پـه څلـورم ټـولګي کې شامل کړ. دغه لیسه چې د فرانسویانو له خوا تازه جوړه شـوې وه او د تدریس ژبه یې هم تر ډیره ځایه فرانسوي وه، نوموړی ورڅخه په ۱۹۵۰م کې فارغ شو.

اروانښـاد مجـروح د خپـل ذهنـي اسـتعداد او عـالي نمـرو لـه بابتـه، د اعلیحضرت ظاهر شاه د حکومت له خوا د لوړو تحصیلاتو لپـاره د پـاریس ډیر معتبر پوهنتون، سوربون ته په یو رسـمي بـورس بانـدې واسـتول شـو. نوموړي په ۱۹۵۸م (۱۳۳۷هجري شمسيـ) کـال کـې نـه یـواځی دا چـې مافوق لیسانس شهادتنامه ترلاسه کړه، بلکې د زیات زیار له املـه یـې پـه عین وخت کې انګلیسي او جرمني ژبې هم زده کړې. د عالي تحصیلاتو د وروستي پړاو له بشپړیدو وروسته کابل ته راغـی او د ادبیـاتو پـه پـوهنځي کې د استاذ په صفت د تدریس خپله لومړنۍ دنده پیل کړه چې لـږه مـوده وروسته بیا د همدی پوهنځي رئـیس و ټاکـل شـو. د یـادونې وړ ده چـې د

علمي او کدري وظيفو تر اړخه، ډاکټر مجروح په ۱۳۴۲ لمريز کـال کـې د کاپيسا د والي په توګه دنده تر سره کړې ده.
پوهاند مجروح په ۱۳۴۷ لمريز کـال کـې يـو ځـل بيـا فرانسـې تـه لاړ او د مونت پليه له پوهنتون څخه يې د ادبيـاتو او فلسـفې پـه برخـه کـې خپلـه ډکتورا واخيستله. بيرته وطن ته راغی او په ۱۳۵۱ کال کې د افغانستان د تاريخ د ټولنې رئيس وګمارل شو، مګر د ادبياتو په پوهنځي کې د تدريس چاره يې ټکنۍ نه کړه. پـه ۱۳۵۷ کـال کـې د غـوايي لـه کودتـا وروسـته، ډاکټر مجروح خپل ځـان ګوښـه او هـر ډول سياسـی فعاليتونـه څنـګ تـه کړل. خو کله چې روسـانو د را روان کـال د مرغـومي پـه شـپږمه نېټـه پـر افغانستان بانـدی خـونړی او کرغيـړن يرغـل وکـړ، نـو د نـورو بـی شـميره افغانانو په شان، هغه هم پاکستان ته مهاجر شو.
لږه موده وروسته يې په پيښور کې د افغـان اطلاعـاتي مرکـز پـه نـوم يـوه فعاله خبري او تحقيقي اداره پرانيستله تر څو د افغانستان او بهرنـۍ نـړۍ ترمنځ د يو پل په څير د خبر او نظر وسيله شي. زه شخصا د يو خبريال په توګه د دې شاهد يم چې هغه د معلوماتو يو خپلواک او غير تنظيمي مرکز وو؛ په عين حال کې د مهاجرو افغانانو په منځ کې يوه مؤثره کلتوري ټولنه هـم وه. د اسـتاذ مجـروح لـه شـهادت وروسـته د هغـه ځـوی، سـيد نعـيم مجـروح د دغـه مرکـز سرپرسـتي کولـه او پيـاوړي ليکـوال، زرغـون شـاه شينواري د «افغانستان» په نوم يوه مجله خپروله چې موږ به هلته کلـه نـا کله کلتوري غونډې او ناستې درلودې.
د هيواد دغه سترعلمي او سياسي شخصيت، د ۱۹۸۸ کال د فـبروری پـه يولسمه نيټه (۱۳٦٦ د سلواغې مياشت) چـې د جمعـې مبارکـه شـپه وه، د خپل دفتر په دروازه کې د ناپيژاندو قاتلينو لخوا وويشـتل شـو او ځـای پـه

ځای يې د ارواو خالق ته خپله ساه وسپارله. شهيد مجروح دوه ودونه کړي وو، دری ځامن؛ سيد مسعود مجروح، سيد نعيم مجروح او سيد احمد خالد مجروح او يوه لور يې ترشا پريښوده. د کونړ دغه سيد او د افغانستان فيلسوف د بې شميره علمي او څيړنيزو مقالو، کنفرانسونو او سيمنارونو ترڅنگ د ځانځانۍ ښامار / دري بڼه يې اژدهای خودي، د جبر او اختيار ډيالکتيک، د مور پيغام، دشمن را بشناسيد، نا اشنا سندرې، صوفي او نوې دنيا، چنين گفت زردشت، پيام صوفی بت شکن به بت پرستايی قرن ۲۰، سيد جمال الدين و برخورد شرق و غرب، منازل السايرين يا صد ميدان حکيم سنايی په نوم کتابونه وليکل. د پوهنتونونو يو شمير محصلينو او محصلانو په دغو کتابونو باندې خپلې رسالې وليکلې ترڅو علمي او کدري رتبې واخلي. د شهيد مجروح جنازه چې په پيښور کې د امانت په ډول خاورو ته سپارل شوې وه، د هغه مشر ځوی سيد مسعود مجروح څوارلس کاله وروسته شينکوړک ته انتقال او د خپل مرحوم پلار، سيد شمس الدين مجروح سره خوا په خوا دفن کړه.

## مستوره شال

د هيواد له ډيرو تکړه او پخوانيو راډيويي نطاقانو او ښځينه شاعرانو له ډلې څخه، يوه هم ارواښاده مستوره شال ده. نوموړې د اسمار د شال سيمې د مخور شخصيت، سيد عبد الرزاق (شال پاچا) لور ده چې د ۱۳۰۹ هجري لمريز کال د وږي په مياشت کې پيدا شوې ده. نوموړې په کابل کې د رابعه بلخي په ليسې کې خپلې زده کړې پوره کړې او بيا همدلته معلمه شوه او کلونه کلونه يې د کابل په راډيو کې نطاقي وکړه. مستوره شال د ۱۳۷۷هجري لمريز کال د وږي په نهمه نېټه په پيښور کې وفات او جنازه يې کونړ ته يووړل شوه ترڅو پخپلې پلرنۍ هديرې کې خاورو ته وسپارل

شي. اروابناده د پوړني په نوم يوه شعري ټولګـه هـم لـري چـې څـه مـوده وړاندې په کابل کې چاپ شوه. غواړم د دغې با استعدادې کونړۍ د شـعر يوه بيلګه چې د استاذ بينوا په کتاب (پښتانه ليکوال) کـې زمـا تـر سـترګو شوه دلته رانقل کړم:

دا شپه ده د شبقدر چې جهان رڼا رڼا دی
که ستا د مخ څراغ مې د زړه خونه کې بليږي
ای شمعی ژړا پريږده په خندا زما سره شه
پتنګه غورزه پرزه بی تابي مې دې خوښيږي
زه ځار شمه له تا نه، له ځانه راته ګرانه
راځه راځه چې خاندو، دا وختونه نه ټاليږي
د ژوند په پسرلو کې چې د زړه ګل ورته خاندي
اميد او تلوسه اوس مستورې ته هوسيږي

## سيد فضل اکبر

والي او ليکوال، اروابناد سيد فضل اکبر د اسمار د سيدې کورنۍ د مشر ـ شال پاچا لمسی او د سيد علي اکبر پاچا ځوی دی چې د ده لـه پيدايښـت څخه وړاندی په حق رسيدلی وو. د سيد فضل اکبر قلم او ژبـه د هيـواد او هيوادوالو د حال او احوال سره تـړل شـوې وه او لـه خپلـې خـاورې څخـه دفاع ورته د عبادت په څير بريښـيدله. نومـوړی پـه ۱۹۴۵م کـال کـې پـه اسمار کې زيږيدلی او لومړنۍ زده کړې يې د شال په جومات کې تـر سره کړې وې. بيا کابل ته تللی او د استقلال په ليسې کې د زده کړو تر اړخـه يې د کابل په راډيو کې دنده تر سره کړې ده. له فراغت وروسـته د کابـل

پوهنتون د حقوقو پوهنځي ته بریالی شو او خپل لیسانس یې واخیست. د کابل راډیو لخوا مسکو ته د پښتو د نطاقانو له ډلې سره هلته واستول شو؛ دوه کاله وروسته بیرته کابل ته راغی او د څه مودې لپاره د کابل د راډیو رئیس وټاکل شو. د کمونستانو د واکمنی په مهال یې خپله دنده پریښوده او پیښور ته مهاجر شو.

د سور پوځ له یرغل وروسته یې خپلې قلمي مبارزې ته دوام ورکړ او په پیښور کې یې د رسنیو او خبرونو یو مرکز جوړ کړ. په عین وخت کې یې د امریکا غږ، ای، اف، پی، اسوسیټډ پریس او نورو نړیوالو آژانسونو سره د خبریال او نماینده په توګه همکاري درلوده. په نوي یمې لسیزې کې یې په هندوستان کې د افغانستان په سفارت کې د سیاسي مشاور په توګه دنده ترسره کړه او له دوه زرم کال راهیسې یې د عامه اړیکو د ویاند او بیا رئیس په صفت کار وکړ. ولسمشر کرزي د خپل حکومت په لومړیو وختونو کې ارواښاد سید فضل اکبر د کونړ والي وټاکلو، مګر په ۲۰۰۵م کال کې یې له هر ډول سیاسي فعالیتونو څخه ځان ګوښې کړ او په کور کښیناست. نوموړی له خپلې کورنۍ سره د امریکا د کالیفورنیا په ایالت کې اوسیده چې بالاخره د ۲۰۲۰م کال د مارچ په دیارلسمه نیټه د پنځه اویا کالو په عمر وفات او د هیورډ په ښار کې خاورو ته وسپارل شو.

## د پشد سیدان

## سید محمود پاچا



د نړۍ په کچه له پېژندل شوي نابغه او وتلي شخصیت، سید علامه جمال الدین افغاني څخه وروسته د کونړ بل ډېر یاد او منلی سید، د پشد سید محمود پاچا دی. نوموړی د سید بهاء الدین ځوی، د سید عبد اللطیف لمسی او سید علي ترمذي یې شپږم ستر نیکه دی چې په لرې او برې پښتونخوا کې په پیر بابا باندې مشهور دی. سید علي ترمذي د سید قمبر علي ترمذي ځوی او په هند کې د مغلي امپراتورۍ د بنسټګر، ظهیر الدین بابر لمسی او د همایون بابر د خور ځوی دی. مغل امپراطور بابر، سید قنبرعلي ترمذي د ازبکستان د ترمذ له ښار څخه د ځان سره هند ته راوست ترڅو د پښتنو په دغو سیمو کې د بغاوتونو مخه ورباندې ونیسي. سید قنبر علي کندوز ته لاړ او هلته د چار درې په منطقه کې وفات او دفن شو.

سید علي ترمذي (پیر بابا) په ۹۰۸ هجري قمري کې پیدا او په ۹۹۱ قمري (۱۵۸۳م) کې د سوات د بونیر په پاچا کلي کې وفات او خاورو ته سپارل شوی دی. د پیر بابا مذهبي دربار او لنګر د ټولو مغلو شاهانو له واکمنۍ رانیولی تر ننه، د هغه د عقیدت مندو د دعا او د سیاحت او چکر

یو مرکز دی چې ګڼ شمیر مریدان او پلویان یې زیارت ته ورځي. د مذهبي غورځنګونو څیړونکي په دی باور دي چې سید علي ترمذي د سیدانو د کورنۍ بنسټ ایښودونکي او د دې پراخې سیمې د پاچایانو بابا بلل کیږي. په کونړ کې د ټولو سیدانو روحاني او سیاسي بنسټګر مشر، سید میرعباس (میا عباس بابا) نومیده چې د پیر بابا د لمسي ځوی دی. د میا عباس له وفات وروسته یې ځوی، سید عبد الله او بیا یې لمسي- سید عبد اللطیف د هرکال په تیریدو سره د خپلې اغیزې او واکمنۍ لمن له چترال څخه د کوز کونړ (ښیوې، کاشکوټ، ګوریک) تر پولو وغزوله. مګر په دوئ کې ډیر ځواکمن او سیاسي شخصیت چې د واکدارۍ پر مهال د برجه ورو کلا ګانو، فیلانو او لټانو کیسې یې نن هم تازه دي، هغه سید محمود پاچا دی.

د افغان مؤرخ پوهاند حسن کاکړ د څیړنې پر بنسټ، د سید محمود جغرافیایي سرحدونه د کونړ د اوسني موقعیت سره په لړ توپیر، د ننګرهار تر بهسودو پورې رسیدلې وو. تر نولسمۍ پیړۍ پورې، کونړ د پشد سیدانو د مشرۍ لاندې نیمه خپلواکه اداره وه. په کال کې به یې شپږ زره اشرفۍ او د پوځیانو لپاره غله دانه د کابل واکمنانو ته استوله. په ۱۸۲۰م کال کې له یوې خوا د محمدزیو د واکمنۍ په وخت په دې سیمې کې لاسوهنې پیل شوې او له بلې خوا د سیدانو د کور دننه لانجې هم بربنډې او تودې شوې. ولی د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ په دوران کې دوئ لا ډیر صلاحیتونه ترلاسه او خبره آن د ډیورنډ د بلې غاړې تر ناوه ګۍ، چمرکنډ، مومندو ایجنسۍ، باجوړ، دیر، تیمرګرې او سوات پورې وغځیدله.

کله چې امیر دوست محمد خان په ۱۸۴۳م کې د هند له کلکتې څخه کابل ته را وګرځید او د افغانستان سیاسي واګې یې په لاس کې

واخیستې، نو د سید محمود پاچا پلار، سید بهاء الدین یې په خپل دربار کې د معتبرو سلاکارانو او درباریانو په ډله کې راووست. په ۱۸٦٦م کال کې د سید بهاء الدین له مړینې وروسته یې د هغه ځوئ (سید محمود پاچا) د پلار ځای ناستی او د وزیر محمد اکبر خان لور، درانۍ بي بي چې د امیر دوست محمد خان لمسی وه، ده ته په نکاح کړه. سید محمود پاچا د امیر شیرعلي خان د هغې مشورتي او مهمې دیارلس کسیزې جرګې غړی وو چې په ۱۸۷۰م کال کې یې جوړه کړې وه. امیر شیر علي هغه د خپل ځانګړي استازي په توګه د مومندو، باجوړ، ناوه ګۍ، سوات او دیر خانانو او نوابانو سره د اړیکو د ټینګولو لپاره ټاکلی وو چې په دې چاره کې ډیر زیات بریالی را وخوت.

له امیر عبد الرحمان خان سره د سید محمود پاچا مخالفت د دې لامل شو چې امیر په ۱۸۸۲م کی د سپه سالار، غلام حیدر خان څرخي په مشرۍ کونړ ته د جنګ د پاره له یو غټ لښکر سره ولیږي. په نورګل کې د یوې وړې نښتې په پای کې د سید محمود پاچا غیر منظم او ایله جاري پوځیانو پښې سپکې کړې، نو سید محمود پاچا اړ شو چې لومړی شونکړۍ او بیا په میټۍ کې پناه واخلي. خو هلته هم تر سخت فشار لاندی راغی او په ۱۸۸٦م کال کې د پنجاب حسن ابدال ته کډه شو. له دغه ماتې وروسته کونړ د کابل د مرکزي حکومت تر مستقیم واک لاندی راغی او په ختیځ زون کې د لویې ولسوالۍ په نوم، د لوی ننګرهار برخه شو.

د سید محمود پاچا دواړو ځامنو، سید یوسف او سید محمد د هیواد په مهمو عسکري او ملکي مهمو پوستونو کې دندې اجراء کړې دي. سید محمد د هیواد په شمال کې د دهدادي د عسکري چوڼۍ بیرګټ

«بریګیډر» وو چې په اوسني وخت کې د ډګروال معادل رتبه ده، بیا د لغمان او اسمار د چونیو قوموندان شو. نوموړی د یو اوږد عسکري خدمت په پای کې په ۱۳۰۵ هجري لمریز کې وفات او د پشد د همدان بابا له قبر سره متصل خاورو ته وسپارل شو. د همدان بابا ګومبزه د سلفي فکر پیروانو د خپلې لنډې واکمنۍ په مهال ونړوله. سید محمد پاچا دوه ځامن لرل؛ مشر یې سید حسن پاچا او کشر یې سید حسین پاچا (رئیس پاچا) او یوه لور یې درلوده چې په کوکو بي بي سره مشهوره وه.
سید حسن پاچا د سردار داود خان د صدرات په مهال د شینوارو حکمران، ډیر مدبر او د غټ جایداد څښتن سړی وو. دوه ودونه یې کړي وو، پنځه ځامن یې لرل؛ سید شیرین جان، سید شاه جهان، سید افندي، سید خوشحال او سید جمال. شپږ لونې یې درلودې چې یوه یې زما خوابنې (زما د میرمنې مور) ده او د ۲۰۲۰م کال د جون په یولسمه وفات شویده.
سید حسین (رئیس پاچا) په خپل وار ډیر تعلیم لرونکی او سیاسي شخصیت وو، په ترکیې کې یې عالي تحصیلات کړي وو، په افغانستان کې د قبایلو د ریاست بنسټګر او لومړنی رئیس وو. هغه هم دوه ودونه کړي وو، اوه لونې او یو څوی یې درلود، سید عبد المجید (لعل پاچا) نومیده او د هجرت په مهال په کوزې پښتونخوا کې وفات او خاورو ته سپارل شوی دی.
د سید محمود پاچا دویم څوی سید یوسف نومیده او څلور ځامن یې لرل:
۱- سید فقیر احمد (حکیم پاچا) د ظاهر شاه د واکمنۍ په مهال قندهار کې ولسوال وو، دوه ځامن یې لرل، مشر یې مدیر سید نادر احمدي او کشر یې سید ګل آغا ۲- سید نصیر احمد (امو جان پاچا) د دریو ځامنو پلار دی: سید عبد البصیر، سید صبیر او سید قاري ذاکر الله ۳- سید بشیر

احمد (بابا جان پاچا) څلور ځامن لـري: سـيد نعـيم الله، سـيد امـين الله، سيد نجيب الله او سـيد عاشـق الله ۴- سـيد جـان آغـا پاچـا، اولاد يـې نـه درلودل. لکه چې يادونه وشوه، د پشد تاريخي کلـی، د کـونړ د پاچايـانو د غوځ اکثريت اصلي ټاټوبی ګڼل کيږي او د پشـد سـيدان پـه ټولـه کـې د دريو نيکونو لمسيان دي. لمړی، سيد احمد پاچا چې په شاه جي بابا بانـدی مشهور دی، ټول ژوند يې په پشد کې تيـر کـړی خـو يـو ځـوی يـې (سـيد غريب) د ننګرهار د سره رود سلطانپور ته تللې او د ژوند تر پايه هلته پاتې شويدی. د نوموړي اولاده بيا د ننګرهار بوډيالۍ، اسلامپور او بر نرنګ تـه خوره شوې او يو لمسی يې چې سيد محمد جان نوميده بيرته پشد ته راغلی دی.

د ملګرو ملتونـو د يونمـا د مرکـزي دفـتر پخـواني چـارواکي او زمـا محـترم دوست، انجنير سيد فريد الله فريد ما ته د خپلې کورنۍ په اړه داسې وويل « د سيد محمد جان بابا څلور ځامن وو، سيد ګل جان پاچا، سـيد حسـين پاچا، سيد جان پاچا او سيد احمد پاچا او يـوه لـور فاطمـه چـی پـه بي بي ابۍ سره مشهوره وه. د سيد ګل جان پاچـا درې ځـامن او دوه لـوڼی وی. مشر ځوئ يی مرحوم بابا پاچا نوميده چې زما نيکه دی. دوهـم ځـوئ يـی سيد عبدالله جان پاچا او دريم يې سيد محی الدين پاچا وو. د سيد حسين پاچا هم درې زامن وو، سيد کاظم، سيد عبد الرسول او سيد قيوم چې پـه تورا پاچا سره مشهور وو. د سيد جان پاچا يو زوی وو چـی د واده پـه شـپه وفات شو. سيد احمد پاچا هم د خپل ورور په شان درې زامن لرل، هر يو سيد غلام محمد، سيد شاه جهان او سيد قاسم». سيد فريـد الله زيـاتوي «زما اروانباد پلار، سيد حبيـب الله پاچـا درې خوينـدې او يـو ورور درلـوده چې سيد امان الله پاچا نوميده او پدی وروسـتيو کـې وفـات شـوی دی. د

سید امان الله یواځنی ځوی، سید شهاب الدین په ۱۳۶۷ کال کې د جهاد په مهال له پلان شوي واده څخه فقط یوه میاشت تر مخه د روسانو په لاس شهید شو».

د پشد د ساداتو دوهمه کورنۍ د سید حسین شاه اولاده ده، نوموړې د سید بهاء الدین ځوی او د سید عبد اللطیف لمسی دی. دې کورنۍ ته د میرزا شاه بابا لمسیان ویل کیږي، اصلي نوم سید عبدالله دی په میر بابا غازي باندی مشهور دی. سید حسین شاه پنځه ځامن او دوه لوڼې درلودې. د ځامنو نومونه یې په دی ډول دي: سید محمد، سید فقیر، سید احمد شاه، سید نور محمد شاه او سید حضرت شاه (صوفی پاچا). سید محمد پاچا نهه ودونه کړي وو، نهه ځامن او پنځه لوڼې یې درلودې. د ځامنو نومونه یې دا دي: سید محمد گل شاه، سید نور محمد شاه، سید بابا جان، سید محمد شاه، سید گل محمد شاه، سید سردار خان، سید بیرگټ « په وړوکوالي کې مړ دی» سید جان آغا (جان پاچا) او کشر ـ ځوی یې سید محمد عارف شاه نومیږي په پهلوان مشهور وو، د ۲۰۱۴م کال د مې د میاشتې په یو دیرشمه په پشد کې د بم په یوې چاودنې کې شهید شو. له مدیر سید جان آغا پاچا پرته، دغه ټول ورونه اوس په حق رسیدلي دي.

سید محمد پاچا تعلیم نه وکړی، مگر د خپل دروند روحاني شخصیت له وجې یې د شاهي کورنۍ سره نژدې اړیکې درلودې. سردار شاه محمود خان یې کور ته راغلی وو او د ده لپاره یې کلنۍ بودیجه ټاکلې وه. د ختیځ زون د ټولو ساداتو مشر او د اعیانو په مجلس کې سناتور وو. سید فقیر پاچا په خپل وار سره، د اعلیحضرت ظاهر شاه د واکمنۍ په مهال د پیچ، ښیوې او باسول ولسوال او د کونړ په سیدانو کې یاد سړی وو. د حکومت وزیران او

عالیرتبه مامورین به له کابل څخه د هغه کور تـه راتلـل او د پشـدیو وریجـو شهرت هم تر ډیره ځایه د پشد د سیدانو د میلمستیاوو سره تړلي دی. سـید فقیر پاچا د پشد د پاسـه غرونـو کـې د ګلاپړۍ د جنګ پـه مهـال د سردار محمد داود خان کوربه وو. سید فقیر پاچا څلور ځامن درلودل، څارنوال سید شیرآغا، سید سخي، سید شاه جهان او سید ګل محمد او دوه لوڼې یې هـم لرلې. دوئ ټول اوس وفات شوي دي. همدارنګه د دونایي (دونـاهي) سـید جلال پاچا هـم د خپـل وخـت ډیـر منلـی سـړی وو، لـه نومـوړي څخـه دوه خامن، سید مقام شاه (ملنګ پاچا) او سید معبود شاه پاتې دي.

## سید سردار پاچا



اروابنـاد سـید سر دار پاچـا د پشـد د یـو اغیـزمن روحاني مشر، سید محمد پاچا پنځم ځوی او د سید حسین شاه لمسی دی. سید سردار د ۱۹۳۴ میلادي کال د نومبر پـه لـومړۍ نیټـه د پشـد پـه کـلي کـې زیږیـدلی او خپلـې زده کـړې یـې لـه خصـوصي استاذانو څخه په خپل کلي کې تر سره کـړې دي. د نرنګ په لیسې کـې لـه سرکـاتبۍ څخـه نیـولې د کامدیش په ولسوالۍ کې د اداري مامور او بیا د لږ وخت لپاره د مـره وړې د علاقدارۍ تر سر پرستۍ پورې حکومتي دندې اجراء کړې دي. کله چې روسانو په هیواد خونړی یرغل وکـړ، نـو لـږه مـوده وروسـته د خپلـې ټـولې کورنۍ سره ناوه ګې او باجوړ ته مهاجر شو. له مجاهـدینو سره مورچلـو تـه لاړ، هلته یې شپې رنې کـړې او د خپـل ولـس د داعیـې تـر څنګ کلک ودرید.

مرحوم نه یواځې ډیر مینه ناک، میلمه پالې او د پراخـې دیـرې او حجـرې

ښښتن وو، بلکې د سرکاڼو او نرنګ په ولسوالیو کې د جرګو او مرکو سړی هم وو. د خپل ښه استدلال او حاضر جوابۍ له بابته، ډېر کم به داسې شوي چې په جرګه کې د هغه خبره له پامه غورځول شوې وي. سید سردار پاچا د ورپیښې ناروغۍ له امله د ۲۰۰۵م کال د مارچ په څوارلسمه په پیښور کې وفات او په پشد کې خاورو ته وسپارل شو. نوموړي یو واده کړی وو، څلور ځامن او پنځه لوڼې لري. مشر ځوی یې سید زمان شاه په کاناډا کې، سید زرغون شاه په هالنډ کې، دریم ځوی یې د پشد د نجونو د لیسې مدیر، سید نثار احمد شاه او کشر ځوی یې د سرکاڼو د معارف د تفتیش امر، سید صادق شاه نومیږي. زما میرمن، د اروا ښاد سید سردار پاچا لور ده.

لکه څرنګه چې په پاسنیو کرښو کې یادونه وشوه، سید علي ترمذي (پیر بابا) د کونړ د ټولو پاچایانو ستر نیکه بلل کیږي. غواړم دلته د دغه نومیالي مذهبي او روحاني ټبر لنډ تسلسل ستاسې خدمت ته وړاندی کړم چې د همدې کورنۍ لخوا ما ته راکړل شویدی. د پشد ټول سیدان په خپلو منځونو کې یوه لویه کورنۍ او د یو نیکه اولاده ده، خو د تسلسل په خاطر به یې پیل، له اروانباد سید سردار پاچا څخه وکړم. سید سردار، د سید محمد ځوی، نوموړی د سید حسین شاه ځوی، هغه د سید بهاء الدین ځوی، هغه د سید محمد نظیف ځوی او نوموړی د سید عبد اللطیف ځوی دی. سید عبد اللطیف د سید عبدالله ځوی «میر صاحب غازی بابا» نوموړی د سید عباس ځوی او هغه د سید جمال ځوی. نوموړی د سید عبد الوهاب ځوی، هغه د سید مصطفی ځوی او سید مصطفی د سید علي ترمذي ځوی دی. د همدې شجره نسب له مخې، د اسلام ستر پیغمبر، محمد صلی الله علیه وسلم، د اروانباد سید سردار او د هغه د کاکا ځامنو

ځلور ځلوېښتم نيکه دی.

## سید جمال الدین حسني

سيد جمال الدين حسني د پشد د سيدانو د درونډ شخصيت، سـيد محمـد حسن پاچا ځوی او د کونړ د پخواني واکمن، سـيد محمـود پاچـا کړوسـی دی. نوموړی په ۱۳۳۳ لمريز کال کې د سرکاڼو ولسوالۍ د پشـد پـه کـلي کـې زيږيـدلی او لـومړنۍ ښـوونځی هـم پـه خپـل کـلي کـې لوسـتې دی. متوسطه يې د نرنگ په منځني ښـوونځي او د ليسـی دوره يـی د ځـوکۍ د جمعيت په عالي ليسه کی پای ته رسولې ده. په ۱۳۵۱ لمريز کې د کانکور د بريالۍ ازموينې په پايله کې د کابل پوهنتون د ادبيـاتو او بشري علومـو پوهنځي ته کامياب او په ۱۳۵٦ کال يـې د تـاريخ او جغرافيـا لـه څـانگی څخـه د ليسـانس شـهادتنامه واخيسـتله. لـه فراغـت وروسـته د نرنـگ پـه ليسـې، د ننگرهـار د ښـوونکو د روزنـې پـه عـالی مؤسسـې او پشـد کـې د استاذۍ دندې ترسره کړې دی.

پـه ۱۳٦٦ لمريـز کـال کـې د جرمنـي د پوتسـدم ښـار تـه لاړ او د ادارې او منجمنټ په برخه کی يی زده کړی وکړې او يو کال وروسته له ډگري سره بيرته وطن ته راغی. د معارف د وزارت د چوکـاټ دننـه، لـومړی د کـونړ د ښوونې او روزنې رئيس وټاکل شو او څه موده وروسته د لغمان ولايت ته د معارف د رئيس په توگه واستول شو. په ۱۳۸۸ لمريز کال کې يو ځل بيـا د کونړد ښوونې او روزنې رئيس مقرر شو چې تـر ۱۳۹۷ کـال پـوری همدلتـه پـاتې شـو. نومـوړي وکـولای شـول پـه دی نهـو کلونـو کـې د وسـله والـو مخالفينو د گواښونو سره سره، د کـونړ پـه لـر او بـر کـې پـه لسـگونو نـوي ښوونځي پرانيزي او درسي چارې لا گړندۍ او معياري کړي. اسـتاذ سـيد جمال الدين حسني، اوسمهال کومه دولتـي دنـده نـه لـري، پـه کـور کـې

مطالعه او د اړتیا په وخت کې خپلو هم مسلکو ته مشورې ورکوي. نوموړی د انګلیسي، جرمني او اردو ژبو سره بلد دی، واده یې کړی؛ د څلورو لوڼو او دریو ځامنو پلار دی.

## سید سکندر شاه فقیري

شهید، سید سکندر شاه فقیري د اروا ښاد څارنوال سید شیر آغا ځوی او د مرحوم سید فقیر پاچا لمسی دی. نوموړی په ۱۳۳۰ هجري لمریز کال زیږیدلی او لومړنۍ زده کړې یې د پشد په کلي کې کړې دي. په ۱۳۴۴ لمریز کې جلال آباد ته لاړ او هلته د ننګرهار په دار المعلمین کې شامل او پنځه کاله وروسته له دولسم ټولګي څخه فارغ شو. ورپسې د قندهار عالي دار المعلمین کې داخل او دوه کاله وروسته یې د څوارلسم صنف شهادتنامه ترلاسه کړه. یو کال وروسته د کابل په عالي دار المعلمین کې شامل شو ترڅو د ښوونې او روزنې تخصصي شهادتنامه واخلي. نوموړي د ښوونکي په توګه خپله دنده د نرنګ په لیسې کې پیل کړه او لږه موده وروسته د پیچ ولسوالۍ د ننګلام د لیسې مدیر وټاکل شو. بیا د نرنګ د لیسې مدیر او د معارف د وزارت د چوکاټ دننه د څارندوی مشر شو. د هغه دوستان او حتی سیاسي مخالفین ټول وایي چې مدیر سکندر شاه یو ډیر پاک نفسه، متدین او بی غرضه انسان وو. د ۱۳۵۸ کال په لومړی میاشت کې یو ټولې عسکر یې د شپې له خوا کور ته راغلل او په زوره کې یې د سرکاڼو ولسوالۍ او بیا د اسعد آباد زندان ته له ځان سره یووړ. څه موده وروسته څرګنده شوه چې نوموړی د کمونست رژیم له خوا شهید شوی دی. له شهید څخه یوه لور او یو ځوی پاتې دي.

## سید سلیمان شاه سعادتیار

ډیپلومات او خبریال، سید سلیمان شاه سعادتیار د ارواښاد ځارنوال، سید شیرآغا ځوی او د مرحوم سید فقیر پاچا لمسی دی. هغه د ۱۳۳۴ لمریز کال د وري په لمړۍ نیټه د سرکانو ولسوالۍ د پشد په کلی کی زیږیدلی او لومړنۍ زده کړی یې د پشد ابتدائیه ښوونځي کې ترسره کړې دي. په ۱۳۴۶ لمریز کال کې د کابل په حربي ښوونځي کې داخل او له فراغت سره جوخت د کابل د حربي پوهنتون په پیاده پوهنځي کی شامل شو. په ۱۳۵۵ کال کې هندوستان ته واستول شو چی د طب په څانگه کی تحصیلات وکړي، خو د ۱۳۵۷ کال د ثور د کودتا له امله یې زده کړې نیمگړې پاتی شوې.

درې کاله وروسته پیښور ته لاړ او د مجاهدینو سره یې د مطبوعاتو او تبلیغاتو په برخه کی کار پیل کړ. د مجاهدینو په عبوري حکومت کی د میډیا او مطبوعاتو په ریاست کی د عمومي مدیر په توگه وگمارل شو او په ۱۳۷۱ لمریز کی په اسلام اباد کی د افغانستان د سفارت د سیاسي او مطبوعاتي چارو د لومړي سکرتر په توگه کار وکړ، بیا په پیښور کی د افغانستان د قونسل جنرال په توگه مقرر شو. د یوې لنډې مودې لپاره، سید سلیمان شاه د طالبانو تر واکمن کیدو پورې په اسلام آباد کې د افغانستان سرپرست سفیر وو. سعادتیار په ۱۳۶۸ لمریز کې د پیښور پوهنتون څخه د انگریزي ادب او ژبې په څانگه کی خپله ماستري ترلاسه کړه. بیا د یو رسمي تعلیمي بورس له لارې په ۱۳۸۰ لمریز کې د امریکا د ویرجینیا ایالت د « NOVA » په کالج کې د انگریزي ژبی او مسلکي لیکنو او ترجمې په رشته کی ډیپلومه واخیستله. سید سلیمان شاه له ۲۰۰۱م کال راهیسی په واشنگټن ډي سي کې د امریکا غږ د پښتو څانگې د خبري څانگې د ویاند او پروډسر په توگه کار کوي او د ویرجنیا

په ایالت کې اوسیږي.

## انجنیر سید فرید الله فرید

پوهنمل انجنیر، سید فرید الله فرید د ارواښاد سید حبیب الله پاچا ځوی دی؛ د ۱۹۵۵م کال د ډسمبر په پنځلسمه د پشد د ساداتو په مشهورې کورنۍ کې زیږیدلی دی. لمړنۍ زده کړې یی په خپل کلي کې او ثانوي پړاو یې د اسعد آباد په مرکزي لیسې، عمرا خان کې سرته رسولی دی. له کانکور وروسته د کابل پوهنتون انجنیرۍ پوهنځي ته لاړ او پنځه کاله وروسته یې د بریښنا د انجنیر په توګه خپل لیسانس واخیست. همدارنګه یې د روسیې، هندوستان، جرمني، پاکستان، ترکیې، تایلند، مصر او اردن په هیوادونو کې خپل لوړ تحصیلات جاري وساتل. انجنیر فرید د ښارونو او کرهنیزو انحصاراتو ته د بریښنا انرژۍ د رسولو او هم د خړوبولو کوچنیو زیرمو د ساختماني انجنیرۍ په برخو کې جلا جلا دوه د ماسترۍ شهادتنامې تر لاسه کړې او د انجنیرۍ د ادارې په برخه کې د ډکتورا علمي رتبې ته کاندید دی.

د ننګرهار په پوهنتون کې د پوهنمل د علمي رتبې په لرلو سره، د ننګرهار پوهنتون د خپروني لوی مدیر او په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د یوناما او یونوچا په مرکزي دفترونو کي د بشرې مرستو په سکتورونو کي د پروګرامونو د مشر افسر او مینجر په توګه وظیفې اجراء کړې دي. دري ځلویښت کلنه کاري تجربه لري چې له دغې مودې څخه اتلس کاله یې د ملګرو ملتونو له مختلفو ادارو سره، یولس کاله د نړیوالو غیر دولتی مؤسسو سره او څوارلس کاله یې د افغانستان په دولتي چوکاټ کې په

بيلا بيلو دفترونو او سازمانونو کې دندې تر سره کړيدي. په ۲۰۱۲م کال کې د ملګرو ملتونو لخوا په فلپاين کې د ستر توپان نه دوه ورځې وروسته، د بيړنيو مرستو او بيا رغونې د چار سمبالي په توګه هغه هيواد ته وليږل شو. انجنير فريد له ۲۰۰۹ - ۲۰۱۸م کال تر پايه د ملګرو ملتونو د بشري مرستو په ډګر کي پاتی شو او د پام وړ بشري خدمتونه يې ترسره کړل. انجنير سيد فريد الله فريد د خپلې مورنۍ ژبې تر څنګ په دري، انګليسي، روسي، اردو، عربي او جرمني ژبو پوهيږي او د کمپيوټر په نړۍ کې ښه ډير مهارتونه لري.

## ډاکټر خليل الله هاشميان

د کونړ د ساداتو د منورې کورنۍ له بچيانو څخه يو هم ژب پيژندونکی او څيړونکی ارواښاد، پوهاند ډاکټر خليل الله هاشميان دی. نوموړي د «شاه جي بابا» له ټبر څخه دی، نيکه يې له پښد څخه کابل ته تللی او د شاهي کورنۍ سره د نژدې اړيکو له کبله په دربار کې ګمارل شوی دی. د ډاکټر هاشميان پلار، سيد محمد سرور نوميده، د زابل په ولايت کې حاکم وو چې خليل الله په ۱۹۲٦م کال کې په قلات کې پيدا شو. کورنۍ يې بيرته کابل ته راغله او د استقلال ليسه يې ولوستله. له فراغت وروسته د بهرنيو چارو په وزارت کې د مامور په توګه مقرر او بيا لندن ته په افغان سفارت کې د دويم سکرتر په رتبه واستول شو. په ۱۹٦۳م کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي يې ليسانس واخيست او د اسستانت استاذ په ډول يې تدريس پيل کړ. په ۱۹۷۳م کال کې يې د امريکا د کولمبيا له پوهنتون څخه ماستري او څلور کاله ورسته له همدغه پوهنتون څخه خپله

ډکتورا واخیسته او وطن ته لاړ. د شوروي یرغل په پایله کې یې کلیفورنیا ته کډه وکړه او هلته یې په یو دولتي پوهنتون کې د ژب پیژندنې په ډیپارټمنت کې پنځه کاله د استاذۍ دنده اجراء کړه.
په ۱۹۸۸م کې یې د (آیینه افغانستان) په نوم یوه ډیره بریالۍ او افغان شموله جریده په دري، پښتو او انگریزي ژبو را وویسته چې په ډیر متوازن ډول یې ۲٦ کاله په خپل شخصي لگښت سره ژوندۍ او گړندۍ وساتله.
پوهاند ډاکټر خلیل الله هاشمیان د ۲۰۱۸م کال د جون په میاشت کې د خپلې ساه امانت، خالق ته وسپارلو او یو شمیر علمي او څیړنیز کتابونه او په سلگونو مقالې یې را روانو نسلونو ته په میراث وقف کړې. زه (ملکزی) د هغې ډکشنرۍ (قاموس کبیر افغانستان) د لیکوالې ډلې د غړیتوب ویاړ لرم چې ارواښاد هاشمیان د انجنیر قیس کبیر، استاذ فاراني، صالحه واهب، ډاکټر عبدالله کاظم، پوهندوئ بهاند او نورو علمي شخصیتونو سره پیل او دمگړۍ جریان لري. زه یې هغه لغاتونه پښتو او دري ژبو ته را اړوم چې اصلا عربي دي او یا عربي ځیلۍ لري.

## د اسلامپور او نرنگ سیدان

د پشد، دره نور، اسلامپور او بر نرنگ د سیدانو ډیرې د شاه جي بابا (سید احمد) لمسیان دی چی په ۱٦۵۰م کال کې په پشد کې اوسیدلی دی. د نوموړي یو ځوی سید غریب نومیده چې په ۱۷۲۰م کال کې د سره رود په سلطانپور کی وفات او همدلته دفن دی. د سید غریب یو زوی، سید مصطفی په۱۷۸۰م کال کې له سلطانپور څخه پشد ته د اوسیدو په تکل کډه شو خو د میا عباس بابا د لمسیانو سره د کورني اختلاف په وجه اسلامپور/ سلامپور ته لاړ او لږه موده وروسته په اسلامپور کی وفات او

خاورو ته وسپارل شو. د سید مصطفی دوه ځامن هر یو سید غلام رسول ۱۸۰۰ - ۱۸۷۰م او بل یی سید محمد جان ۱۸۰۵ - ۱۸۶۵م کال کې له اسلامپور نه یو ځل بیا د استوګنې په نیت پشد ته راغلل، سید غلام رسول بیرته اسلامپور ته لاړ او سید محمد جان په پشد کې اوسیدل غوره کړل.
د سید غلام رسول پاچا چې خلک یې په میاجي بابا باندې پیژني، درې ځامن وو: سید امیر، میر صاحب جان (شیخ پاچا) او سید غفور پاچا چې دوئ ټول په اسلامپور او بیا په دره نور کی میشت شول. شیخ پاچا نه یوائې دا چې ښه غښتلی شخصیت درلود، بلکې په عین حال کې د هډې صیب (نجم الدین اخند زاده) د پنځلسو ماذونانو په ډله کې د ډیر نفوذ خاوند ګڼل کیده او د پیرنګیانو خلاف په غزاګانو کې یې مخکښ رول لوبولی او په مومندو او شاو خوا سیمو کې یې ګرځنده جبهې درلودې.
کله چې د هډې اخند زاده (نجم الدین) وفات شو، نو امیر حبیب الله خان په خپله د شیخ پاچا په دستار بندی او د پګړۍ په سر کولو کې برخه واخیسته. شیخ پاچا دوه ځامن لرل؛ د یو نوم سید مصطفی او د بل نوم سید عباس وو او دوئ د اسلامپور څخه د دره نور د شکیالی سیمې ته وکوچیدل او هلته میشت شول. سید مصطفی څلور ځامن درلودل چې مشر یې سید غریب پاچا (سید آغا جان پاچا) سید غلام علي، سید افندي او سید علي اصغر وو. سید آغا جان پاچا څلور ځامن لري؛ مشر ځوی یې مولانا سید عبد الوهاب دی او یو ځوی یې چې سید فاروق نومیده، شهید شوی دی.
په دره نور کې د نورو سیدانو تر اړخه یو هم د سید غریب پاچا اوښې، سید حسین پاچا دی چې اصلا د لغمان له ولایت څخه له ده سره د خپلولۍ وروسته همدلته پاتې شوې، درې ځامن لري د امریکا په متحدو ایالتونو

کې اوسي. د دوئ نومونه دا دي: سید حسن پاچا د نیو جرسي په ایالت کې، سید غفران پاچا او سید مطیع الله پاچا په کلیفورنیا کې اوسیږي. سید حسن ښه شاعر او ولسي۔ شخصیت دی او سید غفران په ټولنیزو رسنیو کې ځانګړی ځای او سټایل لري.

د شیخ پاچا ورور، سید امیر پاچا چې یو وخت د پیچ حاکم وو، د خپلو ځامنو سید عبد القادر او سید عثمان په ملتیا نرنګ ته د پاتې کیدو په نیت لاړ. لږه موده وروسته پخپله او مشر۔ ځوی یی «سید عثمان» بیرته اسلامپور ته ستانه شول او کشر ځوی یې «سید عبد القادر» په بر نرنګ کې میشت شو. سید عبدالقادر پاچا څلور ځامن درلودل: سید محمد یوسف، سید ګل، سید غلام رسول او سید غلام سرور. کله چی سید عبد القادر پاچا د خپل مشر۔ ځوی (سید محمد یوسف) د واده د تیاری په مقصد جلال اباد ته لاړ، نو هلته سخت ناروغه او کور ته په لاره په اسلامپور کی وفات او هم هلته دفن شو. دوهم ځوی یی (ګل پاچا) هم د وبا د مرض له امله په اسلامپور کی وفات شو. د سید عبدالقادر پاچا پاتی اولاده په نرنګ او د سید عثمان پاچا اولاده (سید حسام پاچا) په اسلامپور کی استوګن شول. د بر نرنګ اروانښاد، سید غلام سرور پاچا شپږ لوڼې او پنځه ځامن درلودل؛ جګړن سید خلیل الله، سید قریش، سید شاه جي ګل، سید شهید الله او کشر ځوی یې سید امیر الله هاشمي نومیږي. مرحوم سید محمد یوسف پاچا یو ځوی لري، په ملنګ پاچا مشهور دی او اروانښاد سید غلام رسول پاچا یوه لور لرله، هغه هم څه موده وړاندې وفات شوه.

په دره نور کې د قلعه شاهي سیدان د کونړ د نورو سیدانو په څیر چې د امام حسین (رض) اولاده ده، دوئ د امام حسن (رض) لمسیان دي چې

له مشهورو شخصیتونو څخه یې یو هم سناتور سید حبیب اشنا دی او په جان آغا پاچا سره شهرت لري. د امریکا غږ او اشنا ټلویزیون مشهور خبریال او ویاند، سید سلیمان شاه اشنا د همدی ارواښاد سناتور لمسی دی. د استاذ ګل پاچا الفت کورنۍ، د سید شمس الدین مجروح کورنۍ او د لغمان د چار باغ سیدان، ټول په دریم نیکه کې سره یوځای کیږي او د امام حسن (رض) له نسله دي. د بډیالۍ د پاچایانو بله یاده کورنۍ د سید شریف پاچا ده، د پلار نوم یې سید شهزاده او نیکه یې سید عبد الکریم نومیده چې د پشد د سید محمد نظیف کړوسی دی.

## د خاص کونړ او وټه پور سیدان

د خاص کونړ د تنر په طلا په بانډه کې هم له پشد څخه راغلي د سید نظیف پاچا لمسیان اوسیږي چې ځینې یې اوس کابل او نورو ځایونو ته کډه شویدي، ولی کورونه او جایدادونه یې پخپل واک او اختیار کې پاتې دي. په کلیفورنیا کې میشت زما محترم دوست، ډاکټر سید جمال الدین د دغو سیدانو د پنځو کورنیو تفصیل په اړه ما ته داسی وویل «اوله کورنۍ د سید عبد الکریم پاچا د ځوی، سید محمد شعیب ټبر دی او دری ځامن لري: سید محمد حسیب، سید محمد قاسم او سید شیرین. دوهمه کورنۍ د سید عبد الحنان ده چې د سید ابراهیم پاچا ځوی دی او هغه هم درې ځامن لري: سید جلال، سید فرید او سید فرهاد. دریمه کورنۍ د سید محمد یوسف پاچا ده، هغه هم درې ځامن درلودل؛ مشر یې سید عبدالله پاچا دی چې په حاکم صیب باندی مشهور دی».

حاکم صیب د درې ځامنو پلار وو، نومونه یې پدی ډول دي؛ سید احسان الله، سید انعام الله او سید اکرام الله. د حاکم پاچا دوه ورونه وو، یو یې

سید مطیع الله دی او د سید عطاء الله په نوم یو ځوئ لـري. دوهـم ورور یې سید مصطفی وو چې هغه هم یو ځوی لرلـو او نـوم یـې سـید عبـاد الله دی. څلورمه کورنۍ د سـید حسـین پاچـا ده، شـپږ ځـامن یـې لـرل: سـید افندي، سید شاه حسین، سید محسن، سید حسن، سید فدا او سید منیر. پنځمه کورنۍ د سید احمدي پاچا ده چې په علاقدار پاچا سره یـې خلـک پیـژني او هغـه د پنځـو اولادونـو پـلار دی: سـید غـلام عـلي، سـید عبـد الهادي، شهید سید عبد اللطیف، ډاکټر سید جمال الـدین او سـید فضـل الهادي وحدت.

د وټه پور د سیدانو نیکه، سید قیوم پاچـا نومیـده چـې د بـاجوړ د ګـټ پـه سیمه کې اوسیده او ځوی یې ارواښاد ملک سید پاچا د کونړ وټـه پـور تـه راغلی دی. نوموړي څلور ځامن درلودل: سـید کـاظم، سـید حسـن، سـید جعفر او سید محمد رسول. سید حسـن دوه ځـامن لـرل چـې یـو یـې سـید محمد او بل یې سید قاسم وو. سید جعفر د پنځو ځامنو پلار وو: سید شاه محمد، جګړن سید محمد حسن، انجنیر سید حسن، سید حضـرت حسـن او سید عاشق الله. سید محمد رسول هم پنځه اولادونه لرل: انجنیر سـید حبیب الرسول، ډګروال سید حضرت رسول، سید غلام رسول همت (غـلام پاچا) ډاکټر سید عبد الرسول او سید اغا پاچا.

باید یادونه وکړم چې د اسعد آباد په یارګل کې «د مفتش سید جان پاچـا، سید حبیب شاه او سید سکندر شاه کورنۍ» په ډنډونو کـې د «سـید غـلام علي او نبي جـان پاچـا» کـورنۍ او د چغسرای پـه دوشـاخیلو کـې هـم د ساداتو څو ګوتې په شمار کورنۍ اوسیږي. په دانګام او اوغز باغ کـې هـم د پاچایانو څو کورنۍ آبادې دي چې نیکونه یې د ډیورنډ له هغې خوا نژدې یوه پیړه وړاندې دلته را کوچیدلي او میشت شوي دي.

## د نورګل او بهسودو سیدان

د میا عباس بابا له کړوسیانو څخه یـو هـم سـید اشرف پاچـا دی چـې دوه ځامن یې درلودل، یو یې سید جلال او بل یې سید غلام صدیق نومیده او له پشد څخه د نورګل سیمې ته تللې او هلته آباد شـوي دي. سـید جـلال پاچا د دوه ځامنو پلار وو، هر یو سید عمر پاچا او سید بابا پاچا. سید عمـر پاچا درې ځامن درلودل: سید عثمان، جګړن سید حسن او ډګـروال سـید محمد حسن پاچا. سـید بابـا پاچـا بیـا څلـور اولادونـه لـرل: ډګـروال سـید حسین، ډګرمن سید مصطفی، تورن ګل پاچا او ډګرمن سید آقا.

د سید اشرف پاچا دویم ځوئ سید غـلام صـدیق پاچـا وو چـې لـه نورګـل څخه د ننګرهار د بهسودو سیمې ته لاړ او هلته میشت شو. له هغـه څخـه دوه ځامن پاتې شول، اول سید اکـبر پاچـا چـې د څلـورو ځـامنو پـلار وو: څارنوال سید غلام فرید، معلم سید لطیف، ډاکټر سید قاسم او ډاکټر سید داود. دوهم ځوئ یې سید کریم پاچا نومیده چې پنځه ځامن لـري: معلـم سید امیر پاچا، سید آقا پاچا، ډاکټر سـید بهـاء (د ننګرهـار د طـب اسـتاذ) انجنیر سـید عبـدالله پاچـا او سـید جـمال پاچا چـې پـه وروسـتیو پارلمـاني انتخاباتو کې له ننګرهـار څخـه ولسي جرګـي تـه کاندیـد وو. زه لـه خپـل محـترم دوسـت، انجنیـر سـید عبـدالله څخـه مننـه کـوم چـې دغـه پاسـني معلومات یې ما ته راکړل.

## د څوکی سیدان

د کونړ د څوکی په ولسوالۍ کی د سیدانو درې کورنۍ میشتې دي چی یوه

یی د میاعباس بابا، بله یی د شاه جي بابا او دریمه یی د میرزا شاه بابا له کورنیو سره تړاو لري. د مرحوم سید پاچا کورنۍ چي غور نیکه یې سید احمد نومیږي، د میا عباس بابا لمسی دی. نوموړی سید د اتلسمې پیړۍ په سر کي د پشد څخه د ساپو د غوښتنی په اساس، د ستانی په توگه د څوکۍ ولسوالۍ د شلوټۍ کلی ته کډه شوی دی. د سید احمد دری لمسیان هر یو سید اعظم پاچا، سید درویش پاچا او سید امبر پاچا په کورنیو ویشل شویدي. سید پاچا څلور ځامن درلودل: ډگروال سید گل پاچا، مل پاسوال سید گل اغا پاچا، جگړن سید جان اغا پاچا او ډاکټر سید شیر اغا پاچا دوئ ټول د عالي تحصیلاتو خاوندان دي او په څوکۍ، جلال اباد او کابل کی استوگنه لري. همدارنگه، د میرزا شاه بابا د کورنۍ مخور، ارواښاد ډگروال سید پهلوان عمراني او د هغه لور، انیسه عمراني چې له ننگرهار څخه د شوری وکیله ده، د یادونې وړ دي.

## په کونړ کې د پنج پیري او سلفي غورځنګونو بنسټګر (شیخ جمیل الرحمن)



د کونړ د اغیزمنو مذهبي سیاستوالو په سر کې، د شهید مولوي محمد حسین اخوند زاده نوم راځي. ارواښاد د هجرت او جهاد په مهال، خپل نوم په شیخ جمیل الرحمن باندې بدل کړ او په لږ وخت کې د شهرت او قدرت لوړې زینې ته وخوت. هغه په افغانستان کې لومړی د پنج پیري مذهبي غورځنګ او بیا وروسته د سلفي یا د عوامو په اصطلاح د وهابي عقیدې سرلارې ګڼل کیږي. نوموړی په ۱۹۳۹ میلادي کال کې د کونړ د پیچ درې د ننګلام په کلي کې دنیا ته سترګې وغړولې، په اوه کلنۍ کې یې دیني تعلیم پیل کړ. لا ځلموټی وو چې خاص کونړ ته لاړ او ورپسې یې پېښور ته مخه کړه. هلته یې په مختلفو مدرسو کې شرعي علوم ولوستل، مګر د مولانا محمد طاهر پنج پیري مشهوره مدرسه یې د فکري او مذهبي لید لوري شاخص بلل کیږي. هغه په دې لاره کې یواځې نه وو، مولوي سعید، مولوي ابراهیم، مولوي غلام رباني، مولوي فقیر الله، مولوي احسان الله، مولوي غلام حیدر، مولوي بصیر، ملا ګوډ (محمد وکیل) مولانا فیض محمد او د مولوي رحمت جمال په څیر عالمان یې تر څنګ ولاړ او د همدې لارې لارویان وو.

مولوي حسین د شهید ولسمشر، محمد داود د جمهوریت په لومړي کال

کې بیرته کونړ ته راستون شو او د حنفي او دیوبندي اصولو د چوکاټ دننه يې د دوئ په وینا « د شرک، خرافاتو، بدعتونو او قبر پرستۍ» په خلاف اواز پورته کړ. دغه اصلاحي غورځنګ په شروع کې له توند ولسي غبرګون سره مخ شو چې د حکومت د نا لیدلي ملاتړ څخه برخمن وو. په دوئ د لا مذهبو، غیر مقلدو، د پاکستان د ګوډاګیانو او جاسوسانو ټاپې ولګیدې، خو په مزه مزه دغه تونده څپه غلې شوه. مولوي جمیل الرحمن، که یو پلو ته دیني عالم او د خپل ځانګړي فکر خاوند وو، نو په عین حال کې یو سیاسي فعال هم وو. د اعلیحضرت ظاهر شاه د واکمنۍ په وروستېو پارلماني سیالیو کې یې ځان ولسي جرګې ته کاندید کړ، خو انتخابات د چپې درې، سید محمد وګټل.

په ۱۹۷۴م کال کې د ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې د اسلامي ځوانانو له غورځنګ سره مل او پنځه کاله وروسته د کونړ لپاره د حزب اسلامي مشر وټاکل شو. کله چې د اسمار غرنۍ غونډ د ۱۳۵۸ کال د زمري په پنځمه، د ډګروال عبد الروف خان صافي په مشرۍ له مجاهدینو سره مل شو، نو د دغو بیدریغه وسلو او مهماتو ډیره برخه ذخیرې او د هغو ویش د مرحوم جمیل الرحمن او اروابناد کشمیر خان په لاس کې پریوت. ما په خپله د دغه غونډ پنځه تنه بندیان عسکر د حزب اسلامي د قومندان، مرحوم ملا عبدل په جهادي مرکز کې ولیدل چې د باډیل په غازي خان غونډې کې یې جوړ کړی وو. څو ورځې وروسته دغه بندیان آزاد او خپلو ولایتونو ته د تګ اجازه ورکړل شوه.

له حکمتیار سره د ژور اختلاف او سعودي شیخانو سره د نږدې اړیکو په پایله کې، شیخ جمیل الرحمن له حزب اسلامي څخه خپله لاره جدا او په ۱۳۶۵ لمریز «۱۹۸۵م» کال کې یې په پیښور کې د ځان لپاره نوی

مذهبي ګوند جوړ کړ. دغه ګوند د نورو جهادي او سیاسي ګوندونو په خلاف، حتی نوم یې هم په عربي ژبه دی (جماعة الدعوة الی القران والسنة). د څو میاشتو دننه، د عربي خلیج شتمنو شیخانو او دولتي خیریه مؤسسو ورته خپلې دروازې پرانیستې او د بې توله پیسو شین لیکې بوجۍ پېښور ته راورسیدې. مرکزي دفتر یې په ارباب روډ کې پرانیست او د افغان مهاجرینو په کمپونو کې د دعوت او تنظیم مرکزونو خپل کار شروع کړ. د لسګونو جهادي جبهو او د مهاجرینو د ګڼ شمیر کمپونو د شتون سره سره، د پاکستان حکومت او افغان کمشنرۍ دغه مذهبي جماعت د سیاسي ګوند په نوم په رسمیت ونه پیژندلو.

ځینی څیړونکي په دې باور دي چې مولوي غلام الله رحمتي کندوزي (د جماعة الدعوة مرستیال) د هیواد په شمال کې د سلفي حرکت مخکښ او د پنج پیري مکتب اصلي څیره ده. نوموړي په پېښور کې د مولوي شمس الرحمن سلفي سره د الجامعة الاثریة په نوم یوې مدرسې کې درس ورکولو چې بیا وروسته دغه مدرسه د عربانو د مالي کومکونو له برکته ډیره پراخه شوه. څو کاله وروسته سلفیانو د پېښور په ختیځه څنډه کې اسلام آباد ته د عمومي سړک په غاړه څمکنیو کې د امام بخاري په نوم یو پوهنتون جوړ کړ. دغه پوهنتون اوس مهال په زرګونو محصلین او په لسګونو استاذان لري او په لرې او برې پښتونخوا کې د سلفي عقیدې تر ټولو ستر تعلیمي او تربیوي مرکز ګڼل کیږي.

د ۱۳٦۷ لمریز کال د وږي په میاشت کې (۱۹۸۸م) کې د شوروي لښکرو له ماتې وروسته، کونړ لومړنی ولایت وو چې د مجاهدینو لاس ته ولوید. د اوو جهادي تنظیمونو له خوا یوه د مشرتابه شورا جوړه شوه چې هر تنظیم درې درې تنه استازي درلودل او د جمعیت اسلامي مربوط

قومندان، مولوي غلام رباني نورستاني يې والي وټاکلو. په همدې وخت کې سلفیانو هم جلا موازي شورى جوړه او مولوی احسان الله یې والي اعلان کړ. د اوه ګوني شورى مجاهدينو د مره ورې حاجي حضرت رحمان خپل مرستال تعین کړ او سلفي مجاهدينو حاجي روزی خپل معاون وټاکه. دوه کاله وروسته د کابل له خوا د جمعيت اسلامي بل اړونده قومندان، د وټه پور استاذ محمد علي د والي په توګه معرفي کړ. کال لا پوره نه وو چې حالات د سلفيانو په ګټه تمام شول او په ۱۹۹۱م کال کې مولوي جميل الرحمن تر خپلې مشرۍ لاندې په کونړ کې اسلامي امارت او کابينه اعلان کړه. په دې نوي تشکيل کې مولوي عبد الرحمن د امارت مرستيال او حاجې روزی د کونړ والي وو. د حکمتيار اسلامي حزب هم خپله اداره اعلان کړه، د کوم تر مخه چې مولوي فقير الله نورستانی یې مشر او مولوي محمد هاشم منيب يې مرستيال وو.

جماعة الدعوة الى القران والسنة د خپل قلمرو لاندې سيمو کې پاټکونه له مينځه یوړل، د شرعي حدودو د پلي کولو هڅه یې وکړه چې قاتلين قصاص او زنا کارو ته د شرعي قوانينو له مخې سزا ورکړل شي. په مخدره موادو، حتى په نصوارو او سګريټو یې بنديزونه ولګول او دغه توکي يې له بازارونو څخه را ټول او وسوځول. لږه موده وروسته، د حزب اسلامي او سلفيانو د ګوند په مينځ کې سختي جګړې پيل شوې او په سرکانو، سالار باغ، توپچي او د چغه سرای په اړونده سيمو کې خونړۍ نښتې وشوې کومې چې د غتې جاني او مالي بربادۍ لامل وې. د حزب اسلامي يو مشهور قومندان، ناصر د لغمان له ولايت څخه د خپلو سلګونو وسله والو په مټ د سرکانو په ځينو کليو باندې بريدونه وکړل چې مرګ ژوبله يې هم درلوده. د ۱۹۹۰م کال د اپريل په شلمه د اسعد آباد په ښار کې يوه زوروره

چاودنه وشوه، په دې پېښه کې د سلفيانو زيات غړي، خواخوږي او ولسي وګړي ووژل شول. سلفيانو د تور ګوته حزب اسلامي ته ونيوله، کومه چې حکمتيار په قاطعيت سره رد کړه. البته شيخ جميل الرحمن په دغو شپو ورځو کي پخپله په باجوړ کې اوسيده او کونړ ته له تګ څخه يې ډه ډه کوله.

## د شيخ جميل الرحمن شهادت

د جماعة الدعوة الى القران والسنة د مشر، شيخ جميل الرحمن قاتل (ابو صهيب) عبدالله رومي نوميده او په ختځه مصرى وو. ما له قاتل سره مازې دوه ورځې وړاندې، يعنې د چار شنبې په ورځ د غرمې د ډوډۍ په مهال د استاذ سياف د اتحاد اسلامي د مياشتينۍ مجلې «البنيان المرصوص» په دفتر کې وليدل. دغه مجله چې زه يې هم د ليکوالې ډلې غړی وم، دوه دفترونه درلودل، يو يې په آبدره روډ کې، دوهم يې په هجرت کلي کې وو چې د چيراټ خوا ته د پېبو په دښتې کې جوړ دی. دغه مجله د يو مصري او بل سوډاني ژورنالست له خوا په ډېر عالي تيراژ او رنګه صحافت خپريدله او په عربي نړۍ کې يې په زرګونو لوستونکي او مينه وال درلودل. ابو صهيب به د ديرشو کالو په عمر وو، د څه مودې راهيسې ذهني مريض وو. غلی او مستانه مزاجې ځوان وو؛ په پېښور کې به د عربانو په مختلفو مهمانخانو او دفترونو کې اوسيده. وخت نا وخته به يې د البنيان المرصوص مجلې دفتر ته سر راښکاره کړ.

د۱۹۹۱م کال د اګست په ديرشمه د جمعي په ورځ، په داسې حال کې شيخ جميل الرحمن باندې د الله اکبر په ويلو سره د تمانچې ډزې وکړې چې اروابناد د لمانځه لپاره تياري نيوله. ٦٢ کلن شيخ جميل الرحمن ځای په ځای ساه ورکړه، د نوموړي امنيتي کسانو پرته له ځنډ او جنايي تحقيق

ځخه پـه عبـدالله رومـي باړونـه وچلـول او د مـاجرا د څیړنـې او انګیـزې د معلومولو پرته، قاتل ووژل شو. د جماعة الدعوة شهید مشر په بـاجوړ کـې خـاورو تـه وسـپارل شـول او مولـوي سـمیع الله نجیبـي چـې د ننګرهـار اوسیدونکی دی، د هغه ځاي ناستی او خلیفه وټاکل شو.

## له شیخ جمیل الرحمن سره ځما لیدنې

له شهید شیخ جمیل الرحمن سره ما څو ځلې لیدلي وو. لـومړی ځـل کلـه چې موږ د غوایي د خونړۍ کودتا په لومړي کال پېښور ته کډه وکړه، زه او زما د ماما ځوی او زما همزولی، الحاج امین الله امین د هغه د لیدلو لپـاره په کوهاټ روډ کې د مولوي صیب کور ته ورغلو. دغه وخت ډېر کم شمیر خلک مهاجر شوي وو چې زیاتره یې له کونړ نه راغلي وو. یوه وړه غونډې حجره وه چې دوئ بیټک بلله. شـنه پلاسـتیکي سـطرنجۍ غوړیـدلې وه، برګ برګ دوه درې توشکونه او څو دانې بالښتونه هم د دیوال ته خـوا تـه ایښودل شوي وو. موږ دواړه چې دغه مهال مو عمرونه له شلو کلونو ځخه کم وو، د ډېر تاوده او له احترام ځخـه ډک هـرکلي سره مـخ شـو او خپـل ځانونه راته بیخي سپین ږیري ښکاره شول. موږ یې هـم علـم تـه تشـویق کړو او هم یې ځینې نصیحتونه راته وکړل چې په دغې مرحلې کـې مـوږ د جهادي ګوندونو پـه مـنځ کـې څـومره پـه احتیـاط ګامونـه واخلـو او څـوک انتخاب کړو.

په دوهم ځل مې اروابناد په ۱۹۸۴م کال کې د مدینې منورې په پوهنتون کې ولید چې زه د تاریخ او ژورنالیزم د پوهنځي د دریم صنف محصـل وم. ډېر زیات خوشحاله شو او د نورو افغان محصلینو د شمیر او له هغوئ سره د لیدنې د فرصت برابرولـو غوښـتنه یـې را ځخـه وکـړه. پـه آخـر ځـل مـې

نوموړی د جنازې په کټ کې ولید چې د ابو صهیب په لاس شهید شوې وو. ډیره ګڼه ګوڼه وه، د هر سیاسي ګوند او جهادي ډلې استازي راغلي وو. د زرګونو په شمیر کې، باجوړ میشتي مجاهدین او مهاجرین هم را غونډ شوي وو. چا د غچ او انتقام خبرې کولې او چا د هغه د کورنۍ په غړو انتقادونه کول چې ولې یې د قاتل په وژلو کې بیړه کړې او شواهد یې له منځه یووړل؟

شیخ جمیل الرحمن په دې باور وو چې د هر راز مذهبي او فقهي اختلاف حل او فصل، باید د سلف صالحینو د عمل په هنداره کې ولټول شي. د زیارتونو، تعویذونو، تصوف، پیرانو او مریدانو په هکله د خلکو افراطي عقیدې باید اصلاح شي. له بله پلوه، د نن ورځې تعلیم یافته ځوان نسل هم په دې اند دی چې هرڅه ته د مذهب له زاویې کتل، د ټولو مشکلاتو د حل کنجي نه ده. په مقابل کې، حنفي مذهب ته پابند دیني عالمان د تقلید او تصوف په اړه د شیخ جمیل الرحمن له نظر سره هیڅ توافق نه لري او فکر کوي چې مذهب د هرې ستونزې ځواب لري. د مذهبونو ستر امامان د دې امت سر لاري او د هغوئ پیروي لازمي ده. زموږ په سنتي او دودیزه ټولنه کې د غیر مقلدینو لپاره ځای نه شته.

د سلفي مکتب لارویان انګیري چې نظریاتي لید لوری او مذهبي اختلاف د هر چا فردي انتخاب او مسئولیت دی. د مذهب له اصولو سره تګ او نه تګ، کومه نوې خبره نه ده، بلکې د مقلد او غیر مقلد لانجه د اسلام له دوهمې پیړۍ څخه را روان سرخوږی دی. تاریخ ګواه دی چې په مذهبي چارو کې افراط، د اسلامي امت د کمزورۍ د سترو لاملونو څخه دی. شهید جمیل الرحمن په خپلې سلفي عقیدې او غیر مقلد نظر باندی کلک ولاړ وو. په لږې مودې یې وکولای شول بې حسابه خلک د خپلې

نظريې په منلو قانع او همنظري کړي. له نوموړي سره اختلاف، منل نه منل په خپل ځای وزن لري، خو نوموړی ډېر حاضر جوابی عالم، سیاستوال او په وطن مين انسان وو. همیشه به یې خوله له خندا ډکه او په ساده کونړۍ لهجې به یې خبرې کولې.

## پنج پیریان څوک دي؟

پنج چې په دري ژبې کې پنځو ته ویل کیږي، یو ډېر عجیبه او له معنوي راز څخه ډک عدد یا شمیره ده. مثلا پنج شیر زموږ د هیواد یوه ډېره ښکلې دره او په وروستیو دریو لسیزو کې د افغانستان د سیاسي واکمنۍ او عسکري ځواک اصلي ټاټوبی او له ټولو مادي امتیازاتو څخه برخمنه دره ده. پنجاب په پاکستان کې د پنځو سیندونو او زرخیزو سیمو هغه پراخه صوبه (ایالت) دی چې د دغه هیواد د شپیته سلنې د نفوسو ترڅنګ، د خپل استقلال او جوړښت راهیسی تر نن پورې د واک او قدرت وارث او بی سیاله سیال دی. پنج قطب د هند په ستره وچه کې د پنځو مشهورو صوفي قطبونو او اولیاوو، هر یو خواجه قطب الدین، خواجه معین الدین چشتي اجمیري، نظام الدین اولیاء دهلوي، بهاء الدین زکریا ملتاني او فرید الدین ګنج شکر (لاهوري داتا) خاوره ګڼل کیږي. د اسلام بناوې، د شهادت کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج هم پنځه دي او په شپه او ورځ کې، د فرض لمونځونو شمیر هم پنځه دی. د پنج پیر سیمه، د خپلې جغرافیا او مذهبي رجحان له مخې، د لرې او برې پښتونخوا د نورو سیمو په څیر، په کونړ کې هم ځانګړی نوم او اغیز لري. دغه د حنفي فقهې او د یوبندي مسلک دننه مذهبي غورځنګ، د کونړ د پنځو عالمانو له خوا ځایي خلکو ته وپیژندل شو او په ولس کې یې ریښې وغزولې.

د افغانستان په ګډون، د هند د لویې وچې په اکثرو رواجي ټولنو کې د

تصوف کوم لاره وی چې څه ناڅه ظاهري زهد او تقوی ولري، هغه درویش، ملنګ، بزرګ، پیر، ستانه، مخدوم، خلیفه او مرشد ګڼل کیږي. ښايي له همدې نظريې سره د مخالفت امله، د کوزې پښتونخوا د پنج پیر منطقه ځانګړی شهرت لري. دغه سیمه چې د صوابۍ د ضلعې «ولسوالۍ» اړوند ده، د پیښور شمال ختیځ ته د ۹۸ کیلومترې په واټن پرته ده،. د پنج پیر د اوسیدونکو شمیر اتلسو زرو ته رسي؛ د سمندر له سطحې څخه ۳۸۰ متره لوړه ده؛ غوڅ اکثریت یې یوسفزي؛ حنفي مذهبي او نسبتا تعلیم لرونکي پښتانه دي. د پاکستان په تاریخ کې لومړنۍ ډګر جنراله، میرمن نګار جوهر هم پنج پیرۍ ده. ځینی مؤرخین په دی اند دي چې پنج پیر په اصل کې د هندوانو یوه سپیڅلې سیمه وه «پنج پاندو» بلل کیده. بیا وروسته د مسلمانانو له خوا په پنج پیر بدله شوه او په وروستیو ۸۵ کلونو کې د مولانا محمد طاهر د مذهبي غورځنګ له امله ډیره مشهوره او د کورنیو او بهرنیو رسنیو پاملرنه یې ځان ته را اړولې ده.

مولانا محمد طاهر پنج پیری چې د خپلو پلویانو په منځ کې په شیخ القران باندې شهرت لري، په ۱۹۱٦م کال کې زیږیدلی، پلار یې غلام نبي خان او د نیکه نوم یې آصف خان وو. د مولانا فضل واحد ترنګزي او مولانا نصیرالدین غورغوشتو څخه یې د تفسیر او حدیثو دورې وکړې. مولانا د پاکستان له جوړیدو نهه کاله وړاندې، په «۱۹۳۸م» کې په پنج پیر کې د خپلې دیني مدرسې بنسټ کیښود او په لږ وخت کې یې د شهرت اوازې د مردان او چارسدې له هوارو او شنو جلګو څخه د ملکنډ، سوات او بونیر غرنیو سیمو ته ورسیدې. له دولسو څخه زیات کتابونه یې ولیکل چې مرشد الحیران الی فهم القرآن، العرفان في أصول القرآن، النشاط عن حیلة الإسقاط، ارشاد الانام فی ترك الفاتحة خلف الإمام أو

حقیقت مودودي يې د يادولو وړ دي. نوموړی د ۱۹۸۷م کال د مارچ په يو ديرشمه نيټه وفات او په خپل کلي کې خاورو ته وسپارل شو.
د مولانا طاهر له خوا د قرانکريم د ځانګړي تفسير او ترجمې اغيز ډېر ژر بنګله ديش، هندوستان او د افغانستان ختيځو او شمالي ولايتونو ته سرايت وکړ چې پيل يې د کونړ له ولايت څخه وو. شيخ جميل الرحمن (مولوي حسين) د پيچ مولانا احسان الله، د نرنګ حاجي ګل احمد خان، د سرکانو مولوي شمس الرحمن او مولوي عبدالبصير شيګلی د پنج پيري مکتب، پنځه داعيان ګڼل کيږي. پنج پيريان خپل ځانونه د حنفي فقهې پابند او د ديوبندي مدرسې پيروان بولي. دوئ دعوه لري چې « هڅې يې د عقيدې د اصلاح او د خرافاتو، بدعتونو او مشرکانه عقايدو د سمولو لپاره، يوه علمي، فکري او غير سياسي مبارزه ده. په ټولنه کې د قبر پرستۍ، په جنازو کې د اسقاط او خيراتونو ويشل، په تعويذ او ځښتونو باندې د ناروغ درمل کول، يا علي، يا پيره بابا او يا غوث الاعظم دستګيره رارسيږه، نعرې د توحيد د سپيڅلې عقيدې سره نيغ په نيغه په ټکر کې دي؛ که د زړه له اخلاصه وويل شي نو مسلمان د کفر او شرک دائرې ته ننباسي». پنج پيريان تر ډېره ځايه هڅه کوي چې په سياسي مسائلو، ګوندونو او بحثونو کې ځانونه په څنګ کې وساتي او د خپلې داعيې لمن د فقهی او مذهب له محدودې څخه بهر نه کړي. مفتي منير شاکر يې نن سبا تر ټولو مشهور او حتی جنجالي مشر ګڼل کيږي، هر وخت د خپلې سيمې له پيرانو، ملايانو او متصوفينو سره په مناظرو او بحثونو بوخت وي. نوموړی په ټولنيزو رسنيو کې ډېر ليدل کيږي او د ګڼ شمير مخالفينو په شان، زښته زيات دوستان او پلويان هم لري.

## آیا وهابیان، سلفیان دي؟

په سعودي عربستان کې، د النجد امارت او د الدرعیة ښار نه یواځې د شاهي کورنۍ د واکمنۍ اصلي ټاټوبي ګڼل کیږي بلکې د وهابي غورځنګ لومړني مرکزونه او پخې کلاوې هم دي. د العیینه ښار « د عین توری په پیښ لوستل کیږي» چې د ریاض شمال لویدیځ ته د ۳۵ کیلو متری په واټن پروت دی، د دغه غورځنګ د بنسټګر، محمد بن عبد الوهاب النجدي پلرنی کلی او د بنو تمیم د قبیلې سیمه ده. محمد بن عبد الوهاب په ۱۷۰۳م کال کې په العیینه کې زیږیدلی او په لس کلنۍ کې یې قرانکریم حفظ کړیدی. د خپلې ځوانۍ په درشل کې د زده کړو لپاره، لومړی مکې مکرمې بیا مدینې منورې او وروسته د عراق بصرې ته لاړ. نوموړی په ځیني فقهي مسائلو کې د امام حنبل د مذهبي اصولو سره روان بریښي، خو حقیقت دا دی چې هغه د هیڅ تقلید او مذهب قایل نه وو. محمد بن عبدالوهاب خپل ځان د قرانکریم، نبوي سنتو او سلف صالح پیرو او د تقي الدین احمد ابن تیمیه (شیخ الاسلام) د فکري او عقیدوي لیکې لاره وی بولي. ابن تیمیه په ۱۲۶۳م کال کي زیږیدلی او په ۱۳۲۸م کال کې په دمشق کې وفات شوی دی.

محمد بن عبد الوهاب د آل سعود د سیاسي، مالي او قبیلوي ملاتړ او د خپلې ژبې د فصاحت له برکته، په خپلې دعوې او داعیې کې تر ډیره ځایه کامیاب شو. ویل کیږي چې په العینیه کې د دویم خلیفه، عمر فاروق رضي الله عنه د ورور، زید بن الخطاب قبر چې د مسیلمه کذاب سره په جنګ کې شهید شوی، په دی بهانه له خاورو سره برابر کړ چې هلته به خلک د دعا لپاره ورتلل. د ده له نظره هغه شرک او بدعت وو، ولی سلفیان دغه روایت ته د شک او تهمت به سترګه ګوري. له دغې پیښې

وروسته، د النجد معتبرو قبائلي مشرانو هغه له سيمې څخه وشړلو او ديته اړشو چې بيرته بصرې ته ولاړ شي. هلته يې واده وکړ او پنځه کاله وروسته، د محمد بن سعود په ملاتړ او مرستې بيرته د رياض، الدرعيه ته راغی. محمد بن سعود او عبد الوهاب په ۱۷۴۴م کال کې تړون وکړ چې د وهاب کورنۍ به د آل سعود سره په واک کې شريکه وي. سياست او واکمني به د آل سعود وي او دعوت، قضا، فتوی او تعليم به د آل شيخ « عبدالوهاب د اولادې وي». اوس د دغه تړون نږدې درې سوه کاله وشول مگر بيا هم په خپل ځای پاتې دی. عبدالوهاب د ۱۷۹۱م کال د جون مياشت کې په الدرعيه کې مړ شو، خو د فکر، مبارزې او عقيدې اغيز يې نن تر بل هر وخت زيات د اسلامي نړۍ په لمن کې محسوسيږي.
په لويديځ کې ځينی سياسي څيړونکي او مستشرقين په دې اند دي چې محمد بن عبدالوهاب د انگلستان له خوا هڅول شوې وو ترڅو عثماني سلطنت کمزوری او ړنگ کړي. په نړۍ کې د وهابيانو سره د عقيدوي اختلاف تر څنگ، دا نيوکې هم کيږي چې دوئ د اسلامي تاريخ د تمدن د اثارو په ړنگولو او ړولنو کې د مذهبي اختلافاتو په زياتولو کې پارونکی رول لري. ځينو بی طرفو مؤرخينو دا هم ليکلي چې نوموړي پخپله او پلويانو يې په مدينه منوره او مکه مکرمه کې د اسلامي تاريخ د لومړۍ او دوهمې پيړيو په لسگونو زيارتونه، جوماتونه او نور آثار له منځه يووړل چې گوندې هلته خلک د تبرک او دعا لپاره ورتلل. په داسی حال کې چې همدا نن په رياض او د حجاز په نورو سيمو کې د آل سعود د واکمنې کورنۍ تاريخي توکي او قصرونه په ډير وياړ او ځانگړې پاملرنې سره د ملي ميراث په توگه ساتل کيږي او څوک يې بدعت نه گڼي.
د سلف معنی: د لغت له پلوه مخکنی، اولنی او پخواني ته ويل کيږي. خو

کله چې خبره د عقیدې او مذهب په چوکاټ کې مطرح کیږي، بیا ور څخه مطلب د رسول الله (ص) صحابه، تابعین، د مذهبونو امامان او د احادیثو راویان دي. څرنګه چې دوئ د اسلامي امت په کچه نیک، موحد او په دین ټینګ ولاړ شخصیتونه دي او د حضرت پیغمبر له زمانې سره نژدې تیر شوي، نو سلف صالحین بلل کیږي. په یو حدیث شریف کې راغلي « خیر الناس قرني ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم - غوره خلک هغه دي چې زما په دې پیړۍ کې دي، بیا هغه چې په دوئ پسې دي» سلف صالحین داسې امتیان وو چې الله تعالی د خپل رسول (ص) د ملګرتیا او د هغه د دین د خورولو لپاره چاڼ او غوره کړي وو. د هغه سنت، اخلاق او لاره یې خپله کړې وه، په سمه او سیده لارې روان وو.

له همدې امله، د اوس مهال سلفیان (وهابیان) داسې انګیري هرڅوک چې د کتاب الله او سنت سره برابره د توحید عقیده ولري، د شرک، بدعت او ناروا رواجونو څخه ځان وژغوري، سلفیان، اهل حدیث او بشپړ موحدین ګڼل کیږي. خو دوئ هیڅکله ځانته وهابیان نه وایي او د خوارجو اصطلاح هم د ځان لپاره یو تهمت او تور داغ ګڼي. سلفیان ځانونه غیر مقلد او د هیڅ مذهب او مسلک پیرو نه بولي. دوئ فکر کوي چې د اسلامي شریعت ټول احکام په احادیثو کې شته نو ولی د چا تقلید وکړي، بناء دوئ ځان ته اهل حدیث (د حدیثو تابعدار خلک) وایي.

د یو مهم ستراتیژیک او فکري بدلون په توګه، د سعودي عربستان ځواکمن ولیعهد شهزاده، محمد بن سلمان په ۲۰۱۸م کې د واشنګټن پوست له معتبرې ورځپاڼې سره په یوې مرکې کې وویل « موږ د خپلو لویدیځو انډیوالانو په خوله او غوښتنه د سړې جګړې په مهال د کمونیزم د مقابلې لپاره له وهابیت څخه کار واخیست. په اسلامي نړۍ کې نور د

خميني د شيعه انقلاب او د سعودي پورې تړلې د وهابيت د نظريې لپاره ځای نه شته. موږ داسې يو معتدل او مترقي نظام ته اړتيا لرو چې ټول مذاهب او پيروان يې په هغه کې ځای ولري او موږ به هيڅکله افراط او کرکې ته اجازه ورنه کړو» نوموړي شهزاده د ۲۰۲۱ کال د اپريل په ۲۷ د عربستان د العربية له ټلويزيوني چينل سره په تازه مرکې کې وويل: « موږ يواځې د قرانکريم او صحيحو متواترو احاديثو پيروي کوو. موږ هيڅکله په دې باور نه يو چې انسان ته د الوهيت درجه ورکړو. که چيرې محمد بن عبد الوهاب همدا نن له خپل قبر څخه راووځي او وګوري چې موږ په پټو سترګو د هغې پسې روان يو او له عقل او اجتهاد څخه کار نه اخلو. نو اولنې مخالفت به د هغه له خوا وي او موږ ته به ووايي چې دا تاسو څه کوئ؟».

## د کونړ لوی ولسوالان او واليان
## ( له ۱۳۱۵ څخه تر ۱۴۰۰ هجري لمريز پورې)

۱- د شاهي او جمهوري دورو، واکمنان

۱- شير افضل خان ۲- دوست محمد خان ۳- عبد المجيد خان ۴- جنرال رحيم ناصري ۵- سلطان عزيز خان

٦- عبدالحکيم خان ۷- عبد الغفور وياند ۸- محمد شريف ۹- حاجي محمد خان ځمکنی.

۲- د خلق او پرچم د دورې واليان

۱- جان آغا پروانی ۲- عبادت شاه مقبل ۳- زيارت ګل اپريدی ۴- جګړن نظام الدين بی خدا ۵- شهنواز شيوانی ٦- خالقيار ۷- صلاح الدين هوتک

۸- محمد امین ۹- سعادت گل آهنگر ۱۰- کلام صافی ۱۱- سلیم صافی ۱۲- گل نبي صافی.

۳- د مجاهدينو او عبوري حکومت واليان

۱- مولوي غلام رباني نورستانی ۲- حاجي روزی ۳- استاذ محمد علي ۴- قاضي اخوند زاده.

۴- د طالبانو د واکمنۍ واليان

ملا عبد الهادي صافي، دوه نور ملا صاحبان هم شته چې ما يې نومونه پيدا نه کړل.

۵ - د ولسمشرانو، کرزي او غني د مهال واليان

۱- قومندان جانداد خان (۱۳۸۰ - ۱۳۸۱ هجري لمريز)

۲- سيد يوسف شجن (۱۳۸۱- ۱۳۸۲هجري لمريز)

۳- سيد فضل اکبر ( ۱۳۸۲ - ۱۳۸۳هجري لمريز)

۴- اسد الله وفا (۱۳۸۳ - ۱۳۸۵هجري لمريز)

۵- شاليزی ديدار (۱۳۸۵ - ۱۳۸٦هجري لمريز)

٦- سيد فضل الله واحدي ( ۱۳۸٦ - ۱۳۹۲هجري لمريز)

۷- شجاع الملک جلالا (۱۳۹۲ - ۱۳۹۴هجري لمريز)

۸- وحيدالله کليمزی (۱۳۹۴ - ۱۳۹۷هجري لمريز)

۹- عبدالستار ميرزکوال (۱۳۹۷ - ۱۳۹۹هجري لمريز)

۱۰- محمد اقبال سعيد (۱۳۹۹ - تر اوس مهال پورې)

په همدې ترڅ کې، د کونړ ولايتي شورى نهه تنه غړي لري چې اوه تنه يې سړي او دوه تنه يې ميرمنې دي. دوئ د ټاکنو له لارې د شورى غړيتوب ترلاسه کوي؛ د ولايت، ولسواليو، ښاروالیو له چارواکو سره د خپلو سيمو د خلکو ستونزې، غوښتنې او وړانديزونه شريکوي. د بوديجې، بيارغونې، څارنې او ښې حکومتدارۍ اړونده مسائلو کې له چارواکو سره د مشاورت او همغږۍ دنده پرمخ بيايي.

## د کونړ (۵۱۵) دولتي او خصوصي ښوونځي او تعلیمي مرکزونه

ښوونه، انسانانو ته د معرفت لارې چارې او روزنه هغوئ ته ښکلا ښښي. د علم رڼا، انساني ټولنې د هوساینې، ښیرازۍ او نیکمرغۍ لیکې تـه سیده کوي او د ژوند او ژوند کولو هنر ورته انځوروي. د قرانکـریم لـومړۍ وحـې چې د حضرت جبرائیل په واسطه محمد صلی الله علیـه وسـلم تـه رواڼل شـوه، هغـه د لیـک او لوسـت پـه امـر پیـل شـوی ده. د خـالق او خلقـت پیژندګلوي، انساني شرافت او د فردي کرامت ټولې ځیلۍ د علم له چینـې څخه خړوبه کیږي او وده مومي. د یـوې غیـر دولتـي مؤسسـې (NGO) د معلوماتو له مخې، د کونړ د ټول نفـوس ۳۱٪ هغـه اسـتوګن لیـک لوسـت کولاې شي چې عمرونه یې له ۳۰ کلونو څخه زیات دي. هغـه ځوانـان او نجونې چې عمرونه یې د ۱۵ او ۲۴ کلونـو تـرمنځ دي، پـه دوئ کـې ۴۹٪ نارینه او ۱۸٪ نجونې اوس لیکل او لوسـتل کـولای شي. دغـه سروې پـه ګوته کوي، هغه شاګردان چې عمرونه یې د ٦ او ۱۳ کلونـو تـر مـنځ دي، په دوئ کې ۵۱٪ هلکان او ۳٦٪ نجونې خط او کتابت کولاې شي چې دا یو مهم پرمختګ بللې شو.ما په لاندی کرښو کې د کونړ ولایت د تعلیمي چارو د ځینو رسـمي سرچینـو سره د خـبرو لـه لارې دغـه تفصـیل لاس تـه راوړی، ستاسې خدمت ته یې وړاندی کوم.

د ولایت مرکـز (اسـعد آبـاد) او پنځلسـو ولسـوالیو پـه ۱۳۹۹هجـري لمریـز (۲۰۲۰م) کـال کـې پـه ټـولیز ډول (۵۱۵) ښـوونځي او تعلیمـي مرکزونـه درلودل. لـه دې ډلـې څخـه ۲۴۵ ابتدائیـه ښـوونځي، ۱۰۵متوسـطې، ۹۱

لیسې، ۷ خصوصي یا غیر دولتي لمړني ښوونځي، ۳۷ دیني مدرسې، ۴ دارالحفاظه، ۳ دارالعلومه، ۲ دارالمعلمینه، ۸ حماییوي مرکزونه، دوه د زراعت مسلکي لیسې او پاتې یې خصوصي اسلامي روزنیز مرکزونه دي.
په ۴۹۵ دولتي ښوونځیو کې ۲۰۳ ښوونځي ودانۍ لري او ۲۹۲ ښوونځي تعمیرونه نه لري. شاګردان یا د ونو د سیوري لاندې او یا هم په چوپالونو کې زده کړې کوي. داسې ښوونځي هم شته چې شاګردان یې په وچ ډاګ او سره لمر کې ناست وي او فرش هم نه لري. په شلو خصوصي مکاتبو کې ۱۵ عمومي تعلیمات او پنځه یې اسلامي تعلیمات دي. د کونړ د معارف ریاست ټول پرسونل ۵٦۵۹ تنه دی، په دوئ کې ۴۲۵۸ تنه یې استاذان او پاتې ۱۴۰۱ نفره یې اداري پرسونل او یا یې همکاران دي. د کونړ د ټولو شاګردانو شمیر ۱۸۷ زره دی چې په دوئ کې یو لک او نهه زره یې هلکان او ۷۸ زره یې نجونې دي چې تفصیل یې د اسعد آباد په ګډون، په هرې ولسوالۍ کې په لاندې ډول دی.
**اسعد آباد:** ټول ۳۹ تعلیمي مرکزونه لري، لس یې لیسې دي؛ پنځه د هلکانو، څلور د نجونو او یوه ګډه یا مختلطه ده. نهه ابتدائیه ښوونځي لري چې ټول یې مختلط دي، اته منځني ښوونځي لري چې یو یې د نجونو، یو د هلکانو او شپږ یې مختلط دي. پنځه منځني غیر دولتي یا خصوصي ښوونځي لري چې ټول یې مختلط یا ګډ دي. یو دار المعلمین، دوه دارالحفاظونه، یو دیني دارالعلوم او درې دیني مدرسې لري چې دوه یې د هلکانو او یوه یې د نجونې لپاره ده. البته د سید جمال الدین افغاني پوهنتون خپل جلا تشکیل لري چې د دی کتاب په بله برخه کې ورباندې بحث شوی دی.
**نرنګ:** د دې ولسوالۍ د ټولو تعلیمي مرکزونو شمیر ۲۷ ته رسي. دولس

لومړني ښوونځي لري، یو یې د هلکانو او یولس یې د نجونو او هلکانو ګډ دي. درې منځني ښوونځي لري چې یو د هلکانو او دوه یې د نجونو دي. اوه لیسې لري درې د هلکانو، درې د نجونو او یوه ګډه ده. څلور دیني مدرسې هم شته چې دوه د هلکانو او دوه مختلطې دي او یو حماییوي تعلیمي مرکز لري.

**څوکۍ:** دوه ویشت لومړني ښوونځي لري، شل یې مختلط یا ګډ او دوه یوائې د نجونو لپاره دي. اته منځني ښوونځي لري، اوه یې ګډ او یو تنها د نجونو لپاره. څلور لیسې لري، درې د هلکانو لپاره او یوه د نجونو ده. یو دارالعلوم، یو دارالحفاظ او دوه مدرسې لري. همدارنګه یو دارالمعلمین او یو د سواد اموزۍ مدیریت هم په دی ولسوالۍ کې فعال دي چې مجموعا ۴۰ تعلیمي مرکزونه کیږي. د ټولو زده کونکو شمیر ۱۴۷٦۸ تنه دی، په دوئ کې ۸۳٦۸ یې هلکان او ٦۵۰۰ نجونې دي.

**نورګل او مزار دره:** دیارلس لمړني ښوونځي لري، دوه د هلکانو او دوه د نجونو لپاره، نهه یې مشترک دي. اوه منځني ښوونځي لري، درې د هلکانو، دوه د نجونو او دوه یې ګډ دي. څلور لیسې لري، درې د هکانو او یوه د نجونو لپاره ده. څلور دیني مدرسې لري، دوه د هلکانو، دوه د نجونو او یو حماییوي تعلیمي مرکز لري چې مجموعي شمیر یې ۲۹ ته رسي.

**خاص کونړ:** دولس لمړني ښوونځي لري، یو د هلکانو، درې د نجونو او اته یې ګډ دي. پنځه منځني ښوونځي لري، دوه د نجونو او درې ګډ دي. اوه لیسې لري، څلور د هلکانو، دوه د نجونو او یوه ګډه ده. یوه دیني مدرسه د هلکانو لپاره او بله د نجونو لپاره، یو دار الحفاظ لري او په څنګ یو حماییوي تعلیمي مرکز هم شته. د ټولو شمیر ۲۸ ته رسي.

**سرکانو:** د سرکانو د پوهنې امریت په خپل چوکاټ کې فعلا ۳٤ فعاله

ښوونځي، دوه د عمومي تعليماتو او دوه ديني مدارس لري چې مجموعه يې ۳۸ ته رسي، تفصيل يې په دې ډول دی: نهه ليسې لري چې شپږ يې د هلکانو او درې د نجونو دي. اته متوسطې او اولس ابتدائيه ښوونځي لري. د ټولو شاګردانو شمير يې دولس زره دی؛ ۶۷۰۰ يې هلکان او ۵۳۰۰ يې نجونې دي.

**مره وره:** ديارلس لومړني ښوونځي لري، يو د نجونو او دولس يې ګډ دي. درې منځني ښوونځي لري چې يو يې د هلکانو او دوه يې ګډ دي. څلور ليسې لري، يوه د هلکانو، بله د نجونو او دوه يې شريکې دي، د هلکانو لپاره يوه ديني مدرسه هم لري. د ټولو تعليمي مرکزونو تعداد ۲۱ ته رسيږي.

**وټه پور:** ۱۹ لمړني ښوونځي لري، يو د هلکانو، درې د نجونو او پنځلس يې ګډ دي. ۷ منځني ښوونځي لري، څلور يې د هلکانو، دوه يې د نجونو او يوه يې ګډه ده. ۹ ليسې لري چې شپږ يې د هلکانو، دوه يې د نجونو او يوه يې ګډه ده. ۶ ديني مدرسې لري، درې يې مختلطې او درې يې د هلکانو لپاره دي. بايد يادونه وشي چې له دې جملې څخه پنځه يې رسمي او يوه يې غير دولتي ده؛ ټول تعداد ۴۱ دی.

**مانوګي:** ۲۱ لومړني ښوونځي لري، يو د هلکانو، دوه د نجونو او اتلس يې ګډ دي. ۱۱ منځني ښوونځي لري، څلور د هلکانو، درې د نجونو او څلور ګډې. ۵ ليسې لري، څلور د هلکانو او يوه د نجونو لپاره. ۳ ديني مدرسې لري، دوه يې د هلکانو او يوه د نجونو لپاره، يو حمايوي تعليمي مرکز لري. ټول تعداد ۴۱ ته رسي.

**چپه دره:** ۲۴ لمړني ښوونځي لري، دوه د نجونو او دوه ويشت يې ګډ دي. ۷ منځني ښوونځي لري چې دوه د هلکانو، يوه د نجونو او څلور ګډې، ۳

لیسې لري یوه د هلکانو او دوه ګډې. د هلکانو لپاره درې دیني مدرسې او یو دار العلوم لري او یو هم حماییوي مرکز لري؛ ټول تعداد یې ۳۹ مرکزونو ته رسي.

**شیګل:** ۱۵ لمړني ښوونځي لري، یو د هلکانو، یو د جینکو او دیارلس یې ګډ دي. ۱۱ منځني ښوونځي لري، دوه د هلکانو، څلور د نجونو او پنځه یې ګډې دي. ۷ لیسې لري چې پنځه د هلکانو او دوه د نجونو لپاره دي. د هلکانو لپاره یوه دیني مدرسه هم لري چې د ټولو تعداد ۳۴ ته رسي.

**اسمار:** ۱۱ لومړني ښوونځي لري، اته یې مختلط دي، ٦ منځني ښوونځي لري، څلور یې مشترک دي. ۷ لیسې لري، څلور یې د هلکانو، دوه د نجونو او یوه مشترکه ده. یوه دیني مدرسه او یو حماییوي مرکز لري چې ټول شمیر یې ۲٦ ته رسي.

**دانګام:** ۸ لومړني ښوونځي لري، دوه یې یواځې د نجونو لپاره او شپږ یې ګډ دي. لس منځني ښوونځي لري، درې د نجونو، دوه د هلکانو او پنځه یې ګډ دي. ۴ لیسې لري، دوه د هلکانو، یوه د نجونو او یوه ګډه ده. دوه دیني مدرسې لري، یوه یواځې د هلکانو لپاره، بله یې د هلکانو او نجونو ګډه ده. ټول شمیر یې ۲۴ مرکزونو ته رسي.

**غازي آباد:** دا ولسوالي ۲۳ لمړني ښوونځي لري، دوه یې د هلکانو، یو یې د نجونو او پاتې شل یې ګډ دي. ۳ منځني ښوونځي لري چې د هلکانو او جینکو شریک دي. څلور لیسې لري، دوه د هلکانو، یوه د نجونو او یوه مشترکه ده. د هلکانو لپاره دوه دیني مدرسې او یو حماییوي مرکز لري چې ټول تعداد یې ۳۳ ته رسي.

**ناړۍ:** ۱۸ لومړني ښوونځي لري، یو د هلکانو او اولس یې ګډ دي. ۷ منځني ښوونځي لري، څلور د نجونو او درې یې ګډې دي. ٦ لیسې لري

چې څلور د هلکانو او دوه يې د جينکو دي. د هلکانو لپاره دوه ديني مدرسې او يو حماييوي مرکز لري؛ ټول شمير يې ۳۴ مرکزونو ته رسي.
**شلتن:** شپږ ابتدائيه ښوونځي لري، دوه د هلکانو، يوه د نجونو او درې يې ګډ دي. شلتن يواځې يوه ليسه لري. ديني مدرسه نه لري او د ټولو ښوونځيو شمير يې اوه دی.
ډير امکان لري چې په پاسنۍ شميرنه کې کمې زياتې راغلې وي، ځکه د ولايت عمومی امنيتي حالت، د بوديجې زياتوالی، کم والی او د خيريه او غير انتفاعي مؤسسو له خوا د ځينو پروژو بندول او د نوو خلاصول، ټول هغه لاملونه دي چې د کونړ په تعليمي بهير کې فوق العاده رول لري.

## د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون

د هيواد د نورو ولايتونو په څير، د لوړو زده کړو وزارت د کونړ د ځوانانو او پيغلو لپاره د اسعد آباد ښار په جنوب لويديځه برخه کې د څپانده سيند په غاړه، په ۱۳۸۹ لمريز کال کې د سيد جمال الدين افغان په نوم پوهنتون جوړ کړ. په پيل کې يې د شرعياتو، ښوونې او روزنې او کرنې درې پوهنځی درلودل چې بيا وروسته د اقتصاد او کمپيوټر ساينس پوهنځي هم ور زيات شول. دا مهال د پوهنتون د ټولو محصلينو شمير ۴۳٦۸ تنه دی چې ٦۳ تنه يې نجونې دي. ۹۴ تنه استاذان لري، ۵۰ تنو يې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې، ځينې يې لا هم د ماسټرۍ په اخيستنې بوخت دي، مګر دمګړۍ کومه ښځينه استاده نه لري. پوهنتون اوسمهال دوه ويشت څانګې (ډيپارټمنټونه) لري: کيميا، رياضي، فزيک، تاريخ او جغرافيه، پښتو، عربي، اروا پوهنه، بيولوژي، اګرانومي، کرنيزه پراختيا، حيواني علوم او ځنګلونه، ملي اقتصاد او تشبثات، منجمنټ، نيټ ورکينګ

او پروګرامینګ. جالبه دا ده چې د پوهنتون د اداري او خدماتي پرسونل شمیر هم ۹۴ تنه دی. د پوهنتون اوسنی مشر، پوهنوال ډاکټر محمد ګلاب عمري دی.
له پوهنتون څخه تر اوسه اوه دورې فارغې شوې دي، ۲۵ تنه یې نجونې او پاتې یې هلکان دي. د پوهنتون لومړنی دوره په ۱۳۹۲ لمریز کال کې فارغه شوه او لومړنی رئیس یې پوهنیار میر احمد حامد وو. د سید جمال الدین افغاني پوهنتون له جوړېدو څخه تر اوسه پورې لس کاله تېرېږي، خو دلته د طب او انجنیری پوهنځیو د جوړیدو ژمنه لا نه ده عملي شوې. پوهنتون د خپل کتابتون لپاره ۱۲ ام بي انټرنېټ برابر کړی چې پر کتابتون سربېره، محصلین او استاذان کولای شي په انلاین بڼه، کتابونه تر لاسه (ډاون لوډ) کړي. د ۱۳۹۹ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې د پوهنتون د انګړ دننه د سولې یو مرکز هم جوړ شو تر څو په هېواد کې د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزې او پراختیا لپاره د سولې په اړه د پوهاوي په بهیر کې پوهنتون خپله علمي او څېړنیزه برخه واخلي. د یاد مرکز د فعالیتونو پر مټ به د ننګرهار او سید جمال الدین افغاني پوهنتونونو د استادانو او محصلینو ترمنځ د علمي همکاریو، اړیکو او د محصلینو او محصلانو لپاره د ګډو کنفرانسونو، سمپوزیمونو او تجربوي سفرونو زمینه برابره شي.
په پوهنتون کې د پنځوس کیلو واټو لمریزې برېښنا او معلوماتي ټکنالوژۍ د مرکز چارې د نړیوال بانک د څه د پاسه دېرش میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې شوې دي. له بله پلوه، د پوهنتون د عمومي لیلیې لپاره د ۱۵۲ ملیونه افغانیو په لګښت ستره پروژه د کار لاندې ده. مرستیال والي، ډاکټر دیدار وایي د تعمیراتي کارونو ٪۵۰ بشپړه شوې او هغه به د ۲۰۰۰ شاګردانو د هستوګنې ظرفیت ولري. کومو محصلینو ته چې په لیلیه کې د

اوسېدو امکانات نشته، هغوئ ته د بانک له لارې بدل اعاشه ورکول کېږي.

## د کونړ کرهنیز او اقتصادي تولیدات

د کونړ د کرنې او مالدارۍ پخواني رئیس، انجنیرعبد الغیاث د پژواک خبري آژانس سره په یوې مرکې کې ویلي « کونړ د حیواناتو لپاره نږدی ۷۵ زره هکتاره د څر (علفچر) مځکه لري او ټول ټال کرنیزه مځکه یې ۵۳٦،۲۲ هکتاره ده. له دې جملې څخه ۱۸ زره هکتاره یې آبي او پاتې شپږ نیم زره یې للمي ده، د باران په موسم کې ښه فصل کوي، کنه نو وچ ډاګ پرته وي. دلته په ۱۷۰۰ هکتاره آبي مځکې کې د نارنجانو، الوچو، انارو، شفتالو او نورو ډول ډول میو نوي باغونه جوړ شویدي». د زراعتي مځکې د کم والي سره سره، بیا هم کونړ د کور دننه ډېر مهم او اړین خوراکي محصولات تولیدوي چې تر یو بریده د ځایي خلکو ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي او پاتې له نورو ځایونو راوړي.

د یوې سروې پر بنسټ، د کونړ د خلکو ٪۷۴ د ورځني ژوند عاید او ګټه وټه، د زراعت له مدرکه ده. په دغو پیداوارو کې غنم، جوار، وربشې، شولې، وریجې، ګني او ګدن شامل دي. په سبو (سبزیجاتو) کې پالک، ټیپر (شلغم) بادرنګ، مولۍ، تورۍ، کدوان، سره مرچ، لیرۍ، بنډۍ، ټینډې، پیاز، باتینګړ (سره رومیان) تور بادنجان، ګلپیان، کاهو، کرم، ګازرې، نعناع (ایلنې) نسک، مشنګ، شړشم، دال، الو، کچالو، ممپلي، او دنیا مهم محصولات دي. د مهمو کورنیو مېوه جاتو په ډله کې نارنج، تورنج، مالټې، لیموګان، سنترې، چکوترې، ناک، لوکاټ، خوبانۍ

(زردالو) کور (انگور) فارمي زيړ املوکان، توتان، انځر، غوزان (چار مغز) سنځلې، مرخنۍ، شلتالو (شفتالو) الوچې، منې او امروت د کونړ اصلي میوه جات ګڼل کیږي. په غرنیو بوټو کې ځینې یې میوه لرونکې دي؛ نښتر، څیړۍ، جلغوزې، تور املوکان، غوړاسکي، ګور ګرې، ټیټاقې، شنۍ، لمنځې، ممانې، ختریزې، ښونان، ګوځي (خریړي) پمنکې، سپیرکۍ، بارتنګ، زیره، تروکي، سرګړي، له نښترو څخه ترلاسه شوې شونټۍ، نانځره او کنډ (جاوله) د نورو بوټو په سر کې راځي.
د کونړ په ۷۸ کلیو کې ګني او د ګوړې په لسګونو ګانۍ شتون لري. د سونډي ګوړې په ګډون، د شیریني باب نور مختلف ډولونه هم ترې جوړیږي. د سپینو او تورو ګنیو زیاتره کروندې په شیګل، خاص کونړ، نورګل، سرکانو او نرنګ کې دي. د کونړ په ۳۱ کلیو کې طبیعي شات (غرني عسل) او هم فارمي شات تولیدیږي، دغه کلي په مره ورې، وټه پور، خاص کونړ او نرنګ کې دي. د کونړ ٪۹۸ خلک په خپلو کورونو کې چرګان، ٪٦١ یې غواګانې، ٪۴۷ یې غویان، ٪٦٣ یې وزې او سیرلي، ٪۵۱ یې ورې او ګډورې، ٪۳۴ یې د بارونو لپاره خره ٪۳ یې کچرې او له یوې سلنې څخه هم کم خلک یې اوښان او آسونه ساتي.
همدا شان ډیرۍ وګړي میښې او سنډا ګان په خپلو کورونو او دیرو کې ساتي. کلیوال او بالخصوص د باندو خلک له خپلو کورنیو حیواناتو څخه شیدې، مستې، پنیر، پوڅه، زیړغوړي، کوچ، پیروۍ، شړومبې، قورت (قروت) وړۍ، وژغنې او پوستکي لاسته راوړي. د عایداتي سرچینې په توګه، کونړیان دغه محصولات د کور دننه مصروفوي او یا یې خرڅوي ترڅو له دې لارې د خپل ژوند، نورې اړتیاوې پوره کړي. په کونړ کې هیلۍ، بطې، فیل مرغان، کیکر، خیراړې، ځاکښې، کوترې، کارغان،

باښې، بازان، زرکې، مرغ زرین، غرني سپین زاڼي او په سیند کې ډینګان په کافي اندازه شتون لري. د افغانستان د چاپیریال د ساتنې اداره وایي چې د کونړ په غرونو کې ۱۴۵ ډوله تي لرونکي ژوي او ۲۲۸ ډول ډول الوتونکي مرغان او په لسګونو رقمه کبان موجود دي. له بده مرغه، بې حسابه شمیر یې په تیرو څلورو لسیزو کې یا ووژل شول، یا نورو خوندي سیمو ته کډه شول او څه یې د نا اهله او غیر فني ښکاریانو لخوا په ډیرې بې دردۍ سره له منځه ولاړل.

د زراعتي سکتور څارونکي وایي « د کونړ سیند په اوږدو کې د ولسي-خلکو له لورې د ماهیانو غیرقانوني نیونه روانه ده. دلته خلک د جالونو ترڅنګ، د جنراتور د شارټ او لاسي بمونو په واسطه ښکار کوي. ځینی د شوق له مخې ماهیان نیسي، ښکاریان د همدې لارې خپله روزي ګټي خو د ماهیانو نسلونو ته پاملرنه نه کوي». د کونړ ځنګلونه له دی کور ږنګې جګړې وړاندې، د سلګونو ډول ډول وحشي- ژوو (حیواناتو) څخه ډک وو. په دغو حیواناتو کې لیوان، عام پړانګان، سپین خالداره پړانګان، ییږې (خرس)، صحرائي خوږان، مارکو پولو غرڅه، ګاوزې، هوسۍ، شکاڼه، ګیدړان، سور لنډي او شادو ګانې شاملې دي.

ولسمشر کرزي په ۱۳۸۴ لمریز کال کې دري پنځوسمه ګڼه فرمان صادر کړ او په ټول هیواد کې یې د پنځو کالو لپاره د ځنګلي حیواناتو او مرغانو په ښکار بندیز ولګولو خو فرمان یې یواځی د کاغذ پرمخ رنګ پاتې شو، هیڅ چا پرې غوږ ونه ګرولو. پخوا به د غرونو خلکو پکولونه، ټغرې، لمڅې، پیټاوې، ګمنځې او د هوارې سیمې میرمنو به لاسي ګنډڼه، خامکي روجایي ګانې او د میز د سر دستمالونه جوړول، خو دغه کسب اوس په نشت حساب دی؛ خلک یې له بازارونو رانیسي. همدارنګه په پشد او خاص

کونړ کې به قلفونه، فلزي صندوقچې او نور توکي جوړېدل او يو شمير آهنګرانو به له دې لارې خپله روزي ګټله، ولی دا هنر هم اوس په ټپه ولاړ دی. د کونړ غرونه او رغونه له رنګ رنګ طبيعي معدنونو څخه مالا مال دي چې په هغو کې د بيروج، اکامرين، زمرد، کوارتيز، کرومايت، کلسيم کاربونيټ، مسکويټ، ابرک، سرمه او مرمر موجود دي.

## په کونړ کې رسنۍ او مدني ټولنې

په دې ولايت کې، لومړنۍ چاپي رسنۍ د کونړ په نوم يوه مجله وه چې د شورويانو له يرغل وروسته په ۱۳۶۲ لمريز کال کې ببرک کارمل او سور پوځ د خپل تبليغاتي بهير د پراخو په خاطر خپره کړه. دوه کاله وروسته د لنډو څپو يوه ټلويزيوني شبکه او ورپسې يوه سيمه ييزه راډيو فعاله شوه. په ۲۰۰۷م کال کې د ځلا په نوم يو نسبتا پرمختللې راډيويي سيستم فعال شو؛ په ۲۰۱۰م کې د بدلون او نښتر په نومونو دوو نورو محلي راډيو سټيشنونو خپلې خپرونې پيل کړې. ستوری، خوځښت، غنچه، سپرغۍ، روزنه، کونړ غږ، آفاق، غزا، چغان، سيمه، فکري يون، د کريکټ مجله، د کونړ ځوانان، رغونه، اسعد آباد، څار، شيبه، اخلاص، ځوان يون، د ولس ارمان، بدلون او د لوپټې مياشتينۍ مجله، هغه چاپي رسنۍ دي چې ځينې يې له چاپ څخه لويدلې او څه يې هم اوس په منظم ډول چاپيږي. ملي ټلويزيون، شمشاد، لمر، طلوع او د اريانا ټلويزيوني چينلونه او د آزادۍ، مشال، بي بي سي، ډيوه او ارمان راډيويي خپرونې په کونړ کې خپل خبريالان او سيمه ييز سټيشنونه لري چې له ۱۳۹۱ هجري لمريز کال را په ديخوا کيبلي خپرونې کوي.

په خوښۍ سره بايد يادونه وکړم چې زه په خپله د ۲۰۱۹م کال راهيسې، د لوپټې مجلې له مرستيال او مدني فعال، سيد رحمان بيکور د لارې، د

لوپټې د ليکوالۍ ډلې سره قلمي همکاري لرم. په وروستيو شپږو ګنو کې زما شپږ مقالې خپرې شوی او ان شاء الله په راتلونکې کې به هم د دوئ په خدمت کې يم. په ۲۰۰۴م کې د کونړ ۹۵ سلنه خلکو خپله راډيو درلودله، يا يې له نورو سره په ګډه اوريدله او هغه يې د خبرونو او ساتيرۍ لومړنۍ او يواځينۍ وسيله ګڼل کيدله. په همدغه کال کې يواځې ۷٪ کونړيانو ټلويزيون درلود او يايې له ګاونډيانو او خپلوانو سره په شريکه ليدلو؛ خو په ۲۰۲۰م کال کې دغه حالت چورلټه بدل شوي ښکاري. له اسعد آباد پرته چې د اوبو بريښنا لري، د کونړيانو يو لوی تعداد خلک د لمريزې انرژۍ (سولرو) يا د جرنيټرونو له لارې د کور دننه بريښنا لري. له همدی بابته، اوس نژدې ۳۷ سلنه خلک ټلويزيوني پروګرامونه ګوري او دغه شميره د هرې مياشتې په تيريدو سره پورته خيژي.

په کونړ کې دا مهال له پنځه ويشتو څخه زياتې کلتوري او مدنې ټولنې فعالې دي چې دلته يې د ځينو نومونو را اخلم: په اسعد آباد کې د ډاکټر نظام الدين ماليار د رسا ادبي او کلتوري ټولنه، د سيد جمال الدين افغاني مدني ټولنه، د عبدالله نظامي ځوان ادبی بهير، د مولوي فرمان الله د ځوانانو اصلاحي ټولنه، د فريد الله حسام د ځوانانو علمي او کلتوري ټولنه، د عاشق الله چکري د کونړ د ځوانانو منتخب فدراسيون او د محمد طيب عطا د لوستو ځوانانو ټولنه. په مره وره کې د محمد سعيد ماموند د ځوانانو فکري خوځښت ټولنه، په خاص کونړ کې د مير سلام مجاور د شپول ادبي بهير او د عرفان الله کوټوال د خاص کونړ کلتوري ټولنه.

همدا شان په غازی آباد کې د جمال الدين احساس د کونړ د ځوانانو ټولنيزه کلتوري ټولنه، په ناړۍ کې د نواز حقيقت سانين د ملي ارمانونو فرهنګي ټولنه، په شيګل کې د امين الله سايل د پيوند ادبي ټولنه او په

اسمار کې د اختر محمد مومند د اسمار ادبي ټولنه. په وټه پور کې د حضرت ولي ترون، د اخلاص ادبي کلتوري ټولنه، د محمد سفر صافي د ځوان فکري یون ټولنه او د اجمل حسین محبوب زي د ځوانانو ادبي ټولنه. په څوکۍ کې د آصف میاخیل د مشرۍ لاندې د څوکۍ ادبي بهیر، د سرکانو د ځوانانو اصلاحي ټولنه، د نرنګ د ځوانانو شورى او سپورتي فدراسیون او په نورګل کې د خان رحمن د مشرۍ لاندې د نورګل د ځوانانو اصلاحي ټولنه د یادونې وړ دي.
قدرمنو دوستانو! پورتنۍ مدني ټولنې او د ادب او کلتور بنډارونه د ځوان کول په فکري بیدارۍ، د نشه توکو په مخنیوي او د بدنې روزنۍ په برخو کې اغیزمن او د پام وړ خدمت تر سره کوي. زه له ټولو هیواد پالو، کلتور پالو او د شعر او ادب له مینه والو څخه هیله کوم چې د خپلو امکاناتو د چوکاټ دننه، د دغو ځوانانو ملاتړ او ننګه وکړي. ځوانان او پیغلې ځموږ د ړنګ وطن معماران او وارثان دي. هرڅومره چې د دوئ ذهن روڼ او متې مزبوتې شي، په هماغه کچه به کونړ ښیرازه، سوکاله او د افراط او توندلارۍ مخه ونیول شي.

## د کونړ ولایت د نفوسو څلور اټکلي شمیرنې

په یوې ټولنې او هیواد کې د خپلو وګړو د کره شمیرې معلومول، د ټولو ستراتیژیکو پلانونو بنسټ او د تعلیمي، روغتیایي، اقتصادي او ټولنیزو اړتیاوو د څرګندوالي او ارزښتونو تومنه بلل کیږي. د هر ډول پروژې پلي کول او د پرمختیایي پلان جوړول د اړونده هیواد، ولایت، ولسوالۍ او کلي د نفوسو د شمیر، جنس، قومیت، ژبې، مذهب، تعلیم ورځنیو معیارونو او اړتیاوو له مخې سنجول کیږي. په افغانستان کې د نورو بې

شمیره ستونزو ترځنګ، بهرنیو یرغلونو، لاسوهنو، ترهګرۍ، روا او ناروا جګړو، بهر ته د علمي کدرونو تیښته، د ظرفیتونو کم والی او د امکاناتو ټکني کیدل، د دې لامل شوي دي چې د نفوسو کره او دقیقه احصائیه او سروې و نه شي.

د لویدیځو رسنیو او استخباراتي سرچینو د لیکنو پر بنسټ، د اسعد آباد په هر یو کیلو متر مربع کې ۴٦۷ تنه، په نرنګ او باډیل کې ۱۲۹ تنه، په سرکانو کې ۱۲۳ تنه، په وټه پور کې ۱۱۲ تنه، په اسمار کې ۱۱۱ تنه، په څوکۍ کې ۱۰۹ تنه، په مره ورې کې ۱۰٦ تنه، په خاص کونړ کې ۹۸ تنه، په شیګل او شلتن کې ۹۱ تنه، په مانوګې کې ۷۸ تنه، د نورګل او مزار په درې کې ۷۱ تنه، په ناړۍ کې ٦۷ تنه، په دانګام کې ۵۳ تنه، په چپې درې کې ۴۹ تنه او د غازي آباد ولسوالۍ په هر یوکیلو متر مربع کې ۴۰ تنه اوسیږي. مازې د لوستونکو د معلوماتو لپاره غواړم دلته د نړۍ د دوو غټو ښارونو یادونه وکړم چې هلته په هر کیلو متر مربع کې څومره خلک اوسیږي، بیا هغه د کونړ سره پرتله کړي. د نیویارک په هر کیلو متر مربع کې ٦۹۱۸ تنه او د کراچۍ په هر کیلو متر مربع کې ۳٦۳۷ تنه اوسیږي.

ما په دی وروستیو کې د کونړ د سرشمیرنې په اړه خپرې شوې، څلور جلا جلا احصائیې ترلاسه او ولوستلې. بیا مې د افغانستان د احصائیې له رسمي شمیرونو سره پرتله کړې خو داسی ښکاري چې ټولې اټکلي دي، ښايي د مختلفو موخو له مخې ترتیب شوې وي. د واکسینو یوه پروژه د خپلو رضا کارانو او رسمي کارکونکو د سروې پر بنسټ، د کونړ نفوس (۹۲۷،۱۱۰۳) څرګندوي. د ملي پیوستون اداره دغه شمیره (۸۳۳،۹۴،۸) ښايي. د انتخاباتو ریاست دعوه لري چې د کونړ نفوس (۳۵۰،۲۲،۹)

دی. د حکومت رسمي سرچينې وايـي چـې د کـونړ د اسـتوګنو پـوره شـمير (۳۹۳،۹۹،۴) تنه دی. زه دلته لومړی د واکسـينو د مؤسسـې ارقـام چـې د کونړ نفوس تر ټولو ډير څرګندوي، بيا د افغانسـتان د احصـائيې د مرکـزي اداري معلومات ستاسې خدمت ته وړاندې کوم چې د کونړيـانو شـميره تـر ټولو لږه څرګندوي. د تعلـيم لرونکـو او مسـلکي کتونکـو لـه نظـره، دا يـوه احصائيه هم دقيقه او کره نه ښکاري، يواځې د تخمين او لـه لـری څخـه په کاغذي ډول سنجول شوې بريښي.

بايد په ډاګه کړم، زه (ملکـزی) دا حـق او صـلاحيت نـه لـرم چـې پـه دې احصائيو باندی خپل شخصي نظر ښکاره کړم. دا يوه قـانوني او مسـلکي مسئله ده او يواځې حکـومتي چـارواکي او مسـئول اړخونـه کـولاې شي د دغو شميرو د سموالي او ناسموالي په اړه خپل دريځ څرګند کړي. د غربي رسنيو او استخباراتي خپرو شوو راپورنو پر بنسټ، د کونړ نفوس «شپږ لکه، اته څلويښت زره او اته سوه» تنه دی.

## د واکسينو د اداري انګيرنه او ارقام

| |
|---|
| اسعد آباد: د کورنيو شمير ۱٦۰،۱۴ ټول نفوس چې ښځې او نر په بـر کـې نيسي ٥۴۷،٦۹ تنه |
| وټه پور: د کورنيو شمير ۴۳۱،۱٦ ټول نفوس چې ښـځې او نـر پـه بـر کـې نيسي ٥۲۴،۷٦ تنه |
| مانوګی: د کورنيو شمير ۹۸۳،۱۹ ټول نفوس چې ښځې او نـر پـه بـر کـې نيسي ۸۸۴،۱۰۰ تنه |
| نورګل / مزار: د کورنيو شمير ۱۰٦،۱۴ ټول نفوس چې ښځې او نـر پـه بـر |

| |
|---|
| کې نیسي ۱۷۱،۷۷ تنه |
| شیګل: د کورنیو شمیر ۵۵۸،۲۱ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ٦٧٢،١٢٠ تنه |
| غازي آباد: د کورنیو شمیر ٦٠٠،١۴ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۴٦٧،١٠٠ تنه |
| خاص کونړ: د کورنیو شمیر ۴۲۳،۹ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ٦٨٨،۴٨ تنه |
| څوکۍ: د کورنیو شمیر ۵۹۲،۱۵ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۷۲۰،۷۸ تنه |
| نرنګ / باډیل: د کورنیو شمیر ۵۰۱،۱۴ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۰٦٦،۷۵ تنه |
| سرکانو: د کورنیو شمیر ۴۰۳،۱۲ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۷۸۳،٦۷ تنه |
| مره وره: د کورنیو شمیر ۳۴۵،٦ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۰۳۴،۳۴ تنه |
| اسمار: د کورنیو شمیر ۰۸۹،۹ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۱۵۳،۴۷ تنه |
| دانګام: د کورنیو شمیر ۹۹۹،۹ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې |

| |
|---|
| نیسي ۰۹۵،۴۴ تنه |
| ناړې: د کورنیو شمیر ۹۴۹،۱۲ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۷۳۷،٦۴ تنه |
| چپه دره: د کورنیو شمیر ۰۹۵،۱۷ ټول نفوس چې ښځې او نر په بر کې نیسي ۳۸٦،۹۸ تنه |
| شلتن: |

د پاسنیو احصایوي شمیرو له مخې، د واکسینو د پروژې د تطبیق دغه اداره فکر کوي چې د کونړ د ټولو کورنیو شمیر دوه لکه، اته زره او دوه سوه څلور دیرش کورنۍ دي او نفوس یې یو ملیون، یو لک، درې زره او نهه سوه اوه ویشت تنو ته رسي.

## د حکومت رسمي احصائیه او شمیرنې

د حکومت د احصائې ریاست د خپلو رسمي څېړنو او سروې ګانو پر بنسټ، د کونړ د استوګنو ټول تعداد؛ څلور لکه، نهه نوي زره او درې سوه درې نوي تنه ښودلې دی چې په لاندې ډول د ښځو او نرو د سلنې سره مل، وړاندې کیږي:

| |
|---|
| اسعد آباد: ټول نفوس ۳۷۴،۳۸ په دوئ کې نارینه / ذکور ٦۷۰،۱۹ میرمنې / اناث ۷۰۴،۱۸ تنه |
| مره وره: ټول نفوس ۱۱۸،۲۳ په دوئ کې نارینه / ذکور ٦۹۸،۱۱ میرمنې / اناث ۴۲۰،۱۱ تنه |

| |
|---|
| وټه پور: ټول نفوس ۹۵٦،۳۰ په دوئ کې نارینه / ذکور ۸۱۹،۱۵ میرمنې / اناث ۱۳۷،۱۵ تنه |
| نرنګ او باډیل : ټول نفوس ۱۴۵،۳۴ په دوئ کې نارینه / ذکور ۴۱۴،۱۷ میرمنې / اناث ۷۳۱،۱٦ تنه |
| سرکانو: ټول نفوس ۸۲۳،۳۰ په دوئ کې نارینه / ذکور ٦۸٦،۱۵ میرمنې / اناث ۱۳۷،۱۵ تنه |
| شیګل: ټول نفوس ۵۸۵،۱۳ په دوئ کې نارینه / ذکور ۸۹۱،٦ میرمنې / اناث ٦۹۴،٦ تنه |
| مانوګې: ټول نفوس ۷۷۹،٦۱ په دوئ کې نارینه / ذکور ۷۷۱،۳۱ میرمنې / اناث ۰۰۸،۳۰ تنه |
| اسمار: ټول نفوس ۸۴۴،۲۴ په دوئ کې نارینه / ذکور ٦۲۸،۱۲ میرمنې / اناث ۲۱٦،۱۲ تنه |
| څوکۍ: ټول نفوس ۳۸۹،۴۰ په دوئ کې نارینه / ذکور ۷۳۷،۲۰ میرمنې / اناث ٦۵۲،۱۹ تنه |
| خاص کونړ: ټول نفوس ۵۹۲،۳۹ په دوئ کې نارینه / ذکور ۰۷۳،۲۰ میرمنې / اناث ۵۱۹،۱۹ تنه |
| غازی آباد: ټول نفوس ۱۲۴،۲۱ په دوئ کې نارینه / ذکور ۷٦۷،۱۰ میرمنې / اناث ۳۵۷،۱۰ تنه |

| |
|---|
| دانگام: ټول نفوس ۱۳۲،۱۹ په دوئ کې نارینه / ذکور ۸۳۷،۹ میرمنې / اناث ۲۹۵،۹ تنه |
| چپه دره: ټول نفوس ۰۷۴،۳۵ په دوئ کې نارینه / ذکور ۰۷۸،۱۸ میرمنې / اناث ۹۹٦،۱٦ تنه |
| نورگل او مزار دره: ټول نفوس ۷۳۹،۳۵ په دوئ کې نارینه / ذکور ۴۷۷،۱۸ میرمنې / اناث ۲٦۲،۱۷ تنه |
| ناړۍ: ټول نفوس ۲۲۲،۳۱ په دوئ کې نارینه / ذکور ۰۸۵،۱٦ میرمنې / اناث ۱۳۷،۱۵ تنه |
| شلتن: ټول نفوس ۴۹۷،۱۹ په دوئ کې نارینه / ذکور ۹۹۱،۹ میرمنې / اناث ۵۰٦،۹ تنه |

## د کونړ ولایت د اداري واحدونو پیژندگلوي

قدرمنو لوستونکو! د کونړ د شپاړسو اداري واحدونو د پیژندگلوۍ او ۱۰۸ یادو شخصیتونو د ژوند لیک په هکله څو خبرو ته ستاسې پاملرنه را گرځول غواړم. لومړۍ خبره دا ده چې د مرکز او ولسوالیو دا ترتیب، د تورو د ابجدي تسلسل له مخې دی؛ هغه هیڅکله په دې معنی نه دی چې گوندې یوه ولسوالي یا سیمه، له بلې څخه غوره ده. دوهمه خبره دا ده چې ما د هغو شخصیتونو نومونه او بیوگرافۍ لیکلی چې ما ته په لاس راغلې دي. دا هرگز دا مفهوم نه لري چې په اړونده منطقو کې یواځې همدا څو تنه نومیالي او شمله ور دي، نور نشته.

بل ټکی دا دې چې ښایي تاسې په ځینو تاریخونو او د ځایونو په نومونو کې توپیر وگورئ. تر ممکن حد پورې، په دغو تاریخونو کې له ډیر دقت څخه کار اخیستل

شوې دی. مګر داسی هم شوي چې ما د يو کس د ځوي يا لمسي سره په دوو يا دريـو مختلفو هيوادونو کې ټليفونې مرکې کړيدي. په حيرانتيا سره، يو تن به د خپل پـلار يـا نيکه د پيدايښت او وفات نيټه په يو ډول وويلـه، ورور يـا د کـورنۍ بـل غـړي بـه بـدل تاريخ را کړ. بناء، زه له تاسو ټولو څخه د هغې غير قصدي اشتباه بښنه غواړم چې دلته يې لولئ.

په ډيرې تلوسې سره، ستاسې همکارۍ ته سترګې پـه لار يـم چـې پـه آينـده کـې يـې اصلاح کړم. مننه

## د ولایت مرکز، اسعد آباد

د کونړ ولایت مرکز، اسعد آباد (دم کلی، چغه سرای) د پېچ او اسمار د ځپاندو سیندونو کوربه، د علامه سید جمال الدین افغاني د خاړپوځو خاوره او په چټکۍ سره پراخیدونکی ښار دی. په لرغوني تاریخ کې هغه د سکندر مقدومې دمه ځای بلل شوی چې شاید له همدی وجې به ورته دم کلی ویل کیږي. مغول واکمن، ظهیر الدین بابر په خپلې بابر نامې کې د چغه سرای یادونه کړې چې ممکن د چغان له غونډۍ اخیستل شوی وي. چغانیان په اصل کې د ازبکستان د سمرقند څخه راغلې شاهي کورنۍ ده. دلته یې واکمني کړې او د ښار شمال لوري ته په پرتې غونډۍ یې پخې کلاوې جوړې کړې او له همدې وجې ورته د چغان غونډۍ ویل کیږي. دغه تاریخي ودانۍ بیا د چنگیزیانو د یرغلونو په مهال ویجاړې شوې او یوازې کنډرې پاتې دي. ځینی معاصر لیکوالان په دی اند دي چې دغه نوم د چترالي چوغو د خرڅلاو له امله ورته ویل کیږي. دلته د سیند په غاړه یوه مسافر خانه او یو سرای وو چې په هغه کې به له چتراله راوړل شوې وړینې چوغې خرڅیدلې، نو له دی بابته د چغه سرای نوم لري.

د امیر شیر علي خان د واکمنۍ تر پایه، د کونړ په زیاترو برخو کې د پښد د سید محمود پاچا سیمه ییزه اداره وه. په چغسرای کې یواځې یو څو د گوتو په شمار دوکانونه، درې جوماتونه او یوه وړه دیني مدرسه آباده وه. د چغسرای د ختیځو غرونو زیاتره سیمې د کافرستان لویدیځه برخه وه او د ځایي خلکو دین، کلتور او ژبه چورلټه بدله وه. امیر عبد الرحمن خان د یو

ځواکمن مرکزي حکومت د جوړولو، د خپل ځان په خلاف د بغاوتونو د ځپلو او د مالیاتو د راټولو له مخې، سپه سالار غلام حیدر خان څرخي په ۱۸۸۲میلادي کال کې کونړ ته واستولو چې سید محمود او د اسمار خان وځپي.

ځینې مؤرخین په دې باور دي چې دغه جنګ وروسته مذهبي رنګ خپل کړ او ترهغې یې دوام وکړ چې د پخواني کافرستان ټولې سیمې ونیول شوې او د نورستان نوم ور باندې کیښودل شو. دوئ استدلال کوي چې خبره د کفر او اسلام نه وه، ځکه د کونړ په پشد او خاص کونړ سر بیره، په جلال آباد، خوست، غزني، کندوز او قندهار کې هم په لسګونو زره هندوان او سیکان اوسیدل، خو له هغوئ سره یې غرض ونه کړ. کله چې له کابل څخه راغلی لښکر بریالی او ټول کونړ او نورستان یې رام کړ، سید محمود پاچا د پنجاب حسن ابدال ته لاړ، د ولایت مرکز له پشد څخه دلته را ولیږدول شو. بیا په ۱۳۲۸ هجري لمریز کال کې چغسرای، اسعد آباد وبلل شو او له دغې نیټې راهیسې په رسمي ډول د کونړ مرکز ګڼل کیږي.

د ختیځو ولایتونو د پرمختیایي پروژو په لړ کې، له جلال آباد څخه اسعد آباد ته د یو اساسي او پراخه سړک جوړول او غزول وو. دغه سړک له ۱۹۴۶م څخه تر ۱۹۴۹م کلونو په ترڅ کې د هرې سیمې په خلکو باندې د حکومتي بیګار او اشر په ډول جوړ شوی دی. په کابل کې د فواید عامې ریاست چې هغه مهال د صدرات یوه برخه وه، یواځې هندسي نقشې، سروې، درانه ماشین آلات او په ډیره لږه پیمانه سمنټ او فولاد استعمال کړي دي. شهید سردار محمد داود خان د سرحدي سیمو د قومونو او ولسونو د ملاتړ حاصلولو او د کونړ سیند د ستراتیژیک اهمیت له

مخې، په ۱۹۷۴م کال کې کونړ ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د کونړ د سمسورتیا لپاره یې ځینی بنسټیزې پروژې په کار واچولې.
د اسعد آباد مساحت ۲۱۷ کیلو متره مربع دی، ۵۲ کلي لري او په څلورو ناحییو باندې ویشل شوی دی. دا ښار د سمندر له سطحې څخه ۸۲۷ متره لوړ دی؛ دوبی یې نسبتا ګرم او ژمی یې سوړ دی. کله نا کله واورې هم وریږي خو پسرلی او منی یې ډیره په زړه پوری هوا لري. له جلال آباد څخه د ۸۱ کیلو مترو، له کابل څخه د ۲۳۰ کیلو مترو او د ډیورند له لیکې څخه شمال لوري ته د ۱۳ کیلو مترو په واټن پروت دی. د اسعد آباد شمال ته د چغان غونډۍ او د وټه پور ولسوالي، ختیځ ته یې د شیګل ولسوالي، جنوب ته یې د مره ورې ولسوالي، لویدیځ ته یې سرکاڼو او د نرنګ باډیل ولسوالۍ پرتې دي.
د اسعد آباد څلور ښاري ناحیې په دې ډول دي: لومړۍ ناحیه یې دم کلې دی ۲۵۰۴ دوکانونه او ۲۰۷ مارکیټونه لري. دوهمه ناحیه یې کرهاله ده، ۵۹۱ دوکانونه او ۸٦ مارکیټونه لري. دریمه ناحیه یې د یارګل څخه تر تیشې او نو آباد پورې سیمه ده، ۱۸۵ دوکانونه او ۹۹ مارکیټونه لري. څلورمه ناحیه یې نو آباد، ډنډونو او د چګلي / لچګلي سیمې دي ۴۰۲ دوکانه او ۸۵ مارکیټونه لري. د اسعد آباد ښاروالي، د ښاروال په ګډون ۳٦ مامورین او ۵۷ تنه اجیر مامورین او کارکونکي لري. د کرهالې په کلي کې سالارزي، ماموند،، صافي، ملاخیل، مومند او مشواڼي اوسیږي او په پاتې درې ناحییو کې د هر قوم خلک شتون لري. پخوا چغسرای ۱۷ کلي درلودل چې په هغو کې سودم الف بانډه، جلال بانډه، چینار بانډه، ډنډونو، لچګلی، نو آباد، دواړه تیشې، کندو کلي او کیراله شامل وو.
د کونړ د لوی خان د لمسي، ډاکټر شیر احمد زماني او د جلالا خان د

ځوی، انجنیر مسیح الملک جلالا د زیار او هڅو له مخې، د ۲۰۱۲م کال په جون کې د اسعد آباد ښار د شمالي کالیفورنیا د یونین سیټي سره د خور ښار په نوم، ونومول شو. د ۲۰۱۸م کال د جنورۍ په میاشت کې د کونړ والي، وحید الله کلیمزی او د اسعد آباد ښاروال، محمد رحیم سیندني کلیفورنیا ته رسمي سفر درلود. د دغه ښار له ښاروالې، چارواکو او ګڼ شمیر افغانانو سره یې لیدنې او کتنې وکړې.

## غازي، میر زمان خان



د ارنوي او خپلواکۍ د څلورمې جبهې سر لښکر، غازي میر زمان خان نه یوازې د کونړ بلکې د هیواد د ختیځ زون په کچه یو له ډیرو مهمو او شمله ورو سیاسي او ولسي۔ شخصیتونو څخه دی. نوموړی چې په لوی خان او غازي هم شهرت لري، په ۱۲۴۸هجري لمریز (۱۸۶۹م) کال د نرنګ ولسوالۍ د لمټک کلي کې د حاجي ګلروز خان په کور کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. حاجي ګلروز خان د محمد عمر خان ځوی او د محمد اکرم خان لمسی دی. مور یې د وټه پور د کټار کلا د ملک کامران خان خور وه. غازي میر زمان خان، د غازي امان الله خان د لارې، لاروی او نږدې ملګری وو. له پیرنګي استعمار څخه د استقلال په ارزښت پوهیده او د خپلواکۍ تر لاسه کول، د هغې ساتل او د اماني غورځنګ ملاتړ یې د خپل ژوند او مبارزې د سیاسي تګلارې، مشالونه ګڼل. د بلواکۍ په وړاندې په مشهورو غزا ګانو کې ګډون، د انګریزانو په وړاندې دریدل او له جنګیالیو څخه ډاګیزه ننګه، د هغه د رشادت او شهامت بیلګې دي.

نوموړي په ۱۹۰۸م کال کې د انګریزانو خلاف د مهمندو په مشهورې او تاریخي سري غزا کې د یو وتلي مشر په توګه برخه واخیسته. د انګریزانو سره د غازي میر زمان خان همدا دښمني، د وخت د ځوان شهزاده (عین

الدوله) غازي امان الله خان سره د پیژندګلوۍ لامل شوه. دغه دوستي او راشه درشه د بیلا بیلو تاریخي ازمیښتونو څخه وروسته، په ورور ګلوۍ بدله شوه او د ژوند تر پایه یې دوام وکړ. میر زمان خان، د کوزې پښتونخوا د شبقدر ډیرۍ د ۱۹۱۵م کال په جګړه کې هم مهمه ونډه درلوده او سیمه ییز مشران یې د پیرنګیانو په مقابل کې جګړې ته هڅول. ښایي له همدې امله، د اپریل په میاشت کې د برتانوي هند د بهرنیو چارو دفتر، امیر حبیب الله خان ته د ټلګرام په وسیله په یو پیغام کې ولیکل: « مونږ ته خبر را رسیدلې چې ستاسې اعلیحضرت په سیمه کې د مومندو ګڼ شمیر سړي په کوډاخیلو کې راټول شوي او د انګریزانو په خاوره د برید تابیا نیسي. زه ډاډ لرم چې که دا خبره رښتیا وي، نو تاسې اعلیحضرت به سمدلاسه د دې قبایلي ځواکونو د خپریدو او د هغوئ لمسوونکو ته د جزا اوامر صادر کړئ. زه پوهیږم چې تاسې اعلیحضرت هم زما په شان د بې ځایه وینو د توییدو د مخنیوې له امله اندیښمن یاست».
په کابل کې د انګریزانو د هندي استازي په رپوټ کې راغلي « ویل کیږي میر زمان خان چې د اسمار درې یو اغیزمن مشر دی، د سیمې د قوماندان بیرګټ (لوا مشر) محمد سرور خان له خوا تر څارنې لاندې کابل ته رسیدلې او په هند باندې د برید د هوډ تر څنګ، د امیر پر وړاندې د بغاوت تکل هم لري» غازي میر زمان خان د پیرنګیانو په وړاندې د مقاومت او مخالفت له امله، د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ کې درې ځل نیول شوې او په کابل کې زندان ته استول شوی دی. په لومړي ځل یو کال زنداني او بیا د نورو سیاسي بندیانو او مشروطه غوښتونکو سره په ضمانت، کونړ ته ستون شو. خو ډیر ژر د دوهم ځل لپاره بیا ونیول شو او د شیرپور زندان ته واستول شو. ولې دا ځل د لس زره روپیو په نقدي

ضمانت چې د شهزاده امان الله خان لخوا ورکړل شوې، له زندانه خلاص شو. پیرنگیانو همدغه کال د سپتمبر د میاشتې په یو راپور کې داسې ولیکل « د اسلامپور میر صاحب جان پاچا او د کونړ میر زمان خان، د دیرشو تنو سپرو او تقریباً زرو کسانو سره پدې اونۍ کې د بابړې ملا سره د یوځای کیدو د پاره له خپلو کورونو څخه حرکت کړی دی».
غازي میر زمان خان د دریم ځل لپاره په ۱۹۱۵م کال کې د پنځو کالو لپاره بیا بندي شو. کله چې امیر حبیب الله خان په ژمي کې جلال آباد او لغمان ته لاړ او امان الله خان په کابل کې د هغه په وکالت د حکومت چارې پر مخ بیولې، نو غازي میر زمان خان او د هغه ملګري یې له بنده خوشې کړل.
امیر حبیب الله خان د دې خبر په اوریدو سره داسې وانګیرله چې ګوندې میر زمان خان د هغه د کورنۍ په منځ کې درز اچوي. نو امان الله خان ته یې فرمان صادر کړ چې میر زمان خان د هغه تر ورتللو پورې د شیر پور د جرثقیل په سیاه چال کې چې په اعدام د محکومو کسانو ځاې وو، واچول شي. د فرمان دویمه فقره دا وه چې عین الدوله (امیر امان الله خان) دې د میر زمان خان د بند څخه د آزادولو له امله د دولت خزانې ته پنځلس زره روپۍ جریمه تحویل کړي. ولی غازي امان الله خان د دوستۍ د پاللو په پار، میر زمان خان ته د تښتیدو سلا ورکړه خو هغه قبوله نه کړه او سیاه چال ته واچول شو. شپږ ورځې لا تیرې نه وې چې امیر حبیب الله خان د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو. غازي امان الله خان د خپلو لومړنیو اقداماتو په ترڅ کې نه یواځې دا چې غازي میر زمان خان له بنده آزاد کړ، بلکې د هغه د ملګرو د بخښنې فرمان یې صادر او ټول له زندانه را ووتل.
په دوئ کې هغه کس هم و چې یو کال مخکې یې په زندان کې په

کروشنیل د غازي میر زمان خان د پاره د جهاد یـو بـیرغ اوبـدلې وو. دغـه وریښمین بیرغ چې قرآني آیتونه او د میر زمان خان نوم پکې اوبدل شـوي و، څو میاشتې وروسته د استقلال د ګټلو د جګړې په څلورمې جبهې کـې وکارول شو.

د خپلواکۍ د جګړې د پلان له تیاریدو وروسـته، غـازي امـان الله خـان د انګریزانو سره د افغانانو د خپلواکۍ په جګړې کې د کونړ د ولسي ـ لښـکرو مشري او د چترال د جبهې قومنده میر زمان خان ته وسپارله. د پیرنګیـانو خلاف دغه جګړه چې د چترال، کونړ او بریکـوټ د ارنـوی، دوکـلام، لـبر بټ او اسمار جبهه وه، د استقلال د څلورمې جبهې په نوم یـادیږي. دغـه جګړه د ۱۹۱۹ کال د مۍ څخه د جولای تر میاشتې پـورې د ولسي ـ رضـا کارو او پوځي ځواکونو له خوا په ډیر بریالیتوب پـر مـخ لاړه او د خیـبر پـه جبهه کې د سپه سالار، صالح محمد خان د ځواکونو ماتې یې جبیره کړه.

غازي میر زمان خان په ۱۳۰۳هجري لمریز کـې د ګـوډ مـلا پـه مشرۍ د منګلو د بغاوت په ختمولو کې غټه ونډه واخیسته، باغیان مـات او مشرـان یې ونیول شول. قومي مشرـانو لـه دولـت څخـه ولجـه شـوې وسـله بیرتـه وسپارله او یو نیم سل تنه یې د میر زمان خان په ضـمانت کابـل تـه لاړل چې له غازی امان الله خان سره وویني.

میر زمان خان د اماني دورې د دولتي شورا غړې او د جلال آبـاد د هـډې او د پغمان په لویـو تـاریخي جرګـو کـې د کـونړ د ولسـونو پـه اسـتازیتوب ګډون درلود. نوموړي ته د بي سارې خـدمتونو پـه ویـاړ، د امـاني دورې د وفا، لوې خان، خدمت او صداقت څلور مډالونه، نغدي جایزې او د ځمکو امتیـازات ورکـړل شـول او کشرـ ورور یـې جـنرال خـان محمـد زمـاني، د عسکري خدمتونو په پار فرقه مشر وټاکـل شـو. غـازي مـیر زمـان خـان د

۱۳۰۷ کال د کب په میاشت کې د غازي امان الله خان د سلطنت په وروستیو میاشتو کې د شینوارو د بغاوت د غلي کولو لپاره قومنده په غاړه درلوده. د ګڼ شمیر سیاسي هلو ځلو او عسکري سوبو په پای کې، لوی خان د یوې دسیسې په ترڅ کې د کونړ د شینکوړک د کلي په جومات کې د ماخوستن د لمانځه د اداء کولو په وخت، تر برید لاندی راغی او په ۱۳۰۷هجري لمریز کال کې  د ۵۹ کلنۍ په عمر شهید شو.

د کونړ لوی خان، اته ځامن او اوه لوڼې تر شا پریښودې. د لوی خان د ځامنو نومونه په دی ډول دي: شیر محمد خان زماني، عصمت الله خان زماني، حبیب الله خان زماني، ګل محمد خان زماني، خیر محمد خان زماني، محمد ارسلا خان زماني، یار محمد خان زماني او محمد هاشم خان زماني. د لوی خان ورور، جنرال خان محمد خان زماني نهه ځامن درلودل، نومونه یې دا دي: مسافر خان زماني، نادر خان زماني، قادر خان زماني، محمد عمر خان زماني، جان محمد خان زماني، محمد حسین خان زماني، صمد خان زماني، ظاهر خان زماني او شاه محمود خان زماني.

غواړم دلته لږ تم شم، زما ارواښاد نیکه، میرزا شاه پسند ملکزی د هغې لوبې ډلي غړی وو چې د غازي میر زمان خان سره مل د کونړ د نورو مخه ورو مشرانو سره د غازي امان الله خان د لیدلو لپاره کابل ته تللې وو. په دې موقعه غازي امان الله خان له لوی خان څخه د کونړیانو د زښته زیاتو خدمتونو او سربښندونو له امله مننه وکړه. امیر د یو ځانګړي شاهي انعام او فرمان د صادرولو خبره هم ورسره یاده کړه او د دوئ د نظر غوښتونکی شو. لوی خان زما له نیکه څخه مشوره وغوښته چې میرزا صیب ته څه وایې؟ هغوئ ورته وویل چې ته د کونړ مشر یې او ستا په خبره زموږ امنا

ده. د ټولو په سلا او زما د نیکه په مشوره، لوی خان له امان الله خان څخه وغوښتل چې د نرنګ، سرکانړو، خاص کونړ او څوکۍ د ولسونو لپاره دی په دم کلي کې د غلې دانې ګودامونه جوړ شي او اسمار ته د مالیې له ورکړلو دی معاف شي. هماغه وو چې کونړیانو ته د نورو فرمانونو ترڅنګ د هغه کال ټوله مالیه معاف شوه، د اسمار ګودامونو ته د غله جاتو له ورکړلو مستثنی او په چغسرای کې ورته متبادل ځایونه جوړ شول.

## محمد هاشم زماني

سیاستوال او شاعر، محمد هاشم زماني په ۱۳۰۷ هجري لمریز (۱۹۲۸میلادي) کال کې د نرنګ ولسوالۍ د لمټک په کلي کې، د غازي میر زمان خان په کور کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې ئي په خپل کور، کلي او جومات کې د وخت د علماوو څخه ترلاسه کړې دي. په تنکۍ ځوانۍ کې چې عمر یې له شپاړسو کالو څخه زیات نه وو، د خپلې ټولې کورنۍ سره چې شمیر یې له سلو کسانو څخه اوښتې وو، د سیاسي بندیانو په توګه حکومت د دهمزنګ زندان ته واستول. تاند او هڅاند زماني په زندان کې له ګڼ شمیر نورو سیاسي بندیانو لکه د غلام نبي خان چرخي کورنۍ، یعقوب خان غونډ مشر، سرحدار عبد الغفار خان، سرور جویا، ډاکټر محمودي او نورو سره معرفي او د نامتو شخصیتونو، عبد العزیز الکوزي او مولانا محمد اکرم کاکاخیل سره د شاګردۍ او فکري تنوع فرصت ور په برخه شو. زماني په زندان کې د خپلې کورنۍ د ۲۸ تنو غړو د مرګ شاهد دی او خپل لومړني اشعار یې هم په زندان کې لیکلي او هغه یې د زنداني احساس په مجموعه کې راټول کړي دي.

د دیارلسو کالو سیاسي بند څخه وروسته، له خپلې کورنۍ سره هرات ته تبعید او په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د نوي اساسي قانون تر جوړېدو پورې د اتو کلونو لپاره هلته ژوند تیر کړ. د زماني لیکل شوي اشعار، مضامین او ادبي ټوټې د وطن په اکثرو ورځپاڼو او مجلو کې خپرې شوې دي. د ډیموکراسۍ په لسیزه کې یې قلمي مبارزه وکړه او د شهید ولسمشر محمد داود له خوا بلل شوې لویه جرگه کې یې د کونړ د وکیل په توگه برخه واخیسته. هاشم زماني د ۱۹۷۹م کال په وروستیو کې پیښور ته هجرت وکړ، خو د ژبې او قلم مبارزه یې پڅه نه شوه. د کډوالۍ په مهال یې لومړنې کتاب (قطبي خرس) ولیکه چې بیا ځینو بهرنیو ژبو ته واړول شو. د مهاجرت په چاپیریال کې یو شمیر منور او عالم شخصیتونه لکه جنرال عبد الحکیم کتوازی، پوهاند بهاء الدین مجروح او عزیز الرحمن الفت چې د اروابناد گل پاچا الفت ځوی او یو ادیب وو، ترور او غړونه یې د تل لپاره چپ شول.
سیاستوال زماني هم د دغسې زاره چاودي حالت له مخې، په ۱۹۸۷م کال کې د امریکا متحدو ایالتونو ته کډه او د کلیفورنیا د بې ایریا په سیمه کې میشت شو. په پښتو او دري ژبو ځینی اشعار، زنداني احساس، قطبي خرس، سرې خوره بلا، د آزادۍ مشال، د آزادۍ ارمان، خواره گلونه او د سولې زمزمې په عنوانو کتابونه یې تالیف او چاپ کړل. د خورو گلونو دوهم ټوک، د زخمي زړه په نوم د اشعارو ټولگه او د زنداني خاطراتو پښتو نثر یې د لیکوالۍ ښې بیلگې دي. د پوهنې د ملي انقلاب په نوم کتاب په دوهم ټوک یې د ژوند تر وروستۍ شیبې کار کاوه خو مرگي پرینښود. که څه هم نوموړی په ۱۹۹۰م کال کې د زړه د دوهمې حملې او مغزو د سکتې له امله د اوږدې مودې په ناروغۍ اخته او د وجود یوه خوا یې فلج

شوې وه، خو د افغانستان د حالاتو سره د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې تړلې پاتې او خپلو ادبي او فرهنګي فعالیتونو ته یې ادامه ورکړه.
له وفات څخه یې څو اونۍ وړاندې، زه د خپل اروابناد ماما، څارنوال صیب عبدالرزاق صافي سره د ده پوښتنې او سلام ته ورغلم چې دغه مهال سان فرانسیسکو  ته څیرمه، د هیورډ په ښار کې اوسیده. په داسې حال کې چې په ګرځندې چوکۍ (ویل چیر) کې ناست او وطني پټو یې په زنګنونو اچولې وو، په مخامخ میز ورته یو انبار کتابونه پراته وو. له کوزړي روغبړ وروسته یې لومړنۍ خبره دا وه چې تازه خبر څه دی او له وطنه خو څوک نوي نه دي راغلي؟ هغه د کونړ د لوی خان کشر ځوی وو، خو لهجه یې دهقاني وه. سیاستوال وو مګر په خبرو کې یې دوه رنګي نه وه، هغه څه یې ویل چې ده وربانډې باور درلود. د شعر رنګ یې ولسي او راشه درشه یې ساده وه. محمد هاشم زماني د ۱۳۸۴هجري لمریز کال د غبرګولي په نولسمه (۲۰۰۵/ جون) د شپږ اویا کلنۍ په عمر د زړه د ناڅاپي حملې له امله وفات شو، جنازه یې کونړ ته انتقال او هلته خاورو ته وسپارل شوه. د شعر یوه کوچنۍ ټوټه یې په دې ډول ده:

دا خزان وطن به مې بهارستان شي، زه به یم او یا به نه یم
زاغان ځي ور داخل به بلبلان شي، زه به یم او یا به نه یم
ولسونه شا ته نه، په مخ  روان وي
افغان ولس به مخکی هم روان شي، زه به یم او یا به نه یم

## ډاکټر عبد الرحمن زماني

یو انځورګر کیدای شي چې ښه خبر لوڅ و اوسي او یو انجنیر ښایي ډیر

ښه هنرمند او ښه غږ ولري، خو داسې ډېر کم ليدل کيږي چې يو څوک دی هم څېړونکی وي، هم مؤرخ او هم د طب ډاکټر. زما قدرمند دوست، ډاکټر عبدالرحمن زماني يو له دغسې ليکوالانو او اکاډميکو شخصيتونو څخه دی چې تر اوسه يې په پښتو، دري او انګريزي ژبو تر دوه ويشتو زيات لوی او واړه کتابونه ليکلي او يا ژباړلي دي. تر کومه ځايه چې زه پوهيږم ډاکټر زماني شايد د هغو ګوتو په شمار کونړيانو څخه وي چې زموږ کتابخانو ته يې دومره علمي سوغاتونه ډالۍ کړي دي. نوموړی د ۱۳۳۳ لمريز کال د وري د مياشتې په دولسمه نيټه د کونړ د غازي مير زمان خان د ځوي، الحاج محمد ارسلان خان زماني په کور کې زيږيدلې دی. لومړنۍ زده کړې يې په هرات کې تر سره کړې دي، چيرته چې ټولې کورنۍ يې د ديارلس کلن سياسي بند نه وروسته په داخلي تبعيد کې ژوند تيرولو. متوسطه او ثانوي تعليمات يې په ۱۹٦٤م کال کې د نوي اساسي قانون د جوړيدو او سياسي بنديانو د خوشې کيدو نه وروسته په کابل او کونړ کې سرته ورسول. د طب د انساني مسلک سره د مينې په پار يې د کابل پوهنتون د طب پوهنځې ولوست او د ۱۹۷۹م کال په پای کې، په افغانستان باندی د روسانو د بربنډ يرغل نه مازې څو اونۍ مخکې يې هيواد پريښود او پاکستان ته مهاجر شو.

ډاکتر زماني د کوچنيانو، مهاجرينو او تودو سيمو د روغتيايي چارو د ادارې په برخه کې په انګلستان، اطريش او هالنډ کې عالي تحصيلات وکړل او د امريکا د متحدو ايالتونو څخه يې د عامې روغتيا په برخه کې ماسټري واخيسته. د يولسو کالو لپاره (۱۹۸۰-۱۹۹۱م) په پاکستان کې د افغان کډوالو لپاره لومړی د ((UNHCR سره د ډاکتر او بيا وروسته د افغان مهاجرو د پاره د اطريش د مرستو د مؤسسې ((IRC سره د ډاکتر،

روغتیایي پروګرامونو د څارونکي، تنظیمونکي او ډایریکټر په توګه خدمت کړی دي. نوموړي یو کال د اطریش د پرمختګ او تعاون د ادارې سره د اسیا او افریقا د پرمختیایي او روغتیایي چارو د مشاور په توګه دنده تر سره کړې ده. د شمال ختیځې افریقا د جیبوتي او صومالیا په هیوادونو کې شپږ میاشتې او درې کاله په بنګله دیش کې د نړیوالو مؤسسو د روغتیایي پروګرامونو د لارښوونې او همغږۍ چارې پرمخ بوولی دي.

ډاکټر زماني یولس کاله د کلیفورنیا د ایالتي پوهنتون، سان ډیاګو عامې روغتیا د عالي پوهنځي او سان فرانسیسکو د پوهنتون سره دنده اجراء کړیده. هغه د دې ایالت د وړکتونونو د روغتیایي چارو د پروګرامونو د ډایرکټر په توګه هم دنده ترسره کړې ده. ډاکتر زماني نن سبا د امریکا د کلیفورنیا په ایالت کې د ټولنیزو خدمتونو د ادارې سره د پروګرام د متخصص په توګه کار کوي. په ګڼ شمیر سیمه ییزو او نړیوالو کنفرانسونو کې په ګډون او مختلفو مسلکي ټولنو کې په غړیتوب سربیره، د شمالي کلیفورنیا د بی ایریا په سیمه کې د افغان کلتوري ټولنې یو تکړه غړی دی. هغه د خپل کلتور او وطن سره د نوي کول د پوهاوي او پیژندګلوۍ په هکله یو مخکښ رول لوبوي. نوموړی واده لري او د دریو اولادونو پلار دی. د غازي میر زمان خان ژوند او مبارزو ته یوه لنډه کتنه، بازنگری دوره امانی و توطئه های انگلیس، جنگ استرداد استقلال افغانستان، جبهۀ فراموش شده چترال و کونر، حقایق نهفته و حرف های ناگفتۀ جبهۀ چهارم، د اسلامي فقهې په رڼا کې اوسنۍ روغتیائي ستونزې د ډاکټرعبد الرحمن زماني هغه کتابونه دي چې ښه ډیر لوستونکي او پوره شهرت لري.

## د ډنډونو، ملک سید محمد

د اسعد آباد د څلورمې ناحيې د ډنډونو د سيمې خورا ياد او منلی ملک، سيد محمد سالارزی د اروا ښاد ملک محمدا جان سالارزي ځوی او د سيد رسول سالارزي لمسی دی. د اروابښاد کورنۍ، نژدې درې پيړۍ وړاندې له باجوړ څخه دلته راغلې او ميشت شوې ده. ملک سيد محمد يو جرگه مار او ډوډۍ مار سړی وو، تل به يې حجره له ميلمنو ډکه وه. دوه ورونه يې درلودل، يو يې مامورغلام دستگير او بل يې ملک نور محمد نوميده، دوۍ درې واړه اوس وفات شويدي. دوه خويندې يې درلودې چې يوه د نو آباد په مغل خان واده وه، بله يې ځما د کشرـ کاکا (عبد القيوم بزگر ملکزی) ميرمن ده چې زما رضاعي مور هم ده. اروابښاد په خپل کلي، ډنډونو کې خلکو ته د دينې او عصري علومو د زده کړو لاره هواره کړه او د سرکاټو د ليسې په جوړولو کې يې ستره ونډه واخيسته. همدارنگه يې په خپلې سيمې کې د کونړ سيند د اوبو د مهار او کنترول لپاره ډيرې منډې ترړې وکړې. د سيد ملک پلار، مرحوم محمدا جان سالارزي د ارنوۍ او چترال د څلورمې جبهې په جگړه کې گډون کړې وو. ملک سيد محمد د هېواد د وروستيو څلورو لسيزو په جگړه ييز چاپيريال او ناخواليو په مهال، په خپل کلي کې اوسيده. نوموړی په ۱۳۶۲ لمريز کې د ناپيژاندو قاتلينو له خوا شهيد شو.

د تېشي او نو آباد سيمه خورا نور مهم سياسي او عسکري شخصيتونه هم لري چې په سر کې يې اروابښاد پير محمد خان، سلطان جان او مغل خان راځي. دوۍ درې واړه د فقير محمد خان ځامن او د محمد روز خان لمسي دي څوک چې د غازي مير زمان خان سکنی کاکا وو. همدارنگه په اسعد آباد کې د عمرا خان د ليسې پخوانی مدير، اروابښاد محمد داود

زماني او د کرنې او زراعت مدیر، محمد حسن شیر زاد د یادولو وړ دی چې فعلا په کالیفورنیا کې اوسیږي.

## وکیل، نعمت الله کریاب

د ولسي جرگې د شپاړسمې دورې غړی، د پوهنتون استاذ او ژورنالست، نعمت الله کریاب د محمد افضل خان ځوی دی، په ۱۳۵۹ لمریز (۱۹۸۰م) کال کې په اسعد آباد کې زیږیدلی دی. نوموړي د ننگرهار په پوهنتون کې د ادبیاتو په څانگه کې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې دي. کریاب په ۲۰۰۳م کال کې د بي بي سي له راډیو سره د سیمه ییز خبریال په توگه کار پیل او تر یوې لسیزې پورې له دغې نړیوالې راډیو سره پاتې شو. همدارنگه نوموړي د نیویارک ټایمز او اسوشیټد پرس سره په کار سربیره، د کونړ په سیمه ییز راډیو ټلویزیون کې د ویاند، پروډسر او د کونړ د سید جمال الدین افغاني په پوهنتون کې درس ورکړی دی. کریاب په قوم مشوانې دی او ښکاري چې د کوم سیاسي گوند غړیتوب نه لري. په لسگونو مقالې او راپورتاژونه یې لیکلي، ښه خبر لوڅ او جراره ځوان او په ځوانانو گران دی.

## سناتور، رفیع الله حیدري

د مشرانو په جرگې کې د کونړ پخوانې استازی، رفیع الله حیدري د حاجي شیر آغا ځوی دی. هغه په ۱۳۵۲هجري لمریز کال کې د اسعد آباد د کیرهالې په کلي کې زیږیدلی، تر څوارلسم ټولگي پورې تحصیلات لري.

د خپلې سیمې د ښوونځي د سر معلمۍ ترڅنګ یې د کونړ په راډیو ټلویزیون کې د ویاند، د کونړ د استاذانو د اتحادیې د رئیس، د سید جمال الدین افغاني د مدني ټولنې د مرستیال او د یو خصوصي ساختماني شرکت د مشر په توګه، کاري دندې اجرا کړې دي. نوموړی ډېر خوله ور، ځیرکه او ځوان سیاستوال او په مشرانو جرګې کې د مختلفو کمیټو او کمیسونونو فعال غړی وو. حیدري د ۲۰۲۱م کال د مارچ په میاشت کې د کونړ ولایت لپاره د سولې د عالي جرګې د سیمه ییز مشر په توګه وټاکل شو.

## خبریال، سید عبدالله نظامي

د بي بي سي سیمه ییز خبریال، سید عبد الله نظامي د سید قاسم ځوی؛ په ۱۹۸۹م کال کې په اسعد آباد کې زیږیدلی دی. له لومړني ښوونځی نیولې د عمرا خان تر لیسې پورې ټولې زده کړې یې په اسعد آباد کې سرته رسولې دي. لیسانس یې د ننګرهار له پوهنتون څخه واخیست او بیا لندن ته لاړ چې د اکسبرج په کالج کې د رسنیو او ژبې دوه کلنۍ دوره بشپړه کړي. فعلا د انګلستان په ویسټمنسټر پوهنتون کې د نړیوالو اړیکو او امنیت په برخه کې د تحصیل په وروستۍ پړاو کې دی او ډېر ژر به خپله ماستري تر لاسه کړي. نظامي په ۱۹۹۹م کې، د سیمه ییزې راډیو سره یې د ماشومانو لپاره د یوې ځانګړې خپرونې د وړاندې کونکي په توګه کار پیل کړ. له ۲۰۰۱م کال وروسته یې د رویټرز خبري اژانس سره د خبریال او له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۱۲ پورې د الجزیرې د ټلویزیون سره د پروډیوسر په توګه کار وکړ. د څه مودې لپاره کابل کې د ملي باور ورځپاڼې مسئول مدیر او په ۲۰۱۳م کې د بي بي سي له ټیم سره د

خبریال په توګه مل شو.

په ۲۰۱۷ کال کې يې د يوې مودې لپاره د بي بي سي د ژبو سرويس له لوري د بي بي سي افريقايي څانګې سره د ډيجيټل پروډيوسر په توګه کار وکړ. نن سبا، د بي بي سي د افغان څانګې د راډيويي او ټلويزيوني خپرونو سره د خبریال په توګه کار کوي. عبد الله نظامي د «خبریال» په نوم يو ناول ليکلی او خپور شوی او « د ککرو لوبه» په نوم يادښتونه يې د پرله پسې کالمونو په ډول خپاره شوي دي. د وبا له غيبړې، له ۱۱/۹ وروسته د نړۍ امنيتي سکتور کې بدلون او د ابن بطوطه سفرونه يې لنډ ليکونه او ژباړې دي چې لا نه دي چاپ شوي.

## د اسعد آباد مخور مشران

د اسعد آباد په يادو مشرانو کې چې يو شمير يې اوس وفات شوي، د ځينو نومونه دا دي: ملک غلام حيدر خان، حاجي جان محمد، ملک سردار، ميرزا حضرت جان، ښاروال شير محمد خان، ملک سيد غفور او ميرزا حضرت جان. ملک شاه محمود، سر معلم حاجي عبد الهادي، مامور خالد، حاجي نادر خان، حاجي محمد عارف، ډګروال شاه محمود، حاجي يوسف، حاجي شيراغا، حاجي محمد امين، ملک شاه محمد او حاجي حميد الله. د دم کلی حاجي غازي خان، وکيل صديق، قاضي غلام عثمان، قاضي محي الدين، قاضي مجاهدين، حاجي محمد جلال، حاجي نور محمد او ملک سيد ولي. حاجي دوست محمد، حاجي مهتاب خان، حاجي فيض محمد، حضرت غلام جماعتي، حاجي محمد خان، ډګروال عبد القدوس، ډګروال بهاول خان، معين الدين خان او حاجي مهتاب خان. حاجي عبد الرب، حاجي صاحب الحق، حاجي غلام

حضرت، حاجي عبد الحنان، حاجي رفیع الله، حاجي ملنګ، مولوي الله یار، حاجي شمس الهدی او حاجي فضل الرحمن. همدا شان حاجي محمد غوث، ډګروال عطاء الله خان، حاجي داود، حاجي لیث خان، محمد اصف. د اډوال اروابناد، استاذ امیر محمد سلیم، اروابناد حضرت سید او شاه زلمي د جهادي دورې یاد قومندان بلل کیږي.

## د کیرالې (کرهالې) غمیزه

د ۱۳۵۷هجري لمریز کال د غوایي له خونکارې کودتا وروسته، د پېچ درې او نورستان خلک د حکومت پر ضد را پاڅېدل او مجاهدینو تر وټه پور پورې، د پېچ دره ټوله ونیوله. په دې وخت کې مولوي محمد حسین اخند زاده چې وروسته یې په شیخ جمیل الرحمن شهرت وموند، په وټه پور کې مرکز جوړ کړ او د اسعد آباد په ښارګوټي د مجاهدینو وسله وال بریدونه ډېر زیات شول. د کونړ والي شهنواز شیواني، د ۱۳۵۸ کال د وري د میاشتې په شلمه د دم کلي او کیرالې څخه درې تنه سپین ږیري؛ ښاروال شیر محمد، مولوي رحمت الله او ملک شیخ محمد وټه پور ته ولېږل چې د مولوي حسین سره خبرې وکړي او په اسعد آباد باندې عملیات بند کړي. دغو مشرانو د حکومت د پیغام په ځای، شیخ جمیل الرحمن ته وویل چې د کابل حکومت مسلمان نه دی، کمونست دی؛ تاسې خپل جهاد ته دوام ورکړئ موږ هم ستاسې ملاتړي یو. د دغو درېو مشرانو څخه ملک شیخ محمد بېرته اسعد آباد ته رانغی، له مجاهدینو سره یو ځای شو.

کله چې ښاروال شیر محمد او مولوي رحمت الله بېرته راستانه شول، نو د حکومت استخباراتي کسانو وار دمخه، د دوئ د خبرو راپور ولایت ته رسولې وو. والي د دواړو مشرانو د نیولو امر ورکړ، مولوي رحمت خان یې د

حمل په ۲۲مه نېټه او ښاروال شیر محمد او د هغه زوی ډګروال شاه محمود یې د حمل په ۲۳مه نېټه ونیول. مولوي رحمت خان یې جلال آباد ته ولیږه او هلته یې شهید کړ. د ۱۳۵۸کال د وري په دېرشمه (۱۹۷۹م / اپریل شلمه) د شپې له خوا مجاهدین کیرالې ته ننوتل او په حکومتي پوستو یې سخته حمله وکړه. حاجي محمد روزی وایي « که په همدغه شپه د شیګل خلکو لکه څنګه چې په پلان کې وه جنګ کړی وای، نو چغسرای به هرو مرو د مجاهدینو لاس ته پریوتې وو». عیني شاهدان وایي چې په دغه جګړه کې د حکومت پلویانو ته ډېر سخت تاوان ورسېد او د کماندو د قواو د قوماندان، صادق عالمیار ورور یا د تره زوی هم په دغه شپه ووژل شو. د صادق علم یار بل ورور، عبد الحق عالمیار د ٦۹ غونډ قوماندان و. په دغه برید کې ۲۲ کسه مجاهدین هم شهیدان شول او د کیرهالې خلکو د مجاهدینو مړي د شپې په تورتم کې ولېږدول. دې جګړې د کابل د کمونست رژیم د سیمه ییزو چارواکو لکه صادق عالمیار او شهواني سخته غصه را وپاروله، امر یې وکړ چې د کیرالې ټول نارینه دې ونیول شي. په سبانۍ ورځ (د وري ۳۱مه) سهار لس بجې حکومتي ټانکونو او توپونو د ملک سید غفور او ښاروال شیر محمد کورونه ویجاړ کړل او هره خوا د ګولیو او وینو ننداره پیل شوه.

د خلق خونکارو ګونډي غړو او عسکرو، د کرهالې مشران، د کرونډو دهقانان او ځوانان د کرهالې د پل سره نږدې په دې بهانه یوځای کړل چې والي صیب له تاسې سره ګوري. خو خبر نه وو چې بریتور خلقیان په کونړ کې د نوې کربلا لپاره تابیا نیسي. له هرې خوا د مرمیو، ګولیو او ماشیګڼو ږلۍ پیل شوه، د سترګو په رپ کې ۱۲٦۰ تنه بیګناه کونړیان د مرګ میلمانه او رښتیني خالق ته یې د وینو له رنګ سره خپلې ارواوې

وسپارلې. په هیواد کې د یو خونړي څپرکي په توګه، بلهوزرو دغه شهیدان د ګنیو د ګارې په څېر له تورو خاورو لاندې کړل. کمونستانو انګیرله ښایي د انساني ضمیر په تندي دغه لګیدلی داغ به د وخت په تیریدو سره هیر او د ماضي برخه شي، خو دغه محاسبه یې غلطه وه.
سیمه ییز خبریال، احمد فولاد په خپلې څیړنې کې د کیرالې د دغه تاریخي جنایت او نه هیردونکي ناورین د مشرانو نومونه او مقامونه دا ډول په ګوته کوي: ډګروال شهنواز شهواني پکتیاوال (د کونړ والي) محمد یعقوب نرنګی (د ولایت مستوفي) سپین جان لالهاند (د ولایت ګوندي منشي۔) صادق عالمیار (د کماندو د ۴۴۴ کنډک قوماندان) عبد الحق عالمیار (د ٦٩ غونډ قوماندان) ګلرنګ (د جبهې عمومی قوماندان) جګړن غفار (مروري د کنډک قوماندان) تورن سید محمد (د دافع ټانک قوماندان) محمد شاه (د کماندو د ټولي قوماندان) امام الدین لوګری (د عسکري قواوو قوماندان) جګړن بهرام الدین (د ۱۱ لواء عملیاتي افسر۔) شمشیر نړیوال (د کونړ ولایت د پوهنی رئیس) نور رحمن (د سرحداتو رئیس) ډاکټر بادام څوکیوال (سیاسي غړی) چمتو (د پیچ ولسوال) شاهدل د سیاسي کدر غړی او د عمرا خان د لیسې مدیر، محمد نعیم د سیاسي کدر او ولایتي شورا غړی، میر علی جان د سیاسي کدر غړی، عبد القادر د سیاسي کدر غړی، ډاکتر نعمت د سیاسي کدر غړی او نظام الدین بی خدا د ګوند کدري غړي. د دغو مجرمینو یو تن، صادق عالمیار دا مهال په هالنډ کې ژوند کوي. د کرهالې محمد نادر سرشار چې په ناروې کې اوسیږي او پلار یې (محمد سلام) د کرهالې په پېښه کې شهید شوی، د هالنډ حکومت ته عریضه کړې تر څو صادق عالمیار د خپل جرم له مخې محاکمه کړي. دمګړۍ د دغې پېښې تحقیقات جریان لري

او محکمې تر اوسه کومه پریکړه نه ده کړې.
د کیرالې د ستر ناورین د قربانیانو په ډلې کې، ۲۱۴ تنه د مکتبونو تنکي شاگردان، ۵۹ تنه ښوونکي، ۲۷ تنه دولتي مامورین، ۵ تنه دیني عالمان، دوه صاحب منصبان او پاتې یې ولسي وگړي اوغریب غربه خلک دي. له دې پېښې څخه وروسته د کرهالې د کلي ښځې او ماشومان باجوړ ته مهاجر شول او هلته د کیرالې د کونډو په نوم یو کمپ ورته جوړ شو. په ۱۳۹۷ لمریز کې د دغو شهیدانو په ډله ییز قبر باندی چې ۱۰۲ متر مربع ساحه لري، یو څلي او څلورو خواو ته دیوال جوړ شو. د اسعد آباد ښاروالۍ له لوري (۳۷۰،۰۰۰) افغانیو په مالي لگښت د دغو شهیدانو په یاد کې یو ښه گام دی، خو هیڅکله د هغوئ د مقام سره برابر نه دی. د نورو ولایتونو خلکو د خپلو وژل شوو مشرانو په قبرونو باندې د دولتي بودیجې څخه په ملیونونو ډالرې ولگولې، لقبونه یې د پاسه ورکړل. څرنگه چې کونړ دریمه درجه ولایت دی، خلک یې هم په دریم کتار کې ولاړ دي او غږ یې د واکمنو غوږونو ته نه رسي چې د دوئ شهیدان هم ونازوي.

## هغه چینار وچ وو!

دوستانو! د کیرالې (کرهالې) د ناورین د اته دېرشم تلین په پار، لیکوال خواریکښ یوه ادبي ټوټه لیکلې ده. زما خوښه شوه او بیا خپرول یې راته خوندور ښکاري، نو راځئ چې په گډه یې ولولو.

«دلته د سیند په غاړه، له زمانو راهیسې، یو دنگ چینار ولاړ وو. د پشکال د سیند څپې یې تر لمن رسېدې، نیمه لمن به یې تل نمجنه وه او پاتې نیمه به همېش د شنو کبلو د بخملو په څیر وه. د سیند پر دواړو غاړو به تنکي ځوانان او کلیوال کېناستل. چا به لامبلې سیند کې، چا به دانگونه وهل. چا به څادر هوار کړ مخ په قبله به ودرېد او له ستر څښتن به یې کولې

رنګارنګ غوښتنې. ژړو کيندلې د چينار په ډډ کې، د مينې نښې. دا و د هر کال؛ د هر دوبي انځور. خو سږ کال سپرلي کې دا انځور بدل شو. وری لاړو، ځای يې غوايي ته پرېښود. چينار خوبونه ليدل چې يې لمن ده، په سرو وينو لمده. بوئ د باروتو ځورولو خوب کې او له دې خوب د ماشينګڼو په کړسار پاڅېد. د خوب تعبير ته تر سهاره په وير ژړلې بنه، ويښ ولاړ و او خبر نه وو چې په دې شپه، د پولېګون په وينو، د لوی جلاد نشه لا نه وه پوره. د خوب تعبير داسې شو: د لمر زرينې وړانګې، لا د چغان په غوږدی. نه وې خپرې د چينار په څانګو، مرغيو د چينار د زړه درزا اورېده او وارخطا ښکارېدې چې د جلاد برېښي، له دې سپېڅلي کلي لکه د شپول چاپېر شول. ماتولې يې د کورونو تمبې او کليوال يې له کورو راويستل په زوره. زاړه، ځوانان او خيالولي ژړني، هغه د کلي شازلمي او د وستل ښکلي. مېندې، مېرمنې، خوېندې، لوڼې، پسې شا ته ځغستې. چا خپل ويښته شوکول، چا ټترونه وهل.

ټول ښځينه يې د جومات انګړ ته ټېل وهلې ولاړ. نارينه يې ټول راټول کړل د چينار و خوا ته، چينار اريان ورته کتل چې اوس به څه پېښېږي؟ د پولېګون د سور جلاد برېښي راغلل، غږ يې د اور وکړ او انسانانو په خپلو وينو کې ترپکې وهلې. کرونده ټوله شوه خړوبه د کرهالو په وينو. وينې لمن ته د چينار راغلې او له جومات را رسېدې، د سوو ساندو نارې. څه موده پس لاړم دې کلي ته زه. نه ژوند و، نه بې رقيبه ښکلا. نه و اوس پاتې د دې سيند څپو ته خپل زور. د ژړو شور نه و، د سيند په غاړه، د مستو کټوی، نه نجونې وې نه چمبې ښکارېدې، نه چا مير ګاټ نه چا چيندری کوله. نه ماشومان وو چې د شګو له ډوپيو کوټنۍ جوړې کړي او په تنکيو خيالو کې د راتلونکې ژوند انځور وکاږي. هغه چينار وچ وو، نه

يې د ځانګو شنهار، نه يې پر تنه پروت وو د مينانو ياد ګار».

## ۲- اسمار

د اسعد آباد په ختيځ کې د ۴۷ کيلو مترۍ په واټن پروت اسمار، د کونړ د لومړۍ درجې ولسوالي ده. پخوا به اسمار بر کونړ يادېده، هغه مهال شيګل، دانګام، غازي آباد او د ناړۍ ځينې برخې د اسمار اړونده علاقدارۍ او سيمې بلل کيدې. اسمار د سمندر له سطحې څخه ۹۸۳ متره لوړ دی؛ شمال ته يې غازي آباد، ختيځ ته ناړۍ، سهيل ته دانګام او لويديځ ته د شيګل ولسوالۍ پرتې دي. مځکنۍ مساحت يې ۱۸۷ کيلو متره مربع دی، د غټو او کوچنيو کليو شمير يې ۸۵ ته رسي، البته يو شمير خورې ورې باندې هم لري. د خپل ستراتيژيک او سرحدي سوق الجيشي اهميت له مخې، شاهي حکومت يوه لويه چوڼۍ او د يولسمې فرقې اړونده، يو ديرشمه غرنۍ لواء همدلته ځای په ځای کړې وه. په اسمار کې څلورغټ او ځينې واړه قومونه اوسيږي. مشواڼي او سالارزي يې اکثريت دي؛ ورپسې ماموند، شينواري او ګوجر دي؛ په لږ شمير کې وردګ، کاټني، مياګان او ديګان هم آباد دي. د شهيد ولسمشر، محمد داود د اقتصادي او پرمختيايي پلان له مخې، د اسمار په سور طاق کې د بريښنا د يو ستر بند تابيا نيول شوې وه چې د ۲۵۰۰ ميګا واټه بريښنا توليدي ظرفيت به يې درلود. دغه د رڼا او آبادۍ سرته پروژه، د ثور خونکارو کودتاچيانو په همدې سيند کې لاهو کړه.

د اسمار نوم هغه مهال په سيمه ييزو او نړيوالو رسنيو کې هغه مهال ډير وځليدلو، کله چې د ۱۳۵۸ لمريز کال د زمري په پنځمه نيټه، د اروابښاد ډګروال، عبد الروف خان صافي تر قومندې لاندې د اسمار مجهزه

سرحدي لواء د اسلامي حزب ارواښاد کشميرخان او شيخ جميل الرحمن ته تسليم شوه. په سلګونو ډول ډول غټې او زرګونه ميله وړې وسلې د مجاهدينو لاس کې کيوتې او په جهادي سنګرونو کې يې ژور بدلون رامنځ ته کړ. زه په خپله دغه وخت، تازه له ديوه ګل څخه باډيل ته راغلی ووم. ما خپل همزولي څلور تنه تنکي ځوان عسکر وليدل چې د باډيل په غازي خان غونډۍ کې قومندان ملا عبدل له ځان سره ساتلي او هره شيبه يې د مرګ په کومي کې تيرولې. ځينو جمعيتي قومندانانو د دغو ولجو شوو وسلو يوه برخه پنجشير ته واستوله. اسلامي حزب ولجه شوي ټانکونه، توپونه او نورې غټې وسلې شيګل ته انتقال کړې او ارواښاد قومندان صافي اړ شو چې د جمعيت اسلامي له ګوند سره پټه اړيکه ونيسي او پيښور ته لاړ شي.

د يوې تاريخي يادونې په توګه، د اسمار خلکو تردې ډير پخوا د انګريزانو سره غزا ګانې کړې او د نورستان په جګړو کې د حضرت علي سالارزي په مشرۍ له اميرعبد الرحمن خان سره ښه ډغره وهلې ده. نوموړی له خپلې ماتې وروسته چترال ته کډه شو او سيمه له کابل څخه د راغلو پوځونو په ولکه کې ولويده. د روسانو سره د جهاد په وخت کې هم اسمارو مجاهدينو د ملک محمد زرين، ملا طور خان، ملک جان خان، حاجي مير زمان، ملا رؤف سالارزي، ملک جانخان، پاچا سنګرمل سالارزي، ملک اجدري او قومندان ميرالۍ تر مشرۍ لاندې سترې کارنامې او حماسې زيږولې دي.

## د اسمار مشهور کلي

شال، شنګر، شير کڅی، د محبوبې کمر، رزيت، کنډرو، د مانو ناوه، اسمار، غشتو کڅ، خوشحال تاله، حاجي ګلاب بانډه، حضرت بانډه،

غارکو بانډه، چم بانډه، تنګي بانډه، سراغزي بانډه، لويه بيله، درګۍ، ډب خوړ، قلعه وردک، د پل غاړه، آمين آباد، چپ کوه، برووړو کلی، جوزو کلی، پيتاو کلی، پامير کلی، درين کلی، ډنډ کلی، بلوڅه کلی، حاجي تور لعلی کلی، چره کلی، سوری کلی، سُيری کلی، چپری کلی، ملايانو کلی، رحمان کلی، چندو کلی، جيجی کلی، شابل کلی، برکلی، مياګانو کلی، شيو کلی، تبی قوله، تنګی اسمار، کړو ناو، وچ ناو، حاجی سخي کورونو ناو، چنار ناو، پلوڅو ناو، سين کی، مير خانو، اوغز باغ، اوسی، تاغګان، کوټمالی، ډمبرو، تيشه، شپلکی، چم ګی، درکۍ او سنګر.

## قوماندان، ملک محمد زرين

د کونړ د مشواڼيو مجاهدينو په منځ کې، ارواښاد ملک محمد زرين يوه داسی څيره وه چې هيڅ تعليم يې نه درلود، مګر د جنرالۍ تر رتبې او د کونړ د نهمې فرقې تر قوماندانۍ ورسيد. په بن کې د افغان انتقالي حکومت د جوړيدو په غونډو کې يې برخه واخيسته او د پخواني ولسمشر- کرزي سره يې ډيرې نژدې او ښې اړيکې درلودې. نوموړی د مشواڼيو د يو مشهور ملک، عمرا خان ځوی دی او په ۱۹۳۴م کې کال د اسمار د شوګړې په کلي کې زيږيدلی وو. ملک زرين څلور وروڼه درلودل چې باچا زرين يې وفات شوی او رضا خان، امير سلام او سيفور يې ژوندي دي. څلور ودونه يې کړي وو، اته ځامن او اوه لوڼې لري. د ملک زرين وراره او زما دوست، امان الله زرين چې په کاليفورنيا کې اوسيږي، ما ته وويل « کاکا ته مې په پنځلس کلنۍ کې لومړی د خپلې کورنۍ او څو کاله وروسته د ټولو مشواڼيو د ملک په توګه د مشرۍ پګړۍ په سر وتړل شوه». ملک زرين په ۲۰۱۱م کال کې د اسمار د ججې په کلي کې له يو

ښوونځي څخه د ليدنې په مهال د يو ځانمرگي له خوا د اوو تنو نورو قومي مشرانو او درې شاگردانو سره يو ځای د مکتب په انگړ کې ووژل شو.

## وکيل، محمد هاشم مشوانی

وکيل محمد هاشم مشوانی د ملک سيد خان ځوی دی، په ۱۳۱۲ هجري لمريز کال د دانگام ولسوالۍ د زوړ برول په کلي کی زيږيدلی دی. لومړنۍ او ثانوي زده کړی يی د اسمار په ولسوالۍ کی سرته رسولی دي. نوموړی لا ځوارلس کلن وو چې د خپل پلار سره به يې په ولسيـ غونـډو کـې پـه برخه اخيستنې سربيره، د دانگام په علاقدارۍ کې د حکومت سره د ميرزا په ډول کار کاوه. په ۱۳۴۸ لمريز کال کې د خپل پلار له وفات وروسته، د اسمار د ماموندو، سالارزو، مشوانيو او گجـر قـوم مخـورو مشرـانو پريکـړه وکړه چې هغه به ولسی جرگي ته د دوئ ټولـو گـډ نومانـد وي. هماغـه وو چې وکيل محمد هاشم مشوانی په ۱۳۴۸ کال انتخابات وگټل او د ولسي جرگي غړی شو.  په ۱۳٦۵ لمريز کال کی د کابل د رژيم له خوا د قومونـو او قبايلو د څار د جرگې لومړی مرستيال وټاکل شـو. لـه دغـې نيټـې درې کاله وروسته، د مشرانو په جرگه کې د کونړ د استازی او د قومونو او قبايلو د چارو د کميسون مشر وټاکل شو. وکيل مشوانی د زړه د اوږدې نـاروغۍ له امله د ۱۳۸۵ کال د غوايي په مياشت کې د ۷۳ کلنۍ په عمر د کـوزې پښتونخوا د دير په ثمر باغ کـې ومـړ. جنـازه يـې د اسـمار انځـر کـوټ تـه يووړل شوه او هلته په خپلې پلرنۍ هديرې کي خاورو ته وسپارل شو.

## سناتور، سخي مشوانی

حاجي سخي مشوانی د حاجي میرعالم خان ځوی دی، په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د اسمار ولسوالی د پالوزی په کلي کې زیږیدلی دی. نوموړی په کابل کې د خوشحال خان له لیسې فارغ شوی او د حقوقو په ځانګه کې یې د دوو کالو لپاره د پیښور په یو انستتیوت کې خپل تحصیلات سرته رسولي دي. د کمونست رژیم په مهال، مشواني جهادي قومندان وو؛ بیا په کونړ کې د نهمې فرقې د قومندان؛ بیا د کونړ د فواید عامې رئیس او د اسمار د ولسوال په توګه دندې تر سره کړیدي. نوموړی د مشرانو جرګې په پنځلسمې دورې کې د کونړ د سناتور او په دی وروستیو کې د سولې د ملي شورا د رئیس د مشاور په توګه ګمارل شویدی.

لور یې، روهینه مشوانۍ په ۱۳۵۷ لمریز کال کې د اسمار د پلوڅو ناو په سیمې کې زیږیدلې ده. مشوانۍ په ۱۳۸۹ لمریز کې د بي بي فاطمې له لیسې څخه فارغه شوېده. نوموړې اوسمهال په کابل کې د دنیا پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصله ده. مشوانۍ د کونړ د ولایتي شورې ده او په کوم سیاسي ګوند پورې تړاو نه لري.

## سېد آغا میاخېل

سید آغا میاخیل، د اسمار ولسوالۍ د زوړ کلي د متقاعد ډګروال، سید ګل جان صالح یار په کور کی زېږېدلی دی. هغه د خپلې کورنۍ سره چې لا وړوکې وو، د شورویانو د وحشيـ یرغل په لومړیو وختونو کې کوزې پښتونخوا ته مهاجر شوې دی. ابتدائیه ښوونځی یې د دیر په ثمر باغ کې پیل کړي او لیسه او کالج یې په باجوړ کې لوستي دی. په ۲۰۰۸م کال کې یې د پیښور له پوهنتون څخه په سیاسي علومو کې خپله ماستري واخیسته. میاخېل په باجوړ کی د ښار د پښتو ادبي ټولنې سره پراخه همکاري درلوده او د پیښور په وحدت ورځپانه کې یې ادبي لیکنې او

شعرونه هم خپرول. په افغانستان کی د ډیموکراسۍ په راتلـو سره یـې پـه اسعد آبـاد کـې د بـدلون راډیـو د مـدیر، د ننګـتر راډیـو د پروډیـوسر او لمـر ټلویزیون د «آند او هڅه» په پروګرامونو کې مسلکي فعالیت درلـود. سـید آغا میاخېل تازه له جرمنۍ ژبې څخه د «پیسی او د پیسو سیاست» په نوم یو کتاب پښتو تـه ژباړلی دی. « پـه سر شـال، بادونـه وړي» او «سـترۍ شوی یم له ژونده» دوه شعري ټولګې دي چې تر اوسه لا چاپ شـوې نـه دي. په هېواد کی د ګډوډیو له امله، میاخیل هېواد پرېښود او نن سبا پـه جرمني اوسیږي.

## شیر زمان صادق

شیر زمان صادق د ملا نعمت الله زوی دی؛ پـه ۱۳۳۷ لمریـز کـال کـې د اسمار ولسوالۍ د شال په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کـړې یـې د شال په کلي کـې پیـل کـړې، بیـا د اسـمار لـه لیسـې څخـه فـارغ شـو. د هجرت په دوران کې یې د حزب اسلامي د ورځپاڼې، شـهادت د فرهنګـي مسئول په توګه کار کولـو سربیـره، د بـاجوړ د پښـتو ادبي ټـولنې او دیـر د پښتو ادبي کاروان همکار او په جنـدول کـې د پښـتو ادبي ټـولنې بنسـټګر دی. هیواد ته له راستنېدو وروسته یې د کونړ راډیو ټلویزیـون د (دوسـتانو مرکــه) خپرونــه پــرمخ وړلــه. دوه شــعري ټــولګې «دنګــې څــوکې» او «خاطرې» یـې چـاپ شـوې دي. صـادق اوس مهـال د کـونړ ولایـت پـه مستوفیت کې د دنده اجراء کوي.

## ۳- چپه دره

لکـه څرنگـه یـې چـې نـوم دی، همداسـې د مـاڼوگي ولسـوالۍ کینډـې (لودیځې) خوا تـه، کـږه وږه غزیـدلې دره ده. جنـوب تـه یـې د څـوکۍ او نورگل ولسوالۍ، شمال ته یې د نورستان ولایت او لویدیځ ته یې د لغمان ولایت او یوه کوچنۍ برخه یې د ننگرهار د دره نور له ولسوالۍ سره نښـتې ده. چپه دره د دوهمې درجې ولسوالي ده؛ مرکز یې په کنډۍ کې دی او د سمندر له سطحې څخه ۹۸۳ متره لوړه ده. مځکنی مساحت یې ۵۹۰ کیلو متره مربع دی؛ د غټو او وړو کلیو شمیر یې ۱۰۳ ته رسي، په لسگونو خال خال باڼډې هم لري او د استوگنو غوڅ اکثریت یې صافي دي.


## د چپې درې مشهور کلي

کنډۍ، گـل سلك، مورچـل، دیگـل، کولـک، وتلـه، څـړي گـل، بسـتله، سامتول، سیدور، سینزي، سید خیل، محبت کلی، خادي خیل، گـاگیزي، څوکۍ، کلپو کلی، سسم تـل، غنـدی گـل، آواره، شـویس غـاړه، ترنیـک، ختټکو ډډه، تنگی کلی، ساري گل، کاندړ، کوزه بسـطله، وچ نـاو، سرتـور، سانتول، متیا خان، کتټاک، سکندر آباد، سـیدور، سـود منـه، زمکـی، نیـک گاه، خاره، پتټو غاړه، مجید کـوټ، توحیـد آبـاد، بهـادر کلـی، قلعـه کلـی، کربوړۍ، پاس، ټانگو، درگو کلی، هزار میـر، گجـر آبـاد، کـوټکی، بولـک دیگل، باد گاه، پنیر دیگل، چمبرک، گوشه لام، غنـدی دیگـل، ورسـک، سره چینه او مارتیگل.

د مورچل طلب دین آخند زاده چې د پیج د سلطان محمد خان پـلار وو، د

مسـودو د قـوم منلـی مشرـ دی. د گربـزو مهـم مشرـ، غـازي حیـدر خـان شوړیکې او د ودیرو یاد مشر، گل میران هغه نومونه دي چې د صافو غټ او واړه ورسره اشـنا دي. پـه سـاپی کـال کـې د دی ولسـوالۍ خلکـو ډیـر مخکښ او مرکزي رول درلود او له همدی کبله یې ځینې مشران زنداني او د هیواد لویدیزو او شمالي ولایتونو ته تبعید شول.

## د پیچ سلطان محمد خان



اروابښاد سلطان محمد خان، په کونړ کې د صـافي قوم په ځانگړي ډول د پیچ درې سیاسي او قـومي مشر، د ۱۲۷۲هجري لمریز کال (۱۸۹۳م) په منـي کې د پیچ ولسوالۍ د گل سلک (مورچل) کلي کې زیږیـدلی دی. پـلار یـی طلـب الـدین اخنـد زاده نومیده؛ هغه هم یو مخور مشر او د امیر حبیب الله خان په وخت کې د پیچ حاکم وو. نیکه یې محمد لعل آخند زاده په خپـل وار مهم قومي سـپین ږیـری وو. سـلطان محمـد خـان دوه کشرـان ورونـه درلودل؛ د یو نوم عبد القدوس، بل یې عبـد الظـاهر وو. پـه نـاروې کـې د سلطان محمد خان صافي ځوی او زما محـترم دوسـت، وکیـل سـمیع الله خان صافی چې د افغانستان د ولسي جرگـې د دیارلسـمې دورې غـړې او یو تکړه ژورنالست دی، ما ته له ناروې څخه په یوې ټلیفوني مرکې کـې د خپل پلار په هکله داسې وویل «زما پلار په یوې تعلیم لرونکې، هستمنې او اغیزمنې کورنۍ کې پیدا شوی وو، مگـر لـه وړوکـوالي څخـه تـر سـپین ږیرتوبه، د کړاوونو او ستونزو سره په ډغره وو. لا بیخي ځوان وو چې پـلار

يې ووژل شو او بیا د خپل پلار د قاتلینو سره مسلسل مخالفتونه، لـه کـلي کور څخه لرې والی او له خپلو خلکو سره اړیکې ساتل، د هغه په کریکټـر کې ژور اغیز درلود».

ډیره جالبه دا ده چې د سلطان محمد خان، خاني او سیاسي قد قامت لـه ده سره پیل شو او له مـرګ سره یـې پـای تـه ورسـید. د هغـه شـهرت څـو لاملونه درلودل؛ تر ټولو مهم عامل يې په تنکۍ ځـوانۍ کـې د خپـل وژل شوي پلار د قاتلینو په وړانـدې د کلـک دریـځ نیـول وو. بـل لامـل یـې د ولسي اعتبار او ملاتړ د تسلسل جاري ساتل وو چې د پلار تشه (خلا) يې محسوسه نه شي. دريم لامل يې د ننګرهار د رئیس تنظیمه، سردار محمد داود خان سره مخامخ تـاوده بحثونـه او لـه خپلـې قـومي داعیـې او دریـځ څخه دفاع وه. څلورم عامل يې د اسلامپور د مرحوم، بابا پاچـا سره ډاګیـز مخالفت او د صافو په چارو کې د هغه د اغیز مخنیوی وو. ځکه بابا پاچا د ملکې ثریا د نکاح پلار وو او د هغه هره خبره د شاهي دربار د واکمنانو پـه غوږونو ښه لګیده.

د مرحوم سلطان محمد خان د قومي اغیز د پراختیا بل عامل په پکتیا کې د ګوډ ملا د پاڅون ټکول وو. کله چې د شـاه امـان الله خـان لـه خـوا پـه پکتیا کې د منګلو د بغاوت د ځپلو لپاره د میرزمان خان په مشرۍ د ولسي لښکر تیارۍ پیل شوې، سلطان محمد خان هغه مهال ۲۷ کلن ځوان وو. نوموړي په دغو تشکیلاتو کې د پیچ، باډیل، دیوه ګل، مزار درې، حتی د لغمان او کوه صـافي، صـافیان د جنـګ لیکـو تـه سـوق کـړل او د منګلـو بغاوت ختم شو. همدغه وجه وه چې اعلیحضرت امان الله خان، کونړ تـه ځانګړی پاملرنه وکـړه او د میـر زمـان خـان پـه مشرۍ یـې کونړیـان ښـه ونازول.

سمیع الله خان صافی وایي «زما د پلار د ځوانۍ ډیره برخه د زندانونو او سیاسي لانجو په سیوري کې تیره شوه. په ځلمیتوب کې لومړی هرات بیا بلخ او بلاخره شبرغان ته تبعید شو. په اعدام محکوم شو خو دغه سزا وروسته په عمري قید باندې بدله شوه. اګر که زما پلار له ډیرو غتو او مهمو خلکو سره پیژندل چې په هغوئ کې مستوفي (وزیر مالیه) محمد حسین صافی چې د استاذ خلیل الله خلیلي پلار دی، هم شامل وو، بیا هم ۲٦ کاله په زندان کې پاتې شو».

وکیل صافی زیاتوي «څرنګه چې دښمنۍ، تربګنۍ وې، حجرې پراخه شوې، نوکر چاکر او په ننني اصطلاح باډیګارډان پیدا شول؛ نو په دغسی یو چاپیریال کې د خان اصطلاح او مقام هم رامنځ ته شو. دغه د (خان) لقب زما د پلار سره پیل شو؛ ډیر کله چې ما ته څوک د (خان) غږ وکړي نو اول هک پک شم، یوه خوا بله خوا وګورم، بیا وروسته ووایم چې هو مطلب به یې زه یم. د وخت واکمنانو زما په ارواښاد پلار ډیر زور واچولو چې په کونړ کې خپل جایدادونه حکومت ته حواله او په بدل کې تر هغه زیات د هیواد په شمال کې ترلاسه کړي، خو هغه ورسره ونه منله». د پیچ دغه شمله ور او خوله ور سپین ږیری (سلطان محمد خان) د ۱۳۴۷هجري لمریز کال د مرغومي د میاشتې په لسمه نیټه (ډسمبر۳۱، ۱۹٦۸م) د اتیا کالو په عمر پخپل کلي (مورچل) کې د ځیګر د رنځ له امله وفات او په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شو. مرحوم سلطان محمد خان د قرانکریم په ترجمه او ګڼ شمیر احادیثو پوهیده، همیشه به یې د فردوسي د شاهنامې مطالعه کوله، نهه ځامن او څو لوڼې یې ترشا پریښې دي.

**وکیل، سمیع الله خان صافی**

د هیواد د ولسي جرګې د دیارلسمې دورې غړی، پیاوړی ژورنالست او د صافي قوم د مشهور شخصیت سلطان محمد خان ځوی، سمیع الله خان صافی د ۱۳۱۹ هجري لمریز کال د وري د میاشتې په یو ویشتمه (دسمبر،۱۹۴۰م) د چپې درې د ګل سلک په کلی کې زیږیدلی دی. نوموړی لا شپږ کلن وو چې کورنی یې له کونړ څخه هرات، بیا بلخ او وروسته شبرغان ته تبعید شوې وه. لومړنی زده کړې یې د هغه د وینا له مخې، د هرات په زندان کې د خپل تره او مشر- ورور څخه پیل کړې. شبرغان ته له تبعید وروسته، هلته په ابتدائیه ښوونځې کې شامل شو. ثانوي دوره یې د کابل په ابن سینا کې بشپړه کړه، بیا یې د کابل عالي دار المعلمین ولوست. د کابل پوهنتون ته بریالی شو او په ۱۳۴۶ هجري لمریز کال کې یې د ادبیاتو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې څخه خپل لیسانس واخیست او د صحافت تر څنګ یې سیاست ته مخه کړه.

سره د دی چې سمیع الله صافي د خپل ژوند ډیره برخه له کونړ څخه لری او د باندی تیره کړې وه، خو د خپل لیاقت او پلرني اثر او رسوخ له مخې یې د اعلیحضرت ظاهر شاه د حکومت د ولسي- جرګې دیارلسمې دورې ته ځان کاندید کړ. نوموړي د پوره قومي ملاتړ پر بنسټ وکولای شول د خپل ولس د استازي په توګه پارلمان ته کامیاب او هلته د مالي کمسیون غړی وټاکل شي. صافي د یو مسلکي فوټو ژورنالست تر څنګ، یو تکړه لیکوال، ښه خطاط، څیړونکی او د عرفان د میاشتینی مجلې چلوونکي وو.

وکیل صافی د روسي ښکیلاک په خونړي پړاو کې د جهاد سنګرونو ته لاړ، ټوپک په اوږه او قلم په لاس یې د خپل ولس د برحقې داعیې او ارادې څخه ملاتړ وکړ. په ۱۹۸۰م کال کې یې د پوهاند ډاکټر مجروح،

ډاکټر غازي عالم، استاذ شپون او استاذ حکیم تنیـوال سره پـه ګـډه، پـه پېښور کې افغان اطلاعاتي مرکز جوړ کړ. په همدې وخت کې د اروا ښـاد شمس الدین مجروح تـر مشرۍ لانـدې د کـونړ د مجاهـدینو د اتحـادیې مرستیال وټاکل شو. خو د هغه په خپله وینا، کله یـې چې ولیـدل ځینـې معلوم الحاله کړۍ او د هغوئ بهرني ملاتړي د ده آزاد فکر، له وطن سره ملي مینه او شخصیت ورته یو ګواښ او خنډ بریښیده، نو پریکړه یې وکـړه چې له خپلې کورنۍ سره په مات زړه افغانستان پرېږدي او د ۱۹۹۰م کال د فبرورۍ په میاشت کې له خپلې کـورنۍ سره د نـاروې شـاهي هیـواد تـه کـډه وکـړي. وکیـل سـمیع الله خـان صـافی لـه خپـل خـاورې ډېـر لـرې اوسـېږي، خـو د وطـن خوشـبويي د خپـل ژونـد اسره بـولي او د غمونـو او دردونو خبرونه یې د کړاو او نارامۍ لاملونه دي.

## جنرال مطیع الله خان صافی

جنرال مطیع الله خان صافی، د اروانښاد سلطان محمد خان صافي ځوی او د وکیـل سـمیع الله خـان صـافي کشرـ ورور دی. نومـوړی پـه ۱۳۳۳ هجري لمریز کال کې د شبرغان د ځنګل باغ په سیمه کـې زیږیـدلی دی. درې کاله یې پـه کابـل کـې حـربي لیسـه ولوسـتله، بیـا کـونړ تـه لاړ او د ننګلام له لیسې څخه فارغ شو. په ۱۹۸۰م کال کې پیښور ته مهـاجر او د ملی محاذ د چوکاټ دننه یې جهاد پیل کړ. په دغه دوره کې ښـه وځلیـده او د مسودو د عمومي قوماندان په توګه یې په ګڼ شمیر جهادي عملیـاتو کې برخه واخیستله. په ۲۰۰۳م کال کې د ولسمشر کرزي لخـوا، د تـورن جنرال په رتبه د کونړ د امنیـې قومنـدان وټاکـل شـو چـې د ۲۰۰٦ کـال د جون تر میاشـتې همدلتـه پـاتې شـو. بیـا د کاپیسـا ولایـت تـه د امنیـې د

قومندان په توګه واستول شو او څه موده وروسته د ولسمشر ډاکټـر اشرف غني د حکومت په مهال يې د تورن جنرالۍ رتبې ته ترقي وکړه او د لغمان ولایت د امنیې قومندان مقرر شو. نوموړی اوس مهـال تقاعـد او پـه کـور ناست دی. د يادونې ده چې د جـنرال صـافي ځـوان ځـوی، فيـروز خـان صافی (د چپـې درې د سـيمه ييـزو پوليسـو قومنـدان) د ۲۰۲۱م کـال پـه فبرورۍ کې د یوې بمې چاودنې په ترڅ کې د خپلـو څلـورو تنـو همکـارانو سره يو ځای شهيد شو.

## ۴- څوکۍ

څوکۍ، د کونړ د پنځلسو ولسواليو له ډلې څخه د لومړۍ درجـې ولسـوالي ده. دغه ښکلې او شنه ولسوالي چې د ديوه ګل دره يـې شـمال لـوري تـه پرته ده، ټول ټال ۲٦٥ کيلومتر مربع مساحت لري، د کليو شـمير يـې ۸۸ ته رسي، مګر کله چې د ديوه ګل درې خورې ورې بانډې ورسره مل شي، بيا دغه شمير ۱۰۷ ته رسي. څوکۍ لا هغه مهال هم د کونړ د پنځو مهمو او ګڼ نفوسو ولسواليو څخه وه چې کونړ د ننګرهـار د ولايـت اړونـده لويـه ولسـوالي وه. هغـه مهـال نرنـګ او نورګـل دواړه د څـوکۍ پـورې تړلـې علاقدارۍ وې. د څوکۍ جنوب تـه د کـونړ سـيند او پـورې غـاړه د خـاص کونړ ولسوالي، ختيځ ته د نرنګ او باډيـل ولسـوالي، لويـديځ تـه د نورګـل ولسوالي او شمال ته يې د ماڼوګي او چپې درې ولسوالۍ پرتې دي.

څوکۍ ته ځکه څوکۍ وايي چې دلته به د هوارې سيمې صافو چې مسودو او ګربز دي، په نوبت سره د درې له خلکو څخه د خپلـو کورونـو او مـالونو ساتنه کوله. نو د پهره دارۍ چونۍ چې په کليواله لهجه کې ورتـه څـوکۍ ويل کيږي د دې ټولې سيمې د نـوم لامـل وګرځيدلـه. څـوکۍ د نرنـګ او

نورگل په ګډون د يوې ډيرې ګڼ نفوسې ولسوالۍ په بڼه د کونړ ولايت په لمړنيو پنځو ولسواليو کې حساب شوه. دا ولسوالي دوه زره هکتاره کرنيزه مځکه او پريمانه اوبه لري. د ديوه ګل دره چې د کونړ له مهمو او غټو درو څخه ګڼل کيږي له چلس پرته، ټول خلک يې په قوم صافيان دي. دوئ په درې غټو خيلونو باندی ويشل کيږي: مسود (مسعود) ګربز او ودير (قندهاري) چې د نورو دوه برخې زيات نفوس لري.

## د څوکۍ او ديوه ګل غټ کلي

چمبيل، ملا مزيد بابا، ترناو، کومبر، کربوړی، اندر لچک، بد ګوړ، امری، پلار دره، بنګو اوبه، کندی، جار ګو، ميران کلا، سره کلا، خادي خيل، سليمانزي، ګاکيزي، اسلام خانه، قندهارو کلی، غوړو مېنه، ناڅاپه، سيری، سپيدار او ګيړيګال. د څوکۍ لوی کلی، کلمانی، ګټو قلعه، کاندړ، چيناری، بابړو، شلوټې، غونډی، سپين جومات، خاديخيل، عيسی خيل، مسعود آباد، نو آباد، خاکی، ملايانو تنګی، کنډو، راوګې، فقير آباد، خاره، کڅې، شهيدانو بانډه، سپيرکو بانډه، آهنګرو بانډه، ځنګل بانډه، قاضي بانډه او زړه بانډه.


پخوا په کونړ کې د سيند غاړې ته څيرمه غټو کليو کې ځينې مشهور ګودرونه وو. ځوانو نجونو او ميرمنو به په خپلو سرونو منجيلې وتړلې، د هغو د پاسه به يې سره منګي کيښودل او له مستې خيراماني به روانې شوې. په دغو ګودرونو کې يو ډير مشهور ګودر په څوکۍ کې وو، په دی اړه يوه ټپه هم ښايسته مشهوره ده چې وايي:

هلکه روغ به ليونی شې<br>که د څوکۍ مازيګری دې وليدنه

## چلس

د چلس خلک په خټه پشه یان دي او پخپلو منځونو کې په پشه اي ژبه باندی گړیږي. چلس چې د دیوه گل په پاسنۍ برخې کې موقعیت لري او د خپلې طبیعي هوا، شنو نښترو او رڼو اوبو له امله زښته زیات شهرت لري، د دریو غټو کلیو مجموعه ده (سیر گل، نوریش، لوی کلي). دلته د دولت لخوا درې ښوونځي جوړ شوي چې دوه یې لومړني او یو یې منځنی دی. د چلس څلور واړه خواو ته صافي پراته دي چې اکثریت یې قندهاري یا ودیر دي. چلسیان له خپلو گاونډیانو سره ډیر نږدی اړیکې ساتي؛ له دوئ سره گډ مړی ژوندی او ښه راشه درشه لري او حتې له یو له بل سره یې د ښځو خپلوۍ هم کړی دي. څرنگه چې چلس یوه غریزه سیمه ده او ډیره لړه مځکه لري نو د خلکو د ژوند مهم توکې مالداري او د نښترو او چار تراشو د لرگیو کارو بار دی. له هغې راهیسی چې دلته د دولت مخالفو اورپکو پوستې او مرکزونه جوړ کړل، د چلسیانو ژوند له کړاونو او بی امنیو سره مخ شوی دی. له دی بابته ځینې یې لاندې د څوکۍ هوارو سیمو او یو شمیر یې جلال آباد ته کډه شول. نوي نسل یې د تعلیم لاره خپله کړه خو هغه شمیر چلسیان چې ډیر بې وزلي دي، لا هم پخپلو کورونو کې پاتی او له گڼ شمیر ستونزو سره لاس گریوان دي.

## مولوي فقیر الله (صاحب الحق)



اروانښاد مولوي فقیر الله (صاحب الحق) د مرحوم ملا صابرالله ځوی او د مرحوم ملا مدیح الله لمسی په خټه خلیل مومند دی.

صاحب الحق په ۱۲۸۷ هجري لمريز کال کې د څوکۍ ولسوالۍ د ديوه گل درې د چمبيل په کلي کې زيږيدلی او ستر شوی دی. ملا صابرالله يو تارک الدنيا روحاني او د هډې د نجم الدين اخوند زاده ماذون وو؛ د مولوي فقيرالله په گډون يې څلور اولادونه يتيمان پريښودل او په ۱۲۹۵ لمريز کال کې وفات شو. صاحب الحق او ورونو يې په خپل کور کې د ديني علومو په زده کړو پيل وکړ او د مزار، ديوه گل، باډيل او د پيچ په درو کې د خپل پلار او نيکه د معتقيدنو او نژدی دوستانو په مرسته يې د خپلو مشرانو حجره او ديره پرانستې او لنگر همداسی جاري وساته. اروانباد صاحب الحق د تصوف د نقشبنديه او قادريه طريقو په تسلسل کې د سيد زيور شاه پاچا او د سرخ رود، د محمد سعيد جان مجددي ماذون وو. له همدی امله د کونړ د صافي قوم زيات شمير خلکو هغه ته احترام درلود او د لنگر سره يې مرسته کوله.

د اعليحضرت ظاهر شاه، شهيد سردار محمد داود او د شاهي حکومتونو نژدې ټولو صدراعظمانو له صاحب الحق سره ښې او نژدې اړيکې درلودې. دوئ به کونړ ته د سفرونو پر مهال په فقير کوټ کې دمه کوله او د غرمنۍ د تيرولو لپاره به له هغه سره پاتې کيدل. په ۱۳۵۷ کال کې د غوايي له خونړۍ کودتا لږه موده وروسته، نوموړی د يوې لنډې مودې لپاره د سياسي بندي په نوم زنداني شو. د ببرک کارمل پرچمي نظام د څه وخت لپاره صاحب الحق د خپلې انقلابي شوری مرستيال او بيا ډاکټر نجيب الله نوموړی د جمهوري رياست د مذهبي چارو سلاکار و گمارلو. د اروانباد مولوي فقيرالله پلويان په دی اند دي چې هغه په ځينو دريځونو کې د پرچميانو ښکاره مخالفت کولو او هر څه يې په پټو سترگو نه منل. په ۱۹۹۲ کال کې د نجيب الله د حکومت له را پرزيدو او د مجاهدينو د

واکمنۍ سره سم، نوموړی بیرته خپلې سیمې ته ستون او د ځایې خلکو له خوا یې تود هرکلی وشو. ارواښاد مولوي فقیرالله د ورپیښې ناروغۍ له امله د ۱۳۷۹ لمریز کال د تلې په ۲۴مه نیټه وفات او د چمبیل کلي کې، په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شو.

مرحوم صاحب الحق د ۱۹۹۲م کال په پسرلي کې د سترګو د علاج لپاره پیښور ته راغی. زه د هغه د پوښتنې لپاره د پیښور د سپین جومات په سیمه کې سلام او احترام ته ورغلم. تازه یې د سترګو جراحي عملیات کړي وو، خو زما څخه یې د مهاجرینو د حالت او جهادي مشرانو په اړه ځینې داسې پوښتنې وکړې چې د هغه د سیاسي بصیرت او پراخو معلوماتو نماینده ګي کوله. کمونستان یې ګرم او ملامت ګڼل، خو جهادي مشران هم ورته سپین بازان نه ښکاره کیدل. په وطن او وطنوالو یې زړه خوږیده او د یو داسې نظام تمه یې درلوده چې د څو لسیزو د ناخوالیو او کړاوونو درمل او د زخمونو مرهم شي.

مرحوم صاحب الحق د کونړ په ډیرو شمله ورو او منورو خلکو کې شمیرل کیږي. دوه ودونه یې کړي وو، نهه ځامن او درې لوڼې یې درلودې. مشر ځوی یې قاضي مطیع الله چمبیلی، ښه لیکوال او یو وخت د کابل په راډیو کې د اسلامي پروګرام وړاندې کونکی وو. بل ځوی یې عبد الهادي خلیلزی، د افغانستان لوی څارنوال وو، ورپسې ځوی یې عبد الغني نومیږي چې د ډاکټر نجیب الله په وخت کې د مهاجرینو او سرحداتو د وزارت مرستیال وو. یو ځوی یې، رضوان الله نومیده، زما همزولی او ښه ملګری وو، د جهاد په لومړیو وختونو کې شهید شو. مشهور انځورګر او مدني فعال، ارباب حمد الله یې د بل ځوی (نجیب الله) له اړخه لمسی دی. بل لمسی یې (څارنوال عبد الرب) د حامد کرزي په مهال د لویې

ځارنوالۍ ویاند وو. د صاحب الحق د حجرې دروازې به همیشه پرانیستې وې؛ د دیرې د ونو لاندې کټونه به له بالښتونو ډک او د جومات لـه منارو څخه به د پنځه وخته لمونځونو لپاره د آذان خوږه ناره پورته کېدله.

## لوی څارنوال، عبد الهادي خلیل زی



سیاستوال، لیکـوال او د هیـواد لـــوی څـــارنوال، اروابښـــاد عبـدالهادي خلیلـزی پـه ۱۳۱۳ هجري لمریز کال کـې د څـوکۍ ولسوالۍ اړونـده د چمبیـل کـلي په یوې عـالمې او یـادې کـورنۍ کې زیږېدلی وو. د اروا ښاد پلار د کونړ مشهور روحاني شخصیت، مولوي فقیرالله (صـاحب الحـق) دی او نیکه یې مولوي صابرالله نومیده، د شګې په ملا صاحب باندې یې شهرت درلود. خلیلزي خپلې لومړنۍ زده کړې د کور دننه له خپل پلار او د سیمې له یو شمیر استادانو څخه تر لاسه کړې دي. په ۱۳۳۳ لمریـز کـال کـې د کابل په عربی دارالعلوم کی شامل او په ۱۳۴۰ کال کې ورڅخه فارغ شو. د لومړۍ دولتي دندې په توګه یې د مطبوعاتو پـه مسـتقل ریاسـت کـې د کورنیو خپرونو په مدیریت کی د مسلکی غړي په توګه کـار پیـل کـړ. لـږه موده وروسته یې د معـارف وزارت کـې کـار پیـدا کـړ او د نجـات (امـاني) لیسې کی د استاذ په حیث مقرر شو.

درې نیم کاله وروسـته، د کـونړ اسعد آبـاد تـه تبـدیل او د عمرا خـان پـه منځني ښوونځي کې د استاد په توګه خپله دنده جـاري وسـاتله. د مرحـوم

خلیلزي د پرله پسې هڅو په پایله کې، محمد هاشم میوندوال د خپلې صدراعظمۍ په مهال چې کونړ ته په سفر تللی وو، دغه ښوونځي تـه لـه متوسطې څخه لیسی ته ارتقا ورکړه. څـه مـوده وروسـته نومـوړی د نرنـگ ولسوالۍ منځني ښوونځي ته واستول شو، هغه هم د ده د هلوځلو له برکته په لیسې بدل او نوموړی یـې مـدیر وټاکـل شـو. لـه څـو کالـه مـدیریت او تدریس وروسته، خلیلزی بیرته د خپل مسلک خوا ته لاړ او د ښـارنوال پـه حیث مقرر شو. د کابل چاردهي، کـونړ، میـدان وردگ، لغـمان، کنـدوز او ننگرهار په ولایتونو کې یـې د ښـارنوالۍ د رئـیس پـه حیـث دنـدې تـرسره کړې. وروستنۍ دولتي دنده یې د افغانستان د لویې ښارنوالۍ سرپرستي او د اساسي قانون د شورا غړیتوب وو. د شهید ولسمشر، محمد داود خان د حکومت لـه خـوا، سـعودي عربسـتان تـه د حج د فریضـې د ۲۵۰ کسـیز گروپ د مشر په توگه د ځمکې له لارې سعودي عربستان ته واستول شـو او په رسمي لیدنو کتنو کې یې د حکومت استازیتوب وکړ.

خلیلزي د صادقانه دولتي فعالیتونو له امله، د خپلواکۍ د شپیتمې کلیـزې نښان او غـازي امـان الله خـان د سـتوري پـه دولتـی لـوړ نښـان او مـډال سربیره، درې مطبوعاتي جایزې هم ترلاسه کړې دي. اروابناد ۱۹ علمي، ادبي او حقوقي اثار لیکلي او پـه کتـابي بڼـه چـاپ شـوي دي، ۸ څـیړنیز کتابونه لاتر اوسه نا چاپه پاتې دي. نوموړي په سلگونو مقالې لـیکلي او د هیواد پـه ورځپـاڼو، جریـدو او مجلـو کـې خپـرې شـوې دي. د ښـوونې او روزنې په برخه کې یې د دیوه گل د چلس لومړنی ښـوونځی، د اسعد آبـاد اړونده د څپري او هډوال لومړنی ښوونځي، د چنـار لـومړنی ښـوونځی، پـه برگیمټال کی د آفسی لومړنی ښوونځی، په مزار درې کې د اریت، غـازي آباد او شوماش لومړني ښوونځي د خلیلـزي د اوه کلنـې دورې د ماموریـت

په مهال جوړ شوي دي. د ۳۴ کلن تعليمي او مسلکي ماموريت په پای کې يې تقاعد واخيست او د شعر، ادب او سياست په دنيا کې ليکنو ته يې مخه کړه. په ډير وياړ به يې ويل « ډول ډول غټې او وړې دندې مې کړيدي، خو د ژوند په دی وروستيو کلونو کې کوم خوند چې ما په پيښور کې د افغانانو لپاره د اريانا په پوهنتون کی د حقوقو پوهنځي استاذي کې وليد، هغه بل چيرته نه وو».

اروانښاد خليلزي چې زما د مرحومې مور د ماما ځوی او هم يې د کشرې خور ميړه دی، د نرنگ په ليسې کې زما استاذ او زموږ د ليسې مدير وو. په ۲۰۰۷م کال کې زه د خپلې اروانښادې مور سره د هغه او د خپلې قدرمنې خالا د سلام په پار کور ته ورغلم چې تازه يې د پيښور د لنډي سړک په سيمه کې جوړ کړی وو. په دغو شپو ورځو کې يې د حامد کرزي سره د انتخاباتي سياليو لپاره ځان چمتو کولو او ډير زيات ملاقاتونه او ميلمانه يې لرل. ما په کليفورنيا کې د نور ټلويزيون لپاره د يوې مرکې په ترڅ کې وپوښته «ماما جانه، چا څه وعده او لوظ در سره کړی چې انتخاباتو ته ودريږه؟ کنه نو تاسې خپل امکانات له کرزي سره په کومه تله باندی تلئ؟»

ځواب يې راکړ: « گوره، کله چې حضرت يوسف خپلو ناځوانو ورونو په کوهي کې وغورځولو، نو يو کاروان هغه راوويست او مصر ته يې د خرڅ لپاره راوست. هلته د پاچا او صدراعظم له درباريانو او اردليانو رانيولې د غټو سوداگرو او زميندارو پورې خلک د بولۍ لپاره په کتار کې ودريدل. په دی ترڅ کې يوه سپين سرې بوډۍ هم د پسه د وړيو يوه غوټه په لاس، لين کې ودريده. چا پرې د تمسخر په لهجه غږ کړ چې بوډۍ ته هم يوسف اخلې؟ هغې ځواب ورکړ: زه پوهيږم چې په دی وړيو او وژغنو

یوسف نه شم اخیستلای خو بس غواړم چې د هغه په خریدارانو کې حساب شم. زه همدا اوس پوهیږم چې کرزی نه شم ماتولاې، خو ضمیر مې را ته وایي چې د وطن د ژغورنې او بښیرازۍ په نیت دغه میدان کې قدم کیږدم، وبه ګورم چې مخکې څه را روان دي؟»

## حاجي جانداد خان صافی

حاجي جانداد خان صافی د مؤمن خان ځوی او د قمبر خان لمسی دی، په ۱۳۱۳هجري لمریز کې د پېچ د چپې درې د سیدور به کلي کې زیږیدلی دی. د نوموړي نیکونه اصلا د دیوه ګل درې د کربوړۍ اوسیدونکي دي، مګر پلار یې د څه مودې لپاره د خپلې کورنۍ سره لومړی په نرنګ کې اوسیدلی او بیا پیچ ته تللی دي. د غوایي د خونکارې کودتا سره سم، جانداد خان د خپلې سیمې له نورو ځوانانو سره د خلقي رژیم پر وړاندې وسله وال جهاد او مبارزه پیل کړه. د خپلې زړورتیا او ځیرکتیا له مخې په لږ وخت کې سرګروپ او بیا د نرنګ او څوکۍ ترمنځ د بابړو په تنګي کې یوه غښتلې جهادي جبهه جوړه کړه چې د کمونیستي رژیم او روسي قطارونو لپاره یو غټ سرخوږی او د مقاومت پوخ سنګر وو. جانداد خان په پیچ، هډوال، اسمار، مره ورې او د ښېوې ولسوالۍ په چریکي او جبهوي عملیاتو کې ښه مخکښ رول درلود.

د پیچ په برکنډۍ کې له شورویانو سره د یوې لاس لستوني جګړې په ترڅ کې د کلکوف په نیم شاجور مرمیو لګیدلی او له همدې وجې یې ډیره موده په روغتون کې تیره کړیده. له رغیدو وروسته، یو ځل بیا خپل پخواني سنګر ته لاړ او د سلفیانو له خوا د عمومي قومندان په توګه وټاکل شو. په کونړ کې له حزب اسلامي سره د تنظیمي سیالۍ او نزاکت له مخې، استاذ رباني هغه د لواء قومندان او د ډګر جنرالۍ په رتبه ونازولو. کله چې د طالبانو

امارت را منځ ته شو، قوماندان صافي یو ځل بیا د کونړ د پاڅونوالو په لیکه کې ودرید او د پنځو کالو لپاره یې خوره وره مقابله وکړه. افغانستان ته د امریکایانو راتګ او کابل ته د حامد کرزي راوستل، د جانداد خان سیاسي او پوځي اعتبار نور هم لوړ کړ. په لواء مشرۍ سربیره، په ۱۳۸۹ کال کې یې د سولې عالي مډال ترلاسه کړ او د لنډې مودې لپاره د کونړ والي وټاکل شو. ولسمشر، ډاکټر اشرف غني هم قوماندان جانداد ته په ۱۳۹۴ کال کې د غازي میر مسجدي خان دولتي مډال ورکړ. نوموړی د ډیرې اوږدې مجاهدې او په سنګر کې د پاتې کیدو وروسته، اوس ډیرې وخت د خپل کور د انګړ دننه تیروي او صحت یې چندان مړنی نه دی.

## مولوي شهزاده شاهد

مولوي شهزاده شاهد، د دیوه ګل درې دی، په ۱۳۴۱ لمریز کال کې د حیا خان صافي په کور کې زیږیدلی دی. د کمونستي رژیم د وحشتونو په پایله کې، د نوموړي کورنۍ هم اړ شوه چې پیښور ته هجرت وکړي. لا ډیر وړوکې و چې د پیښور په ختیځه سیمه کې یې د پاکستان د جماعت اسلامي په یوې دیني مدرسې (جامعة عربیة حدیقة العلوم) کې د شرعي علومو زده کړې پیل کړې. په ۱۳۶۹ لمریز کال کې فارغ او په همدې مدرسې کې د استاذ په توګه خپله لومړنۍ دنده پیل کړه. د هجرت په مهال مور او مولوي شاهد په یوې سیمې کې اوسیدلو؛ د اخترونو د مبارکیو په پار، دوئ به شفقت کولو او د هر نژدې ګاونډي مبارکۍ ته به ورتللو چې د نوموړي د تواضع او وطنپالنې یوه ښه بیلګه ده.

مولوي شاهد ډیر ذهین، حاضر جوابی او په دین پوهه شخصیت دی. کله چې د ډاکټر نجیب الله حکومت له کونړ څخه په تیښته او مجاهدینو کونړ ونیو، نو مولوي شاهد د څوکۍ د لیسې ترڅنګ یوه لویه دیني مدرسه

په پاخه او اساسي ډول جوړه کړه. د پرانستې په غونډې کې د ډاکټر عطاء الله فيضي، فضل الهي هدايت او نورو لسګونو ګډونوالو تر څنګ ما هم برخه درلوده. دغه ديني غونډه يو ستر تعليمي فرصت وو؛ کمونست رژيم تازه ماتې خوړلې وه او مجاهدين په رڼا ورځ د څوکۍ په بازار کې ښکته پورته کيدل. ما هلته د خلکو په سترګو کې د خوشحالۍ اوښکې وليدلې چې اوس هم زما په سترګو کې دي. د کور دننه د ديني مدرسو د جوړولو غټه ګټه دا ده چې د دين د تعليم سره جوخت، د وطن سره مينه هم زده کوي. مګر له هيواد څخه د باندې اکثرو مدرسو کې شاګردان د وطن د ملي مصلحتونو او ارزښتونو خلاف روزل کيږي او د وطندارۍ حس يې مړاوی کيږي.

مولوي شاهد په ډير لږ وخت کې د خپلې فصيحې ژبې، علمي درايت او سياسي ذهانت له برکته، د حکومت د لوړ رتبه خلکو په منځ کې د ځان لپاره ځای او اعتبار پيدا کړ. د کونړ د محاکمو رئيس وټاکل شو بيا د کابل د مرافعې رئيس مقرر شو. د بيړنۍ لويې جرګې غړی، بيا د کونړ د خلکو منتخب استازی او د علماوو د شوری يو مخکښ غړی شو. اسامه بن لادن ته د شهيد خطاب کولو له کبله يې د ۱۳۹۲ کال د کب په مياشت کې د سولې د عالي شورا د وياند په توګه خپله دنده له لاسه ورکړه او تور پرې ولګيد چې ګوندې د ترهګرۍ ملاتړې دی. مګر نوموړي دغه تورونه سياسي وبلل او په غوڅ ډول يې رد کړل.

له بله پلوه، مولوي شهزاده شاهد د ډيرو څيړونکو له نظره دوه سياسي اشتباه ګانې وکړې؛ سره د دې چې هغه پوهيده، کونړي د اشرف غني په وړاندې د احمد ضياء مسعود ملاتړ ته چمتو نه دي، خو ده بيا هم له خلکو وغوښتل چې د شهيد احمد شاه مسعود کورنۍ ته د درناوي په

خاطر، احمد ضیاء ته رایه ورکړي. مگر تردې غټه بله سیاسي تیروتنه یې دا وه کله چې ډاکټر اشرف غني د ارگ دننه د ولسمشرۍ سوگند پورته کولو، نو په عین وخت کې مولوي شاهد خپل تنظیمي انډیوال، ډاکټر عبد الله عبد الله ته د متوازي ولسمشر په توگه د سپیدار په ماڼۍ کې په غیر قانوني ډول سوگند ورکړ. مولوي شهزاده دوه ودونه لري، د درې ځامنو او پنځو لوڼو پلار دی او په کابل کې اوسیږي.

## ډاکټر عطاء الله فیضي

پوهاند ډاکټر عطاء الله فیضي د اروابناد، قندهار مولوي صیب ځوی په ۱۳۳٦ لمریز کال کې په څوکۍ کې زیږیدلی دی. پلار یې چې اصلا د قندهار څخه دلته راغلی او بیا یې واده کړی وو، د کونړ د ډیرو مشهورو دیني عالمانو په کتار کې ولاړ او په علمي ډګر کې د ښه نوم او شهرت خاوند دی. ډاکټرعطاء الله په کابل کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له عالي مدرسې څخه په ۱۳۵٦ لمریز کې له فراغت وروسته د کابل پوهنتون په شرعیاتو پوهنځي کې وو چې د کمونستانو کودتا رامنځ ته شوه. بیا سعودي عربستان ته لاړ او هلته یې په مدینې منورې کې پوهنتون ولوست. ورپسې یې د مکې مکرمې په ام القری پوهنتون کې خپل عالي تحصیلات بشپړ کړل او د فقهې او قانون په برخه کې یې لومړی ماستري او بیا پي، ایچ، ډي (ډکټورا) واخیستله. د لږې مودې څنډ وروسته، پاکستان ته لاړ او د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې یې د استاذ په توګه کار پیل کړ. دا دې نژدی دیرش کاله کیږي چې په اسلام آباد کې اوسي او د شرعیاتو په پوهنځي کې درس ورکوي. نوموړی د جهاد په مهال په سعودي عربستان کې د پوهاند سیاف تر مشرۍ لاندې د اتحاد اسلامي سیاسي نماینده او یو منلي کس ګڼل کیده؛ مګر غالبا داسی ښکاري چې اوس مهال د کوم سیاسي ګوند سره کار او فعالیت نه لري.

## وږمه صافۍ

د ولسي جرګې غړې، آغلې وږمه صافۍ د اروابناد ډګروال پیر محمد خان

لور ده، په ۱۳۴۲هجري لمريز کال کې د څوکۍ ولسوالۍ د مسودو په کلي کې زیږېدلې ده. ابتدائیه ښوونځی یې په څوکۍ کې لوستې او ثـانوي زده کړې یې د عائشه دراني په لیسې کې ترسره کړې دي. په ۱۳۸۱ لمریز کې یې د پولیسو له اکاډمۍ څخه خپله ډیپلومه واخیسته او د کورنیو چـارو پـه وزارت کې یې دنده پیل کـړه. نومـوړې لـه جرمنـي څخـه د خپـل مسـلک اړونده تخصص لري او په هرات او بامیان کې یې د خپل میړه تر څنګ د نظامي مشاورې په توګه کار کړی دی. همدارنګه هغې د هیواد پـه ختـیځ زون کې د میرمنو د بشري حقوقو د مرستیالې په توګه دنده اجراء کـړې او د ښځو د حقوقو د پیاوړتیا او هغوئ ته د فرصتونو په برابرولـو کـې بریـالۍ هڅې کړېدي. میرمن وږمه د تیرو اتو کالو راهیسې په ولسي جرګې کې د کونړ د خلکو استازې ده.

## ډاکټر عبد الرشید جلیلي

ډاکترعبدالرشید جلیلي، د عبد الجلیـل خـان ځـوی دی، د ۱۳۱۸ هجـري لمریز کال د وږي په میاشت د څوکۍ د خـادیخیلو پـه کـلي کـې زیږیـدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په څوکۍ او پاتې د کابل په ابن سینا او د کرنې په لیسه کې ترسره کړې دي. هغه د کابل پوهنتـون د کرنـې لـه پـوهنځي څخه لیسانس اخیستی، بیا یـې د امریکـا د متحـدو ایـالاتو پـه وایومنـګ پوهنتون کې خپـل عـالي تحصـیلات بشـپړ کـړي دي. د ۱۳۴۴ کـال پـه لیندۍ کې هیواد تـه راسـتون او د کرنـې پـه پـوهنځي کـې یـې د مـایکرو بیالوژي د استاد په توګه کار پیل او د خلق د ګونـد غـړی شـو. نومـوړی د نورو زده کړو لپاره په ۱۳۵۲کال کې اوکـراین تـه لاړ او دوه کالـه وروسـته یې د علومو له اکاډمۍ څخه د مایکرو بیالوژي پـه څانګـه کـې ډکتـورا تـر

لاسه کړه. بیرته کابل ته راستون شو او د کرنې په پوهنځي کې یې خپله دنده یو ځل بیا پیل کړه. ډاکټر جلیلي د ۱۳۵۷ کال د غوایي د خونړۍ کودتا سره جوخت د کابل پوهنتون د رئیس، څو میاشتې وروسته د ښوونې او روزنې وزیر او د خلق ګوند د مرکزي کمیټې غړی شو. یو کال وروسته د کرنې او ځمکو د اصلاحاتو وزیر، د ګوند د مرکزي کمیټې او سیاسي بیرو غړی شو. د شوروي اتحاد له بربنډ یرغل او واک ته د پرچمیانو د رسیدلو سره سم، جلیلي زنداني او ٦ کاله وروسته په اعدام محکوم شو. ولی د روسانو سره د پخوانۍ سابقې او ځینو شخصي اړیکو له برکته د اعدام جزا یې په ابدي بند واړول شوه. ډاکتر جلیلي په ۱۳٦۸ کال کې آزاد او بیرته د پوهنوال په رتبه د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي کې استاد شو. په ۱۳۷۱ لمریز کې پاکستان ته کډه او راولپنډۍ کې میشت شو. د ۱۳۷۵ لمریز کال د زمري په میاشت کې د خپلې مشرۍ لاندې، د پخوانیو ګوندي ملګرو له ډلې څخه « د افغان ستر ملت د یووالي ګوند » جوړ کړ. ډاکټر جلیلي په ۱۳۷۷هجري لمریز کې پاکستان پریښود او دمګړۍ په هالنډ کې ژوند کوي. د ۱۹۸۹م کال په مني کې د پوهاند سیاف د پخواني مرستیال، انجنیر احمد شاه احمدزي او د جمعیت اسلامي د منشي۔، سید نورالله عماد هراتي له خوا، د پیښور په کانټی ننټل هوټل کې د لویې جرګې سره د مخالف په پار یو تنظیمي کنفرانس جوړ شوی وو چیرته چې ما هم د یو خبریال په توګه ګډون درلود. کله چې جلیلي د خبرو او وخت غوښتنه وکړه نو د تالار له هر کونج څخه د خلقي، خلقي نارې شوې او نوموړي ته نه یواځې دا چې د خبرو وخت ورنکړل شو، بلکې غوښتنه تری وشوه چې په سوله ایز ډول له صحنې څخه د باندی ووځي. زه اوس هم د پخوا په شان، د ډاکټر جلیلي د خلقي عقیدې او سیاست سره هیڅ اتفاق نه لرم، خو د انساني کرامت او یو کونړي په صفت، په دومره غټ مجلس کې د هغه د سپکاوي او شړلو مخالف ووم او یم.

## ډاکټر داود جنبش

نومیالی ژورنالست، ویاند او لیکوال، محمد داود جنبش په هرات کې زېږېدلی، خو پلرنی ټاټوبی یې د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالي ده. زده کړې یې له جلال آباد نه پیل کړې او د هیواد په شمال کې بېلا بېلو سیمو ته اوړېدلی شوې. تر ښوونځي وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي ته بریالی شو؛ لیسانس یې واخیست او د ژورنالیزم په څانګې کې استاد شو. په ۱۹۸۷ کال کې د مسکو دولتي پوهنتون ته لاړ او له هغه ځایه یې خپله پي، ایچ، ډي (ډکټورا) ترلاسه کړه. له ۱۹۹٤م راهیسې د بي بي سي له پښتو او دري څانګو سره لومړی په مسکو کې د خبریال او بیا په لندن کې د پروډیوسر او ویاند په توګه کار وکړ. په ۲۰۱۹ کې پراګ ته لاړ او د ازادۍ راډیو د پښتو او دري څانګو ایډیټر شو.

په لیکل شوو کتابونو او ژباړنو کې یې د کابل پوهنتون د محصلینو لپاره درې درسي کتابونه او یو شمېرعلمي مقالې د یادونې وړ دي. دوه نور کتابونه یې له روسي ژبې نه پښتو ته ژباړلي چې په ۱۹۸۰ کلونو کې د افغانستان په جګړو کې د ښکېلو دوو جنرالانو خاطرې دي. ډاکټر جنبش تر ټولو لوی زیار، پر سراج الاخبار کړې دی؛ دغه ورځپاڼه یې په څو جلدونو کې په کتابي بڼه، په ډېرې معیاري پښتو او دري راټوله او د مطبوعاتو مینه والو ته وړاندې کړه. جنبش په ۱۹۹٦م کال کې د طالبانو له مشر، ملا محمد عمر سره مرکه وکړه او د څو کالو لپاره یې د ازادې جرګې په نوم د بي بي سي لپاره د یو بریالي پروګرام کوربه توب وکړ. داود جنبش واده کړی، دوه لوڼې او یو ځوی لري، تازه د ۲٦ کلن مسلکي کار

څخه تقاعد شوی دی.

## وکیل، جاوید صافی

په ولسي جرګې کې د کونړ د خلکو ځوان او هڅاند استازی، جاوید صافی د معلم عمر ګل زوی دی. هغه په ۱۳٦۴ لمریز کال کې د څوکۍ ولسوالۍ اړوند، د دیوه ګل درې د سیرۍ په کلي کې دنیا ته سترګې غړولې دي. خپلې دیني زده کړې یې د هجرت په مهال، د جلوزو کمپ (هجرت کلي) د عمرو بن حزم په مدرسه کې کړې دي. ثانوي دوره یې د ثقافت په عالي لیسه کې، د اقتصاد ډیپلوم یې په پېښور کې او د انګلیسۍ ادبیاتو لیسانس یې د ننګرهار له اسلامي پوهنتون څخه ترلاسه کړې دی. د مشرتابه (لیډرشپ) په برخه کې یې لوړ تحصیلات کړي، د باختر له پوهنتون څخه یې ماستري اخیستې ده. صافي په اقتصادي چارو کې د امریکا له سفارت سره د مشاور په صفت، پنځه کاله دنده اجراء کړېده.

وکیل صافي په واشنګټن ډي، سي کې د افغان سفارت د انګړ دننه، د دیوال په جوړېدو کې غټه درغلي رسوا کړه او د ککړو خلکو د محاکمې په اړه د راپور په ورکولو سره یې ډېر ښه شهرت ترلاسه کړ. همدارنګه نوموړی په کونړ کې د خیریه مؤسسو سره د مالي همکارۍ او هم له دولتي پروژو څخه د څارنې په هکله ډېر فعال او جدي ښکاري. د ځوانانو د تعلیمي بهیر د ښه والي په اړه یې د ۵۰۰ محصلینو سره د سکالرشپ او مالي همکارۍ کې په لړ کې له خپله اړخه ستره ونډه اخیستې، کومه چې د نورو د هڅونې لامل ګرځېدلې او د مننې مستحق دی.

## بادام ظریفي فقیر

د څوکۍ ولسوالۍ په لیکوالانو او مدني فعالانو کې یو هم بادام ظریفي فقیر دی. د پلار نوم یې باشي محمد ظریف، په ختمه ګربز او په ۱۳۲۶ هجري لمریز کال کې د شلوتۍ په کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د څوکۍ په ابتدائیه ښوونځي کې کړې دي؛ د زراعت له لیسې څخه فارغ شوی او مسلکي دنده یې د جلال آباد د شاهي قصر په باغ کې پیل کړې ده. په ۱۳۵۷ کال کې پیښور ته کډه شو، د افغان ټولنپال ولسواک ګوند (افغان ملت) او د ځینو نورو کلتوري ټولنو او مؤسسو سره یې خپلې سیاسي اړیکې جوړې کړې. د طالبانو د امارت له ړنګیدو وروسته بیرته وطن ته راستون شو، په ۲۰۰۱م کال کې د نصرالله ارسلایي تر مشرۍ لاندې یې د ارواښاد قومندان عبدالحق د ټولنیزو خدمتونو اداره جوړه کړه.
ظریفي د دغې ادارې د فرهنګي چارو د مدیر په توګه وکولای شول د (افغان یووالي) په نوم د خپرونې چارې پرمخ بوزي، د شهید حاجي عبدالقدیر او شهید حاجي عبدالحق د ژوند او خدمتونو په اړه د (دستار سړي) په نوم د دریو ټوکو د یو کتاب اهتمام وکړي. نوموړي په ۱۳۸۶ لمریز کې د یو شمیر یادو شخصتونو په ملیتا چې ډاکټر زیارمل، حاجي نور آغا ملکزی، غوث حیدري او ډاکټر ریحان الله هم په کې ګډون لري، د مدني ټولنو د انسجام یوه شوری رامنځ ته کړي چې اوس هم ځینې فعالیتونه لري. په ځینو افغان ویبپاڼو کې د مقالو په لیکلو سربیره (د افغانستان نن، پرون او یوه لار) په نوم یو کتاب لیکلی او چاپ کړی دی.
بادام ظریفي په ۱۳۹۱ لمریز کې د افغان ملت له ګوند څخه استعفی وکړه او په کور کیښناست.

## د ځوکۍ او دیوه ګل درې مخه ور مشران

وکیل میر باز خان او ملک زرین خان. د شلوټۍ ملک سردار، د کلمانۍ ملک سید محمد، د بابړو ملک عبدالله، ملک تجور خان، ملک سر انداز، ملک زړور خان او ملک یاسین خان. ملک فضل، ملک عبدالرؤف، ډاکتر سلطان محمد، ملک علیم خان، ملک فتحو خان، د کلمانۍ پیلوټ دین محمد صافی، ملک عبد الغني، ملک هاشم خان او مولوي ابراهیم. د جهاد په دوره کې دلته ځینی مشهور قوماندان او مشران په ټولنې کې مطرح شول، لکه د اسلامي حزب ارواښاد مولوي غلام رحمن، ډاکتر حمیدالله او د اتحاد اسلامي معلم محمد امین. ملک میا سید، ګل میا صاحب، د جمعیت اسلامي قاضي محمد حکیم، ډاکتر صادق، د بابړو معلم علي رحمان، ملک ګل جان، ډاکتر علي محمد، شین ګل، لعل شاه، معلم علي رحمن. ښاروال محمد طاهر وطنیار، قاری دین محمد، میر اعظم خان او حاجي عبد الخالق.

د ساپو د جنګ مشران: سلیمې، شهسوار، امان الملک، ملک مامونډ. ملک قلم دین، ملک محمد عمر، محمد عثمان پاچا، مولوي سید جمال استاد، ملک عبدالله او ملک ممتاز. د ګډیګال څخه ملک عبدالکریم. له چمبیل څخه ملک محمد عمر او ملک حیدر خان. ملک محمد جان، ملک ایرانی، ملک میر رحمان، ملک سید الرحمن او ملک انځر ګل. له کربوړۍ څخه ملک مامون او ملک شاه سوار. له پلار درې څخه ملک خان محمد او ملک ګل زار. له بادینزو څخه ملک جمیل، ملک فراز او ملک بادام خان. له امرۍ څخه ملک نجړوم، ملک غونډکی، ملک کلام او ملک منور. له اندر لچک څخه ملک محمد قادیر او ملک عبدالخالق. له سپیدار څخه ملک حضرت عظیم. له بدګوړ څخه ملک قلم دین، ملک

سید احمد خان، ملک وکیل، ملک دان محمد، ملک سید کریم، ملک نوریش، ملک بیړا، ملک حبیب گل، ملک ولي جان او ملک میرزا د یادولو وړ سپین ږیري دي.

## ۵- خاص کونړ

د ډیورنډ د لیکې په شمالي پولې پرته د لومړۍ درجې د خاص کونړ ولسوالي، یو مهال د همدې ولایت مرکز وو. د حکمراني او لویې ولسوالي په تشکیل کې هم خاص کونړ، د پنځو ځخه یوه ولسوالي وه. د ټول ولایت په کچه، لومړنۍ دولتي ابتدائیه ښوونځی همدلته جوړ شوی دی، د امانیه دورې قاضي القضات، مرحوم امیرالله یوسفزی هم د خاص کونړ وو. د پښتو سندرو د جادوګر غږ خاونده، ګلنار بیګم او د کلیوالې موسیقۍ مشهوره څیره، اروانښاد ګلا جان استاذ هم د خاص کونړ وو. د دې ولسوالۍ شمال ته د کونړ سیند، ختیځ ته د سرکانو ولسوالي او لوېدیځې خوا ته یې د ښېوې ولسوالي ده چې پخوا کوز کونړ بلل کیدله. مځکنی مساحت یې ۳۲۵ کیلو متره مربع دی، دری زره هکتاره کرنیزه مځکه لري او د کلیو شمیر یې ۸۱ دی.

لیکوال، سیاستوال او زما محترم دوست، شاه محمود میاخیل په خپلې څیړنې (د کونړ سیاسي او قومي جوړښت) کې لیکي: د خاص کونړ ولسوالي په پنځو ونډو تقسیم شوې ده، چې بیا هره ونډه په کلیو باندې ویشل کیږي او هر کلی بیا په پلرني سهم تقسیم دی. په دې وروستیو کلونو کې د خاص کونړ د ولسوالۍ سره د شالۍ او ولۍ په نامه شپږمه ونډه هم اضافه شویده چې پخوا د شالۍ او ولۍ د قبایلو په نامه یادېدې مګر د دې سیمو خلکو تذکرې نه لرلې. تفصیل یې په لاندې ډول دی.

## د خاص کونړ مشهور کلي

منگوال: د دې کلي ولس اکثره په ختهٔ اتمرخېل مومند دي او د مزري چینې له سیمې څخه دلته راغلي دي. ویل کېږي چې د منگوال نفوس پخوا زر کوره حساب شویدی، خو د ثور له کودتا وروسته د جهاد په کلونو کې د دې کلي ټول ولس مهاجر او کنډواله شو. اوس تقریباً دوه سوه کوره بېرته دې کلي ته را ستانه شویدي. د منگوال میا صاحب چې نوم يې سید محمد نعمان دی، د غازي امان الله خان په وخت کی د پېچ د درې حاکم وو. نوموړی اصلاً د کامې ولسوالۍ د مست علي د کلي اوسېدونکی او د میاعلي صاحب له کورنۍ څخه دی چې د ثمرخېلو په سیمه کې مشهور زیارت لري او لیوني او ذهني ناروغان ورته راوړل کیږي. د منگوال میا صاحب یو دیني عالم، د قرانکریم حافظ او په عین حال کې د پیچ ولسوال هم وو. بیا یې سیاست پریښود، ځان یې د پیری او مریدۍ ترڅنگ د اسلامي ارزښتونو تدریس ته وقف کړ.

چمیارۍ: د دې کلي په اړه ویل کیږي چې چمیار یو هندو مذهبی او د سیمې اصلي استوگن وو، نو له مرگ وروسته يې دا کلی د چمیارۍ په نوم مشهور شو. د چمیارۍ کلی درې سهمه لري چې د چمرخېل، عطاخېل او د منجیانو په نامه یادېږي. چمر او عطا د چمیار ځامن وو او منجیان د مزار درې د اربټ او شوماش څخه راغلي کډوال دي. د منجیانو ژبه پخوا دیگاني ژبه وه چې اوس هم د وټه پور په یوه محدوده سیمه کې ژوندۍ ده. د چندراو او لوټانو په وندهٔ کې نیمایي برخه د لوټانو ده. د ولسي جرگې اروانباد مرستیال او د کونړ سیاسي شخصیت، محمد معظم اخوند زاده چې په ختهٔ یوسفزي دی، کورنۍ یې په همدې کلي کې میشت ده. په

چندراو کې مومند، ساپي، یوسفزي، ترکاڼان، جاله وانان او جولاګان هم اوسېږي.
تنر د کونړ د ولایت مرکز پخوانی مرکز او د عالمانو، عسکري صاحب منصبانو او مشهورو ملکانو کلي بلل کیږي. د صاحب جم، چاراکې کلي او د لوټانو نیمایي سیمه، میاګانو کلی، رین، چار کلا، کرموټیا، کلالان، زرګرانو بانډه، سید بانډه او طلا بانډه د تنر برخه ده. لکه چې پاس یادونه وشوه، د امانیه دورې قاضي القضات، امیر الله خان یوسفزی په ۱۳۰۳ هجري لمریز کې په ترکیه او بخارا کې د افغانستان سفیر هم وو. د نوموړي پلار، جمال الله هم د خپل وخت مخور قاضي وو. د بانډې او اراضي ګانو په ونډې کې کوزه او بره اراضي، کوکې بانډه، قلاګۍ، لغاني او د بانډې نیمایي برخه، دې کلي کې شامل دي. د اراضۍ سیمه د خاص کونړ د ولسوالۍ مرکز ته نږدې ده او خلک یې له تعلیم سره خاصه مینه لري. د کولي ګرام (حکیم آباد) او شامکار ونډه کې د کولي ګرام ډاګ کلی، د کولي ګرام لاندې کلی، صاحب زادګان، اخوند زادګان، کوز سرای، بر سرای، شیخان، آهنګران، شامکار او د یوسف کورونه شامل دي.
د شالۍ او ولۍ ونډه دوه تقسیمه ده. د شالۍ ولس زوپیالي خېل مومند دي چې په هغو کې بره شالۍ، کوزه شالۍ، یخه چینه، ماڼوګۍ او شجاع کلی راځي. د شالۍ کلی له ډېر پخوا نه په دوه ګوندیو ویشل شوی دی. د ولۍ په سیمه کې د کلاول،، توتکي، اوبو تنګی، ننګوسې، میرګل تنګي، کربه ډاګ، سپینکۍ، برچنچن، کوز څپرې، بر څپرې، شنیلۍ، آنارو کلی او کنډوالې کلي شامل دي. د ولۍ د سیمې ولس بوټي خېل مومند دي، یو څو کوره فرمولي هم په بر څپري او د کنډوالې سیمې کې

اوسیږي. د بر چنچن او انارو د کلیو ولس باره خپل مومند دي.

## ډاکټر محمد کبیر ستوری

کله چې د اراوا پوهنې، قومي سیاست او ولسواکۍ خبره اتره کیږي، نو جوخت ورسره د ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري نوم هم یادیږي. د ده له فکر، مبارزې او شخصیت سره د لر او بر پښتانه ښه اشنا دی. دغه سیاستوال، شاعر او د ساپوهنې متخصص، په ۱۳۲۱ لمریز هجري (۱۹۴۲م) کې د خاص کونړ د تنر په کلي کې زیږیدلی دی. د پلار نوم یې لعل محمد خان او نیکه یې میرزا محمد جان نومیده چې د خپلې سیمې یو مخور او د لیک لوست خاوند وو. د ډاکټر ستوري نیکونه د یوسفزو د میر داد خیل له ټبر څخه دي چې ډیر پخوا له سوات او مردان نه دلته راغلي او میشت شوي دي. ستوري خپلې زده کړې په تنر کې پیل او ثانوي پړاو یې د کابل په رحمان بابا لیسې کې سرته ورسولو.

د ښو نمرو په لاسته راوړلو سره، د اعلیحضرت ظاهر شاه د حکومت له خوا په ۱۹٦۴م کال کې د یو دولتي بورس له لارې د جرمني د فرانکفورت پوهنتون ته واستول شو چې د سایکالوجۍ (اروا پوهنې) په څانګه کې لوړې زده کړې وکړې. په ۱۹۷۳م کې له فراغت وروسته یې د المان غږ راډیو د پښتو ډیپارټمنټ کې د ویاند (نطاقۍ) دنده شروع کړه چې بیا د همدغې څانګې مدیر وټاکل شو. څه موده وروسته یې د خپلو همفکرو دوستانو په همکارۍ (د پښتنو ټولنیز ولسواکیز ګوند) جوړ کړ او هغه یې مشر وټاکل شو؛ د کوزې پښتونخوا ځینې ځوانان هم ورسره مل وو. د

ډاکټر ستوري مشر ورور، عبد الجلیل ملنگ د ولسي جرګې غړی وو؛ کشر ورور یې محمد نعیم خان نومیده او د شپږو خویندو ورور دی.
ستوري د خپل مسلک او سیاست په اړه ګڼ شمیر کتابونه لیکلي او زیاتره یې چاپ شوي هم دي؛ په هغو کې سکروټه، پښتونخوا، ژوندي خیالونه، سندریز پیغام او خوږې مصرۍ ترعنوانو لاندې په پنځو شعري ټولګو کې دي. همدا شان وېره، هوښیارتیا، د وېرې تله، د قلم توره، د هوښیارتیا تله، ژبسا پوهنه، د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله او د خوب مانا په نومونو دي چې د اروا پوهنې (روانشناسۍ) په هکله دي. دغه ټول کتابونه په کوزې پښتونخوا، جرمني او افغانستان کې چاپ شوي دي. ما له ډاکټر کبیر ستوري سره په جرمني کې د ټلیفون له لارې خبرې وکړې ترڅو د هغه د روغتیا پوښتنه وکړم. له ما سره د ده وروستۍ خبره همدا وه چې « زه ښه یم، ښه کیږم او د ژوند کاروان هیڅکله د چا په ودریدو نه تم کیږي». ارواښاد ستوری د ۲۰۰۶م کال د اپریل د میاشتې په څلورمه نیټه په جرمني کې ومړ او بیا یې جنازه کونړ ته یووړل شوه ترڅو په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شي.

## قاضي، عصمت الله روحاني

ارواښاد قاضي عصمت الله روحاني، لکه څرنګه چې یې نوم دی، همداسې په یوې روحاني او عالمې کورنۍ کې په ۱۹۳۷م کال کې د اګست په دریمه نیټه د بلخ په ولایت کې زیږیدلی دی. پلار یې مرحوم مولوي حمد الله چې په قاضي بزرګ باندې مشهور وو، د نوموړي د پیدایښت په مهال د غازي امان الله خان لخوا په مزارشریف کې قاضي ګمارل شوی وو. نیکه یې مولانا نقیب الله پشدی نومیده، د هندوستان د

دیوبند لـه مشـهورې مدرسـې څخـه فـارغ شـوې وو. قـاضي عصـمت الله روحاني لومړنی ښوونځی د بلخ د شاهي کوټ په احداد کې ولوست، بیا په کابل کې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په عالي مدرسه کې شامل او پـه ۱۳۳۱ لمریـز کـې کـال کـې لـه دولسـم ټـولګې څخـه فـارغ شـو. د کابـل پوهنتـون د شرعیـاتو پـوهنځی تـه کامیـاب او پـه ۱۳۳۵ کـال کـې یـې د لیسانس شهادتنامه ترلاسه کړه. ۱۹۷۲م کال کې یې د آسټرالیا د سیډني له پوهنتون څخه د انګریزي ژبې کورس بشپړ کړ او درې کالـه وروسـته د افغان حکومت له خوا د جاپان د ټوکیو دولتي پوهنتـون تـه واسـتول شـو، ترڅو د معاصرې قضا نوی میتود ولولي او په دې برخه کې ډګري واخلي.
له پنځه ویشت کاله قضا او د هیواد په علمي او عدلي څانګو کې د رسمي دندو په پای کې اړ شو چې د کمونست رژیم لـه ظلمونـو څخـه پیښـور تـه کډه وکړي. د مهاجرت په شپو ورځو کې یې د ځینـو پخوانیـو همکـارانو او ځوانو کدرونو په مرسته د (افغاني حقوق پوهانو ټولنه) جوړه کړه. پـه عـین وخت کې یـې د فرهنګپـالو دوسـتانو سره یـو ځـای د شـورویانو د یرغـل او خپل ولس د دفاع په خاطر، لیکنې او څیړنې کولې. په ۱۹۹۳م کال کې د کورنیو جګړو او جهادي تنظیمونو د خپلمنځي اختلاف له امله یـې کانـاډا ته کډه وکړه، ولې له خپلو خلکو او وطن سره یې اړیکې همداسی مزبـوتې وساتلې.
په ټورنټو کې د اوسیدو په مهال یې ګڼ شمیر لیکنې وکړې او د «روحاني سلګۍ او روحاني رڼا» او «معنوي ښکلا» پـه نـوم دوه کتابونـه ولیکـل. د اروابناد روحاني صیب مشره خور، زما د اروابناد کاکا، قـاضي غـلام حیـدر ملکزي میرمن وه، نو ځکه موږ ټولو کشرانو به هغه ته قاضي ماما ویلو. په کلیفورنیا کې د روحـاني صـیب لـه ځـوی او زمـا د قدرمنـد دوسـت، ډاکټـر

کمال روحاني څخه منښه کوم چې دغه دواړه کتابونه يې ماتـه ډالـۍ کـړي دي. دغه نوميالی قـاضي، ليکـوال او ټـولنيز شخصـيت د ۲۰۱۷م کـال د سپټمبر د مياشتې په ۲۴ نيټه په کاناډا کې وفات او خاورو ته وسپارل شو.

## د منګوال مياعلي صيب

د ميا صيب اصلي نوم سيد محمد نعمان دی؛ د تصوف د قادريه ګروپ له ماذونانو څخه وو چې د هډې صيب (ملا نجـم الـدين اخونـد زاده) نـژدې ملګری او پيرو وو. ملا نجم الدين آخنـد زاده د مـلا عبـد الغفـور آخنـدزاده ځوی دی، د غزني له شلګر څخه ننګرهار ته راغلی وو. خپل بچي يـې نـه درلودل، ولی د زرګونو مريدانو او لسګونو ماذونـانو ترڅنـګ يـې غټـه لنګـر خانه درلوده او په ختيځو ولايتونو کې د زښته زيات مذهبي او سياسي نفوذ څخه برخمن وو. لـه همـدې املـه، لـه مـرګ څخـه وروسـته د افغانسـتان حکومت د سيمې د خلکو د غوښتنې پر بنسټ، په ۱۳۱۱ لمريز کې د نجـم المدارس په نوم د هډې په سيمه کې يوه لويه مدرسه جوړه کړه چې تر ننـه آباده ده او په زرګونو خدای پرست او هيواد دوست دينـي عالمـان ورڅخـه فارغ شوي او دغه لړۍ روانه ده. (يادونه: ماذون، يوه عربي کلمه ده چې له اذن څخه اخيستل شوې او هغه چا تـه ويـل چـې د يـو کـار، خـبرې او دندې اجازه له ځانه سره ولري).

## شاه محمود مياخيل

سياستوال، ليکوال او دولتي چارواکی، شـاه محمـود مياخيـل د اروابنـاد، مدير سيد محمود حسرت ځوی په ۱۳۳۷ هجري شمسي کال کې د کـونړ

ولایت، د خاص کونړ د منګوال په کلي کې زیږیدلی دی. د کورنۍ شجره یې د ننګرهار میاعلي صیب ته رسي. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د کونړ په ګډون په مختلفو ولایتونو کې سرته رسولي، په ۱۳۵۵ لمریز کال کې د خاص کونړ د لیسې نه فارغ شوی دی. د کانکور د ازموینې وروسته د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي ته بریالی شو، تر دریم ټولګي پورې یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. په افغانستان کې د غوایي له خونړۍ کودتا وروسته د ۱۳۵۸ لمریز کال په سر کې کوزې پښتونخوا ته د خپلې کورنۍ سره کډوال شو. پیښور کې یې د ادارې او منجمنټ په برخه کې د پریسټن پوهنتون څخه د ماسټرۍ ترکچې پورې خپلې لوړې زده کړې سرته ورسولي او هم یې په سیاسي علومو کې د لیسانس او دوهمه ماستري په هسپانیه کې د برچم له نړیوال پوهنتون څخه او د کمپیوټر زده کړې یې د امریکا په ویرجنیا کې سرته ورسولې.
شاه محمود میاخیل د ۱۹۸۲م - ۱۹۸۴م کلونو کې د انټرو پالوژۍ په برخه کې د امریکا د ویلمز کالج سره په همکارۍ د افغانستان او افغاني کډوالو په هکله څیړنه وکړه چې د دوو کتابونو په بڼه په کلیفورنیا کې چاپ شول. بیا یې د بلجیم د خیریه مؤسسې سره د ښوونې او روزنې په فعالیتونو کې ونډه واخیسته او په زرګونو ځوانان یې د انګریزۍ ژبې او نورو مهارتونو سره اشنا کړل. نوموړی د ۱۹۸۵-۱۹۹۰م کلونو تر منځ په پیښور کې د امریکا غږ راډیو د پښتو او دري ژبو ځایي خبریال وو. بیا یې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې سره کار وکړ او په ۲۰۰۲ م کال کې د هیواد په ختیځو ولایتونو کې د بیړنۍ لویې جرګې په ټاکنو کې د ملګرو ملتونو د یونما د دفتر سلاکار وو. له ۲۰۰۳ - ۲۰۰۵م پورې د کورنیو چارو وزارت اداري معین؛ په ۲۰۰۹ م کال کې په افغانستان کې د متحدو

ایالتونو د سولې د انستیتوت رئیس او په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د ننګرهـار د والي په توګه وټاکل شو.

شاه محمود میاخیل د ۲۰۲۰م کال پـه جـولایي کـې د افغانسـتان د مـلي دفاع وزارت د لومړي مرستیال او سرپرست وزیر په توګه وټاکل شـو او پـه دی وروستیو کې د قطر هیواد ته د افغانستان د سفیر په توګـه وروپیژنـدل شو چـې شـاید ډیـر ژر خپلـه ډیپلوماټیکـه دنـده پیـل کـړي. شـاه محمـود میاخیل څوارلس کتابونه څه پخپله لیکلي او څـه یـې ژباړلي دي چـې پـه هغو کې د کونړونو ولایت سیاسي او قومي جوړښتونه، د شهید نقیب احمد په یاد، غوره لیکنې، دودونه او تاریخي پیښې، د واقیعتونو په بهیر کـې، د کورنیو چارو وزارت لاسته راوړنې او خنډونه، بیړنۍ لویه جرګـه، پـه ختیځـو ولایتونو کې د ټاکنو بهیر او د وطن معماران یې د عبدالقیوم مشوانې سره په ګډه لیکلی دي. نوموړي د کور دننه او بهر ډیر مډالونـه او تقـدیر نـامې اخیستي، واده یې کړی، د اوو اولادونو پلار دی.

په مننۍ سره باید ووایم، کله چې ډیر کلونه وړانـدې مـوږ امریکـا تـه کـډه وکړه، نـو میاخیـل صـیب اولنـې وطنـدار او دوسـت وو چـې د خپلـې ټـولې کورنۍ سره د میریلانډ په ایالت کې زموږ سټري مه شئ ته راغی. بیـا یـې بله ورځ موټر رااووست، په خپل کور کې په میلمستیا سربیره، د هغه ځـای د سیل لپاره اوږد چکر هم راکړ چې زه یې هیڅکله هم نه شم هیرولای.

## د خاص کونړ مشهور خلک

د میاخیل د خیږنې په رڼـا کـې، نومونـه دا دي: ملـک شـیر محمـد خـان، ملک شیر افضل خان چـې پـه صـوبدار صـاحب مشـهور و، ملـک امانـت خان، ملک عبد الوکیل، ډګروال شیر افضل خان مومند، ملک نور افضل، ملتان ملک، نادر خان ملک، مدیر سیف الرحمن خان، وکیل عبد القادر،

مدیرعبد الباقي خان او سید حنیف پاچا. د منګوال ملکان حاجي عبد القیوم، ملک محمد آصف، ډګروال بهادر خان، میر سلام خان او انګور ملک. د چمیارۍ ملک محمد طاوس، ملک محمد حنیف، ملک ناصر، ملک غلام حسن، ملک محمد کریم او سرکاتب سید امین. د چندراو او لوټانو فراز ملک، ذوالفقار ملک، حاجي عبد العلي، غازي محمد خان، ملک محمد علي، ملک خلیل، ملک شېر زمان او حاجي یاد ګل. مولوي صفي الله، حاجي محمد عبدالله، ملک روح الله، ملک حیات الله، ملک عبدالولي او ملک مرجان.

د ولۍ د سیمې ملکان؛ ګل محمد ملک، عثمان ملک، نبي جان، عمر ګل، محمد حاجي، لالا ګل، حکیم خان، نادر، جلیل ملک، ملک محمد علي، ملک نوروز او ملک اسرار. د خاص کونړ د سیمې ښه جید عالمان لکه مولوي محمد حسن اخوند زاده، مولوي عبدالحنان استاد او د کولي ګرام مولوي مشهور. مولوي ګل رحمان، مولانا محمد اجمل حکاک، مولوي عطاء الله، مولوي مطیع الله، مولوي سمیع الله، مولوي محمد اسرائیل صاحبزاده او مولوي عبدالخالق. د جهاد په کلونو کې د خاص د کونړ د سیمې مشهور جهادي مشران او قوماندانان؛ ارواښاد مدیر سید محمود حسرت، حاجي غازي خان، ځارنوال محمد صالح، قوماندان ظاهر خان، ګل سید میا، مولوي نظرمحمد، استاد عبدالصبورعزیزي، مولوي غلام حسن چې په صحاف ملا باندې شهرت لري، سخي صاحبزاده، محمود جان، ملک محمد جان، د کاوړ ګوجر، غني، مامور او عبدالوهاب چې د قوماندان ظاهر خان ورونه وو. حبیب الله منځنی، اکا جان، خیالي ګل، طالب، ګلاب او اول خان حاجي.

د تنر په نورو مشهورو مشرانو کې میرزا غلام سرور اخوند زاده، میرزا عزیز

خان اخوند زاده، میزرا محمد جان خان، لعلو جان، وکیل عبد الجلیل ملنګ، ارکان حرب ډګروال فضل ربي خان، دیپلوم انجینر غلام رضا، د کابل پوهنتون استاد جلال الدین خان کونړی، د هوایي او مدافع هوایي قواو پخوانی قوماندان جنرال غلام سخي او مرحوم مولوي عبدالحنان.
ملک عبدالجلیل، ملک عمرا خان، ارباب اسد الله، ملک عبد الظاهر، ملک محمد معصوم، ملک میرویس، ملک محمد نادر خان او ملک علي سید. وکیل محمد ګل خان، حاجي خدای رضا، حاجي علي رضا، علاقدار محمد حسین خان، ملک محمد صدیق ارباب، دیپلوم انجینر نېک محمد خان او د ډاکټر سید قاهر عاطف نومونه د یادولو وړ دي.
د باندېي او اراضی په مشرانو کې وکیل عبد القدیر، په ولسي جرګه کې د خاص کونړ استازی ظاهر منطق، مدیر حبیب الرحمن خان، مدیر محمد رحیم خان، مدیر غني ګل، میا ګل ګودام دار، حاجي جلاد خان او ډاکټر غلام حیدر رفیقي د دغه ونډ اوسېدونکي دي. د دې ونډ ملکان حیات الله، ډاکټر بصیر، معلم نورالله، ملک عبد الستار، ملک محمد جلیل، ملک طاوس، ملک مقبل او ملک ولایت خان دي. د کولي ګرام د کلي په مشرانو کې مولوي ماهر، مولوي عبدالوهاب سوزان، عزیر الله، مدیر رستم، ملک میر حبیب، حاجې سید حبیب او ملا شامکار. ملک محمد نور خان، ملک تاج محمد، ملک ګلستان، ډاکتر مجید، ملک احمد شیر خان، ملک محمد صدیق، ډګروال عبدالقیوم او نظام الدین صاحب زاده.
د شالۍ او ولۍ مشهور مشران، حاجي رضا خان، حاجي عمر، ملک محمد ایوب خان، ملک خلیل او ملک جلیل، خټ ملک، خواری ملک، حکیم خان، نوروز ملک، د کنډوالې حاتم ملک، ایوب خان او امیر جان ملک. مدیر حبیب الرحمن مومند، پوهاند عباد الرحمن مومند او ضیاء

الرحمن مومند.

## ٦- دانګام

دانګام چې اوسمهال د کونړ ولایت د دوهمي درجې ولسوالي ده، په پخواني تشکیل کې د اسمار سره تړلې علاقداري وه. دا ولسوالي له اسعد آباد سره ۴۲ کیلو متره واټن لري؛ مساحت یې ۲۹۰ کیلو متره مربع دی؛ ۵۸ لوی او واړه کلي لري. جنوب او جنوب ختیځ ته یې د ۳۲ کیلومترو په اوږدوالي د خیبر پښتونخوا د دیر سیمه، شمال ته یې اسمار او لویدیځ ته یې د شلتن ولسوالي پرته ده. دانګام دري غټې درې لري: لوی ګریګا دره، سیاڼ دره او د بنسټ شاهي دره. د کرنې مځکې یې لږې دي او د خوړ په اوبو خړوبیږي؛ په کافي اندازه للمې لري خو حاصلات یې د باران پورې تړلي دي. د بنشۍ (بینه شۍ) ستراتیژیکې سیمې ته د شهید، سردار محمد داود د واکمنۍ په وخت کې یو سړک وغځید او هلته یې عسکري چوڼۍ جوړه کړه. د کرښې بلې خوا ته ځیرمه سیمه شاهي نومیږي؛ د کوزې پښتونخوا د دیر اړوند ده. د دانګام د استوګنوغوث اکثریت مشواڼي، سالارزي او مامونډ دي، البته دیګان، سیدان او د ګانشالي یا وردګ په نوم نور واړه قومونه هم شتون لري.

## د دانګام مخور مشران

ملک څرګند مشواڼی، ملک عبید الله خان، ملک عبد الرزاق، ملک زر محمد، ملک شیر محمد، ملک نور کریم، ملک محي الدین، ملک باچا او ملک مکرم. ډګروال ازاد خان مشواڼی، ډګروال محب الله مشواڼي،

قومندان شیر زمان، حاجي خان جان، ولسوال شاه محمود، ولسوال سید محبوب، ډاکټر شکیب، مستوفي زیر خان مشوانی، وکیل سردار خان ماموند او وکیل گل زرین سالارزی. په مشهورو دیني عالمانو کې یې مولوي ابراهیم، مولوي ریاض الله، مولوي محمد اسلام او مولوي اسدالله شامل دي. ملک سلطان، استاذ هنر جان، استاذ منلی او استاذ خان زرین یې نور یاد خلک دي. د کنډو د کلي مولوي تورخان یو تکړه قومي او جهادی شخصیت دی، خلک ورته په ډیر درناوي ګوري. په ۲۰۱۲م کال کې د حاجې مزمن په مشرۍ ولسيـ خلکو د طالبانو او پاکستان د راکټي بریدونو خلاف پاڅون وکړ. نوموړی د خپلو ګڼ شمیر پلویانو سره په اسعد آباد کې د یوې بمې چاودنې په ترځ کې ووژل شو او پاڅون والا یو زړور او شمله ور مشر له لاسه ورکړ. دانګام یو له هغو سیمو څخه دی چې د دولت مخالفین په کې ډیر فعاله او د ډیورنډ د لیکې له بلې غاړې څخه ورباندې وخت نا وخته ړانده راکټي بریدونه کیږي.

## د دانګام غټ کلي

شودن، دو بندی، ګر کوړ، ټانګه، خاره، لوی ګاریګا، وړوکې ګاریګا، بر کلی، لر کلی، ماڼوګې، مانو کڅۍ، ډکه، ډیرۍ، جبه، ماموند، ګانشالی، اوار، ګوړ ګان، طبیله، دیوز، سور کمر، لر سور کمر، زوړ برول، کچلی، تورتم کلی، څاوونه، بنشۍ، خوړ، سیاڼ، بیداد، انځر کوټ، سا بندۍ کلی. جانانی، شډن، بن شاهی کنډو، ډیری، چاقو لک، قاسم کلی، بر کلی، جبه، بیداد کلی، بر سور کمر، هوار، بانډه دنده، شو ګانی، کودوګو خوړ، آهنګران، کر ګام، دیرکی، ټانګه، بانډو خوړ، ګوری ګام، طبیله، غزان، مرخنو پټی، کار کوټ، میخه، کڅ بانډه، خاره موره، بانډی خوړ، ګلی بانډه، بانډه، ولی بانډه، خاره ګی، ساون، برګ ناو، ورګاریګا،

خروپتی، تیبتل، کځ او سره دره.

## ۷- سرکاڼو

سرکاڼو، د کونړ د پنځلسو ولسوالیو څخه یوه سرحدي ولسوالي ده چې د ډیورنډ په لیکې غزیدلې او هغه خوا یې د مهمندو ایجنسي پرته ده. ختیځ ته یې د مره ورې ولسوالي ده کومه چې پخوا د سرکاڼو اړونده علاقداري وه. لویدیځ ته یې خاص کونړ، شمال ته یې د کونړ سیند او پورې غاړه له اسعد آباد او نرنگ سره نښتې پولې لري. سرکاڼو لا هغه وخت هم د پنځو څخه یوه ولسوالي وه، چې د کونړ ولایت لویه ولسوالي او د ننگرهار مربوط وه. مساحت یې ۲۹۷ کیلو متر مربع دی او د غنمو او وړو کلیو شمیر یې ۹۲ ته رسي. د گنجگل مشهور کلی د دې ولسوالۍ یوه ستراتیژیکه برخه او د شوروي یرغل په مهال د سترو جگړه شاهده وه. د گنجگل د نفوسو شمیر د یو نیم زر تنو په خواو شا کې اټکل شوی دی. ملک محمد میران او امیر شهید یې مشهور مشران او په ختمه ترکاڼي دي خو دوۍ ځانونه په سالارزو گڼوي. د باروگۍ څیرمه سیمه چې په ختیځ کې له مره ورې سره نښتې ده، تقریبا درې سوه تنه نفوس لري او شهید عبدالله جان یې له یادو خلکو څخه گڼل کیږي، د میاخیلو په ټبر ورگډیږي. د سرکاڼو بله مشهوره سیمه، گلا پړۍ ده چې د پشد په پاسنۍ برخه کې د ډیورنډ په لیکې پرته ده او خلک یې په قوم هډوخیل دي. دلته د جهاد په مهال د اتحاد اسلامي (پوهاند سیاف) د گوند یو جهادي غونډ وو چې د کریړ په نوم یادیده. د شوروي اتحاد سرو لښکرو د ۱۹۸٦م په پای کې د شپې له خوا په دغه غونډ باندی یرغل وکړ چې څوارلس تنه مجاهدین په کې شهیدان شول. په عین حال کې روسي ځواکونو ته همستره مرگ ژوبله اوښتې وه. د دغه خونړي برید په سبانې ورځ ما (ملکزی) په خپله د کریړ په جگه څوکه کې د دو کیوبایي کوماندو مړي ولیدل چې یو مجاهد ورڅخه بوټان ایله کړل او بل یی جیبونه تلاشي کړل، گوندی که هغه هم څه غنیمت ترلاسه کړي. د همدې ورځې په

ماخوستن روسان بیا راغلل او هغه مړي يې له ځان سره یووړل.

## د شونکړۍ دره

شونکړۍ د سرکانو ولسوالۍ تر ټولو غټه دره ده، ۲۲ ویشت کلي لري. دره د ملاګورو له کلي څخه چې د پشد د کلي په لویدیځ کې دی، پیل او آخرنې کلی یې شیخال نومیږي هغه د کربښې د هغې غاړې د میټې سره نښتې دی. انځري ملا صیب چې د شونکړۍ د ګرګې د کلي استوګن وو، د هډې صاحب د کلکو لارویانو څخه شمیرل کیده. هغه یو روحاني سپن ږیری او په خپلې سیمې کې د ډیر درناوي څخه برخمن وو. د سرکانو یو تعلیم یافته کس له ما سره په خبرو کې وویل چې انځري ملا صیب د دوۍ د کورنۍ نژدی دوست وو، د جمعې په ورځ به سرکانو ته د میاصیب زیارت او جومات ته راتللو. ږیره یې سپینه وه، لږ خوراک به یې کولو او یوه ډله مریدان او مینه وال به هر وخت ورسره ګډ ګرځیدل. دغه مخور او اغیزمن شخصیت په ۱۳۴۰ لمریز کال کې په حق رسیدلی دی. انځري ملا صیب خپل اولادونه نه لرل، خو یو وراره یې عبدالمجید نومیده، په کابل کې د امام ابوحنیفه له عالي مدرسې څخه فارغ شوی دی. نوموړی د جهاد او هجرت په مهال په کراچۍ کې اوسیده. سلفیانو د خپلې واکمنۍ په ترخ کې په یادې سیمې کې ټول غټ قبرونه، زیارتونه او ګومبزې هوارې کړې، خو شونکړیوالو پرینښودل چې د انځري ملا صیب د قبر او ګومبزې سره غرض وکړي.

پشد د سرکانو تر ټولو ګڼ نفوسه کلی، د کونړ د سیدانو اصلي ټاټوبی او د سید محمود پاچا د واکمنۍ مرکز ګڼل کیږي. ورغالی، ډمن، بحر آباد، چینګۍ، نولۍ، دونایي، ټانګو، ناوه او بیله یې نور مشهور کلي دي. د

سرکاڼو په ولسوالۍ کې پاچایان، الکوزي، شینواري، ترکاڼان، سالارزي، مشواڼي، صافي او یو شمیر دراني اوسي چې نژدې یوه نیمه پیړۍ وړاندې له قندهار څخه دلته د پوځي قطعاتو سره د خدمت په موخه راغلي او بیا همدلته پاتې شوي دي. د سوق الجیشي ـ اهمیت لـه مخـې، شهید داود خان د خپلې واکمنۍ په وخت کې دلته یو عسکري کنډک ځای په ځای کړ چې د ننګرهار د یولسمې فرقې برخه وه. بلـه دا چـې د سرکـاڼو لـه پـل څخه د ناوه پاس تر خوړې چینې پـورې یـې سـړک وغـزاوه او څیرمـه یـې ورته چونۍ هم ورغوله چې تر اوسه آباده او د سرحد د څارنې او امنیت مهمه دنده په غاړه لري.

کله چې په ١٣٦٧ لمریز کـې کـونړ دهیـواد د لـومړني ولایـت پـه توګـه، د کمونست رژیم څخه آزاد شو، د ناوه پاس اهمیت له حده زیات اوچت او د موټرو د تګ راتګ اصلي لاره شوه. د څلور واړو ختیځو ولایتونو اکمالات، د ناروغانو انتقال او حتی د چارتراشو د قاچاق لاره وګرځیده. د یوې تورې او بدرنګې مرحلې پـه توګـه، پـه سرکـاڼو کـې د اسـلامي حـزب او جماعـة الـدعوة الـی القـران والسـنة (سـلفیان) د مختلفـو جهـادي قومنـدانانو او ګروپونو ترمنځ خونړۍ سیالي پیل شوه. سره د دې چې د سلفیانو پله درنـه او په ټانګو کې یې د بهرنیو جنګیـالیو لپـاره د روزنـې نظـامي کمپونـه جـوړ کړي وو، اسلامي حزب ته وفادارو ځواکونو، د لغـمان څخـه د راغلـو ایلـه جاري حزبیانو په مټ وکولاې شول چې د سرکاڼو عسکري غونډ پـه خپلـه ولکه کې راولي او تر پایه یې په خپل کنټرول کې وساتي.

## د سرکاڼو مخور مشران

د اعلیحضرت ظاهر شاه د واکمنـۍ پـه مهـال د ننګرهـار والي او د لـوی

درستیز مرستیال، اروابښاد تورن جنرال خان محمد خان، د پښد د ډمن مشهور ملک سرطیب خان، مرحوم ملک خورشید او د هغه ځوی، خوشحال چې د نرنګ علاقه دار وو. اروابښاد ملک طالب او د هغه دری واړه ځامن انجنیر تورا (په جرمني کې اوسیږي) اروابښاد عاشق الله او اروابښاد ذبیح الله شرر چې ښه شاعر، طنز لیکونکی او د کباړي په نوم د یو کتاب مؤلف هم دی. همدارنګه د ولسي جرګې غړی غني خان، ملک لعلي او ملک شاه محمود. حاکم محمد جان چې له شونکړۍ څخه سرکاڼو ته تللې وو، یو وخت علاقدار بیا ولسوال او په پای کې له سرکاڼو څخه د ولسي جرګې غړی شو. اوه ځامن یې درلودل نومونه یې دا دي: صفر، نادر، ظاهر، همایون، احمد شاه، شیر شاه، داود او میرویس. د اروابښاد ولسوال یوه میرمن د سرکاڼو د میا صیب لور وه او بله یې د باروګۍ وه.

د پښد د کشمیریانو په مشرانو کې حاجي لعل محمد (لعلي حاجي) حاجي خان محمد، حاجی سید محمد او د هغه ځوی ارباب ګل احمد خان (ګلاتی). د میرزایانو د کورنۍ مشر، میجر صیب مومند، د ولسي جرګې غړی میرزا حبیب الرحمن مومند، میرزا ګل رحمن مومند، میرزا محمد هاشم، د نرنګ په لیسې کې زما استاذ غلام فاروق مومند، میرزا بابا جان مومند او همایون پشدوال. غني اهنګر، عمرا خان او ضابط کاظم. سید عرب جاله وان، میر احمد خان او غلام علي جان. د بیلې حاجي سید جمال، حاجي نیک محمد، حاجي پتنګ، حاجي عبد الرحیم، ملا سید فقیر او معلم کبیر. سید ګل بابا، رحیم ګل او حضرت ګل. آخند ملا، محمد افضل ملا، حافظ صدیق، قاري اسرائیل، حافظ سعد. محمد اعظم زرګر او نری زرګر. فضل حاجي، نور پاچا، عبدالله جان، سمیع الله

پشدوال، حسین حاجي او دلدار خان.
د حزب اسلامي په قومندانانو کې اروابنـاد قـاري فـدا محمـد یـوه پیژنـدل شوې څېره او له ولسي احترام څخه بـرخمن سړی وو. قـاري فضـل ربي، قومندان قتلان، رئیس خان، محمد شاهین، رامداد خـان، غـلام فـاروق، حاجي شیر او حاجي سرحدات پخپل وار سره په سیمه کې د ډېـر اغیـز او واک خاوندان وو. د خلق او پـرچم پـه نظـامونو کـې د اطلاعـاتو او کلتـور وزیر، محمد عیان عیان، اوسمهال په ډنمارک کی اوسیږي. د پشد تکړه شاعر، علي گل پیوند یو مشهور خلقي او د تره کي د حکومـت پـه لومړنیـو وختونو کـې د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت معـین وو؛ پـه ۲۰۲۰م کـال کـې جرمني کې ومړ. د هغه اوښی او د کاکا ځـوی، حضـرت گـل بارگـامي بـل مشهور خلقي، د لغمان والي او د نرنگ په لیسه کې زما د تاریخ استاذ وو. د سوداگرۍ د خونې اوسنی مشر، خان جان الکوزی د همدغه خلقي رژیم په وخت د هلمند والي وو.

## د سرکاڼو میا صاحب

د دې سیمې د روحاني او مذهبي شخصیتونو په لړ کـې، میاگـل صـاحب چې د سرکاڼو په میا صاحب بانـدې یـادیږي، خپـل ځـانگړی ځـای لـري. نوموړی په خټه میاخیل وو، له هر ځایه راغلي ملنگان به یې په دیره کـې پراته وو چې کله نا کله به یې شمیر له سلو هم اوړیده. د کونړ د ډېرو لری پرتو سیمو خلکو به خپلې نذرانې او شکرانې د خیـرات او صـدقې پـه ډول دلتـه راوړلـې. حکـومتي چـارواکو او ولسيـ خلکـو د میاصـیب د زیـارت او جومات ډېر زیات درناوی کولو او د کلیوالو خلکو ترمنځ داسې مشـهوره وه چې که څوک د هغه د زیارت او مقام سپکاوی او بی ادبي وکړي، نو یا بـه مري او یا به لړ تر لړه لیونی کیږي. زیارت یې د کونړ د آزادۍ پـه لـومړي

پړاو کې د ناڅرګندو خلکو له خوا د شپې په تربرمۍ کې وسوځول شو چې مریدان یې تر ننه هک پک دي. د یادونې ده چې ارواښاد میا ګل، اصلا د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د قلعه اخوند د کلي وو، د نجم الدین آخند زاده (هډې صیب) په مشوره په سرکاڼو کې دیره شوی وو. دوه ځامن یې درلودل او ډیر متواضع او الله پرست بنده وو.

## ولسوال، نور ستار درانی

ولسوال نور ستار درانی، د سرکاڼو ولسوالۍ د یو خوله ور او جرګه مار ملک، ارواښاد عبد الستار خان درانی ځوی او د ملک رحمت الله خان وراره دی. ارواښاد، نورستار خان درې وروڼه درلودل؛ عصمت الله خان، مسافر خان او نعمت الله خان. مرحوم نورستار خان د حاکم صاحب په نوم پیژندل کیده، په ۱۲۹۰ لمریز کال کې په سرکاڼو کې زیږیدلی وو. د خپلې سیمې له استاذانو څخه د زده کړو په پای کې، د کونړ د یوې امنیتي څانګې سره خپله رسمي دنده پیل کړه، بیا د نورګل علاقه دار وګمارل شو. هلته یې د ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو دغتې ویالې پروژه په لږ وخت کې د ولسي خلکو په مرسته تیره او ګټې ته وسپارله؛ کومه چې د هغه د اعتبار او ښه شهرت لامل شوه. وروسته په نورستان، آچین او امام صاحب کی د ولسوال په توګه دندې تر سره کړې.

په ۱۳۵۵ لمریز کال کی د شهید ولسمشر، محمداود خان په لویه جرګه کې د سرکاڼو د وکیل په توګه یې د خپل ولس استازیتوب وکړ. د یادونې ده، ولسوال ستار خان د شهید ولسمشر محمد داود د ملي غورځنګ تکړه غړی وو. ولسوال نور ستار خان د غوايي د خونړۍ کودتا په لومړیو میاشتو کې د څه وخت لپاره د خپلې ټولې کورنۍ سره کابل ته کډه شو او وروسته یې د

پاړه چنار له لارې د نورو هیوادوالو په څیر، پیښور ته هجرت وکړ. کله چې وطن د کمونستانو له خونړي رژیم څخه آزاد شو، نوموړی خپل کلي (سرکاڼو) ته راغی او په ۱۳۸۰ لمریز کال کې یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې او د آخرت په ابدي سفر رهي شو.

## وکیل، عصمت الله خان درانی

مرحوم عصمت الله خان درانی په ۱۲۹۸ لمریز کال کې د سرکاڼو د اروابښاد ملک عبدالستار خان په کور کې زیږیدلی دی. نوموړي د کونړ د امنیې قوماندانۍ د اداري چارو په برخه کی خدمت پیل کړ، بیا په برګیمټال کې علاقدار شو. دراني په ۱۳۳۰ لمریز کی د ملي شورا اتمې دورې ته د سرکاڼو د استازي په توګه ځان کاندید کړ، انتخابات یې وګټل. د دوهم ځل لپاره د ولسي جرګې نهمې دورې ته ځان کاندید او انتخابات یې بیا وګټل. خپل ولس ته د ښه خدمت کولو له امله یې د اعلیحضرت ظاهر شاه له خوا ستاینلیکونه ترلاسه کړل. نوموړی یو ښه جرګه مار، خبر لوڅ او یو بریالی تجارت پیشه سړی وو. د سرکاڼو په لوی بازار کې یې د مارکیټونو د جوړولو له لارې، ډیرو خلکو ته د کار زمینه برابره کړه او هم یې د سرکاڼو ترانزیتي لاره لا سمسوره او ښیرازه کړه. د عصمت الله خان دراني دوو کشرانو ورونو هر یو، مسافر خان او نعمت الله خان هم د دولت په مهمو ملکي او عسکري برخو کې خدمتونه کړي دي. نوموړی د ۸۴ کلنۍ په عمر په ۱۳۸۲ لمریز کال کی په حق رسیدلی دی.

## څارنوال، عبد الشکور الکوزی

د سرکاڼو بل اغیزمن شخصیت، څارنوال عبدالشکور خان الکوزی دی چې

په ځارنوال سرتور باندی مشهور دی. په ۱۳۲۰ لمريز کال کې زيږيدلی او پلار يې اروابناد ملک نور هستم خان الکوزی د سرکانو، ګنجګل، باروګۍ او پشد تر سيمو پوری د جرګو، شملو او حجرو په يادو خلکو کې ګڼل کيده. ځارنوال سرتور د کمونستانو د واکمنۍ په لومړيو وختونو کې پيښور ته هجرت وکړ او په جهاد کې يې برخه واخيسته. د خپلو اولادونو روزنې او پالنې ته يې ځانګړې پاملرنه درلوده او ټول يې د عالي تعليماتو ليکې ته سيده کړل. ځارنوال الکوزي په کونړ او ننګرهار کې د عدليې د وزارت په چوکاټ کې رسمي دندې تر سره کړي او فعلا متقاعد دی. د سرکانو ولسوالۍ د مرکزي کلي د استوګنو اکثريت د الکوزو له ټبر څخه دي. دوئ د کونړ د نورو قومونو په پرتله، په لږه کيو کې حسابيږي او ښايي له همدی کبله دوئ تل د حکومتونو لمن نيولی وي او له ډير پخوا راهيسې د قشلو او عسکري چونيو ساتنه او ملاتړ دوئ خپله دنده بولي.

## ۸- د شلتن ولسوالي

د کونړ په اداري تشکيل کې، د شلتن د دريمې درجې ولسوالي تر ټولو ځوانه او کم نفوسه ده. ختيځ ته يې دانګام، شمال ته يې د کونړ سيند او پورې غاړه د شيګل ولسوالي، سهيل ته يې ډيورنډ ليکه چې بله خوا يې د باجوړ ايجنسي ده او لويديځ ته يې د مره ورې ولسوالي پرته ده. د شلتن د نوم په هکله ويل کيږي چې د ماموندو د قوم يو مخور ملک صدير خان نوميده په خپلو اتلسو اولادونو باندې د ميراث د ويش په ورځ، د کلي ملا امام او کسب ګر ته هم برابره ونډه ورکړه چې شل تنه شول. د وخت په تيريدو له شلو تنو څخه، شلتن جوړ شو. لکه چې د ماموندو د قوم په اړه

مخکې یادونه وشوه، دا قوم دوه مهمې څانګې لري چې یوه یې لوی ماموند او بله وړ ماموند یادیږي. په باجوړ او مره ورې کې د لوی ماموند خیلونه اوسیږي او په شلتن کې د وړ ماموند درې غټ ټبرونه میشت دي چې هغه بړوزي، اوریازي او برمکازي دي.
بړوزي څلورغټ خیلونه لري: کیمل خیل، بجل خیل، نتو خیل او اکوپ خیل، البته دا څلور خیلونه بیا په خپل منځ کې په لسو وړو ټبرونو یا خیلونو باندی تقسمیږي. آیا خیل، لعل محمد خیل، غلام خیل، نظر خیل، ګوجر خیل، موخه خیل، سعد الله خیل، مصري خان کور، خانو خیل او ندایي خیل. اوریازی هم په ورته ډول په څلورو خیلونو باندی ویشل شوي دي: پیر خیل، فتح خیل، خاتون خیل او اکیخیل. د لومړنیو درې واړو خیلونو، هر ټبر په څلورو څلورو پلرونو باندی تقسمیږي: بلند خیل، شپونکي خیل، انعام خیل، اشرف خیل، جنجا خیل، ډابر خیل، اعظم خیل، خلیل خیل، غریب خیل، آزاد خیل، علاء خیل، شیر علي خیل او دولت خیل. د اوریازي پلار څخه د اکیا خیل اولاده په پنځو خیلونو باندی تقسیم ده: پاینده خیل، پیرو خیل، موسی خیل، رحمان خیل او ادا خیل. د لوی برمکازي څلور خیلونه راجا خیل، سوجا خیل، حیدر خیل او داو خیل دي. واړه برمکازي هم څلور خیلونه لري؛ ابړ خیل، سیمل خیل، کاسه خیل او بنګي خیل.
د شلتن زیاتره مځکې للمې دي، غوزان (چار مغز) او د غرونو طبیعي شهد /عسل یې ځانګړې مزه او ډیر زیات شهرت لري. شلتن دوه غټې درې لري چې یوه یې د چوګام دره ده، چوګام شا، تاغه څپرې، سره شا او لمګې یې غټ کلي دي. بله دره د سونو په نوم ده چې ګویجه، پومبزاره، ونډ، لویه بیله، وړه بیله او خانانو کڅ یې مشهور کلي دي. غنډ د شلتن

سرحدي او پاسنې برخه ده او لږم کڅ يې دوه نورې مشهورې سيمې دي.
په شلتن کې لومړنی ابتدائیه ښوونځی د اعلیحضرت ظاهر شاه په امر په ۱۳۳۸ لمريز کال کې جوړ شو چې اوس ليسه ده. کله چې په ۱۳۲۴هجري لمريز کال کې صافي قوم د حکومت خلاف پاڅون وکړ، نو شينوارو او د شلتن ماموندو په کرهاله باندی حمله وکړه او د کرهالې له نيم څخه زيات کلی يې وسوځولو. په ځينو راپورنو کې راغلي چې له دواړو څخه نژدی ۱۲۰ تنه ووژل شول او له دی شمير څخه زيات يې په چړو او تبرگو ټپيان شول.

## د شلتن مشهور ملکان او سپين ږيري

په دوئ کې ځينې وفات او څه ژوندي دي؛ ملک نور محمد خان، ملک سيد کريم خان، ملک روزمين خان، طوره باز خان، جان پاچا، ملک عبد الرحمن، ملک نعمت الله، ملک محمد اکبر خان، ملک ياره کی، ملک خان زمان، ملک سخي، ملک لعل گل، ملک جمدر، ملک غازي خان، مولوي عبد الرحمن، مولوي محمود جان او مولوي عبد الرزاق. د شلتن يو مهم قومي مشر، گل پاچا د ۱۳۹٦ کال د لیندۍ په میاشت کې د بم په يوې چاودنې کې ووژل شو.
سره د دې چې وروستيو بهرنيو يرغلونو، جنگونو او نوی ټکنالوژۍ او ايډيالوژيو زموږ د ولسونو په ژوند کې ډير ژور بدلونونه راوستي، خو د شلتن د خلکو يوه ځانگړتيا دا ده چې تر اوسه گډې حجرې لري، لانجې د سپن ږيرو او ملکانو په مشورو حل کوي او د غم او ښادۍ په مهال، پخواني مثبت رواجونه يې تر اوسه ژوندي ساتلي دي. مثلا کله چې د چا کور ته ميلمه راشي نو نژدی گاونډيان او خپلوان يې د خپل کور غله، سامان او

حجره د میلمه په اختیار کې ږدي او د کوربه په شان یې خدمت کوي.

## ۹- شیګل

شیګل د اسعد آباد شمال ختیځ لوري ته د ۲۴ کیلو مترو په واټن د دویمې درجې ولسوالي ده، پخوا د اسمار اړونده علاقداري وه. د شیګل ختیځ ته د غازي آباد او اسمار ولسوالۍ، لویدیځ ته یې د وټه پور ولسوالي، شمال ته یې د نورستان ولایت، وایګل او سهیل ته یې د مرورۍ او شلتن سرحدي ولسوالۍ پرتې دي. د سمندر له سطحي څخه (۹۲۵) متره لوړوالي لري؛ ټول مساحت یې ۳۷۱ کیلومتر مربع دی، مجموعا ۹۶ کلي لري. زیاتره اوسیدونکي یې شینواري دي، ولې د سالارزو، مشوانیو، کمانګرو او ګوجرو ولسونه هم دلته اوسي.

لرغونی شیګل په واقع کې د پخواني کافرستان هغه جنوبي څنډه ده چې د کوهستانیانو قوم په کې میشت وو. مګر له نن څخه نږدې ۲۴۵ کاله وړاندې د کوزې پښتونخوا د مومندو ایجنسۍ یو مذهبي مشر، شیخ زکریا شینواری له خپل ایله جاري لښکر سره دلته راغی. لومړی یې دانګام، بیا نشګام او ورپسې د بارګام سیمې په مزه مزه د خپل مذهبي او ولسي اغیز لاندې راوستې. د دعوت او تبلیغ ساحه یې تر اسمار پورې وغزوله او په دی پراخې سیمې کې یې پوره ملاتړي پیدا کړل. خپل څلور واړه ځامن یې (سلیمان خان، عبد الرحیم خان، شبل خان او هلال خان) د سیمه ییزو قومي مشرانو په ننګه، د ولسي لښکر مشران وټاکل. په شیګل یې برید وکړ او د ډیرو خونړیو او اوږدو جګړو په پای کې یې دا ټوله پراخه سیمه له بومي (اصلي اوسیدونکو) څخه ونیوله. نوموړي شیخ، د خپل ژوند په وروستیو کې د شیګل دغه ښکلی او شنې درې په خپلو څلورو

ځامنو باندې وويشلې.
شيګل يوه کوهستانۍ کلمه ده. «شي» شپږو تـه وايـي او «ګـل» د درې معنى لري چې هغـه شـپږ درې دا دي: لـومړۍ د شـينکوړک دره ده، د لـر کلي له پاخه سړک څخه پيل او د وټه پور د چينـار بانـډو او ځانګـار پـورې رسي. دوهمه دره يې د سورانو په نوم ده چې د شنګر شاه د کلي له شمال لـوديځ څخـه پيـل او د لاحسـين درې د بکـورۍ او پيانـدۍ کـلي پـورې غزيدلې ده او د ډنډې تر بريده رسي. دريمه دره شينګش نـوميږي چـې د لچې د کلي څخه د وټه پور د کټـار کـلي سره سرحـد لـري، پـه ښـکلي او هميشه بهار ځنګل پوښل شويده. څلورمه يې د سملام دره ده؛ غرونـه يـې د ننځړو او شونټيو په ښترو، څيړيو، ښـونانو، ټيټـاقو او ګورګـورو پـه بوټـو پوښل شوې او د وايګل د اشدل او د ګمبيـر کـلي د ډنـدې او چهـل ګټـو پورې رسي. پنځمه دره د چڼوسو دره ده، د بر ګلاې څخـه پيـل کيـږي او بيا په دوو کوچنيو درو، د تختو خوړ او د ننګټا خوړ پورې رسـيږي. شـپږمه دره يې د ماديش شنه دره ده چې د خوړو اوبو په چينو مالا مال ده.

## د شيګل مشهور کلي

شنګر شاه، کټاسير، امان کوټ، کنډرو، چـاقورۍ، لچـې کلـی، ناريتونـه، خوړ کلی، امانکوټ، هوار، ګډولي، الانګو، رکړو، تختو خوړ، لاحسـين. د ملا عالم کلی، د موړۍ کلی، د موڼی لوی کلی، کربـوړی کلـی، ډاګسـير کلی، هلالزو کلی، شوانټالی کلی، اتـو کلـی، شـينګرګل کلـی، غنـی کـڅ کلی، ايسارې ګټی کلی، للمه کڅ کلی، د غوښتو کڅ کلی، سورانو کلـی، سپينو ګټو، ډب، اوجوز تنګی، بر شينګش، لر شينګش، د ډيـرې کلـی (د کشميرخان پلرنې ټاټوبی) مټينی کلی، د ناريت دوه کلي چې پـه لـر او بـر

ناريتونو شهرت لري، سورملو کلی، د ګلاتي لر او بر کلي، خوړ کلی، د سملام کلی، چنسو کلی، ماريش کلی، فيملام کلی او د ننګتها کلی.

د شيګل د ماديش په کلي کې نامتو عالم، مولانا شمس العلي او د کټاسير د لر کلی بل عالم، مولانا محمد نورګل صافی د د ماڼوګي ولسوالۍ څخه دلته راغلي وو. دوئ په شيګل کې د دري نظم، فقهې، حديث تفسير، نحوې او صرف د علومو تدريس پيل کړ، په سلګونو شاګردان يې ورزل او په شيګل کې يې د تعليم دروازه پرانيسته. دغه مدرسه د حکومت له خوا په ١٣٢٦ کال کې د موښي په کلی کې په لومړني ښوونځي بدله شوه او حسن جان يې لومړنی سرمعلم وټاکل شو. په په ١٣٤٢ کال کې متوسطه او په ١٣٧٢ لمريز کال کې يې ليسې ته ارتقاء وکړه او د باب الجهاد په نوم، ونومول شوه.

## حاجي کشمیر خان

د خلق او پرچم د خونړي رژیم او شوروي اتحاد د یرغل په مهال، کشمیر خان داسی نوم وو چې هم شیګلي، هم کونړي او هم د جهادي چاپیریال اکثره وګړي ورسره اشنا وو. د ګلبدین حکمتیار د مشرۍ لاندې د اسلامي حزب د دغه نامتو قومندان اصلي نوم، فضل الرحمن دی. په ۱۹۵۱م کال کې د شیګل د ډیرې (ناریت) کلي کې زیږیدلی، په ختمه شینواری او په کابل کې یې د خوشحال خان لیسه لوستې ده. کشمیر خان د ۱۳۵۷ کال د زمري په نهمه نیټه وسله وال جهاد پیل کړ. هغه د خپلو نږدې خپلوانو او ملګرو سره د غوایي له کودتا مازې درې اونۍ وروسته په خپل کلي کې د خلقي رژیم له یو ضابط څخه وسله په غنیمت واخیسته او هغه عسکر یې ووژل چې د دوئ د نیولو لپاره له اسمار څخه راغلي وو.

په مرحوم حاجي کشمیر خان دا تور هم شته چې په ۱۳۵۴ کال کې د هغو څلورو معلمانو په مرګ کې لاس درلوده چې په شیګل کې اوسیدل او د شپې له خوا په مرموز ډول ووژل شول، خو د دغه تور سپینول ډیر ګران دي. کشمیر خان نږدې څلویښت کاله په غرونو کې د وسله وال چریک، بیا د یو منلي او آرام طبیعته قومندان په ډول ژوند وکړ. د مجاهدینو په واکمنۍ کې نه د شمال له ټلوالې سره یو ځای شو او نه یې د طالبانو پلوي وکړه. کشمیر خان په خپله سیمه کې طالبانو او نورو وسله والو ډلو ته د پوځي فعالیت اجازه ورنه کړه، خو په عین حال کې یې د هغو خلک مخنیوی هم نه کاوه چې حکومتي دندې یې درلودې.

د تنظیمي جګړو او نورو بې خوندیو په اړه به همیشه اندیښمن وو. کشمیر

خان که څه هم د بهرینو ځواکونو د شتون مخالف وو، لاکن په خپله سیمه کې یې د هیڅ ډول پرمختیایي چارو مخه نه نیوله، خپل خلک یې هڅول چې ځوانان د افغان ځواکونو لیکو ته ولیږي. هر دولتي مامور کولای شول چې شیګل ته په ډاډه زړه تګ راتګ وکړي. کشمیر خان د اسلامي حزب د مشرتابه په ډله کې نرم مزاجی، ښه مدبر او پاک نفسی شخصیت وو. پلویان یې وایي چې د قرانکریم یوه نسخه به یې تل په جیب کې د تلاوت په موخه ګرځوله. کله چې د ولسمشر، کرزي په مشرۍ حکومت رامنځته شو نو دی له غره راکوز او د شهید حاجي عبدالحق د فاتحې لپاره جلال آباد ته لاړ. په هغه ورځ حامد کرزی هم راغلی و، څه وخت چې کرزي وینا خلاصه کړه حاجي کشمیر خان ته یې غیږه ورکړه. په ځینو رسنیو کې داسې خبرونه هم چاپ شول چې ګوندې بهرنیو ځواکونو د کشمیر خان د نیولو او ځای ځګې د پیدا کولو له امله د څلور میلیونو ډالرو جائزه ایښې وه.

حاجي کشمیر خان د ۱۳۹۵ لمریز کال د زمري په دریمه نیټه د دوشنبې په ورځ د پیڅه شپیته کلونو په عمر وفات شو. لومړۍ جنازه یې د جلال آباد په سپورتي لوبغالي کې وشوه، دوهمه په شیګل کې وشوه او بیا په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شوه. کله چې کشمیر خان په حق ورسید نو په ټولنیزو رسنیو کې ورسره پراخه خواخوږي ونښودل شوه او د نورو جهادي قومندانانو په څیر، ورپسې سپکې سپورې ونه لیکل شوې. ما شخصا له اروا ښاد سره په ۱۹۸۸م کال کې د راولپنډۍ په مدینة الحجاج کې هغه مهال دوه ځلې ولیدل چې د مجاهدینو د مشورتي شورى غونډې رواني وې. هغه لږې خبرې کولې، همیشه به یې کمربند له ملا تړلی، خوش طبعه انسان وو. د یادونې وړ ده چې اوس یې ځوی، قاري ضیاء

الرحمن چې په سعودي عربستان کې يې لوړ تحصيلات کړي دي، په ولسي جرګه کې د کونړ د خلکو استازی دی.

له بله پلوه، د اسلامي حزب مشر، ګلبدين حکمتيار د ۱۳۹۸ لمريز کال د زمري په ديرشمه، ځينې خبريالان د انتخاباتي کمپاين په توګه، هغه کور ته له ځان سره بوتلل چې د ده په وينا له حکومت سره د مخالفت پر مهال يو ويشت کاله دلته پټ اوسېده. دغه کلی د بانډۍ په نوم ياديږي، د شيګل په برنۍ منطقې کې پروت دي. خو خپلواکې سرچينې او څيړونکي ورته د شک په سترګه ګوري، ځکه د را څرګنديدو په وخت کې د حکمتيار روغتيايي حالت، د يو درجن کتابونو ليکل او د امريکايانو د پرمختللو کشفي وسائلو څخه ځان ګوښې ساتل، له دغې ادعا سره چندان اړخ نه لګوي.

## وحيد الله سباوون

وحيد الله سباوون، د شيګل ولسوالۍ د مونۍ د کلي دی په ۱۹۵۲م کال کې زيږيدلی دی. نوموړی په ختّه اخوند زاده او د شيخ عبد الرحمن او قاضي عثمان له کورنۍ سره تړاو لري چې د شيګل په سيمې کې د اسلامي دعوت د خپرولو او غزاګانو اوږد تاريخ لري. نوموړي د کابل تخنيک ثانوي لوستې او د انجنيرۍ د پوهنځي محصل وو چې په ۱۳۵۵ لمريز کې پيښور ته لاړ تر څو له ګلبدين حکمتيار او د شهيد داود خان له نورو سياسي مخالفينو سره يو ځای شي. څه موده وروسته بيرته کابل ته راغی او د کارتوګرافۍ په مؤسسه کې مامور مقرر شو. سباوون د اسلامي حزب پخوانی مهم غړی او په پيښور کې د يوې مودې لپاره د دغه ګوند د اطلاعاتو (استخباراتو) مشر ـ وو. د ډاکټر نجيب الله د رژيم له ماتې وروسته يې له ګلبدين حکمتيار سره د تنظيمي او سياسي اختلافاتو له

مخې، خپله لاره جدا او د شمال له ټلوالې سره مل شو.
د استاذ رباني په کاواکي حکومت کې د لنډې مودې لپاره د دفاع سرپرست وزیر او د شورای نظار د مشر، احمد شاه مسعود پوځي سلاکار و ګمارل شو. کله چې د طالبانو امارت ړنګ او حامد کرزي ته د بن د کنفرانس له برکته د ولسمشرۍ پګړۍ وتړل شوه، سباوون یې د قبایلو او سرحدونو په چارو کې خپل مشاور وټاکه. وحید الله سباوون د ۲۰۱۰م کال د اګست میاشت کې په جلال آباد کې د یوې بمي چاودنې په ترځ کې سخت ټپي او د درملنې لپاره ترکیې ته واستول شو. دوه میاشتې وروسته روغ او بیرته وطن ته راغی او خپل سیاسي فعالیت یې بیا پیل کړ. نوموړی نن سبا د سولې په غونډو، جرګو او له رسنیو سره په مرکو کې لیدل کیږي ولې کومه رسمي دنده نه لري. وحید الله سباوون « د افغانستان نهضت اسلامي ته لنډه کتنه» په نوم یو کتاب هم لیکلی او په ۱۳۹۴ لمریز کې په کابل کې چاپ شوی دی.

## ډاکټر محمد ابراهیم شینواری

د ښوونې او روزنې د وزارت پخوانی مرستیال او د افغانستان د خوړو او درملو د ملي ادارې اوسنی لوی رئیس، ډاکټر محمد ابراهیم شینواری د ۱۳۴۸ کال د لیندۍ په میاشت کې (۱۹۶۹- ډیسمبر) په شیګل کې زیږیدلی دی. په ۱۹۹۷م کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ شوی او په ۲۰۰۶م کال کې یې د پریسټن د پوهنتون څخه د روغتیا په اداره کې ماسټري ترلاسه کړیده. یو کال وروسته یې په آنلاین ډول، د کوستاریکا له پوهنتون څخه د نفوسو او پرمختیا په برخه کې د پیژندنې تصدیق او په ۲۰۱۲م کې د عامه تغذیې په برخه کې ډیپلومه

اخیستې ده.
د کاري تجربې په لړ کې یې په افغانستان کې د مایکرو نوټرینټ انیشیټیف مؤسسې د مشر، د افغان کلتوري ټولنو د ګډې جرګې د دارالانشاء د مشر، د ملګرو ملتونو د نفوسو په صندوق کې د پروګرام مسئول او د هیواد په ختیځ زون کې د یونیسف د یو شمیر پروګرامونو د مدیر په توګه کار کړی دی. ډاکټر ابراهیم د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) ترڅنګ په دري، انګریزي، اردو او څه نا څه عربي هم پوهیږي او د کمپیوټر په ډیرو پروګرامونو کې کافي تجربه لري. نوموړی په ټولنیزو، سیاسي او طبي برخو کې د لسو کتابونو لیکوال او ژباړن دی. د پوهنتون د استادانو اووه کتابونه یې اډیټ کړي او په سلګونو علمي او اکاډمیکې مقالې یې لیکلې او ژباړلې دي. د پوهنې وزرات د اصلاح (ریفورم) د سند جوړولو رهبري، د تخنیکي عامو دندو او همه شمول دندو لپاره د لارښوونو میتودونه یې تیار کړي او د ځینو مسلکي ملګرو په ملاتړ یې، د کابل په ۱۴۰ ښوونځیو کې په مورنۍ ژبې د زده کړو فرصت برابر کړی او د نا امنه سیمو لپاره یې د تحصیلي امکاناتو لاره هواره کړیده.

## جمال الدین سیار

جمال الدین سیار د ګل رحیم ځوی دی او په ۱۳۵٦ لمریز کال کې په شیګل کې زیږیدلی دی. د شرعیاتو په برخه کې یې د پاکستان په الجامعه الاسلامیه کې د لیسانس تر کچې تحصیلات کړې دي. نوموړی وړاندې له دې چې ولایتي شورا ته لاره ومومي، درې کاله د کونړ - جلال اباد د لویې لارې جوړیدو پرمهال د امنیتي چارو مسئول وو. څلور کاله یې د سولې عالي شورا بیا د کونړ د ولایتي دفتر د اړیکو د مسئول په توګه

دنده ترسره کړېده. نوموړی د ولایتي شورا د غړو ترمنځ په داخلي ټاکنو کې ددې شورا مرستیال وټاکل شو. سیار په ټولنیزو رسنیو کې ډېر تر سترګو کیږي، له مدني فعالینو سره ګرمې اړیکې ساتي او له سیاسي پلوه د افغانستان د حزب اسلامي سره تړاو لري.

## د شیګل یاد مشران

د اروابناد سید شمس الدین مجروح د مشهورې کورنۍ ترڅنګ چې تفصیلي یادونه یې د همدې کتاب د ساداتو ترعنوان څپرکي کې شوې ده، د شیګل په مشهورو خلکو کې دغه شخصیتونه هم شامل دي: وکیل مغل خان، وکیل محمد کریم، اروابناد وکیل صاحب رحمن مشوانۍ، غلام حجدر خان، ملک نور بازی او ملک شیر افضل. جهادي مشران یې مولوي سخي، حاجي فاروق، معلم حضرت جان، حاجي نور رحمان، مولوی بهرام سید، ملک فضل الرحیم، حاجي وزیر محمد، حاجي سید حسن، ملک نیاز محمد، معلم وهاب، قومندان شین ګل، صاحب ګل، قومندان خان محمد، قومندان نمیر، قومندان حیا ګل، قومندان شهزاده سالارزی، حاجي فضل الرحمن سالارزی، ملک میرزا ګل، حاجي علي احمد. ډاکټر عنایت الرحمن شینواری، استاذ سید جمال، میرزا محمد سالارزی، ډاکټر میر احمد حامد، ډاکټر عبدالعزیز حسرت، استاد اسماعیل رهبر، استاد امین الله ستوری، استاد افغان کریمي، استاد جنت اکبر، استاد معراج الدین، انجینر عبدالحمید کمال او انجنیر سهار ګل سیرت.

## ۱۰- غازي آباد

په سپینو واورو او شنو ځنګلونو پوښل شوې د غازي آباد ولسوالي، د اسعد آباد په ختیځ کې پرته ده؛ ټول مساحت یې ۵۹۲ کیلو متره مربع دی او ۹۰ کلي لري. د ولسوالۍ شمال او شمال ختیځ ته نورستان، جنوب او جنوب ختیځ ته ناړۍ، جنوب ته اسمار او لویدیځ ته یې د شیګل ولسوالي پرته ده. غازي آباد یو سیند، دوه لوی خوړونه او د کورنیو او وحشي-حیواناتو لپاره د څړ پراخه ځایونه او ورشوګانې لری. له اسعد آباد څخه د شابل تر کلي پورې سړک یې قیر او پاتې یې کچه (خام) دی. هغه وخت چې کونړ لویه ولسوالي وه، غازي آباد د اسمار ولسوالۍ اړونده علاقداري وه. د طالبانو په امارت کې یې د دریمې درجې ولسوالۍ ته ارتقا وکړه، مګر په اوسني اداري تشکیل کې دوهمه درجه ولسوالي ده. د ډونک اروابناد، غازي خان حاضر شو چې د ولسوالۍ د ودانۍ لپاره خپله مځکه او نورې اسانتیاوې برابرې کړي، نو له همدې وجې ورباندې د غازي آباد نوم کیښودل شو. د حامد کرزي د واکمنۍ په مهال د ولسوالۍ مرکز له ډونک څخه نیشه ګام ته را نقل شو او شاو خوا د دولت او ولسي خلکو له خوا ډیره آبادي وشوه.

د غازي آباد یو تن محصل، رحمت قیوم په خپل علمي تیسس کې کاږي:
د غازي آباد اړوند کلي د زراعتي ځمکو په شاو خوا هوارو سیمو کې خواره واره جوړ شوي دي او په غرنیو سیمو کې له دریو تر پنځو کورونو پورې محدود دي چې باندې بلل کیږي. د غازي آباد اکثره کلي د ځایي خوړونو یا د قبیلو د مشرانو په نومونو یادیږي. ځینې کلا ګانې یې غټ غټ برجونه لري چې د جګړو او کورنیو دښمنیو پر مهال د دفاعي سنګرونو په ډول کارول کیږي، د میلمنو لپاره حجرې، د کلا ګانو دننه جوړې دي. په غازي آباد کې د ډوکۍ، هلیګل او مریت ځنګلونه د کورنیو جګړو پرمهال

په غیر فني ډول وهل شوي دي، مگر د درین ځنگل تر اوسه روغ پاتې او د ولسوالۍ د ښکلا مهم عامل گڼل کیږي.

د غازي آباد په ولسوالۍ کې پنځه لوی قومونه اوسېږي: پښتانه، گوار، کوهستاني، گوجر او نورستاني؛ دغه یاد قومونه بیا په خورا ډیرو کوچنیو قبیلو باندې ویشل کېږي. په پښتنو کې سالارزي او مشواڼي له ټولو زیات دي. سالارزي په بارگام، نوی کلي، ولې بند، سلام زی، گارداو، حاجې آباد او څونک خوړ کې آباد دي. مشواڼي په کاڅگل، چړه سر، بارگام، تری، لنډي کڅ، ابره گل، گنه کوي، حاجي اباد، ناگیناړ، جیگل او خورد کاړي کې اوسیږي. د گوجرو قوم په غرنیو سیمو کې لکه گورین، توشو گل، گوڼي گل، لنډي خوړ، ایله سوم بانډه، د گوجرو خوړ او سلام زی کې میشت دي. مورنۍ ژبه یې گوجري ده خو په پښتو هم پوهیږي. نورستانیان په درین، هیگل، څوکۍ او مریت کې اوسي، مورنۍ ژبه یې نورستاني ده خو په پښتو هم خبرې کوي، د کرهڼې ډیره برخه یې د میرمنو په غاړه وي. گواري او کوهستاني په نښه گام کې میشت دي، مورنۍ ژبه یې گواري ده خو پښتو هم وایي. د وگړو اکثریت یې تعلیم یافته او په دولتي دندو بوخت دي. ډیر کم یې په زراعتي چارو کې اخته دي او اقتصادي وضعه یې متوسطه ده، زیاتره وگړي یې حنفي مذهبي دي او څه ناڅه اهل الحدیث هم په کې پیدا شوي دي.

## د غازي آباد مشهور کلي

جلالا، حاجي آباد، ساوگې، جلال پټې، چنار جووړ، املوک کڅی، توشیگل، هلیگل، جیگل، شاهي کلی، مریت، سلام زی خوړ، انگیچ، کموتی، څوکۍ، توحید آباد، چار قلعه، کربوړی، بنگړو، ادین، شیرو کلی،

گل آباد، مسلم آباد، سپین کاږ، بره کلا، بکرو، نوی کلی، موم دیش، لنډې کڅ، لنډې جووړ، شه گام دومباله، چوه سره، هیله سوم، مرخنو باغ، نرې، ساوگې، پلوڅو حکیم آباد، اشپي، مونديش، ارين شاه، سيد مشال، درين او نور.

د جلالا اوبه خوږې دي
د کلي پیغلې ترى منگي را ډکوينه
د جلالا گودره وران شې
په جينکو دې ساه لنډی ولگونه

اگر که دغه ټپې د مردان سيمې ته نژدې د جلالا د گودر په هکله ويل شوې، خو د کونړ د جلالا رنې، خوږې او روانې اوبه د خپل زړه راښکونکي طبيعي چاپيريال له برکته د کوزې پښتونخوا له گودر څخه زياتې دي، کمې نه.

## د څونک غازي

په غازي آباد کې د نورستانيانو مهم قومي او جهادي مشر، د څونک محمد غازي چوپان دی. د نوموړي ځوي او زما محترم دوست، ذبيح الله غازي نورستانې چې د امريکا د لاس ويگس په ايالت کې اوسيږي او د حامد کرزي د سيال په توگه انتخاباتو ته ولاړ وو، د خپل پلار د لنډې بيوگرافۍ په هکله ما ته داسې وويل « زما اروانښاد پلار په ۱۹۲۹م کال کې د څونک په سيمه کې زيږيدلی وو، د پلار نوم يې جمت الله خان او د نيکه نوم يې طوطي بابا وو چې د ټول نورستان يو مخور مشر وو. اروانښاد بنيادي زده کړې د خپل کلي په مدرسه کې چې پلار يې جوړه کړې وه، تر سره کړی دي. پلار مې کله نا کله اشعار هم ليکل او ډير ښه خطاط او

خبر لوڅ سړی وو».
ما (ملکزی) د ارواښاد غازي خان سره د جمعیت اسلامي په دفترونو کې چې د پیښور په فقیر آباد او دین بهار کالونۍ کې وو، څو ځلې لیدلي کتلي دي. خورا ډېر مجلسونه او سیاسي بحثونه مو کړي او غرمنۍ مو په یو دسترخوان تیرې کړی دي. هغه د ډېر پراخه نظر څښتن، خنده رویه او په وطن مین سړی وو. د هر شهید د خبر په اوریدو به ځوریده او د روسانو زوال یې یقیني ګڼلو. همیشه به یې ښه په دنګه غړۍ ویل چې موږ په حقه یو او برې تل د حق په نصیب وي. مرحوم د خپلې سیمې د مجاهدینو او ولسي خلکو په منځ کې له ځانګړي درناوي څخه برخمن سړی وو. د څونک غازي په ۱۹۹۱م کال کې د دیر او چترال ترمنځ لویې لارې په ترڅ کې د ناپیژاندو دښمنانو لخوا په یو غلچکي کمین کې شهید شو.

## د چترال شاهزاده، عبد الملک جلالا خان



د جلالا خان، ارواښاد عبد الملک د چترال د شهزاده عبد الرحمن ځوئ او د چترال د مهتر اعلیحضرت امان الملک لمسی دی. د هغه ژوند لیک له مخې چې د کونړ پخواني والي او د هیواد سیاسي او ټولینز شخصیت، شجاع المللک جلالا ما ته راکړ، راغلي چې د دوئ د نیکه له مړینې وروسته د کونړ دننه ګډوډي رامنځ ته او د دغې واکمنې کورنۍ غړي خواره واره شول. انګریزانو له دغې لانجې څخه د سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره په سیمه کې خپل پوځونه او هم ځیني لاسپوڅي ځای په ځای کړل. والي

جلا لا زیاتوي: « زما نیکه (عبد الرحمن) اړ شو چې خپل هر څه ترشا پریږدي او د بدخشان له لارې په ۱۹۰۹م کال کې چې د ۱۲۸۸ هجري لمریز سره سمون خوري، کابل ته لاړ شي. نوموړي ته د امیر حبیب الله خان له خوا د هغه د کورني او ولسي- مقام په پام کې نیولو سره، تود هرکلی وویل شو. دوئ ته یې په باغ بالا کې چې اوس ورته پروان مینه ویل کیږي، د هستوګنې ځای او جایداد ورکړ او دوه کاله وروسته په همدغې شاهي مانۍ کې زما پلار، عبد الملک وزیږید».

عبدالملک په ۱۲۹۷هجري لمریز کې د امانیه په لیسې کې چې بیا د نجات لیسه شوه، د سقاوي حکومت تر راتګ پورې د لیک لوست لومړی پړاو همدلته بشپړ کړ. والي جلالا وایي « د یوې مهمې تاریخي پیښې په توګه، شهزاده عبد الرحمن، د غازي امان الله خان د واکمنۍ په مهال د پیرنګیانو پر ضد هغې جګړې کې برخه واخیستله چې د غازي میر زمان خان او کرنیل عبد الوکیل خان نورستاني په مشرۍ په بریکوټ کې تر سره شوه. څرنګه چې په دغې جګړې کې سوبه د دوئ په نصیب شوه، نو امان الله خان زما نیکه ته په اسمار کې دوه اتیا جریبه ځمکه د انعام په ډول ورکړه. لږه موده وروسته شهزاده عبد الرحمن د بارګام د جلالا په سیمه کې له محمد اعظم څخه نوره مځکه هم واخیستله او له کابل څخه هلته کډه شو».

همدا شان، جلالا خان په ۱۳۲۴ لمریز کال کې د صافي قوم د پاڅون په مهال، د اسمار او بریکوټ سیمې له هر ډول بغاوت، چور او تالان څخه وساتلې او حکومتي ملکیتونه او د خلکو جایدادونه خوندي پاتې شول. هغه د لنډې سیند د لانجې په ترڅ کې هم ډیر اغیزمن رول ولوبولو او د نورستان خلک یې په دې قانع کړل چې برګیمتال ته باید سړک وغزول

شي ځکه د دغه سړک جوړول او د سيمې طبيعي سرچينو ته لاس رسی، د اقتصادي پيل، پيلامه ده. د نوموړي دا مثبت او رغونکی ګام د ننګرهـار د هغه مهال د والي، غلام فاروق خان د ډيرې ستاينې او ډاډ وړ وګرځيـد. د خپلو ټولنيزو خدمتونو په لړ کـې، جـلالا خـان نـه يـواځې د خپلـې سـيمې شاړې مځکې آبادې او باغونه يې په ميوه دارو بوټو سمسور کړل، بلکـې د خپلې منطقې ځوانان يې تعلـيم، هـنر او کـار تـه وهڅـول. حجـره بـه يـې هميشه له ميلمنو ډکه او د سخاوت او تواضع کيسې يې د کونړ لرې لـرې سيمو ته ورسيدې.
جلالا خان په هيواد باندې د سرو لښکرو د خونړي يرغـل لـه املـه اړ شـو چې له خپلې کورنۍ سره پاکستان ته هجرت وکړي، ولـی د زړه د نـاروغۍ له امله چترال کې د خپلې لور کورته لاړ. لږه مـوده وروسـته د اتـه شـپيته کلنۍ په عمر په ۱۳۵۸ هجري لمريز کال کې وفـات او بيـا هلتـه د شـاهي کورنۍ په هديره کې خاورو ته وسپارل شو. اروانښـاد دری ودونـه کـړي وو، نهه ځامن او اته لونې لـري چـې د کـورنۍ ډيـرې غـړي يـې لـه هيـواده د باندې اوسي. څرنګه چې جلالا خان پخپله يو ولسي او خير خـواه انسـان وو، ځامنو يې هم د هغه پـه پـل، پـل کيښـود (د جـلالا خـان مرسـتندويه ټولنه) يې جوړه کړه، کومه چې د زرګونـو بـې وزلـو او اړيـنو هيوادوالـو سره نغدي، خوراکي او طبي مرستې کوي.

## شجاع الملک جلالا

د سرحداتو د وزارت معين او د کـونړ پخـوانی والي، سـناتور شـجاع الملـک جلالا چې د کور د انګړ دننه ورته غلام رسول خان ويـل کيـږي د ۱۹۵۲م کال د جنورۍ په پنځلسمه د غازي آباد د جلالا خان په کور کې زيږيدلی دی. لومړنی ښوونځی يې په بارګام، متوسطه په بريکوټ او ثـانوي دوره د

اسعد آباد د عمراخان په لیسه کې بشپړه کړیده. لومړنۍ دولتي دنده یې د تجارت په وزارت کې وه، د غوايي د خونړۍ کودتا له امله یې رسمي وظیفه پریښوده او پیښور ته مهاجر شو. د روسي یرغل په مهال یې د حضرت صبغة الله مجددي د ملي نجات په ګوند کې جهادي جبهه جوړه کړه او په اسمار کې یې د خپلې جبهې مشري په غاړه در لوده.
د طالبانو د امارت له ړنګیدو وروسته، د لویې جرګې انتصابي غړی شو. وروسته د ولسي جرګې د غړیتوب سیالۍ ته ودرید او د خپلې سیمې د استازي په توګه وټاکل شو. د حامد کرزي د حکومت د دوهمې دورې په ترخ کې د ۲۰۱۳م کال په جولایی کې د کونړ والي وټاکل شو. د ډاکټر اشرف غني له خوا مشاور، بیا د سرحداتو او قبایلو د وزارت مرستیال شو. شجاع الملک جلالا د ۲۰۲۱م کال د مارچ په شپږمه نیټه د مشرانو جرګې د نوي غړي په توګه لوړه وکړه.
له جلالا خان سره ما یوه ټلیفوني مرکه درلوده، زما د دې پوښتنې په ځواب کې چې ته د والي په توګه د کونړ د ځنګلو په مخنیوي کې ځان څومره بریالی یا پاتې بولې؟ داسې وویل « په تاسف سره باید ووایم چې ما د ځنګلو د وهلو په مخنیوي کې ډیر څه ونشو کولای، خو په سړک او اوبو کې مې د قاچاق او قاچاقبرو مخه تر دیره ځایه ونیوله. د ځنګلو بې رحمانه او خود سرانه وهل او بهر ته صادرول د یوې سترې مافیا کار دی. زه فکر کوم ترڅو چې په مرکز کې یو ځواکمن دولت نه وي راغلی او د سیمې خلکو په خپله تصمیم نه وي نیولی چې دا ناروا کار وبار باید ختم شي، تر هغې به دا نادوده روانه وي. والي او نور چارواکي یواځې همدومره کولای شي چې سړک او بازار کنټرول کړي. زه باید د یو تریخ حقیقت په ډول اعتراف وکړم هغه څه چې باید شوي وای، هغه ونه

شول».

د یـادونې وړ ده چـې د والي جـلالا خـان دوسـتان، سیاسـی رقیبـان او مخالفین ټول په دې خبره یوه خوله دي چې نوموړی ډیـر پـاک نفسـی او ولسي شخصیت دی. د رشـوت او تـالان تـور داغ یـې لا تـر دی دمـه پـه سپینې لمنې نه دی لګیدلې او د ولایت په مقام کې یې چا ته سپکه سپوره نه ده ویلې. که کومک یې نه دی کړې یا یې نه شـو کـولاې چـې مرسـته وکړي په خپل ځای وزن لري، مګر هیڅکلـه یـې چـا تـه د تـاوان او ضرر هڅه نه ده کړې.

## د جلالا مرستندویه خیریه ټولنه

د څلورو لسیزو کور ړنګې جګړې زموږ د وطنوالو اړتیاوې څو چنـده زیـاتې، څرګندې او ژورې کړی دي. طبیعي ده چې د جنګ پـه لمبـو کـې، ورځنـی ژوند او ټولنیز سیستم ګډوډ کیږي یا بیخي له منځه ځي. نـو لـه دې املـه هرڅوک په انفرادي ډول د خپلې بقا لپاره، هرې ممکنـې وسـیلې تـه لاس اچوي. دغه هڅې کله نا کله د نورو په حقوقو باندې په خیټـې اچولـو سره تمامیږي او کله د سرو کربښو د ماتولو تر سرحده غځیږي. لـه نیکـه مرغـه ځینې داسې کسان هم پیدا کیږي چې د بې کسو خلکو د مرسـتې، پـالنې او خواخوږۍ په خاطر متې رانغاړي.

یو له دغسې با احساسو خلکو څخه شـجاع الملـک جـلالا او د هغـه ورونـه دي. د مرحوم جلالا خان ځامنو، د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال پـه غبرګـولي کې د عدلیي له وزارت څخه د جواز په اخسـتلو سره، د جـلالا مرسـتندویه ټولنې بنسټ کیښود. دغه خیریه ټولنه اړمنو ځوانانو ته د کمپیوټر کورسونه، د ننګرهار پـه ولایـت کـې د کـونړ محصـلینو تـه لیلیـه، سـپورتي سـیالی، قرطاسیه او د بي وزلو خلکو لپاره د خـوراکي توکـو مرسـتې برابـروي. دغـه

ټولنه د غازي آباد ولسوالۍ د جلالا په سيمه کې د تيرو پنځه ويشت کالو راهيسې د خلکو لپاره وړيا کلنيک جوړ کړی، تر اوسه يې د لسګونو زرو بې وزلو خلکو سره طبي مرستې کړې او دا بهير اوس هم په ښه بڼه روان دی.

دې خيريه بنسټ، له ۲۰۱۸م کال را په ديخوا د هغو بيوزلو کورنيو سره چې د نفقې ګټلو لپاره په کور کې نارينه نه لري، خپل فعاليتونه لا چټک او د روژې په مبارکه مياشت کې د کونړ ټولو ولسواليو ته وغزول. د دې ټولنې د اجرائيه بورډ يو غړي ماته وويل « شجاع الملک جلالا خان، نه د خپل وکالت، نه د ولايت او نه هم د معينيت په دوران کې، هيڅ ډول مالي امتياز نه دی اخيستی. د خپلو ورونو او کورنۍ په مرسته چې د امريکا په متحدو ايالتونو کې اوسيږي، د خيريه ټولنې مشري په غاړه لري. د دې غير انتفاعي خيريه بنسټ د لا پياوړتيا لپاره، د جلالا خيريه مؤسسه د ټولو با احساسو وطنوالو کمک او همکارۍ ته سترګې په لار ده. هر څوک کولای شي چې د ټولنې د رسمي ويبسايټ له لارې، خپلې مرستې ور وليږي ترڅو مستحقو خلکو ته په خپل وخت په ډاډمنه توګه ور ورسيږي».

## عبدالله غمخور

ملي شاعر او تکړه ليکوال، اروابناد عبدالله غمخور په ۱۳۰۰ هجري لمريز کال کې د غازي آباد ولسوالۍ د بارګام سيمې د حاجي عبد الودود سالارزي په کور کې زيږيدلې دی. پلار او کاکا يې چې حاجي عبد الرحمن نوميده، د خپلواکۍ د جګړې په څلورمې جبهې (د بريکوټ او چترال محاذ) کې ستره برخه اخيستې وه. همدارنګه دغو دواړو ورونو او د

سالارزو جنګیالیو، د پیرنګیانو خلاف د باجوړ او مومندو په مختلفو غزاګانو کې هم ګډون کړې وو. اروابناد غمخور لومړني تعلیمات په خصوصی توګه له خپل پلار او د کلي د جومات په مدرسه کې د دیني استاذانو څخه ترلاسه کړل. په ۱۳۳۳ لمریز کال کې د کابل د پښتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې مدیر او یو کال وروسته د کابل راډیو د پښتو ادبیاتو څانګې د خپرونې چارې ورته وسپارل شوې او تر ۱۳۴۸ کال پورې یې دوام وکړ. همدغه کال یې د وطن په نوم یوه ترانه ولیکله چې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له خوا ورته تقدیر نامه او انعام ورکړل شو. یو کال وروسته د ننګرهار د ورځپاڼې مدیر او بیا د ننګرهار د قبایلو لوی مدیر وټاکل شو. په ۱۳۵۵ لمریز کال کې د اسمار ولسوالۍ لپاره د لوی جرګې غړی وټاکل شو، بیا یې رسمې دنده پریښوده.

کله چې روسانو په افغانستان باندې بربنډ یرغل وکړ نو هغه د خپلې کورنۍ سره پیښور ته کډه شو او لږه موده وروسته یې په اسمار کې یو جهادي سنګر جوړ کړ. مرحوم د نجات ملي په تنظیم کې د مشاور، اجرائیه غړي او د تفاهم د ملي یوالي د شورا د رئیس په توګه دندې اجراء کړې.

اروابناد غمخور د افغاني کلتور، پښتو ژبې او د خپل ولس د سوکالۍ او خپلواکۍ په خاطر، تل له قلم څخه کار اخیستی او هغه یې د ژوندانه د ازغنې لارې په کړلیچونو کې د زړه تسل او تم ځایونه ګڼلي دي. مرحوم غمخور نه یواځې د کونړ په شاعرانو او ادیبانو کې یو شمله ور او سترګه ور شاعر وو، بلکې نوم یې د لرو او برو پښتنو په حجرو او دیرو کې وخت نا وخته د هنرمندانو په حنجرو کې همدا اوس هم زمزمه کیږي.

یو ځل نوموړی د شهید صدراعظم، موسی شفیق د لیدلو لپاره د هغه دفتر ته ورغی او له ډیر انتظار وروسته بیا هم موفق نه شو چې له صدراعظم

سره وګوري. نو یو شعر یې ولیکه او د هغه سکرتر ته یې ورکړ؛ سروکی یې دا ډول وو: « ډیر را باندې ګران یې خو اوس ستا لیدل ګران شوي دي - یاره مهربانه چې دا څه در باندې شوي دي» کله چې صدراعظم لږ وزګار شو نو سکرتر یې دغه شعر په میز باندی ورته کیښود خو بیا ډیر ناوخته وو. په چټکۍ سره یې د کابل راډیو رئیس ته امر وکړ چې قمرګله را وغواړي، دغه شعر په موسیقي کې کمپوز او بیګاله خپور کړي. لویه هنګامه، یادونه، زخمي زړه، د آزادۍ غوغا، د تُورې په مخ، د کابل اوښکې، د غمخور کلیات او د ضمیر آواز هغه ادبي شاهکارونه دي چې له مرګ وروسته یې د پښتو ژبې او پښتنو نوي کول ته په میراث پریښي دي.

ارواښاد غمخور په ۱۹۹۹م کال کې، فکر کوم د اپریل میاشت وه زموږ دفتر (د سهار خبري آژانس او ورځپاڼې) ته راغی چې د قیصه خوانۍ بازار کې د پولیسو تانې ته مخاخ په دریم منزل کې وو. له لنډې پیژندګلوۍ وروسته، دغه دروند او سپین روبي مشر د خپل واسکټ څخه څو پاڼې را وویستلې او هیله یې وکړه چې دا زما تازه اشعار دي، تاسې یې خپاره کړئ. له پیښورۍ شنې قهوې (کاوې) وروسته بیرته رخصت شو. موږ په ډیرې خوښۍ سره د هغه اشعار په سبانۍ خپرونه کې نشر کړل. دغه مهال زه د خبري آژانس چلوونکي او زما ښاغلی دوست، زبیر شفیقي د ورځپاڼې مسئول وو. د ملي فکر، ژور احساس او رنګونو دغه شاعر او سیاستوال د ۱۳۸۸ لمریز کال د مرغومي د میاشتې په ۲۴مه نیټه د پیښور د حیات آباد په رحمان روغتون کې خپله ساه، د ارواو خالق ته وسپارله. جنازه یې د کونړ بارګام ته یووړل شوه او په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شو.

## څېړنپوه، عبدالقيوم زاهد مشواڼی

څېړنپوه، عبدالقيوم زاهد مشواڼی د ارواښاد حکيم سيد ځوی دی، په ۱۳۴۴ لمريز کال کې د بارګام په ښکلې او شنې سيمې کې زيږيدلی دی. بکلوريا يې په ۱۳۶۷ لمريز کې د محمديه له لېسې څخه چې د کوزې پښتونخوا په تيمرګرې کې ده، واخيسته. په ۱۳۷۶ لمريز کال کې يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو له څانګې څخه ليسانس واخيست. لس کاله وروسته يې له همدې پوهنتون، همدې ډيپارټمنټ څخه د ماستری عالي شهادتنامه ترلاسه کړه. د اتيايمې لسيزې په لومړيو کلونو کې يې په پېښور کې د تعليمي نصاب د ايډيټر، بيا د الفت او پښتو مجلو مديريت او د اساسي قانون له دارالانشاء سره د ژباړن په توګه کار وکړ. مشواڼي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړيوال علمي مرکز په غړيتوب سربيره، له ګندهارا، کونړ، ننګرهار، سباوون، رڼا، خوځښت، ځولۍ، غونچې، ګوربت، ښکلا، جرګه، عرفان، اتحاد مشرقي، کونړ غږ او ستوري د مجلو او د فردا، هېواد او وحدت له ورځپاڼو سره قلمي همکاري درلوده.

د زاهد مشواڼي د نهو چاپ شوو آثار او ليکنو په ډله کې، زاهد پښتو- پښتو سيند، د اتم ټولګي پښتو (د پوهنې وزارت تدريسي کتاب) کورنی طبيب، د دستار نامې سپړنه، د ننګرهار اتنوګرافيک اطلس، د کابل اتنوګرافيک اطلس، د بدخشان اتنوګرافيک اطلس او د پښتو ادب تاريخ ليکنې د بهير کره کتنه، د استاذ مشواڼي علمي او څېړنيز کتابونه دي. همدارنګه نوموړي تر اوسه اتلس کتابونه او څېړنې ژباړلې دي چې په هغو کې د امير

عبدالرحمن خان « تاج التواريخ» له سروبي تـر اسـماره، لـه ښـوونځي تـر پوهنتونه، بودا په افغانستان کې ويجاړ نه شو، له شرمه ونړېد، انسان په نا اشنا جزيره کې، اسلام و زنده گي صلح آميـز، عمـل قليـل و ثـواب کثـير، افغانستان د تاريخ په بهير کې، د دستار نامې انتقادي متن، افغانسـتان د اسلام پر مهال او مشوانې څوک دي؟ د يادونې وړ دي.   ځيړنپوه زاهد، د افغانستان په کچه يو له هغـو کسـانو څخـه دی چـې د څيړنـې، ژبـاړنې او پښتو د ادب او تاريخ په هکله يې ډېر د قدر وړ خدمتونـه تـرسره او زيـات زحمتونه گاللي دی. زه درنـو لوسـتونکو، پـه ځـانگړي ډول نـوي کـول تـه مشـوره ورکـوم کـه د پښـتو د ادب او تـاريخ پـه هکلـه د ښـاغلي مشـوانې څيړنيزې ليکنې ولولي، نو پښيمانه به نه شئ.

## ډاکټر محمد يونس بارگامی

محمد يونس بارگامې پـه ۱۳۵۱ لمريـز کـال کـې د غـازی آبـاد ولسـوالۍ د بارگام په کلي کي زيږدلی دی. لومړنۍ زده کړې يي د مهاجرت په مهـال د کوزې پښتونخوا په تور کمپ کې او ثـانوي زده کـړي يـي پـه تيمرگـرې کي پای ته رسولې دي. په ۱۳۷۵ لمريز کال کې د پوهاند سياف له خـوا د پبو په سيمې کې جوړ شوي، د دعوت او جهاد پوهنتون له طـب پـوهنځي څخه فارغ شـوی او د منجمنټ (اداري) پـه څانگـه کـې يـې لـه پرنسـټن پوهنتون څخـه ماسـټري اخيسـتې ده. ډاکټـر بارگـامی د ننگرهـار د طـب پوهنځي د علمي کدرغړی او د يوې مودې لپاره د پوهنتون اړونده روغتون سرطبيب وو.

هغه د طبابت د مسلک ترڅنگ، ښه ليکوال او شاعر هم دی. «اوښکي د ښو په سر» «ارمانونه پرهرونه» « وينه او مينه» يي شـعري ټـولگې دي او

د تاریخ بدلون، ځنډنی التهاب او روح د قران په هنداره کې یې د نثر چاپ شوي آثار دي. همدغه کلونه چې ډاکټر بارګامی د دعوت او جهاد په پوهنتون کې د طب د پوهنځي محصل وو، ما د ادبیاتو په پوهنځي کې د تاریخ او ثقافت درس ورکولو او په قوي احتمال چې څو څو ځلې به مو یو له بل سره لیدلي وي.

## د غازي آباد ځینې مخور مشران

د نورستانیانو په مشرانو کې حاجي سین الله خان، مولوي جمعه خان، ملک کریم خان او حاجي یعقوب شاه شامل دي. د ګوجرو په قومي مشرانو کې ملک صد بر، ملک خان جان، ملا انور، ملک عبد القیوم، قومندان باز محمد، مولوي بلال او مولوي عبدالحنان د یادونې وړ دي. په مشوانیو کې حاجي ملک داود، ملک نورعزیز، ملک توره کې، حاجي شاه ولي، حاجي میر حسن، حاجي محمد هاشم، حاجي نور محمد، حاجي محکم، ملک رفات خان، حاجی میر سلم خان، ملک دین محمد او دابر ګل یاد خلک دي. د ګوار / کوهستانې قوم په مشرانو کې وکېل عبد القیوم، ملک رحمت ولي، حاجي زمان، حاجي صالح محمد، حاجي قادر او حاجي محمد ولي خان مشهور مشران دي. د سالارزو په مشرانو کې نور عالم خان، حاجي جمدا علي خان، حاجي صالح محمد، حاجي محمد سید، ملک محمد افضل، ملک محمد رفیق، حاجي عبدالله او حاجي محمد نعیم مهم مشران دي.

## ۱۱- ماڼوګې (پیچ دره)

د ماڼوګي ولسوالي چې مرکز يې د ننګلام ښارګوټې دی، له اسعد آباد څخه ۳۰ کيلومتره واټن لري، لومړۍ درجه ولسوالي ده. په شمال کې د نورستان له ولايت، په سهيل کې د نرنګ او باډيل او لړه برخه د څوکۍ ولسوالۍ، په ختيځ کې له وټه پور او په لويديځ کې د چپې درې او څوکۍ له ولسواليو سره ګډې پولې لري. ۵۷٦ کيلو متره مربع مساحت لري، د کليو شمير يې ۱۵۳ ته رسي، ځينې غټې لرې پرتې باندې هم په شمير کې شاملې دي. هغه مهال چې ماڼوګی او چپه دره دواړه د پيچ د ولسوالۍ په نوم يادېدله، پيچ د کونړ د پنځو مهمو او ګڼ نفوسو ولسواليو څخه وه. د نورو سيمو په څير، ماڼوګې هم يوه غرنۍ ولسوالي ده، ولې ډېر شنه ځنګلونه او کرهڼيزې مځکې لري. د ماڼوګي غوڅ اکثريت، صافي دي چې په درې خيلونو: مسود (مسعود)، ګربز او وديړ (قندهاري) باندې ويشل کيږي؛ دغه خيلونه د ښځينه خپلوليو او ګډې وينې له مخې، خوږې اړيکې لري او ځانونه يو د بل تربوران ګڼي.

## د ګوړنګل دره

د ماڼوګي ولسوالۍ اړوند، ګوړنګل د پيچ د سيند او کنډه ګل په جنوب کې د لسو کيلومترو په اوږدوالي شنه او ښکلې دره ده، پلنوالی (عرض) يې له يو کيلو متر څخه زيات نه دی. خلک يې ډېر غښتلي، په خپله وعده ولاړ او په ختې پشه يان دي. دوئ په پشه ايي ژبې خبرې کوي، ځانګړي دودونه لري او ډيری يې د سلفي عقيدې او فکر لارويان دي. د حکومت اغيز وربانديې چندان مزبوت نه دی او د موجوده حکومت د وسله واله مخالفينو، مرکز ګڼل کيږي. کله چې امريکانو هلته عسکري پوستې جوړې کړې، نو وخت لا تير نه وو چې د مرګ د درې نوم يې وربانديې

کيښود. کوړنګل پخوا د کافرستان غربي څنډه بلل کيده. دغه سيمه د امير عبد الرحمن خان په وخت کې مسلمانه شوه خو د صافو له قوم سره د دښمنۍ ډېر اوږد او خونړی تاريخ لري. د دغو جګړو په ترڅ کې ګوړنګليانو د غازي خان په نوم د باډيل درې د يو قومي مشر سر له تنې غوڅ او بدن ته يې ورله اور واچولو. ګوړنګل ۲۵ غټ او واړه کلي لري، نومونه يې په دې ترتيب دي: ډونګا، لينيال، بيبيال، آشات، لوي کلی، علي آباد، دکلباټ، درباټ، شړه باټ، چيچل، کندليک، لنډيګل ناو، ګټيګل ناو، شيلام، کنده لام، سيا پاله، يخه چينه، ايويل، بړونکتا، لر اوبو او د بر اوبو ناو.

## د شوړيک دره

شوړيک د مانوګي ولسوالۍ تر ټولو لويه دره ده؛ پنځه ديرش کلي او باندې لري، د استوګنو اکثريت يې ګربز (صافي) دي او د اټکل له مخې ۱۲ زرو تنو ته رسي. د کونړ د نورو درو په څير، شوړيک يوه ښايسته او زرغونه دره ده، ۱۳ کيلو متره اوږدوالی لري، په ځينو ځايونو کې يې پلن والی دوه کيلومترو ته رسي. ختيځ لوري ته يې د اډوال دره او د وټه پور ځېری او کرمول، شمال ته يې د متين کلي او برکنډۍ، جنوب ته يې د باډيل دره ده او لويديځ ته يې د اومار کوچنۍ دره پرته ده. له مينرالونو ډک، د اوبو ښې پريمانه زيرمې لري؛ دغه د خوړو او رنو اوبو چينې يې د ځنباک او زراعت مهمې سرچينې دي. شنه او هسک نښتر، ګورې ځېرۍ او طبيعي ښونان يې د ښکلا نور مهم لاملونه دي. د شوړيک لويه دره، په خپله غيږه کې ځينی نورې کوچنۍ درې هم لري چې د ځايي خلکو په اصطلاح ناوونه بلل کيږي او شمير يې له څلويښتو څخه اوړي. شوړيک د اوبو يو خوړ لري چې د درې له بر سر څخه ښکته راځي او د پيچ له سيند

سره یوځای کیږي. د شوړیک مشرانو د افغانستان په خپلواکۍ کې رغنده رول لوبولی او کارنامې یې ترشا پریښې دي. د دغو مشرانو لـه ډلـې څخـه چې د پیرنګیانو په وړاندې یې غزا ګانې کړې، الله میر غازي، حیدر خـان غازي، سید اعظم غازي، محمد اعظم غازي، ګـل اعظـم غـازي او میـر اعظم خان غازي د یادولو وړ دي. د شوړیک یو شمیر مشران د ارنوۍ په جنګ کې له انګریزانو سره جنګیدلي، ځینی یې شهیدان شوي او څه یـې ټپیان شوي دي. د درې په نورو مشرانو کې محمد صـفدر خـان، معصـوم خان، اعظم ګل ، محمد علیم خـان ، ګـل احمـد خـان، جانـان خـان، او باول خان د یاد وړ خلک دي. په شـوړیک کـې د ګـاکیزو تـر څنـګ، نـور خیلونه او قومونه هم ژوند کـوي؛ ملنـګ خیـل، بیتـي خیـل، شـهبازخیل، باراخیل، ښادي خیل، بیانزي او سلیمانزي، دوئ ټول په ختـه ګربـز دي. همدارنګه دلته مسود، کندهاري (ودیر) او شینواري هـم شـته. خلـک یـې غریب، د کښت حاصل خېزې ځمکې یې ډېرې کمې او د سواد کچـه یـې هم لوړه نه ده. مشهور کلي یې؛ مچمور، مسعود غونډۍ، پړانګ، کارین، خیر کنۍ، ملنګ خیلو مینه، ګلایشال، خروه، میا کنـده، سـلامۍ، شـهباز خېلو مینه، کوزه، غازي خېلو مینه، قلاچۍ، چینار ناو، دوه ښـوخ، جنـډه، خان کریم مېنه، متنګا، اییت او سېرۍ ځام دي.

## د ماڼوګي مشهور کلي

ننګلام، برکنډۍ، سوندرۍ، لیچلام، کولک، شمونډ، نـاتیګرام، وډیګـرام، لوټه لام، وره دیش، وردیش تنګی، کور باغ، مناګې، کونډیل، ګورو. خاره ننګلام، بـی بیـال، کڅـی، دولـی زای، چـرو، ډونګـاه، پـاس قلعـه، پـاس ټنټیـل، پـاس غونـډۍ، ولـو تنګـی، ګـازرک تنګـی، شـهباز خیـل، ترخـه، بیرکوټ، سپرۍ، کوزه غونډۍ، چنار ناو، چم، ګوتخی، کنډر، جوړ، واشـل

تنگی، سنگ کلی، انځیر کلی، آهنگر کلی، هیبت کلی، ګلو کلی، بر کلی، تنګی، قلعه، لغم، درګی، خر کنی، تختور کلی، کل اشال، ګوشه، لوټه، کارین، توت بانډه، مرخنو کځ، مورچه مور، ګنډیل، سومی کندو، ګور کځ، پړانګه، سلامی، کسور دیش، درګی، چینه بیله، کندهاري، کوزه تارکه، شلوټې، ترله، علی خیل، ورګرم، جنډه، اشنغر، لړمانو، متین، وچ ناو، کنډار، ناتی ګرم، ویشتل کنډو، تنګی، ناڅاپه، بره کربوړی، د اوبو ناو، بیله، کولک، برچلک، کوز چم او کنډه ګل.

## د ماڼوګي مشهور خلک

د برکنډی ارواښاد شیرو خان او مرحوم حسن جان، د ودیرو سید ملا جان آخند زاده او عبد المتین صافی، د ریچه لام محمد الله ګربز، د شمونډ مولوي نظیف صافي، د کولک ملک قاسم خان صافی، د کنډه ګل اروا ښاد ایشان خان صافی، د متین ګلاب سید صافی، د مسودو عبد القادیر خان صافی او د هغه ځوی شیرعلي خان صافی، پوهاند ډاکټر عبد المالک صافی، مولوي حبیب الرحمن، مولوي رحیم الله، انجنیر سباوون صافی، مقدس صافی، مریم صافۍ، مولوي نقیب الله ننګلامی (د اسعد آباد د جامع جومات خطیب او د مولوي جمیل الرحمن خوری) د اتحاد اسلامي جهادي قومندان، ارواښاد استاذ برکت الله وحید او جنرال نصرالله صافی.

## میر اعظم خان صافی

میر اعظم خان صافی د سید اعظم خان صافي ځوی او د الله میر صافي لمسی دی. د پیچ ولسوالۍ د شوړیک د خیرکنۍ په کلی کې په ۱۲۸۳ لمریز هجري کال کې زیږیدلی او په ختۀ ملنګ خیل، ګربز دی. په تنکۍ ځوانۍ کې د غازي حیدر خان له غورځنګ سره مل شو، په ۱۲۹۸ لمریز کې یې د ارنوۍ او چترال په جبهه کې د پیرنګیانو خلاف په غزا کې برخه واخیسته. د پیرنګیانو په یوې مورچې د برید په مهال یې د یو ګروپ مشري په غاړه درلوده او یو پنځه ډزی ټوپک یې له غلیم څخه غنیمت کړ. نوموړی د ساپي کال په پاڅون کې چې ځینې مؤرخین یې بغاوت بولي، د څلور سوو کورنیو سره مل، بلخ ته تبعید شو او د ژوند ډیره برخه یې هلته تیره کړه. په ۱۳٦۰ لمریز کال کې د ورپیښې ناروغۍ له امله کابل ته راغی او په خیر خانه مینه کې میشت شو. دوه کاله وروسته (۱۳٦۲ لمریز) کې وفات او په کابل کې خاورو ته وسپارل شو. درې ځامن لري، هر یو عبد المتین خان، جند علي خان او عبدالقیوم خان صافی.

## میرزا فضل رحمن صافی

د ساپي کال په پای کې د افغانستان شاهي حکومت د صافي قوم مشرانو ته د سزا او هم په راتلونکې کې د بل پاڅون د مخنیوي په خاطر، د دې قوم ګڼ شمیر اغیزمند قومي مشران له کونړ څخه نورو ولایتونو ته تبعید کړل. عبدالمالک صافي په دې هکله څیړنې کې لیکي « په ۱۳۲٦ لمریز کال کې د صافو جګړه، د حکومتي ځواکونو په بریا سره پای ته ورسیده. د همدغه کال په ژمي کې د صافي قوم نږدې ۴۰۰ کورنۍ له کونړ څخه

هرات، قندهار، هلمند، بلخ او قطغن ته واستول شوې» په دغو کورنیو کې یوه هم د اروابناد، قطب خان صافي کورنۍ وه؛ لومړی قندهار بیا هلمند ته تبعید شوه. مرحوم میرزا فضل رحمن صافی د همدغه قومي مشر (قطب خان صافي) ځوی دی. نوموړی په ۱۲۹۷ لمریز هجري کال کې د پیچ درې په کنده گل کې زیږیدلی، ولی د ژوند پاتې برخه یې د هلمند په نهر سراج، گرشک او لښکر گاه کې تیره کړیده. میرزا فضل رحمن په خزانه دار باندې شهرت درلود او په هلمند کې د صافي قوم د ټولو خیلونو یو مهم مشر گڼل کیده. نوموړی یو خوله ور سپین ږیری او د قلم خاوند وو. خپل اته واړه ځامن یې ښه پالليې، دین او د وطن سره د مینې روحیه یې ورته تزریق کړې ده. میرزا فضل رحمن صافی په ۱۳۵۴ لمریز کې د ۵۷ کلنۍ په عمر په هلمند کې وفات او هلته دفن شو. څو کاله وروسته یې د کورنۍ خلک د حکومت له بندیزونو سره سره، له پیچ څخه هلمند ته لاړل د هغه جسد یې کونړ ته راوړ او په خپله سیمه کې یې خاورو ته وسپارلو.

د مرحوم فضل رحمن صافي مشر ځوی، اروابناد فضل احمد فضلي نومیده؛ د هلمند د وادي رئیس او بیا د طالبانو د واکمنۍ په مهال د پیچ ولسوال وو. دوهم ځوی یې عبد القاسم فضلي، ورپسی اروابناد عبد القدوس فضلي چې په امریکا کې اوسیده او هملته وفات شوی دی. څلورم ځوی یې اروابناد ډاکټر اسدالله فضلي، بل ځوی یې اروابناد ډاکټر فقیرالله فضلي، شپږم ځوی یې عبدالرحمن فضلي (حاجي شفیق الله) د کلیفورنیا په ایالت کې له تیرو دیرشو کالو راهیسی د موټرو او پرزه جاتو تجارت کوي. اووم ځوی یې ډاکټر احسان الله د ختیځ زون د عامې روغتیا په اداره کې یو مهم چارواکی او کشر ځوی یې حبیب الله فضلي

نومیږي چې له امریکا څخه په اقتصاد کې ماستري لري.

## ډاکټر اسد الله فضلي

ارواښاد ډاکټر اسد الله فضلي، د ماښوګي د وديرو د قومي مشر ميرزا فضل الرحمن صافي ځوی دی. نوموړی په ۱۳۳۴ لمريز کال کې د هلمند په مرکز لښکرګاه کې زيږيدلی او لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې همدلته سرته رسولې دي. په ۱۳۵۳ لمريز کال کې د کانکور د برياليۍ ازموينې په پايله کې د ننګرهار د طب پوهنځي ته کامياب او په ۱۳۶۰ کال کې فارغ شو. د ښو نمرو په درلودلو سره، نوموړی بيرته په همدغه پوهنځي کې د اسستانت استاذ په توګه وګمارل شو. يو کال وروسته د سرو لښکرو د يرغل له وجې، کوزې پښتونخوا ته مهاجر شو. نژدې اته کاله يې د ملګرو ملتونو د روغتيايي پروګرام د چوکاټ دننه په کرمې ايجنسۍ کې د ډاکټر په توګه د خپلو هيوادوالو صحي پالنه او خدمت وکړ. کله چې د ډاکټر نجيب الله حکومتي ځواکونه په شا او کونړ د مجاهدينو په لاس کې کيوت، نو د عبوري حکومت او ولسي غوښتنې پر بنسټ، ډاکټر فضلي د کونړ د عامې روغتيا مشر وټاکل شو او تر ۲۷ کالو پورې همداسې رئيس پاتې شو.

ډاکټر اسد الله فضلي د خپلو طبي خدمتونو په لړ کې د کونړ د لرې پرتو سيمو په ګډون، د عامې روغتيا وزارت د تشکيلاتو په برخه کې ۳۴ روغتيايي کلينکونه جوړ يا بيرته ورغول. همدارنګه نوموړي وکولای شول ديني عالمان په دې قانع او راضي کړي چې د مختلفو ناروغيو لپاره کاريدونکي واکسين حلال او د ژوند او نسلونو د بقا لپاره ډير اړين دي. هغه ورځ چې د ډاکټر فضلي د تقاعد په پار د ځانګړو مراسمو غونډه پای ته

ورسیده، د یونیسف د اداري له خوا په ختیځ زون کې د واکسینو د کمپاین عمومي مشر وټاکل شو او د مرګ تر ورځې یې په ډېره ښه توګه سمبال کړه. د ۲۰۲۰ کال د اپریل په لومړۍ اونۍ کې اسمار ته لاړ چې له ځایي خلکو سره طبي مرستې وکړي، ولې د کار په ترڅ کې د کورونا وژونکې ناروغۍ ونیو او د اپریل په پنځه ویشتمه یې خپله ساه، د ارواو خالق ته وسپارله. نوموړي واده کړی وو، یوه کونډه، شپږ ځامن او درې لوڼې یې ترشا پرېښودې.

## ډاکټر شمس الرحمن توره کی

پوهاند ډاکتر شمس الرحمن توره کی په ۱۳۱۲ لمریز کال کې د پېچ ولسوالۍ په وره دېش کلي کې، د ارواښاد مولوي محمد قابل د کور دننه دنیا ته سترګې وغړولې. په ۱۳۱۹ لمریز کې د خپل کلي په ابتدائیه ښوونځي کې شامل شو، خو د صافیانو د قومي پاڅون له امله د وخت د حکومت له خوا کابل ته ولیږدول شو. هلته په عسکري لېسه کې شامل او په ۱۳۳۲ لمریز کال کې له فراغت وروسته، د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته کامیاب شو. په ۱۳۳۹ لمریز کې د طب له پوهنځي څخه فارغ او د قوای مرکز په روغتون کې د جراح ډاکتر په توګه وګمارل شو. د څه مودې لپاره یې د ابن سینا په روغتون کې کار وکړ، بیا په ۱۳۴۸ کال کې د دفاع وزارت له لوري د اورتوپیدي په څانګه کې د زده کړو لپاره د ترکیې هېواد ته واستول شوو. د تحصیل په پای کې بیرته وطن ته راغی او څه موده وروسته د ورپېښې ناروغۍ له امله یې د جګړنی په رتبه تقاعد واخیست. د تدریس د سپڅلې دندې سره د مینې له وجې، د ننګرهار د

طب په پوهنځي کې د مشر استاذ په توګه وګمارل شو.

پرته له کومې څرګندې ګناه، کمونستانو د خپلې کودتا په پیل کې استاذ توره کی د اتو میاشتو لپاره بندي کړ. له زندان وروسته یې د ابن سینا، جمهوریت او شهید محمد داود د څلور سوو کټونو په عسکري روغتون کې کار وکړ. په ۱۳۷۱ لمریز کال کې پیښور ته کډه شو او د دعوت او جهاد پوهنتون د اورتوپیدي په څانګې کې یې په سلګونو محصلین وروزل. په عین وخت کې یې په پیښور کې د خپل شخصي ـ کلینک له لارې، د زرګونو مهاجرو هیوادوالو درملنه وکړه. ډاکټر شمس الرحمن توره کی د مهاجرت له اوږدې تجربې وروسته بیرته هیواد ته ستون شو، د یوې ناڅاپي ناروغۍ له امله د ۱۳۹۵ لمریز کال د غوایي د میاشتې په شپاړسمه وفات شو.

## حاجي میا حسن عادل

د کونړ د ولایتي شورا پخوانی رئیس، حاجي میاحسن عادل د شهید میرزا محمد خان ځوی، په برکنډۍ کې زیږیدلی دی. اته وړونه یې درلودل؛ له هغوئ څخه یو تن یې صالح محمد خان دی چې د هیواد د مشرانو جرګۍ په یوه دوره کې سناتور او بیا د ولسي جرګې غړی وو. دوئ اصلاً د دېوه ګل درې د کومبړخېلو څخه د پیچ برکنډۍ ته راغلي او همدلته میشت شوي دي. ویل کیږي کله چې شیګل د اسلامي حزب مجاهدینو ونیو؛ میاحسن د څانګار د غرونو له لارې د خپلو وسله والو په ګډون شیګل ته لاړ او له طالبانو سره یې اړیکي نژدې کړې. د طالبانو له ماتې وروسته، نوموړی د پشه یانو(شاړو) د دوو مهمو قومندانانو، حضرت علي او ګل کریم سره د همغږۍ له برکته، د ننګرهار د قول اردو په یو مهم ځای کې وګمارل شو او د دغو قومندانانو له لارې یې د شمال له ټلوالې سره خپله

راشه درشه پخه کړه. اروابښاد میاحسن د ۱۳۹۴ لمریز کال د زمري په ځلورمه نیټه (جولای/ ۲۰۱۵) د ښېوې په ولسوالۍ کې د ناڅرګندو وسله والو له لوري په ډېرې بې رحمۍ سره ووژل شو. د ښیوې ولسوالۍ یو امنیتي چارواکي د پیښې د جریان په اړه خبریالانو ته وویل؛ د میا حسن عادل مړی یې پداسې حال کې د ګمبیري په دښتې کې وموند چې سر یې له تنې څخه جلا پروت وو.

## سناتور، صالح محمد صالح

حاجي صالح محمد صالح د شهید میرزا محمد خان ځوی او د اروابښاد میا حسن عادل ورور، په ۱۳۴۶ لمریز کال کې د پیچ ولسوالۍ د برکنډۍ په کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ ښوونځی یې پخپل کلي کې لوستې او ثانوي دوره یې د هجرت په مهال د باجوړ ښار د امام ابو حنیفه صیب په لیسه کې سرته رسولې ده. نوموړی په کونړ کې له آزادۍ وروسته، د څه وخت لپاره د ترانسپورت مدیر او بیا د مشرانو جرګې په پنځلسمې دورې کې د کونړ د سناتور په توګه غوره شوی دی.

## عطاء الله فضلي

عطاء الله فضلي د فضل احمد ځوی دی، په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د ماڼوګي ولسوالۍ د کنډه ګل په کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپلې سیمې کې وکړې، په ۱۳۷۶ لمریز کال کې د ننګرهار پوهنتون، د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ شو. د لوړو زده کړو په موخه، د مدیریت او ادارې په برخه کې جاپان ته د یو رسمي بورس له لارې د زده کړو لپاره واستول شو. فضلي وکولاې شول خپل یو کلن تعلیمي کورس په کامیابۍ سره بشپړ کړي او له ډګري سره بیرته وطن ته را وګرځي. په

۱۳۹۱ لمریز کال کې د آزادو سیالیو له لارې، فضلي لومړی په پکتیکا او ورپسې د ارزګان په ولایت کې د مرستیال والي په توګه دندې ترسره کړي. نوموړی په دولتي اوغیری دولتي سازمانونو کې، د ښه کار او فعالیت شل کلنه سابقه او تجربه لري.

## امیر، شاه ځلمی

جهادي قوموندان، امیر شاه ځلمي د ماڼوګي د ننګلام په کلي کې په ۱۹۷۱م کال کې زیږیدلی دی. د سرو لښکرو خلاف د جهاد په مهال، د کونړ لپاره د حضرت صبغة الله مجددي د ملي نجات د جبهې ولایتي امیر وو. پلار یې، امیر غلام حبیب صافی هم د جهاد او هجرت په مهال یو له یادو قوموندانانو څخه شمارل کیده. مرحوم د افغان مهاجرینو په کمپونو او د جهادي ګروپونو ترمنځ له ښه درناوي څخه برخمن سړی وو. د شاه ځلمي نیکه، طالب اخند زاده هم په خپل وار د ساپي کال په ترخ کې د دغه پاڅون له قومي مشرانو او اغیزمنو خلکو څخه ګڼل کیده. حاجي شاه ځلمي ابتدائیه ښوونځی په خپل کلي کې لوستی او ثانوي دوره یې د هجرت په کلونو کې د امام ابوحنیفه (رح) په مدرسې کې سرته رسولې ده. بیا یې پیښور کې د مجاهدینو په حربي پوهنتون کې زده کړې وکړي، له فراغت وروسته د خپلې جبهې د مشرۍ په پار کونړ ته لاړ. د قوموندان شاه ځلمي ورور، انعام الله صافی نومیږي دا وخت د ننګرهار د کرنې رئیس دی. شاه ځلمی د ۲۰۱۸م کال راهیسې د خپلې کورنۍ سره، د امریکا د کلیفورنیا ایالت په پلازمینې، د سکرمنټو په ښار کې اوسیږي.

## محمد طاهر شرر صافی

د محمد طاهر شرر ساپي پلرنې ټاټوبی د ماڼوګي ولسوالي ده، خو هغه په

۱۹۷۹م کال کې د کندوز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ کې زیږیدلی دی. دوه کلن وو چې کورنۍ یې د شوروي یرغل د وحشت له لاسه پیښور ته کډه شوه. د مردان د باغیچې، د ملاکنډ تیمر او جلوزو په کمپونو کې اوسیدلی او زده کړې یې د پوهاند سیاف د حراء په عالي لیسه کې ترسره کړې دي. په ۱۹۹۹م کال د دولسم ټولګي څخه فارغ شو او د کانکور وروسته، د ادبیاتو پوهنځي عربي څانګې ته چې دغه مهال په پیښور کې وه بریالی شو. نوموړي خپل لیسانس په ۲۰۰۴م کال کې د ننګرهار له پوهنتون څخه واخیست او لیکنو او ژباړو ته یې مخه کړه. شرر په فقهې او قانون کې ماسټري لري او د سیرت النبي (ص) د شلو جلدو د ستر کتاب، څلور ټوکه یې پښتو ته ژباړلي او خپاره کړي دي. همدارنګه یې (د حسین ژوند) کتاب هم پښتو کړی او درې ځلې خپور شوی دی. اوسمهال په کابل کې د دعوت ټلویزیون مرستیال دی او د پوهاند سیاف د دعوت په پوهنتون کې درس هم ورکوي.

## شفیع الله تاند

د یو شهید (محمد نعیم) ځوی چې د هجرت په مهال په یوې کیږدۍ کې لوی شوی، نن د کونړ د ځوانانو په هغې لیکې کې ولاړ دې چې پاخه لیکوالان یې اریان دریان کړي دي. د قلم او ژبارې دغه تاند ځلمی، شفیع الله تاند نومیږي په ۱۳۶۸ لمریز کال کې د کوزې پښتونخوا په باجوړ کې زیږیدلی دی. لومړنی او منځنی ښوونځې یې همدلته لوستې او په ۱۳۸۵ لمریز کې بېرته پلرني ټاټوبي ته کډه شوی دی. د نوموړي د خپلې وینا له مخې، د کورنۍ کمزوری مالي حالت یې د لوړو زده کړو په وړاندې خنډ وګرځید. خو همت یې وکړ د ښیوې ولسوالۍ اړوند، د شهید لعل محمد له لېسې څخه په ۱۳۹۴ لمریز کې فارغ شو. په کور کې یې پلتنې ونه وهله، سم له واره یې د یو شخصي پوهنتون ور وټکاوه او د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامل شو، د ۱۴۰۰ لمریز کال پسرلی یې وروستی سمستر دی.

شفیع الله تاند د خپلو همزولو په منځ کې، د کتاب، لیکنې او له نورو ژبو څخه د ژباړې دود ته مخه کړه او نوی کول یې وهڅولو چې دا کار یوازې د مشرانو او استاذانو کار نه دی؛ بلکې هر هغه څوک چې په کومه برخه کې مطالعه او تجربه لري، باید لاس په کار شي. تر څو افغان انسان د کتاب خاوند او د علم په ګاڼه سمبال شي کوم چې د ننني نړۍ د ژوند کولو تقاضا ده. هماغه وو چې تاند د نړیوال اسلامي مبلغ، ډاکټر ذاکر نایک لس کتابونه، د ابو الاعلی مودودي، مشهور ادیب رابندر نات ټاګور، امیر خسرو، رومي، تبریز او اسلام او جمهوریت په نومونو په لسګونه

کتابونه وژباړل او بې بېلګې هرکلی یې وشو. تاند په ننګرهار او کونړ کې د کتاب پلورنځیو تر څنګ، په خپرندویو ټولنو وګرځېد، ټول هېواد ته یې کتابونه ولېږل، ښه بازار او ګڼ مینه وال یې ومیندل. مګر نوموړی ګیله مند دی چې په دې علمي سفر کې حکومتونو ورسره نه یواځې دا چې هیڅ راز مرسته ونه کړه، بلکې د مالیې او ټیکس سر درد یې ورته جوړ کړی. خو هغه نه پښیمانه دی او نه ستومانه، کلک هوډ یې کړی چې تر څو یې وس وي، منزل ته به خپل مزل جاري ساتي.

## ۱۲- مره وره

مره وره د اسعد آباد ختیځ لور ته، د سیند پورې غاړه د ډیورنډ پر لیکې پرته ولسوالي ده. ټول ټال مساحت یې ۱۵۸ کیلومتره مربع ته رسي، ٦٣ لوی او واړه کلي لري. ختیځ ته د شلتن ولسوالي، سهیل ته د ډیورنډ له پولې پورې غاړه د باجوړ ایجنسي، شمال ته یې د کونړ سیند، اسعد آباد او د شیګل یوه کوچنۍ برخه او لویدیځ ته یې د سرکاڼو ولسوالي ده. مره وره پخوا د سرکاڼو اړونده علاقداري وه، بیا یې د دوهمې درجې ولسوالۍ ته ارتقاء وکړه. د استوګنو اکثریت یې په قام ماموند دي، یوازې د ایسار په کلي کې سالارزي میشت دي. د ماموندو قوم دولس پڼې (سهمونه) دي چې له دی جملې څخه پنځه پڼې (سهمه) د مره ورې دي، په دوئ کې سلیمانخیل، یوسف خیل، مسعود خیل، خلوزي او ادم خیل شامل دي. درې پڼې (سهمه) په شلتن کې اوسي چې بروزي، اوروزي او برکمانزي دي. څلور پڼې (سهمه) ماموند د ډیورنډ د لیکې هغې خوا ته، د باجوړ په سیمه کې آباد دي.

د لیکې دواړو خواو ماموند، د ګډې وینې، ګډو هدیرو، ګډو جایدادونو،

ښځینه خپلولیو او سوداګریز تګ راتګ له امله ډېرې خوږې او ښې اړیکې لري. د مره ورې ماموندو ته لوی ماموند او د شلتن ماموندو ته واړه ماموند ویل کیږي. د لیکې د بلې غاړې په ماموندو کې هم غټ او هم واړه ماموند خواره واره آباد دي. د مره ورې ولسوالۍ کرهنیزې مځکې ډېرې کمې او اکثره برخه یې للمي ده. خلک یې تجارت پیشه او د سرحد په دواړو خواوو کې له ډېر پخوا راهیسی په کچرو او اوس د موټرو له لارې خپل تجارت او ورځنی ژوند پرمخ بیايي. د شهید ولسمشر، محمد داود د حکومت په دریم کال د سیند له غاړې څخه د ډیورنډ د لیکې تر برې غاړې پورې یو سړک وغزول شو چې د خلکو په ټرانسپورټ کې یې مهم بدلون راوست. په تیرو شلو کلونو کې ګڼ شمیر پرمختیایي پروژې په کار اچول شوې، په لسګونو ټولنیزې شوراګانې جوړې شوې او د مره ورې یو شمیر ځوانان د حکومت په لوړو چوکیو کې ګمارل شوي دي.

## د مره ورې مشهور کلي

لوې کلی، سیرۍ، کمانګره، سینګام، نادر خان کلی، ډاک کلی، مصري غار، ناو، بابي ناو، سپینه ګټه، حاجي سردار کلی، سرکو کلی، لاهور کلی، برولو کلی، رشید کلی، بانډه، نرۍ اوبه، ترخې اوبه، موړه، مینا ګل، چینار، پیران، بچه، لویه بچه، چهل ګزی، ګچ ګل، آدم خیل، سعید آباد، کوزه قلعه، مانو کنډرو کلی، چینو کلی او د ډنډوکې بانډه. د غوایي له کودتا او په ځانګړي ډول د شوروي اتحاد له خونړي یرغل وروسته، مره وره د هجرت د لویو لویو کاروانونو، جهادي عملیاتو او شهادتونو شاهده وه. اکثرو جهادي تنظیمونو دلته یوه جبهه درلوده او په اسعد آباد باندې د عملیاتو ډېر پروګرامونه همدلته جوړیدل او عملی کیدل. دا چې په هغه وخت کې پل نه وو، نو د مجاهدینو اکثره ګروپونه به د جالو او شنازونو په

واسطه د سیند له یوې غاړې څخه بلې غاړې ته تلل راتلل. زه پـه خپلـه د دې ګواه یم چې د خلقي رژیم چورلکـو بـه د مجاهـدینو هغـه کاروانونـه او ګروپونه په نښه کول چې د بچې د جالې په واسطه به د سیند بلې خوا تـه تیریدل.

## مولوي، حمد الله جان ماموندزی

د ارواښاد مولوي حمد الله جان ماموندزي ځوی او زما محترم دوست، ادریس ماموندزی چې د ملګرو ملتونو په مرکز (نیویارک) کې د یو مسلکي ډیپلومات او څیړونکي په توګه کار کوي، د خپل پلار د ژوند لیک په اړه ما ته داسی وویل: « یوه ورځ مې د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه چې ستاسې په پوزه دا ورکوټی شان زخم ولې دی؟ نو هغه راته په خندا کې وویل، زما ورونه او خویندې نه پاتې کیدې، نو کله چې زه وزیږیدم مور مې راله پوزه سوری کړه چې ګوندې پاتې به شم. زما پلار په ۱۹۲۸م کال کې د کونړ ولایت د مره ورې په لر کلي کې زیږیدلی او د پلار نوم یې حفیظ الله وو. په ختنه د ماموندزو د مسعود خیلو په لویه قبیله کې د ادیخیلو له ټبر څخه دی چې د ډیورنډ د برې کرښې د ماموندو مشره قبیله ده. د لیکې کوزې خوا ته، په باجوړ کې د مسعود خیلو قبیله یې بله پښه ده، د سامدین خیلو په نوم یادیږي. نیکه می متصوف او په ادین خیلو کې یو له هغو خلکو څخه وو چې لیک لوست یې کولای شو».

مرحوم ماموندزي د قرانکریم، فقهې او فارسي ادب لومړني کتابونه له خپل پلار څخه لوستلي وو. لا دولس کلن نه وو چې پلار یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او خپلې ناروغې مور ته بې سرپرسته او یتیم پاتې شو. دوه کاله وروسته یې مور هم وفات شوه او هغه بې وروره بې خوره یواځې پاتې شو. په څوارلس کلنۍ کې د شرعي علومو د زده کړې په خاطر لومړی باجوړ بیا پیښور ته لاړ. د جامعه اشرفیه په مشهورې مدرسې کې یې ځان شامل کړ او د درس ترڅنګ یې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو

لپاره مزدوري هم کوله.
ماموندزی زیاتوي: « ارواښاد پلار مې په پېښور کې د طالب علمۍ په مهال، د مولانا مودودي د لیکنو سره اشنا او د هغه استدلال یې ډېر خوښیده. د جماعت اسلامي ملګری شو، څه موده وروسته یې رکن شو بیا د پېښور د ښار امیر مقرر شو». کله چې مولانا حمدالله بیرته افغانستان ته ستون شو، نو خپل ورځني مصارف یې د تجارت او طبابت له درکه ترلاسه کول، د مسلکي امامت څخه یې همیشه ډډه کوله نو ځکه د ډاکټر مولوي په نوم مشهور وو. د ثور د بدمرغې کودتا په پیل کې کمونستانو دوه ځلې هڅه وکړه چې هغه بندي کړي، خو هغه د شپې له خوا په پټه باجوړ ته واوښت.
ادریس ماموندزی د خپل پلار د اصلاحي هلو ځلو په اړه وایي « د پاکستان د جماعت اسلامي او زما د پلار د ډېرو کوښښونو په پایله کې، د حزب او جمعیت تر منځ د وحدت خبرې پیل شوې او د سولې په نوم ۲۱ کسیزه کمیټه جوړه شوه. که څه هم اتحاد وشو او دواړو جهادي ګوندونو د یو امیر سره شرعي بیعت وکړ، خو د شیخ جمیل الرحمن په څیر ځینی مهم کسان له صحنې بهر پاتې شول او د دغه اتحاد ملاتړ یې ونه کړ. هغوئ زما له پلار څخه غوښتنه وکړه چې د معاون په حیث ورسره ملګری شي، خو پلار مې په دی خاطر دغه غوښتنه ونه منله چې د تنظیمونو تعدد، د ګټې په ځای تاوان راوړي. بالاخره یې تصمیم ونیو چې د استاذ رباني د مشرۍ لاندی جمعیت اسلامي سره خپله ملګرتیا اعلان او د اجرائیه کمیټې او مرکزي شوری سره خپل جهادي او سیاسي فعالیت پیل کړي».
ماموندزي د خپل پلار د سیاسي فعالیت په اړه وویل: « کله چې تنظیمي

اتحاد ړنګ شو نو د استاذ رباني د ګونګو پالیسیو په نتیجه کې داخلي اختلافات را څرګند شول، سید نورالله عماد، اروابښاد مولوي میر حمزه، شهید جان محمد احمدزی او مرحوم استاد سخي داد فایز په څیر مهم مشران ډېر خوابدي شول. دغه وخت زما پلار لیکنو او ژباړلو ته ځان وزګار کړ او ډېر څه یې تالیف او ترجمه کړل. په دغو لیکنو کې اسلام او میرمن، د باري تعالی د وجود دلایل، سنت او بدعت، منصفانه قضاوت، د علم سمندر، امام ابوحنیفه او ځیني منظوم کلامونه او اشعار هم ولیکل».
مرحوم د افغان مهاجرینو په یو شمیر کمپونو او هم په خپلې پلرنۍ سیمې کې د مکتبونو او مدرسو تاداوونه کیښودل او په مره ورې کې یې لومړنۍ جهادي جبهه جوړه کړه. د مطالعې او کتاب سره یې بې کچه مینه وه، هر وخت به یې کتاب په لاس کې نیولی وو؛ په روژه کې به یې هرو مرو د قرانکریم اوه، اته ختمونه کول. مولوي ماموندزی، د ۲۰۱۷م کال د جون په اوومه نیټه چې د روژې د میاشتې وروستۍ لسیزه وه، د ۸۹ کلنۍ په عمر وفات او په پیښور کې دفن شو. نوموړي یوه کونډه، درې ځامن او درې لوڼې ترشا پریښودې.
زه (ملکزی) د مرحوم ماموندزي صیب د یو څو ورځو شاګرد یم. ښه مې په یاد دي چې د ۱۳۵۸هجري لمریز کال په ژمي کې موږ او دوئ د پیښور په دین بهار کالونۍ کې ګاونډیان وو، هغه زما د اروابښاد پلار (استاذ محمد امین ملکزي) او زما د مرحوم تره (حاجي فضل محمد ملکزي) نږدې دوست وو. زه به کله نا کله د ویالې د غاړې په جومات کې د دوئ په مازیګرنۍ تعلیمي حلقې کې درس ته کیښناستم. هغه وخت زه د دولسم ټولګي شاګرد ووم، ما ته به یې کله د ځوان کله د نرنګي په نوم غږ کولو. اروابښاد ربښتیا هم ډېر سوله خوښی او په سیاسي مسائلو پوهه دیني عالم

## حاجي سيفور (سيف الرحمن ماموند)

د لوی ماموندو د مسعود خیلو د ټبر مشهور قومي مشر، غازي عبد الرحمان ادیخیل د دریو ځامنو پلار وو: سیف الرحمان، سعید الرحمان او محمد رحمان. په دغو درې ځامنو کې حاجي سیف الرحمان، د ماموندو د قام مشر په ۱۸۹۶م کال کې د مره ورې په لر کلي کې زیږیدلی وو، عامو خلکو د ملک سیفور په نوم پیژندلو. کله چې په ۱۳۲۵ لمریز هجري کال کې د ساپو او د افغانستان د دولت ترمنځ د ډزبندۍ او سولې خبرې پیل شوې، ملک سیف الرحمن په دغه بهیر کې ډیره غوښنه ونډه لرله ترڅو دغه دوه کلنه جگړه پای ته ورسیږي. د هغه په وړاندیز دولت موافقه وکړه چې د صافی قوم هغو خلکو ته د جبیرې په توگه، دولتي مځکې ورکړل شي چې په جنگ کې زیانمن شوي دي، همدارنگه ولس به له دولت څخه خپله لاره نه جدا کوي.

د ملک سیف الرحمن د همدې نوښت له مخې، د افغانستان دولت نوموړی د باجوړ او مومندو د قومونو لپاره، د پښتونستان د قومي خوځښت مشر وټاکلو او ایله جاري لښکر یې دیته تیار کړ چې د مره ورې په لاره باجوړ ته واوړي. بله لاسته راوړنه یې دا وه چې د ماموندو قوم یې په رسمي توگه د افغانستان سره وصل کړ او دولت ته یې اجازه ورکړه چې د خان غونډۍ په څوکه کې عسکري کنډک ځای په ځای او د یو مکتب بنسټ هم کیږدي. ده خپله مځکه د مکتب لپاره وقف کړه.

ملک حاجي سیف الرحمان له دین او وطن سره د مینې له کبله، څو څو

ځلې د کمونست رژیم د ناکامو هڅو سره مخ شوی، ترڅو د زندان پنجـرو او د اعدام تختې ته یې سیخ کړي، خـو بریـالي نـه شـول. اروابښـاد د خلـق او پرچم د رژیم د مخالفینو په لیکه کې ودرید او په سـپینه بږیـره اړشـو چـې لـه خپلې کورنۍ او نژدې خپلوانو سره باجوړ ته مهاجر شي. د جهاد په پیل کـې یې خپل ځوی، ګل محمد خان او لمسی، عبد المعروف د شهیدانو له کاروان سره مل شول او څه موده ورسته یې بل لمسی، پیلـوټ عبـدالروف خـان هـم شـهید شـو. حـاجې صـاحب سـیف الـرحمن پـه ۱۹۸٦مـیلادي کـال کـې د هجرت په مهال خپل روح، الله پاک ته وسـپارلو او د قـوم د مشرۍ پګـړۍ یې ځوي، حاجي حضرت الرحمن ته په سر کړه.

## حضرت رحمن ماموند

د مره ورې ولسوالۍ په جهادي او ولسي۔ مشرانو کې، حاجي حضرت رحمن ماموند چې د ملک حاجی سیف الرحمن ماموند ځوی دی، ځانګړی ځای لري. اروانښاد حضرت رحمن په کونړ کې د ساپو د پاڅون په کال، ۱۳۲۴هجري لمریز کې د مره ورې ولسوالۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي او منځنۍ او ثانوي زده کړې یې د کابل په خوشحال خان لیسې کې تر دولسم ټولګی پورې ترسره کړې دي.

د شهید ولسمشر، محمد داود د واکمنۍ پر وخت یې د کورنیو چارو په وزارت کې رسمي دنده پیل کړه او د خپلې کاري وړتیا له مخې، د پکتیا ولایت په منګل ځدراڼ کی علاقدار او بیا د ولسوال په توګه وګمارل شو. د غوایي د کرغیړنې کودتا په رامنځ ته کیدو سره، ولسوال حضرت رحمن اړ شو چی د خپلې اسلامي روحیې په حکم او د خپل پلرني ټاټوبي څخه د دفاع په خاطر، د کوزې پښتونخوا د باجوړ سیمی ته هجرت وکړي. د روسانو او د هغوئ له بریځو سره د جهادي وجیبې د تر سره کولو له امله یې د استاذ رباني د مشرۍ لاندې په مره ورې کې د جمعیت اسلامي جهادي قومندان وټاکل شو. مګر د ځینو ملاحظو او اختلافي ټکو له کبله یې جمعیت اسلامي پریښود او د مرحوم مولوي خالص د حزب اسلامي سره یو ځای شو. په جهاد کی یې یو ورور او وریرونه شهیدان شول، خو هغه نه په شا شو او نه پښیمانه.

ولسوال ماموند په شیګل کی د طالبانو او ولسي خلکو ترمنځ شخړه حل

کړه او ویې وکولای شول چې د وینو تويیدو او غټ قتلان مخه ونیسي.
کله چې د ۱۳٦۷ لمریز کال د تلې په یولسمه نیټه د کونړ ولایت د مجاهدینو لاس ته ولوید؛ نو یوه عبوري سیمه ییزه اداره جوړه شوه. د ټولو جهادي تنظیمونو له خوا، حضرت رحمن د ولایتي ادارې د مرستیال په توګه وټاکل شو. په کابل کې د کورنۍ جګړې په وخت، ملک حضرت الرحمن د ارواښاد، مولويخالص بابا په غوښتنه کابل ته لاړ. مګر هلته د کوم ناڅرګند وسله وال ګروپ له خوا وتښتول شو، بیا د ډیرو هڅو او څو میاشتو بند وروسته ازاد شو. کله چې جهاد پای ته ورسید او مجاهدین د قدرت په خاطر په خپلو منځونو کې کیوتل، حضرت رحمن وسله په مځکه کیښوده او د هیڅ ډلې او ګروپ سره یې په کورنیو جګړو کې نه ملتیا وکړه او نه یې د چا په جایداد خیټه واچوله.
زه شخصا د دغه ارواښاد د مجاهدې او میلمه پالنې شاهد یم. هغه وخت چې حفیظ الله امین، خپل ویاړلی خلاق استاذ او د شرق نابغه د بالښت په پستو مالوچو باندې مړ کړ، زه په دغه ورځو کې تنکي ځوان ووم او د ځینو خپلوانو او کلیوالو سره له باجوړ څخه د باډیل درې ته په لار وو. د یوې اوږدې او ستړې ورځې په مازیګر، موږ یولس تنه په مره ورې کې د دوئ دیرې ته ورسیدو. د توتانو د سیوري لاندې مو په غټو غټو کټونو کې دمه برابره کړه، د ډمبرګلو او نرګسو ګلدانۍ د لښتي دواړو غاړو ته پرتې وې. په پراخه تندي یې په اصطلاح خدا وس ډوډۍ راکړه او چای پری د پاسه. بیا حاجي صیب یو کلیوال له موږ سره مل کړ ترڅو د سیند ترغاړې له موږ سره په بدرګه لاړ شي او د بچې په منطقه کې جاله برابره کړي چې د سیند بلې غاړې ته واوړ.
ارواښاد د افغانستان پوره ازادۍ او داسې نظام ته هیله مند وو چې د دې

ولس د دردونو او ټپونو درمل شي. حاجي حضرت رحمن ماموند یو واده کړی وو، پنځه ځامن او څلور لوڼې لري. نوموړی د وروستي ناروغۍ له امله د ۱۳۹۸ لمریز کال د لړم د میاشتې په پنځه ویشتمه نیټه، د جمعې په شپه د ۷۳ کالو په عمر په خپل کور کې وفات او بیا د مره ورې د لوي کلي په هدیرې کې خاورو ته وسپارل شو.

## محمد ادریس ماموندزی

محمد ادریس ماموندزی د ۱۹٦٦م کال د جون په لسمې نیټې د کونړ د مره ورې ولسوالۍ په لر کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ ښوونځی یې په لر کلي کې سر ته رسولی، بیا د غوایي د تورې کودتا له امله د خپلې کورنۍ سره پېښور ته مهاجر شویدی. د هجرت په پیل کې یې د مولانا چترالي په مشهورې مدرسې، حدیقة العلوم کې درس ولوست، د مدرسو د ګډوډ تدریسي سیستم له امله یې پلار د پېښور په دولتي مکتب کې شامل او له لیسې څخه فارغ شو. د قرآنکریم ترجمه او د اسلامي علومو ډیره برخه یې د خپل پلار څخه ولوستله. وروسته یې د پېښور له اسلامیه کالج څخه د کیمیا او بیالوژي په څانګه کې لیسانس واخیست. ماموندزي د محصلۍ په دوره کې، د وحدت او مجاهد په جریدو کې لنډې سیاسي او ټولنیزې مقالې لیکلې او هم یې په سیاسي هلو ځلو کې برخه اخیستله. همدارنګه د پاکستان په پوهنتونونو کې یې د افغانستان د اسلامي جمعیت د محصلینو د مسئول او د جوانان د جریدې د پښتو برخې د چلوونکي په توګه کار کړی دی.

لومړنۍ کاري دنده یې په ۱۹۹۲م کال کې د ماین پاکۍ یوې مؤسسې کې د محاسب په توګه پیل کړه، دوه کاله وروسته په اسلام اباد کې د

ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ له دفتر سره د محاسب په توګه مقرر شو. له څلور نیم کاله خدمت وروسته د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې له سازمان سره د اداري مسؤلیت ترڅنګ، د مالي امورو په اداره کې د ماسترۍ شهادتنامه ترلاسه کړه. په ۲۰۰۰م کال کې د ملګرو ملتونو د نړیوال کارمند په توګه په مراکش (المغرب) کې د لویدیځې صحرا لپاره د ریفرنډم له هیئت سره د بودیجې د مسئول په توګه کار پیل کړ. له شپږ کلنې دندې وروسته، د افریقا سیرالیون بیا د آسیا نیپال ته د محاسبې او بودیجې د مسئول په توګه د ازادۍ مقابلې له لارې انتخاب او ولیږل شو. له هغه وروسته ایټالیا ته واستول شو او د ملګرو ملتونو د مرکزي منجمنټ د برخې د عمومي مسئول په توګه شپږ کاله هلته پاتې شو.
نوموړی اوسمهال د ملګرو ملتونو په مرکزي دفتر (نیویارک) کې د یو څیړونکي او ډیپلومات په توګه کار کوي. ماموندزي وکولای شول د همدې رسمي بوختیا سره سره، د کارنل پوهنتون څخه د بشري منابعو د اداري ډیپلومه ترلاسه کړي. په اسلام آباد کې د استوګنې په وخت یې د افغانستان د لرغوني تاریخ د میراث د ساتنې د ټولنې سره چې د آغلې نانسي ډوپرې په څیر مشهورو خلکو یې غړیتوب درلود، له نژدې کار کړی دی. همدارنګه نن سبا په افتخاري ډول، د خورو ورو افغانانو له هغې ټولنې سره همکاري لري چې له هیواد څخه د باندی د هغوئ په کلتوري او اړونده ستونزو باندې څیړنې او لیکنې کوي. په ټولنیزو رسنیو کې ډیر فعاله او وخت نا وخت خپلې لنډې سیاسي او انتقادي لیکنې خپروي چې خورا ډیر مینه وال لري. ادریس ماموندزي واده کړی، د څلورو لوڼو او دوو ځامنو پلار دی.

## فرید ماموندزی

په هندوستان کې د افغانستان سفیر، فرید ماموندزی د ۱۹۸۳م کال د سپټمبر په میاشت کې زیږیدلی دی. د برمنګهم د جوسایا میسن کالج یې لوستې او د حسابدارۍ او نړیوالو مالي چارو په برخه کې یې د برمنګهم پوهنتون (انګلستان) څخه د ماسترۍ ډګري ترلاسه کړې ده. نوموړي د څو مشهورو علمي ژورنالونو لپاره د حاکمیت او پرمختیایي څېړنو په برخه کې علمي مقالې لیکلې او چاپ شوې دي. ماموندزی له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۱م کال پورې په کابل کې د امریکایي پوهنتون د سوداګرۍ پوهنځي د علمي کدر غړی او د ملګرو ملتونو د بیلا بیلو بنسټونو د خپلواک مشارو په توګه دندې اجراء کړې دي. همدا شان یې د دواړو ولسمشرانو (کرزي او اشرف غني) د حکومتونو په ترځ کې د بهرنیو چارو وزارت او ملي امنیت د ستر سلاکار او د سیمه ییزو ارګانونو د تخنیکي چارو او پالیسۍ د معین په توګه کار کړی دی. فرید ماموندزی د ۲۰۲۱م کال په لومړیو کې هندوستان ته د افغانستان د سفیر په توګه واستول شو. هلته د کورونا د ناورین په دې حساسو شیبو کې د خپلو افغانانو سره له نژدې اړیکې ساتي او تر ممکنه حده د هغوئ لاسنیوی او رهنمایي کوي. سفیر واده کړی او د څلور اولادونو پلار دی.

## ۱۳- ناړۍ

د ناړۍ ولسوالي د اسعد آباد ختیځ خوا تـه د ۸۲ کیلومترو په واټن لیرې پرته ده چې د موټر په مزل، دوه نیم ساعته لرې ده. شمال او شمال ختیځ خوا ته یې د نورستان د کامدیش ولسوالي، سهیل او سهیل ختیځ

لوري ته یې د ډیورنډ لیکه ده چې بله خوا یې دیر او چترال دی. لویدیځې پولې یې د غازي آباد او اسمار له ولسوالیو سره نښتې دي. ناړۍ د ولایت په تشکیل کې دوهمه درجه ولسوالي ده؛ مساحت یې ۴۸۵ کیلو متر مربع دی؛ ٦٦ لوی او واړه کلي لري؛ ۲۲ سلنه خلک یې لیک لوست کولای شي. غرونه یې په ډول ډول بوټو شنه دي، سیند ته نږدې غونډۍ یې نسبتا سپیرې او په ختریزو او غوړاځکو پوښل شوې دي. ټول ټال شپږ زره جریبه زراعتي مځکه لري، دوه زره جریبه یې آبي او پاتې څلور زره یې للمه ده، د موسمي بارانونو له برکته فصل کوي.

د کونړ سیند د ناړۍ ولسوالۍ په منځنۍ برخه کې بهیږي، مګر د سیند د ژور والي او د یو پرمختللي او مودرن سیستم د نه شتون له امله، د سیمې د زراعت او کروندو په خړوبولو کې د پام وړ رول نه لري. خلک د باراني موسم او سیلابونو په ترڅ کې شاوړي (هغه لرګي چې سیلابونه یې له ځنګلونو څخه سیند ته راوړي) او خواړه کبان نیسي. د غرونو ترمنځ ناوونو او په زړه پورې ابشارونو، ناړۍ ته ډیره ښکلا ښښلې ده. دلته سالارزي، مشواڼي، ساوجي، نورستاني، ګوجر او کوهستاني قومونه سیند ته نږدې اوسیږي او ځینې په غرنیو سیمو کې خواره واره په بانډو کې آباد دي. د ناړۍ قیمتي ځنګلونه د ځایي خلکو د ګټې وټې یوه ستره سرچینه وه چې له بده مرغه د پخوانیو مجاهدینو او طالبانو په وخت کې په ډیرې بې رحمۍ سره ووهل شول. ګټه د څو مافیایي کړیو جیبونو ته لاړه خو د عام ولس ځمکې د سیلابونو له ګواښ سره مخ شوې او د کروندو ډیرې مځکې په وچ کاړ واوښتې. د خلکو د ورځني ژوند او ګوزارې غټه وسیله مالداري ده.

د ولسوالۍ ځینو غرنیو کلیو ته فرعي سرکونه شته خو تر اوسه د ګرځنده

ټلیفون تر پوښښ لاندې نه دي راغلي. دولتي برېښنا نشته، ځینو خلکو په شخصي ډول د اوبو واړه برېښنايي سیستمونه جوړ کړي او شتمن خلک په جنراتورونو ګوزاره کوي. ولسوالي نه روغتون لري او نه کومه ښځینه ډاکټره. مازې درې کلنیکوونه لري؛ یو په بریکوټ کې، بل د ناړۍ په مرکزي کلي کې او دریم د ساو په شیر ګل کلي کې دی. دوه د لرګیو پلونه جوړ شوي چې موټر پرې تیریدلې شي. ناړۍ یو امتیاز لري او هغه دا چې دلته ټول جهادي تنظیمونه ډلې ټپلې لري، په ځانګړي ډول حکمتیار، مولوي خالص او جماعة الدعوة، خو دلته هیڅ ډول تنظیمي جنګونه نه دي شوي. حتی د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم د سیمې مشرانو د خپلمنځي یووالي او همغږۍ له امله جګړو او تنظیمي لانجو ته اجازه نه ورکړه. په ځینو جهادي قومندانانو دا تور لګیدلی چې دوئ د ولسي خلکو زراعتي او شخصي جایدادونه په زور نیولي او په هغو کې یې د ځان لپاره غټې کلا ګانې او باغونه جوړ کړي دي. ناړی له چترال سره په دوکلام کې ګډه پوله لري، دا ځای پخوا د تجارت او تګ راتګ یو مهم مرکز وو، خو اوس پوله له هغې خوا څخه تړل شوی او ځینی وختونه یکه دوکه جګړې هم پیښیږي.

د پښتنو ترڅنګ، کوهستانیان، نورستانیان او ګوجر هم یو شمیر تکړه شاعران، لیکوالان، دیني عالمان او د قرانکریم حافظان لري. کوهستانی ژبه ګوارباتي نومیږي او نورستانیان خپله جلا ژبه لري. مګر په زړه پورې دا ده چې د پښتو او پښتنو سره د نژدې اوسیدو او له هغوئ څخه په خپل ورځني ژوند کې د اغیزمند کیدو له امله، دوئ حتی په خپلو کورونو کې هم په پښتو خبرې کوي. بهتره به وي چې د دوئ ځوان کول د خپلو مورنیو ژبو څخه لیرې نه شي، ځکه د خپلې ژبې ژوندي ساتل میراث او د

بلې ژبې یادول او زده کول، کمال دی.

## د ناړۍ مشهور ولسي مشران

د ناړۍ په مشهورو ولسي مشرانو کې حاجي مرسلین، حاجي تاجبر، محمد ایوب، سید نبي، جمت الله دعوت، قومندان دین محمد، ملا رستم سلفي، شاه ولي سلفي، ملا گل اکبر، ارواښاد ملک عبد الخالق او ملک محمد نور. د گوجرو حاجي محمد ایوب لعلي، حاجي دایم خان د بریکوټ ارباب سید احمد فقیر سالارزی، ملک گل فات خان، ملک شیر زمین، مرحوم ملک محمد امین، ارواښاد ملک محمد نور خان، ملک محمد یوسف خان، ملک شیر زمین کوهستانی، ملک اکرم خان، ارواښاد قاضي عبد الستار، ملک سید امین خان (د اسعد آباد پخوانی ښاروال) سناتوره، گلهار جلال چې یو وخت د ولسي جرگې وکیله وه او اوس د سولې د عالي شوری غړې ده.

## د ناړۍ غټ کلي

د ناړۍ مرکزي کلی، بر کلی، د بریکوټ لر کلې، هوار کلی، د کوهستانو کلی، ساو، ساو خوړ، دوکلام، پاشنگر، شینگر، شینه گر، شامه گل، سون گل، بوزه گل، چهره گل، ازیر گل، شیر گل، برچي گل، آنچ گل، شالي کوټ، زوړ کځ، ډولۍ، جمال آباد، گلونو کلی، چینار کلی، بهادر مشال، دیره، صادق آباد، گرداب، شگه، جبه، شاه مسیر، مچمڼه، شا میرک، بدایي، گلبون، لره جبه او بره جبه.

## ساو او ساوجي ژبه

د ناړۍ ولسوالۍ اړونده د ساو کلی، د خپلې طبيعي ښکلا، پاکو اوبو او شنو بوټو په درلودلو سره ځانګړی اهميت لري. دوئ خپله ژبه، خپل جلا کلتور او رواجونه لري، ولې د سيمې د نورو ميشتو قومونو سره شريک مړی ژوندی، راشه درشه او حتې د ښځو خپلوۍ لري. د نفوسو شمير يې د شپږو او اتو زرو ترمنځ اټکل شوی او خلک يې په ساوجي ژبې خبرې کوي. دغه ژبه د چترال په اشريت، سوات، دير، کوهستان، د پاکستان په سند او هندوستان کې هم ويوونکي لري. د ساوجي ژبې په اړه په ۱۹۵۵م کال کې يو جرمن پروفيسور، بيډروس يوه څيړنه خپره کړې وه؛ په ۲۰۱۵م کال کې يو تن ساوجي چې ګلاب شاه نوميږي د خپلې ژبې د ګرامر او لغاتونو په اړه يو کتاب چاپ کړی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړي، عبدالقيوم مشوانی او انجنير فخرالدين ساوجی هم په پيښور کې په دی ژبې يوه ګټوره څيړنه ليکلې او دوئ دواړه هڅه کوي چې په دی هکله يو کتاب هم وليکي.

## محمد نواز حقيقت سانين

شاعر، ليکوال او څيړونکی، اروابناد محمد نواز حقيقت سانين په ۱۳۳۹ لمريز کال کې د ناړۍ په ولسوالۍ کې زيږيدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي کې او لوړې زده کړې يې په کابل کې د پوهنتون د ليسانس تر کچې رسولې دي. مرحوم د تعليم او تحصيل د ترلاسه کولو په دې اوږد او ستړي سفر کې ډيرې ناخوالې وګاللې، خو هيڅکله پښيمانه او ستومانه نه شو. هغه د کلک هوډ څښتن وو، د خپلې ژبې (ګوري) په غنا او نورو ته په پيژندلو کې يې مخکښ رول درلود. سانين د ملي ارمانونو د فرهنګي ټولنې او د قلم نړيوالې ټولنې رئيس وو. د کوچنيانو لپاره د ځانګړو

او پریمانه لیکنو له مخې، هغه ته د پښتون ماشوم د ادب بابا ویل کیده. د کونړ د ادب او کلتور د یو ځلانده ستوري په توګه د سانین لنډ ژوند، له ویاړونو ډک دی. د ده کړاوونه، د خپلو خلکو او وطن کړاوونه وو. ویاړونه یې هم د هغو خدمتونو ټولګه ده چې د خپلو مسلکي او کلتوري هلو ځلو په ترڅ کې یې ترسره کړي وو.

حقیقت سانین یو مینه ناک کس، عاطفي شخصیت او ښه قلموال مبارز وو. له ځوانانو سره ځوان او له ماشومانو سره مینه ګر انسان وو. مرحوم په خپل ۵۹ کلن ژوند کې د راز راز موضوعاتو په اړه ۲۸ کتابونه لیکلي دي چې زیاتره یې د کوچنیانو د ادبیاتو پورې تړاو لري. هغه ډیرې شعري ټولګې هم لري؛ سپینه کوتره، د مورچل ترانې، د لمر ترانې، شملې او لوپټې، ختین کورونه، د هیلو غوټۍ، ورکه سپوږمۍ، کږې الرې، پیالې، سون او روپ، جنګي آس، ګوارشي ژبه څنګه ولیکو؟ زموږ سرحدونه، زموږ ویاړونه، د شهید همت یادونه، د خپلواکۍ خواږه یادونه، د ادب خزانه، قلم، د پوهې زیورات، ګوار کوهستان دودونه او رواجونه، جنتي سوم، بوراګان، زمرى او موږک او ښکلی نورستان د یادونې وړ دي.

دغه ویاړلي لیکوال او جرګه مار انسان، محمد نواز حقیقت سانین په ۱۳۹۸ لمریز کال کې وفات شو. د اروابساد ځوی، څېړنیار شریف الله سانین وکولای شول چې د خپل پلار په پل، پل کیږدي او د ګوري ژبې د ادبیاتو، پیدایښت او د دغې ژبې د ویونکو د اصلي ټاټوبي او د نورو اریایي ژبو سره د هغې د ریښو او ځیلو په اړه د علومو د اکاډمۍ په همکارۍ یو څېړنیز کتاب ولیکي او چاپ یې کړي.

## ۱۴- نرنګ او باډیل

د نرنګ او باډيل د دويمې درجې ولسوالي، د اسعد آباد لويديځې خوا ته د ۱۷ کيلومترو په واټن پرته ده. شمال ته ئې د ماړوګي ولسوالي، لويديځ ته يې د څوکۍ او جنوب لوري ته ئې د کونړ سيند او د سرکاڼو ولسوالي ده. د نرنګ او باډيل ولسوالي ۲۱٦ کيلومتره مربع مساحت لري، د کليو شمير يې ۸۸ دی، البته که د باډيل درې لرې پرتې بانډې ورسره حساب شي، بيا دغه شمير ۱۰۳ کليو ته رسي. دا ولسوالي د سمندر له سطحې څخه ۷۴۲ متره لوړه ده او له کابل سره ۱۷۳ کيلو متره سره فاصله لري. ٪۷۴ سيمه يې غرنۍ او پاتې ٪۲٦ ئې کوچنۍ غونډۍ، هوارې او جبه زارې مځکې دي. د حاصل خيزو ځمکو مساحت ئې ۱٦۰۰ هکتارو ته رسي او په دوو لويو ويالو خړوبيږي. ٦۰۰ هکتاره للمي مځکه هم لري، خو فصل يې د باراني اوبو پورې تړلې دی. نرنګ د کونړ د هغو ولسواليو په لومړي کتار کې راځي چې په تعليمي، کرهنيزو او اقتصادي ډګرونو کې تر ډيرو مخکې ده. د نرنګ په هوارې سيمې کې د بر نرنګ، کوز نرنګ، لمټک، چار قلعه، کوډو، شړلو، کړه مار، اندر ګوش، ډاک کلی، کرونده، بره غونډۍ، کوزه غونډۍ، خير آباد، ټانګو بيله او کوټکی مشهور کلي دي.

## د باډيل دره

د باډيل دره چې د نرنګ ولسوالۍ شمال لويديځې ډډې ته پرته ده، له ښي او کيڼ لوري د سپيره غره د دوو څانګو په پای کې وچه او ډبرينه ده، يواځې څيړۍ، سرګړي او غوړاڅکي او ځينې خود رويه شنيلي لري. د خوړ کيڼې خوا ته د کوټکي ډاګ او ښۍ خوا ته د کوز نرنک ډاګ پروت دی او په باراني موسمونو کې د هندوانو او ختکو په ګډون ځينې ميوې په طبيعي ډول زرغونيږي. د باډيل د غازي خان غونډۍ يو تکړه مدني فعال او طبي ډاکټر، شير حسن حسن چې په مسکو کې اوسي د خپلې درې په

هکله داسی کارېږي:

د درې په پیل کې ښي اړخ ته د قلاوونو او کینمې خواته د صوبه غونډۍ په نامه دوه لوي کلي پراته دي چې د باډیل درې تر ټولو لوی کـلي ګڼـل کیږي. دغه کلي ته د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په وروستیو کلونو کې د کړمار او اندرګوش د کلیو لـه لارې یـو سـړک وغـزول شـو، کـوم چـې د حامد کرزي د حکومت په مهال پوخ او پراخـه شـو. د لتـه پخـوا شخصي ـ موټرو چندان رواج نه درلـود، ولـی اوس هـر ماښـام دوه، دوه نـیم درجنـې موټرې د درې دغو یادو کلیو ته راځي.

د قلاوونو او صوبه غونډۍ ترمنځ د خوړ برخه چې ملکانه نومیږي، پـه دوو برخو ویشل شوېده، یـو وچ نـاو او بـل لامـده نـاو بلـل کیـږي. وچ نـاو لـه سـیلابونو پرتـه بهانـدې او روانـې اوبـه نـه لـري او نسـبتا لنډه دره ده. لـه قلاوونو وروسته، د خوړ په غاړه د سرې کلا په نوم یوازې څـو کورونـه دي او نوره ابادي نشته. البته پاسنۍ باندې او غرونه په شنو ځنګلونو ډک دي.

احمد خان مېنه، کوزَړۍ، برېوګل او خوشحال بانډه واقع ده او زلزلو د کنډو له لارې د شوړیک سره نښلي. لوند ناو پـه پرتلیـز ډول، لـه وچ نـاو څخـه اوږد دی او له سیلابونو پرته په باراني موسمونو کې هم جـاري اوبـه لـري چې د کوټکي او کوز نرنګ تر ډاګونو پورې رسي او دغه ځمکې خړوبـوي. خوشحال بانډه، خوړه ګاش، لیواټ، بـر باجیګـل، کـوز باجیګـل، لچـک، قارغان، خلټک، سرو قلعه، لقمان کڅۍ، املوک مینه، کوزړۍ، غار کـو، کنډر کلی، شهباز خیـل، قلعـه نـو، زر کنـده، حـاجي کـوټ، خپـه او شـینو کنډو، د باډیل مشهور کلي دي.

تر وروستیو څلورو جنګـي لسـیزو پـورې پـه غومبـار کـلا، ریـدَون، بـادینزو مېنې، بتي خېلو او د کڅۍ کلیو کې د غنمو او جـوارو د اوړه کولـو لپـاره د

اوبو ژرندې فعالې وي. د لامده ناو په پيل کې د صوبه غونډۍ ښي اړخ ته د غومبار قلعه او کيڼې خوانه د پانډ کلی، ورپسې د رېدَون کلی پروت دی. بيا چپې خوا ته د کنډرو کلی او ښۍ خواته د غازي خان د مشهورې غونډۍ کلی او د غازي خان بابا لويه او شريکه هديره ده. کيڼې خوا ته د وشمير په نوم کوچنۍ ناوه جلا شوې او په پاسنۍ برخه کې يې د ماڼو بانډه ده چې د ژمي په موسم کې د رمو او حيواناتو خاوندان له پاسنيو کونډونو څخه دلته راځي. په لويه دره کې د وشمير تر خولې وروسته په ترتيب سره، کيڼې خواته د بانديزو کلی، بيا د بتي خيلو کلی، شاپور مينه، خواص او تگير مېنه، کڅۍ او د ميرخاني کلي پراته دي او لويه دره په دوو خوړونو بېلېږي. ښۍ خوا ته خوړ د شوړيک پورې رسي او کيڼې خوا ته د درې د وروستی غاښې کونډ او هم د ديوه گل له درې سره نښتې دی. همدلته په ترتيب سره شينو، خوړه گاش، لېواټ، موسی بانډه، بنگو اوبه، کليگل او د تورتم کلي پراته دي او باډيل په پای کې د شينو د غاښي له لارې، له کوړنگل سره نښلي.

غرونه يې د گور گورو، ممانړو، شنيو، څېړيو او ښونانو په ونو پټې دي او لوړې څوکې يې د نښترو په گڼو ځنکلونو پوښلې وې چې اوس يې اکثره وهل شوي دي. د گور گورو، څېړيو، ښونانو او غوړاسکو په ځنگلونو له ډېرو پخوا وختونو راهيسی قومي ناغه لگول شوې او خلک پرته له وچو لرگيو، لانده بوټي وهلی نه شي. په مجموعي ډول، د باډيل دره او خوړونه يې په دوبي او مني کې چندان رواني اوبه نه لري او د لرې پرتو سيمو خلک به يوې چيني ته راټوليدل، خو اوس د نړيوالو خيريه مؤسسو او د ملي پيوستون د پرمختايي پروگرامونو له برکته د ژورو څاگانو په کيندلو سره دغه ستونزه حل شوېده.

د وچکالۍ په کلونو کې به د باډیل خلکو په لاسي میچنو باندې غله دانه اوړه کوله او یا به یې د کوز نرنګ، چار قلعه او کوټکي ژرندو ته د خرو په وسیله وړله. نن سبا خلک خپل غنم او جوار په ماشینونو باندی اوړه کوي او د ژرندو د کاڼو ټکول او تېره کول یو ځانګړی هنر او لوي زحمت وو چې هغه هم له منځه تللی دی. په باډیل کې د کرنې ځمکې ډیرې کمې دي او ځینې خلک یې هیڅ نه لري. له همدې وجې د باډیل وګړي د کوټکي، کوز نرنګ، چار قلعه، لمټک، بر نرنګ او پشد په کلیو کې دهقاني کوي. پخوا به د باډیل خواریکښو خلکو د ژمي په موسم کې د وچو لرګیو ګیډې په شا باندې هوارو سیمو ته وړل او هغه به یې په نغدو پیسو یا په غنمو او جوارو خرڅول او خپله ګوزاره به یې کوله. ځینې خلک به جلال اباد، کابل، پېښور او حتی پنجاب ته د مزدورۍ لپاره تلل.
د باډیل په تاریخي شخصیتونو کې غازي خان او حیدر خان دوه لوي جنګیالي تېر شوي چې په بابا ګانو باندې یادیږي. د غازي خان زیارت، د هغه په خپل نوم لویې هدیرې کې دی او د حیدر غازي زیارت د رېدَون په کلي کې دی. ویل کیږي چې دوئ دواړو په نورستان کې غزاګانې کړې او هلته یې د اسلام د مقدس دین په خپراوي کې برخه اخیستې ده. ولې د نورستان خلک تور لګوي چې غازي خان ډیر بې رحمه سړی و، په ښځو او کوچنیانو یې هم اسره نه کوله. د نادر شاه او ظاهر شاه د پاچاهیو او سردار محمد هاشم خان او سردار محمد داود خان د صدرارت په وختونو کې د باډیل یو بل نامتو سړی میرسلام خان نومېده. نوموړی د قلاوونو د خادي خیلو سپین ږیرې او د ساپي کال په جنګونو کې د باډیل د درې قومي مشر وو. کله چې د ساپي کال جنګونو په پای کې صافیان مات شول، نو میر سلام خان ډیر کلونه په هرات او بیا په دهمزنګ کې ولچک


او زولانه بندي پاتې شو، بیا د وزیر محمد ګل خان مومند په مرسته ازاد شو. د یادونې ده چې د باډیل درې ټول استوګن صافیان دي او په دریو پلرونو ویشل شویدي: ګربز، مسود (مسعود) او ودیر.

## د باډیل درې مشران

د باډیل درې په مشرانو کې د غازي خان بابا، حیدر بابا او میر سلام خان یادونه پاس وشوه. د میر سلام خان وراره او زوم، ارواښاد حاجي میر ملنګ هم د قلاوونو د کلي مخور او یاد سړی و چې تر ډیرو کلونو پورې د سرحداتو او قبایلو په وزارت کې دنده درلوده. د قلاونو حاجي عبد القادر چې یو وخت په تورخم کې د ګمرک مامور او په شاهي دوره کې د ولسي جرګې وکالت ته د غلام محمد صافی په وړاندې کاندید وو، پلار یې ارواښاد حاجي عابد خان، د صوبه غونډۍ ملک رستم خان، د بادینزو ملک عبدالقادیر، د بتي خیلو ملک شېر زمان خان، د صوبه غونډۍ عسکر خان، د کنډرو هوس خان، د خوشحال باندې ملک محصل خان او د خوړه ګاش ملک رحمت خان د یادولو وړ دي. ډاکتر بادام شفق د ننګرهار د طب پوهنځي استاد چې اوس مهال په ډنمارک اوسي او هلته هم د یو متخصص په توګه کار کوي. مدیر جمت الله خان، مدیر محمد حسین نور، انجنیر میا ګل، استاد رحمان جان حساس، ډګرمن بهادر خان، ډګروال رحمت الله خان، ډګروال پیر محمد خان، امیر مخلوق خادي خیل، حاجي سخي، مولوي زر باز، ملک زاهد الله، محمد کلام، عبد المجید، کوکو مُلا او همایون ساپي. له ۱۳۵۷ کال را وروسته د حکمتیار د اسلامي حزب قوماندان، مُلا عبدل او د استاذ رباني د جمعیت اسلامي مُلا عبد الجلیل چې بیا وروسته له سلفیانو سره مل شو د باډیل

اغیزمن خلک وو؛ د دغو قومندانانو اولاده اوس کافي ثروت او شهرت لري.

# قاضي مهتاب ګل صافی



د هیواد د ختیځو ولایتونو په سطحه، قاضي مهتاب ګل صافی یو منلی دیني عالم او مشهور قاضي وو؛ خپلې زده کړې یې د هندوستان په دیوبند کې سرته رسولې وې. ارواښاد په ۱۲۷۲هجري لمریز کال کې د دیوه ګل درې په سیرۍ کې د ملا سید کریم صافي په کور کې زیږیدلی وو. د هغه شجره نسب له مخې چې هغه په خپل ښکلي خط سره لیکلې او ما کتلې ده، نیکونه یې له پیچ څخه دیوه ګل ته راغلي دي. د دیوه ګل مشهور روحاني شخصیت، ملا عبد المجید (ملا مزید بابا) یې دولسم نیکه دی. ارواښاد په تنکۍ ځوانۍ کې لومړی پیښور او بیا هندوستان ته د دیني او طبي تعلیماتو د حاصلولو لپاره په سفر وتلی وو. کله چې نوموړی له هند څخه راستون شو، نو د نرنګ د چار قعله په کلي کې میشت او لږه موده وروسته د غازي امان الله خان د واکمنۍ په مهال، د هیواد په شمالي ولایتونو کې قاضي وګمارل شو.

د خپل ځانګړي علمي مقام او طبي مهارتونو له کبله یې د شهرت انګازې تر شاهي درباره ورسیدې او له غازي امان الله خان سره یې په جلال آباد کې پیژندګلوي پیدا شوه. دغه دوستي د وخت په تیریدو سره لا پیاوړې او پراخه شوه، د نورو انعامونو تر څنګ، د شاه امان الله له خوا ورته په بغلان کې کرنیزې ځمکې، په کابل کې د استوګنې کور او یو مډال د انعام په

ډول ورکړل شول. مرحوم قاضي مهتاب ګل صافي په کابل، بغلان، ایبک، لغمان او لوګر کې د قضا او فتوی رسمي دندې ترسره کړېدي. تل به یې په خپل کور کې د ولس د درملنې په پار، یوه ځانګړې خونه پرانیستې وه ترڅو د بی وزلو ناروغانو وړیا درملنه وکړي. هر چیرې به یې چې دولتي دنده درلوده، هلته به یې د هغې سیمې شاګردانو ته شرعي علوم تدریسول او طبي مهارتونه به یې ورته زده کول.

اروابناد درې ودونه کړي وو، درې ځامن او اوه لوڼې یې درلودې چې یوه یې زما اروابناده مور ده. ښایي دا به هیڅ مبالغه نه وي چې نوموړی په ټول کونړ کې یو له هغو یادو شخصیتونو څخه وو چې له نن څخه پنځه اتیا کاله وړاندې یې خپلو لوڼو ته لیک او لوست ښوولی او با سواده غړې کړې وې. زما اروابناده مور، د خپلو خویندو په څیر ډېره فوق العاده خطاطه وه، د پښتو، دري او عربي ژبو د ګڼ شمیر کتابونو مطالعه یې درلوده او زموږ د خواو شا کلیو د زیات شمیر ځوانو نجونو د قرانکریم او خط استاذه وه. په ویاړ سره وایم، زه به چې کله د فارسي ژبې د کوم نومیالي شاعر د شعر په ویلو او معنی کې بند پاتې شوم، نو ګرانې مور به زما مرسته او رهنمایي کوله.

مرحوم قاضي مهتاب ګل صافي دوه خویندې او دوه وروڼه درلودل: د مشر ورور نوم یې همیش ګل صافی او د کشر نوم یې حسام الدین صافی وو. له قضا څخه د تقاعد وروسته یې سوداګرۍ ته مخه کړه او ښه ډېره پراختیا یې ومینده. اروابناد د څلور اویا کالو په عمر په ۱۳۴۲ لمریز کال کې د یوې ترافیکي پیښې په ترځ کې وفات او د نرنګ ولسوالۍ په چار قلعه کې خاورو ته وسپارل شو.

## څارنوال عبد الرزاق صافی

اروابښاد مولوي عبد الرزاق صافی د اماني دورې د مشهور قاضي او دیوبندي عالم، قاضي مهتاب ګل صافي ځوی دی، په ۱۳۲۰هجري لمریز کال کې لوګر کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د خپل اروابښاد پلار د قضا د دندې په مهال، په مختلفو ولایتونو کې تر سره او په ۱۳۳۷ لمریز کې د لوړو دیني زده کړو په خاطر د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل او په ۱۳۴۲ لمریز کې فارغ شوی دی. لومړۍ دولتي دنده یې د نرنګ په لیسې کې معلمي وه چې هغه مهال منځنی ښوونځی وو. د څو کاله استاذۍ وروسته، د عدلیې وزارت ته لاړ او په چاریکارو کې قاضي مقرر شو. څه موده بعد په خوریانو، بیا سرکانو او په پای کې د ښیوې په ولسوالۍ کې د څارنوال په توګه دنده اجراء کړه. د کمونستي رژیم په راتګ سره پیښور ته مهاجر شو او په جهاد کې یې پوره برخه واخیسته.

په ۱۹۹۴م کال کې د امریکا د کلیفورنیا ایالت ته کډه او هلته د بی ایریا د هیورډ په ښار کې میشت شو. له دین او خپلو خلکو سره د ژور تړاو له امله یې د یو شمیر افغانانو په ملتیا، د مهاجرینو په نوم یو جامع جومات جوړ کړ. هر مازیګر به یې ځوانانو ته د اسلامي ښوونو درسونه ورکول او په دې سر خلاصې ټولنې کې د هغوئ د ښې روزنې په خاطر، د نوي کول ځوانانو او پیغلو ته اړینې دینې او فقهې مشورې ورکولې. د وړوکي کور حجره به یې د هرې جمعې او اخترونو په ورځو کې له میلمنو څخه ډکه وه. دغه عالم، مجاهد او ټولنیز شخصیت د دوه زره لسم کال د جنورۍ په لومړې ورځ وفات شو او بیا یې جنازه کونړ ته واستول شوه. مرحوم څارنوال، عبد الرزاق صافی زما د اروابښادې مور، سکنې ورور دی.

## څارنوال لطف الله صافی

څارنوال، لطف الله صافی د اماني دورې د مشهور قاضي او دیوبندي عالم، قاضي مهتاب ګل صافي ځوی او د څارنوال عبد الرزاق صافي ورور دی. هغه په ۱۳۳۲هجري لمریز کال کې د ننګرهار د چار قلعه کلي کې زیږېدلی او لومړنۍ زده کړې یې د ننګرهار په منځنۍ ښوونځي کې ترسره کړې دي. د ثانوي مرحلې لپاره کابل ته لاړ او د امام ابو حنیفه عالي مدرسه یې ولوستله. په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د کانکور له بریالۍ ازموینې وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځی کې شامل شو. په ۱۳۵٦ کال کې یې د اسلامي تعلیماتو ډیپارټمنټ څخه د لیسانس له اخیستلو سره جوخت په پکتیا کې مرستیال څارنوال وټاکل شو. د کمونستانو د کودتا په لومړیو میاشتو کې پېښور ته مهاجر او د لرې دمې وروسته د جهاد په نیت د یوې ډلې ځوانانو د مشر په توګه کونړ ته لاړ. د څو کاله جهاد، مبارزې او روسانو د ماتې په پای کې، نوموړی د خپلې کورنۍ سره د ډنمارک هیواد ته کډه او له ۲۰۰۰م کال راهیسې هلته میشت دی.

## پوهاند عبد الحق ایمل

پوهاند عبدالحق ایمل د ننګرهار او باډیل د یو پیژندل شوي ټولنیز شخصیت، ارواښاد مدیر محمد عمر ایمل ځوی او د میرزا فقیر محمد ایمل لمسی دی. ۱۳۲۵ هجري لمریز کال کې د ننګرهار په کره مار کلي کې زیږېدلی؛ لومړنې ښوونځې یې په ننګرهار کې لوستې او په ۱۳۴۰ کال کې د ننګرهار د اصول تحریر له منځني ښوونځي څخه فارغ شوی دی. په کابل کې د مسلکي تدریساتو په ریاست کې د ماموریت تر اړخه یې د شپې لیسه ولوستله او د کانکور د ازموینې د مثبتو پایلو په پایله کې د کابل

پوهنتون د ساینس پوهنځي ته کامیاب شو. څلور کاله وروسته (۱۳۵۰ لمریز) کې یې لیسانس واخیست او د عالي نمرو د لرلو له بابته، بیرته په همدې پوهنځي کې د اسستانت استاذ په توګه وګمارل شو. د یو څه مودې تدریس په پای کې د شوروي اتحاد د خارکوف پوهنتون ته واستول شو، په درې کالو کې یې د ماسترۍ دوره بشپړ کړه او وطن ته راستون شو.

پوهاند ایمل د ساینس په پوهنځي کې د څلورو لسیزو استاذۍ او تدریس په ترڅ کې څلویښت علمي او تحقیقي کتابونه لیکلي چې شل یې تدریسي کتابونه او ټول چاپ شوي دي. اته علمي څېړنې یې لا نه دي چاپ شوې، مګر دولس نورې ورته لیکنې یې د هیواد په یو شمیر معتبرو مجلو او ژورنالونو کې خپرې شوی دي. استاذ ایمل د ۴۲ کاله استاذۍ وروسته، د پوهاند په کدري رتبه تقاعد او فعلا په کور کې په مطالعې او د ځینو علمي څېړنو په بیا کتنې او لیکنې باندی بوخت دی.

باید په ګوته کړم چې د ایمل کورنۍ د مومندو د قوم د پادشاه خیلو د ټبر څانګه ده او ستر نیکه یې په ایمل بابا باندې مشهور دی. د ننګرهار په هزار ناو کې د دغه بابا د کورنۍ یوه څانګه غزني ته تللې، بله یې شپږ پشته (یوه نیمه پیړۍ) وړاندې دلته نرنګ ته راغلی او دریمه څانګه یې په هزار ناو کې پاتې ده. د پوهاند ایمل د نیکه پلار (میر احمد ایمل) له کوز نرنګ څخه کړه مار ته کډه شوی او څلور ځامن یې درلودل: میرزا فقیر محمد، شیر محمد، سید احمد او عبد الاحمد. د یو وفادار دوست په توګه، کله چې غازي امان الله خان د هیواد پرېښودو ته اړ شو، نو ارواښاد میرزا فقیر محمد او یو بل باوري کس، له غازي امان الله خان سره ترغزني پورې د لارې ملګرتیا وکړه. غازي قندهار ته لاړ او دوئ بیرته

کونړ ته راستانه شول. د مرحوم میرزا فقیر محمد یوه لور د کونړ د لوی خان ننګور (د محمد هاشم زماني میرمن) ده. د ارواښاد شیر محمد ایمل یو ځوی، پوهنوال محمد غوث ایمل په پولي تخنیک کې او بل ځوی یې پوهاند محمد جعفر ایمل د کرنې په پوهنځي کې استاذ وو. دریم ځوی یې ارواښاد، محمد انور ایمل معلم وو؛ کشر ځوی یې حیات الله ایمل د هیواد په شمال کې د خلق د ګوند مخکښ او فعال غړی وو چې په دی وروستیو کې په اروپا کې ومړ.

## وکیل، غلام محمد صافی

د کونړ د څوکۍ ولسوالۍ څخه، د ولسي جرګې د دولسمې او دیارلسمې دورې وکیل، ارواښاد غلام محمد صافی په ۱۲۹۳هجري لمریز کال کې چې د نړیوالې لمړې جګړې له دوهم کال (۱۹۱۵م) سره سمون خوري، د نرنګ د برې غونډۍ په کلي کې زیږیدلی دی. د نوموړي ځوی، ډاکټر فرید صافي د ټلیفون په لیکه، له کاناډا څخه ما ته د خپل پلار د لنډې بیوګرافۍ په هکله وویل « زما د پلار نیکه، مولوي محمد امین آخند زاده نومیده، د پیچ له ولسوالۍ څخه د امیر عبد الرحمن خان د واکمنۍ په مهال د نرنګ چار قلعه کلي ته راغلی وو. دلته یې یوه دیني مدرسه جوړه کړه او ګڼ شمیر شاګردان یې وروزل. دغه مهال په کونړ کې او د باجوړ، ناوه ګې او شیخ بابا ترغرونو پورې د پشد د سید محمود پاچا واکمني وه. زما نیکه بیا له چار قلعه څخه د باډیل خوا ته لاړ او د درې په خوله کې یې د برې غونډۍ په سر، د ځان لپاره یوه برجوره کلا جوړه کړه او همدلته میشت شو. زما د پلار نیکه (مولوي محمد امین) دوه ځامن درلودل، یو ځوی یې عبد الحمید آخندزاده نومیده، د څلورو لونو او څلورو ځامنو پلار

وو. بل ځوئ یې زما نیکه، عبدالحکیم آخند زاده وو، اوه لونې او پنځه ځامن یې درلودل ».

غلام محمد صافي لومړنی زده کړې په نرنګ کې او ثانوي پړاو یې د کابل د شپې په لیسې کې سرته ورسولو. د ولسي خدمت او سیاست سره د مینې له کبله یې د اعلیحضرت ظاهر شاه د واکمنی په وروستیو دواړو دورو کې ځان ولسي جرګې ته کاندید او دواړه ځلې یې ټاکنې وګټلې. کونړ دغه وخت لویه ولسوالي وه او نرنګ او نورګل د څوکی د ولسوالی اړونده علاقدارای وې. د شهید محمد داود په حکومت کې، غلام محمد صافی د لږې مودې لپاره د مره ورې ولسوال وو. مرحوم صافی هم سیاسي شخصیت و، هم یو ځیرکه او بریالی تجارت پیشه. نوموړی د څوکی په ولسوالی کې لومړنی کس وو، د نرنګ لیسې خوا ته یې د اوړو او شولو (وریجو) برقي ماشینونه فعاله کړل او هم یې د ټرانسپورټ په برخه کې، دوه روسي جیپونه د اسعد آباد او جلال آباد په عمومي لین کې په کار واچول. د ښځینه تعلیم سخت پلوي وو، له همدې کبله یې د نسوانو د منځني ښوونځي لپاره، خپله شخصي ـ مځکه د دغه مکتب د جوړولو لپاره وقف کړه.

د اروابناد صافي یو ځوئ، عبدالغفار صافی د نرنګ په لیسه کې زما همصنفي او همزولې دی. نوموړی زموږ په ټولګې کې ډیر غلی او با ادبه شاګرد وو. د ۲۰۱۴م په اختر کې زه او زما یو ملګری د مبارکی په خاطر، د هغه کور ته ورغلو چې د شمالي کالیفورنیا د مانتیکا په ښار کې دی. د ښایسته اوږدې جرګې مرکې په پای کې، اروابناد وکیل صیب د خپل شفقت له مخې چې ډیر زهیر او د ۹۹ کالو وو، له دروازې د باندې راووت او له موږ سره یې مخه ښه وکړه. نوموړی د سلو کالو په عمر د ۲۰۱۵

میلادي کال د مارچ په پنځمه نیټه په کالیفورنیا کې په حق ورسید؛ جنازه یې کونړ ته یووړل شو او په خپل کلي کې خاورو ته وسپارل شوه. نوموړي دوه ودونه کړي وو، اته ځامن او شپږ لوڼې یې ترشا پریښودې. د ارواښاد وکیل صافي مشر ورور، عبد القیوم خان او بل ورور یې ملنګ جان نومیده چې د کونړ د معارف مدیر وو. دریم ورور یې غلام الله خان صافی نومیده ډیر زاهد سړی وو؛ د کشر ورور نوم یې شاه ولي خان دی. هغه د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي فارغ او په پښتو ټولنه کې یې د څېړنو په برخه کې دنده درلوده، دوئ ټول اوس وفات شوي دي. د برې غونډۍ محمد یوسف خان، مدیر بهلول او شاه محمود خان او د کوزې غونډۍ عبد المتین خان (د وکیل صافي اوښې او د انجنیرعبد الوکیل متین او حاجي منګل متین پلار) د نرنګ او باډیل د یادو سپین ږیرو څخه ګڼل کیږي.

د مرحوم وکیل صافي مشر ځوی او زما محترم دوست، حاجي فقیر صافی چې د کالیفورنیا په لاس انجلس کې اوسیږي، د خپل پلار د میلمه پالنې په اړه ما ته وویل « کله به چې زما پلار د سهار لمونځ وکړ نو خپلې دیرې او باغ ته به ووت او د ماخوستن تر لمانځه پورې به د باندی ناست او خپلو خلکو سره به یې خبرې او کتنې کولې» کله چې ما و پوښته آیا رښتیا هم ستا نیکه (عبدالحکیم آخندزاده) دومره سپین زر او مشدی روپۍ درلودې چې هر دوه کاله وروسته به یې ورباندی د بوسو غوبل کولو چې زنګ نه شي؟ نو اول غلی غونډې بیا یې وویل «هو، زما نیکه ډیرې پیسې درلودې». د انتخاباتي سیالیو په شپو ورځو کې یوه کلیواله سندره ډیره مشهوره وه چې سروکې یې په دې ډول وو:

د کونړ غلام محمده! باډیل ته مه ځه ساپو ډیر وژلي دینه

اگر که ځینې لیکوالان، ویکیپېډیا او د گوګل سرچ ماشین څرګندوي، پورتني شعر په ۱۳۲۴ لمریز کې ویل شوی کوم چې په ساپي کال باندې یادیږي. هغه وخت د خوګیاڼو د مملې څخه راغلي د احصائیې یو مامور (غلام محمد) غوښتل چې باډیل ته لاړشي، نو خلکو د خبرداري په توګه ورته وویل چې باډیل ته مه ځه ساپو ډیر وژلي دینه. ولی عام ولسي- وګړي اوس د دغې سندرې شهرت له وکیل غلام محمد صافی سره تړلې بولي او د مملې مامور صیب یواځې تعلیم یافته خلک پیژني.

## انجنیر، عبد الوکیل متین

انجنیر عبد الوکیل متین د اروابناد عبدالمتین خان ځوی، په ۱۳۲۹هجري لمریز کال کې د نرنګ د کوزې غونډۍ په کلي کې، د څپانده سیند په غاړه د باډیل د غرونو په زیږه لمن کې زیږیدلی دی. په ۱۳۴۸ کال کې په کابل کې د رحمان بابا له لیسې څخه فارغ او بیا د کابل د پولي تخنیک په انستیتوت کې شامل شو. د جیالوجي او کانونو د پلټنې له پوهنځي څخه یې ډیپلوم ترلاسه کړ. د پوهنتون د لایحې له مخې چې لیسانس یې په ډیرو عالی نمرو اخیستی وو، له فراغت سره سم په همدغه پوهنځي کې د پوهیالې په کدري رتبې سره استاذ مقرر او لومړنۍ علمي دنده یې پیل کړه.

څه موده وروسته شوروي اتحاد ته لاړ او د مسکو له دولتي پوهنتون څخه یې د جیولوجي انجنیرۍ په څانګه کې د دیپلوم انجنیر سند ترلاسه او بیرته هیواد ته راستون شو. د پوهنیار د علمي رتبې په لرلو سره یې د استاذ په صفت خپلې دندې ته دوام ورکړ. د ډیرې کمې تدریسي- مودې وروسته، اړ شو چې له خپلې کورنۍ سره پیښورته کډه او بیا د امریکا

متحدو ایالتونو ته جلا وطن شي. هغه له نژدې درې نیمو لسیزو راهیسې د کالیفورنیا ایالت په مانټیکا کې اوسي.
انجنیر او شاعر متین، په شمالي کالیفورنیا کې د افغانانو له خوا جوړې شوې کلتوري ټولنې کې رغنده رول لري. هغه د حلالۍ روزۍ د ګټلو او ورځنیو مصروفیتونو سره سره، د افغانانو په اکثرو ملي او کلتوري غونډو او د خوښیو او دردونو په مراسمو کې برخه اخلي او کله نا کله د شعر مینه والو ته خپل تازه او خواږه شعرونه هم وړاندې کوي. نوموړی د (رژیدلي ګلان) په نوم یوه شعري ټولګه هم لري؛ زه یې مننداوی یم یو ټوک یې په خپل لاس ما ته ډالۍ کړی دی. ځینو سندرغاړو د انجنیر متین یو شمېرغزلونه سندریز کړي او په یوټیوب او فیسبوک کې موجود دي. نوموړي واده کړی او د دریو ډاکټرانو پلار دی.

## پوهاند، محمد صدیق رازقي نړیوال

پوهاند محمد صدیق رازقي نړیوال په ۱۳۲۰ لمریز کال کې د نرنګ ولسوالۍ د بر نرنګ د ملک عبد الرازق بزرګخیل په کور کې زیږیدلي دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په نرنګ او ثانوي یې د اسعد آباد د عمراخان په لیسې کې او لوړې زده کړی یې د کابل د حربي پوهنتون، کیمیا او انجینرۍ په پوهنځي کې سرته رسولې دي. پوهاند رازقي د پښتو ادبیاتو، کیمیا او ګاز، عسکري اصول نامو او د حرب د تاریخ استاد دی. د همدې علمي او کدري فعالیتونو او څېړنو له بابته، د افغانستان پخواني ولسمشر، حامد کرزي له خوا ورته د غازي میر مسجدي خان عالي دولتي مډال ورکړل شوی دی. رازقي نړیوال د پښتو ژبي په اوسنیو لیکوالانو کي یوه وتلی څیره ده او د تیرو څلورو لسیزو راهیسی یې په پښتو ژبې ګڼ

شیمر مهم تاریخي او څېړنیز آثار لیکلي دي؛ د ځینو نومونه یې په دې ډول دی « د لرغوني غور استحکامي کلاوې او د هغوئ تاریخی پیښې» « د افغانستان استحکامي کلاوې، حصارونه او بالا حصارونه» « لرغونی او اوسنی کونړ» « د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې - په دوو ټوکو کې» «افغان سید جمال الدین د پوهی او آزادئ علمبر دار» «د لرغوني کابل فرهنګي څیره» « اندیښنې - د شعرونو ټولګه» له اوو څخه زیاتې ژباړنې ځینې یې چاپ او څه لا نه دي چاپ شوې.

## حبیب خان

د کړه مار، حبیب الرحمان چې په حبیب خان سره یې شهرت درلود، د کیجان خان ځوی او د پلار نیکه یې (محمد افضل خان) د غازي میر زمان خان کاکا دی. حبیب خان د نرنګ د دوو ویالو د اوبو او سربندونو د ویش او څارنې سرپرست وو. د نوموړي حجره به تل له میلمنو ډکه او دیره به یې د زیړو نرګسو خشبویي په سر اخیستې وه. حبیب خان په نرنګ کې لومړنې کس وو چې موټرسایکل یې درلود. یو ځوی یې (همایون) زما څخه د نرنګ په لیسې کې دوه صنفه مخکې وو، د کجکي په بند کې د لامبلو په مهال په اوبو کې ډوب او خپل ژوند یې په ډیرې تنکۍ ځوانۍ کې له لاسه ورکړ. حبیب خان د روسي یرغل له لاسه باجوړ ته هجرت وکړ او د ناوه ګۍ په پنډ غالي کې اوسیده. زموږ د کورنیو د دوستۍ او ګاونډ له مخې، موږ تل هغه د خپل کاکا په څیر ګڼلو او له موږ سره یې ډیر شفقت کولو. د آخر ځل لپاره ما په ۱۹۹۰م کې د هغوئ په کور کې ولیدل چې د افغان مهاجرینو د ډوډا په کمپ کې (ناوه ګۍ) د بازار په ختیځه څنډه کې جوړ شوې وو. د ارواښاد حبیب خان یوه ځانګړتیا دا وه چې د وطن او وطن له شمله ورو شخصیتونو سره یې بې کچه مینه

درلوده. د پښتنو ستر سیاسي او ملي شخصیت، ارواښاد وزیر صیب محمد ګل خان مومند به تقریبا هر ژمې د دوئ کور ته راتللو او زموږ د سیمې مشران او تعلیم یافته خلک به جوپه جوپه د حبیب خان دیرې ته ورتلل چې له ښاغلي وزیر صیب مومند سره وګوري.

## حاجي محمد حنیف شهباز خیل

د باډیل بل مهم ټولنیز او سوداګریز شخصیت، ارواښاد حاجي محمد حنیف شهباز خیل دی. د پلار نوم یې نعیم الله دی، په ۱۳۱۲ لمریز کال کې د باډیل درې د شهبازخیلو په کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د خپل کلي په جومات کې کړې وې، بیا چې کله کابل ته لاړ نو هلته یې د شپې لیسه ولوستله. د کابل ښاروالۍ کې یې د مامور په توګه خپله دنده پیل کړه، له څو کاله ماموریت وروسته د اریانا د دولتي سیمنا مدیر مقرر شو. نوموړی د روکي شهد له کمپنۍ وروسته په افغانستان کې د فارمي شاتو (عسلو) د تولید او زرګونو مچیو د صندقونو مالک او روزونکی ګڼل کیږي. اروا ښاد د لسو کالو څخه په کمې مودې کې وکولاې شول خپل معیاري شات او مشتقات یې د هیواد د باندې ځینې ملکونو ته صادر کړي. کله چې د کمونست رژیم له لاسه پیښور ته مهاجر شو، نو په ژوند کې یې روحاني بدلون راغی. د نیا او تجارت ته یې شا کړه او د کال په دولسو میاشتو کې به نژدی لس میاشتې روژه وو. مرحوم د ډیر ثروت او شهرت سره سره، عادي ژوند درلود او ډیر وخت به یې په جومات کې تیرولو. حاجې محمد حنیف شهبازخیل د ۲۰۱۹م کال د نومبر په ۲۷ نیټه وفات او جنازه یې د پیښور په حضر خانۍ هدیرې کې د رحمان بابا د قبر سره نژدی خاورو ته وسپارل شوه.

## ډاکټر شېر حسن حسن

ډاکټر شیر حسن حسن په ۱۳۴۱ هجري لمریز کال د کونړ د باډیل درې په غازي خان غونډۍ کې زیږېدلی دی. سره د دې چې کورنۍ یې په بزګرۍ کې مصروفه وه، خو ارواښاد پلار یې د تعلیم او قلم په ارزښت ښه پوهیده. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د نرنګ په لیسې کې وکړې، د دولسم ټولګي شهادتنامه یې په ۱۳٦۰ لمریز کال کې د کابل ولایت د چهار آسیاب له لیسې څخه واخیستله. یو کال وروسته د کانکور په ازموینې کې بریالی شو او د ننګرهار د طب پوهنځي ته لاړ. په ۱۹۸۴م کال کې د یو تحصیلي بورس له لارې پخواني شوروي اتحاد ته واستول شو؛ په ۱۹۹۲م کال کې د ابوعلي ابن سینا په نوم د تاجکستان د طب له پوهنتون څخه فارغ شو. په همدغه کال کې د ډاکټر نجیب الله حکومت ړنګ او په افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل شوې.

په هیواد کې د جنګ د زیاتوالي له امله یې د روسیې پلازمینې، مسکو ته کډه وکړه او تر اوسه هلته ژوند کوي. ډاکټر حسن په خصوصي سکټور کې خپل کوچنی سوداګریز فعالیت لري او د چین او روسیې تر منځ د تجارتي توکو راکړه ورکړه کوي. نوموړی نه یواځې د حلالې روزۍ د ګټلو لپاره منډې ترړې وهي، بلکې په علمي ډګر کې هم خپلې هڅې جاري ساتي او د مسکو په دولتي پوهنتون کې د پښتو ژبې درس ورکوي. ډاکټر حسن له روسي ژبې څخه دوه تاریخي او سیاسي کتابونه او ګڼ شمیر څیړنیزې لیکنې پښتو ته ژباړلې دی. شیر حسن یو ښه لیکوال، د هیواد په سیاسي بهیر کې د ځانګړي نظر خاوند او په رسنیو ښه ځلیدلی شنونکی دی. د مسکو میشتو افغانانو په ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو کې پوره ونډه لري او د پښتون ژغورنې غورځنګ (پي، ټي، ام) له لارویانو او ملاتړو

ښځه دی.

## شاعر، ممتاز ارمان

ممتاز ارمان په ۱۳۴۵ لمریز (۱۹۶۶م) کال کې د نرنګ او باډیل ولسوالۍ د غازي خان غونډۍ په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په نرنګ، منځنۍ د کابل په چهار آسیاب او ثانوي زده کړې د کابل په تخنیکم کې سر ته رسولې دي. تر زده کړو وروسته د اطلاعاتو او کلتور په وزارت او بیا د پیام په ورځپاڼې کې د خبریال په توګه کار کړی دی. د کډوالۍ په بهیر کې د څو کالو لپاره په مسکو کې د لیمې ادبي فرهنګي مجلې مسئول مدیر وو. له یوې نیمې لسیزې راهیسې په ډنمارک کې اوسي او د افغانستان د کلتوري ټولنې له بنسټ ایښودونکو غړو ښځه دی. دا هم د ممتاز ارمان د شعر او کلام یوه وړه بیلګه:

لکه برېښنا چې د اسمان سره خبرې کوي
چیچې غاښونه او د ځان سره خبرې کوي
کلي کې څوک دي چې اواز د بلال غبرګ کړي بېرته؟
دغره انګۍ ده، د اذان سره خبرې کوي
خدای خو دې غوڅه کړه د زلفو کبرجنه ژبه
لکه بادار چې د دهقان سره خبرې کوي
خپلو منځو کې داسې څه وایي چې ګوري ما ته
چې دې دا شونډې د پېزوان سره خبرې کوي
دردونو غلي شئ چې یو د بل خبره واوري
د زړه پرهر مې د ارمان سره خبرې کوي

## د نرنګ ولسوالۍ یاد مشران

د نرنګ د هوارې سیمې خلک چې اکثره یې تعلیم یافته او په دولتي کارونو بوخت وو، زیات شمیر یې په تیرو څلورو لسیزو کې پیښور ته مهاجر شول، ځینې اروپا او امریکا ته لاړل او څه یې کابل او جلال اباد ته وکوچیدل. د بر نرنګ د پاچایانو یادونه د سیدانو په څپرکي کې شوې ده. په نورو یادو خلکو کې محمد هاشم خان بزرګ خیل، پوهاند عبدالغیاث، پوهاند انجنیر محمد اسحاق رازقي، ډاکټر فضل محمد، ډاکټر ګل شیر عابد، عبد اللطیف الفضلي، جهادي قومندانان، معلم ملنګ او ارواښاد خان محمد. زموږ د جغرافیا مرحوم استاذ، سلطان محمد خان چې مور یې د فلسطین وه. د لمتک شیر محمد بابړ، ارواښاد ګلشیر خان بابړ او انجنیر نجیب الله بابړ. میرزا عبد الرحمن اخند زاده، د شړلو ارواښاد معلم نعمت الله، میرزا محمد جان او ځامن یی، ډاکټر همایون همت او جویا (دواړه په جرمني اوسي). الحاج روح الله او ګل رحمن بزرګخیل. د چار قلعه معلم اعظم ګل صافی، شهید لعل سید، عبد الرحمن زرګر، ارواښاد میرزا محمد بیانزی، مرحوم ډګروال هجوم خان بیانزی، د کابل پوهنتون پخوانې استاذ او سیاسي فعال، شیر آغا بیانزی او معلم مصطفی بیانزی. د کوډو ډاکتر محمد نواب ویساند، ډاکټر عمر جان او انجنیر محمد اسحاق. جهادي قومندانان معلم اسد الله بزرګخیل او جرنیل. د کړه مار ملک عبدالرشید، ملک حکیم خان بیانزی، ملک غلام حسن او قاضي ملا. د بهرنیو چارو په وزارت کې پخوانی کارمند، د برې غونډۍ احمد شاه حبیب او په متحدو عربي اماراتو کې ځوان افغان سفیر، احمد جاوید

حبيب، د کوټکي ملک نياز محمد، حـاجي عطـاء الله، حـاجي مطيـع الله، استاذ آغا محمد، حاجي جلال صاحب زاده او غـلام محمـد نجـار. د کـوز نرنگ استاذ شـمس الـرحمن شريـف، اروابنـاد خـاني مـلا او شـهيد خـان محمـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــد.

## ملکزي څوک دي؟

د حدود العام د تاریخي کتاب، پټې خزانې، تاریخ مرصع، د نومیالي استاذ، عبد الحی حبیبي، ډاکټر عبد اللطیف یاد او د حسن ګل بانډه وال د څېړنو او لیکنو له مخې، د پښتنو لمړني، مشهور او تاریخي واکمنان لودیان، سوریان او د غور سلاطین دي. استاذ سنګروال کاږي: د غور اتلان نه یوازې د تاریخ په پاڼو کې ستایل شوي دي، بلکې په کیسو او افسانو کې هم د دوئ یادونه شوې ده. د دغو هسکو غرونو اتلان، د غور په غرونو کې تم نه شول او د هند تر نیمې وچې پورې ورسېدل. دغه مهال لودیانو په ملتان کې یوه پراخه واکمنۍ درلوده، خو له بده مرغه چې د خپلو افغانانو له لاسه د غزنوي سلطان محمود په پلوۍ وځپل شول او د ملتان افغاني سلطنت یې رنګ کړ. سلطان علاء الدین حسین غوري (جهان سوز) په ۱۱۴۶م کې د غزنویانو د واکمنۍ، ظلمونو او تاړاکونو په وړاندې د غور په فیروز کوه کې د غوریانو یو جلا او ځواکمن سلطنت را منځ ته کړ. په ۱۱۶۰م کال کې یې په غزني لوی برید وکړ او دغهستره واکمني چې د هریرود په ختیځه څنډه کې پرته وه، له منځه یو وړه.

د غوریانو مشهور قومندان، قطب الدین ایبک په ۱۱۹۳م کال کې د هندوستان پر ډهلي برید وکړ او د څو میاشتني کلک مقاومت وروسته یې تر خپلې ولکې لاندې راووست. لودیانو د دغه برید پر مهال، د سلطان شهاب الدین غوري د مشهور سپاه سالار، بختیار خلجي مزبوت ملاتړ وکړ او په هندوستان کې یې د غوریانو د پراخې واکمنۍ په جوړولو او

پایښت کې ستره ونډه واخیسته. دا نومیالی او باتور سلطان، شهاب الدین غوري د ۱۱۶۲م کال د مارچ په پنځلمسه نیټه په غور کې زیږیدلی او په ۱۲۰۶م کال کې د ۴۴ کلنۍ په عمر د پنجاب په جهلم کې د یو متعصب هندو او په بل روایت د یو اسماعیلي شیعه له خوا د ماخوستن د لمانځه په مهال شهید کړل شو. سلطان غیاث الدین غوري چې د غوریانو تر ټولو ځواکمن او عادل سلطان دی، په ۱۱۶۳م کې په فیروز کوه کې وزیږید او په ۲۳ کلنې کې د پاچاهۍ په گدۍ کښیناست. د نوموړي د سلطنت په مهال د افغانانو د اغیز او واکمنۍ پولې تر بنگال او گجرات پورې وغزیدلې او د څلویښت کلنې دورې په پای کې د ۶۳ کالو په عمر په هرات کې ومړ او همدلته خاورو ته وسپارل شو.
په ۱۲۳۴میلادي کال کې د سلطان شهاب الدین غوري د باوري قوماندان او ملگري (التمش) لور، رضیه سلطانه لومړنۍ مسلمانه، په هند د غور پښتنه وه چې په ډهلي او د هندوستان په زیاترو سیمو یې څلور کاله پاچاهي وکړه. د غوریانو خپلمنځي اختلافونو، کورنیو جگړو، د مغلو ډار، د رنجیت سنگ ظلمونو او د انگریزي استعمار چلوټو، دغه واکمنه شاهي کورنۍ په خپل وار سره ښه وځپله. گوښه شوي غوري واکمنان او د هغوئ د دربار اشراف دی ته اړ شول چې په اجمیر، جهلم، ژوب، صوابۍ، نوښار، درگۍ، حسن ابدال او پیښور کې د خپل کم رنگه سیاسي حضور په ساتلو سره، خواره واره شي. کله چې د امیر دوست محمد خان او پیرنگیانو ترمنځ لومړۍ افغان انگلیس جگړه ونښته، د غوریانو لوی مشر- دغه مهال په نوښار کې اوسیده. هغه د افغان امیر په گټه ولسي خلک د پیرنگیانو خلاف پاڅون ته وهڅول. له همدې ځایه پیرنگیان متوجه شول چې غوریان بیا پخواني خوبونه ویني، نو د هغوئ د نیولو او بندي کولو

لړۍ یې پیل کړه.

امیر دوست محمد خان د خبر په اوریدو سره، خپلو پوځیانو ته امر وکړ چې د غوریانو د پاشل شوې کورنۍ په سلگونو غړي چې دغه مهال په حسن ابدال، امانگړ او درگۍ کې اوسیدل، په عزت سره د هیواد ختیځو سیمو ته راولي او دولتي جایدادونه او ځمکې ورکړي. د دغې لړۍ لومړنی مشر کامران نومیده، د ۱۸۴۳ او ۱۸۴۵ میلادي کلونو ترمنځ د ننگرهار د دره نور شنې سیمې ته راغی او د قلعه شاهي ستره برجوره کلا یې آباده کړه. کامران د خپلو پوځونو او آسونو لپاره د قلعه شاهي گرد چاپیره ودانۍ او چونۍ جوړې کړې. کله چې وفات شو اولادې یې د همدې سترې قلعه په څنگ کې دفن کړ او د غوریانو په ځای، دوئ د ملکزو په نوم وپیژندل شول.

د هغه له مرگ وروسته یې ځوی، ملک جهانگیر ځای ناستی او په منطقه کې د خپل نفوذ او واکمنې د غزونې په لټه کې شو. له دوو ودونو څخه یې، دوه ځامن پیدا شول؛ یو ځوی یې محمد شفیع او بل یې محمد ارشد نومیده. د جهانگیر کورنۍ مالداره، نسبتا تعلیم یافته او د هغه وخت له هنرونو سره اشنا خلک وو. په ډیر لږ وخت کې د سیاسي اغیز او ولسي-نفوذ خاوندان او د ښیوې او نرنگ خوا ته د کوچیدو په تکل کې شول. دلته یو ټکي ته اشاره بې گټې نه بولم او هغه دا چې د مغلو او بیا پیرنگیانو د زور زیاتي او تنگولو له وجې، دغې واکمنې کورنۍ خپل قومي هویت نه شو څرگندولای. همدا اوس په بغلان کې نږدې دوه نیم زره او په هلمند کې څه باندی شپږ زره غوریان اوسي، هلته ورته ملکزاده ویل کیږي. د هرات په ښار ، انجیل او ځینو ولسوالیو او د غور د تیورې د ولسوالۍ اکثریت چې نفوس یې له دیرش زرو څخه زیات دی، د دغو

غوري سلاطينو اولاده ده او  سرداران او سوريان ورته ويل کيږي. ځينې ځيرنې په ګوته کوي چې د پاکستان په پنجاب کې هغه مشهور نوابان او سياستمداران چې د ملک تخلص يې له نومونو سره نښتی دی، لکه د کرکټ پخوانی کپتان شعيب ملک، مشهور ساينس پوه، ډاکټر اشفاق ملک او په لسګونو نور مشهور لوبغاړي او جاګير داران، دوئ په اصل کې د غوريانو د واکمنې کورنۍ غړي دي چې د مغلو په وخت کې له ډهلي څخه دلته راغلي او استوګن شوي دي.

مشهور ځيړونکې، ډاکټر عبد اللطيف ياد په خپل کتاب (پښتنې قبيلې وپيژنئ) او د افغانستان د سرحدونو د چارو وزارت (معلومات مختصر درباره اقوام و قبايل ولايات سرحدي کشور) په ۸۴۰ مخ کې راغلي « ملکزي له آره غلجي پښتانه دي، د کونړ په نرنګ، د ننګرهار په قلعه ټک او سره رود او د لغمان په قرغيو کې استوګنه لري. سره د دې چې شمير يې لږ دی، خو په عمومي ډول ملکزي ډير تعليم يافته خلک دي، مشهور ليکوالان او شاعران لري او د دولت په لوړو او مهمو څوکيو کې په کارونو باندې ګمارل شوي دي».

## د قلعټک ملکزي

په تيرو شاهي نظامونو کې د کوز کونړ (د شګې او ښيوې ولسوالۍ) د قلعټک ملکزو د هيواد په سياست او مطبوعاتو کې ډير مخکښ او رغنده رول درلود. اروانښاد عبدالقدوس پرهيز ملکزی د اعليحضرت ظاهر شاه په واکمنۍ کې د مشرقي د مطبوعاتو عمومي رئيس وو. پلار يې شمس الدين خان ملکزی د غازي امان الله خان مدير قلم مخصوص ( د دفتر رئيس) وو. د مرحوم پرهيز څلورم نيکه، محمد شفيع ملکزی د امير

شیرعلي خان په وخت کې د ختیځې سیمې چې اوس ور څخه څلور ولایتونه جوړ شویدي، ډیر واک او دبدبه درلوده. د ارواښاد پرهیز کشر- ورور، رفیع الدین ملکزی په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د سترې ودانۍ د معلوماتي ټکنالوجۍ د مشرانو انجنیرانو له ډلې څخه وو چې پنځه کاله وړاندې تقاعد شو. د دوئ وراره ډاکټر اکرم ملکزی (د مرحوم صلاح الدین ملکزي ځوي) نه یواځی د جرمني په افغانانو کې یو مشهور ډاکټر دی، بلکې د هغې جرمن - پښتو ډکشنرۍ لیکوال هم دی چې د المان دولت له خوا ورته د ادب او کلتور غوره جائزه ورکړل شویده.

د مرحوم پرهیز یو ځوی، عبدالملک پرهیز ملکزی په ډنمارک کې د سپرغۍ د مشهورې ویبپاڼې چلوونکې دی. د ولسي- جرګې لنډ مهالی رئیس او غړی، قیس نور آغا ملکزی، د کابل پخوانی ښاروال، انجنیر روح الله ملکزی، د بهرنیو چارو د وزارت مرستیاله ناهید ملکزی، د نورستان والي، ډاکټر عبدالغفور ملکزی د همدې غټې کورنۍ غړي دي. د ننګرهار په سلطانپور کې د انجنیر حیدر ملکزي او د لغمان په قرغیو کې د جنرال صلاح الدین ملکزي کورنۍ هم د همدې شجرې سره تړلې دي. د ننګرهار د پوهنتون استاد، پوهندوئ عبد الرشید ملکزي د دې کال (۲۰۲۱م) په پیل کې د خپلو همکارانو په مرسته وکولای شول چې د عدلیې له وزارت سره ملکزي د یو ځانګړي قوم په نوم رسمي ثبت او د ولسمشر له خوا توشیح کړي.

## د نرنګ ملکزي

د نرنګ د ملکزو مشر نیکه د امیر شیر علي خان په وخت کې د ننګرهار د ښیوې د چار قلعه له کلي څخه دلته د برې غونډۍ سیمې ته راغلی چې د

باډيل درې په خوله کې پرته ده. بيا يې خپل جايداد لـه ځـايي خلکـو سره تبادله کړ او هماغه د چار قلعه نوم يې په خپل نوي کـلي بانـدی کيښـود. نومـوړي دوه ځامن درلودل؛ يو ځوی يې خالد او بل مير بـاز نوميـده. خالـد ملکزي دوه ځامن لرل، محمد اشرف ملکزی او زينت خان ملکزی. محمد اشرف ملکزی د خپل وخت ډير شتمن او اغيزمن سړی وو، دوه ځامن يې لرل: يو يې داد محمد ملکزی او بل يې عظيم خان ملکـزی نوميـده، يـوه لور يې هم درلودله. داد محمـد ملکـزي درې ځـامن لـرل: مشر- يـې شـاه پسند ملکزی، بيا خرسند ملکزی (په ځوانۍ کې مړ شـويدی) او کشر- يـې عبدالخالق ملکزی دی. شاه پسند ملکزي درې ودونه کړي وو؛ شپږ لوڼې او څلور ځامن يې لرل: غلام حيدر ملکزی، محمد امـين ملکـزی، محمـد عمر ملکزی او عبد القيوم بزګر ملکزی. عبـدالخالق ملکـزي دوه لـوڼې او درې ځــامن درلــودل: عبــد الــرازق ملکــزی، فضــل محمــد ملکــزی او عبدالهادي ملکزی.

زينت خان ملکزی، د محمد اشرف ملکزي کشر- ورور دی، يـو ځـوئ يـې درلود، نوم يې فتح الله وو. د هغه دوه اولادونه وو، يو عبد الله ملکزی بـل يې سعادت خان ملکـزی. د عبـدالله ملکـزي دوه ځـامن وو، محمـد اکـبر خان ملکزی او سلطان محمد خان ملکزی. د سعادت خـان ملکـزي درې ځامن وو: مسـافر خـان ملکـزی، پيـر محمـد خـان ملکـزی او عمـر خـان ملکزی.

د چار قلعه د ملکزو دوهمه کورنۍ د ارواښاد ميـر بـاز ملکـزي اولاده ده، د ځوی نوم يې باز محمد او د لمسي نوم يې محمـد بـاز وو. د محمـد بـاز يـو ځوی وو، مير زمان نوميده او هغه د دريو ځامنو پلار وو: اول نظام الدين، دويـم يـې سردار او دريـم يـې شـير محمـد نوميـده. ارواښـاد شـير محمـد

ملکزی د چار قلعه، کوډو او شړلو د کلیو ملک، ډیر خوله ور او د جرگو مرکو سړی وو؛ څلور ځامن لري: اروابناد محمد نادر خان ملکزی، عبد الغفار ملکزی، مطیع الله ملکزی او محمد انور ملکزی. مرحوم نظام الدین ملکزي دوه ځامن درلودل، مرحوم عبد الله جان او مرحوم حبیب الله. همدارنگه، اروابناد حاجي میرعلم خان ملکزی او انجنیر سردار ولي ملکزی د همدې کورنۍ غړي دي. دریمه کورنۍ د محمد یوسف ملکزي ده، مشر ځوی یې اروابناد محمود خان ملکزی دی. هغه د چار قلعه د کلي په پاسنۍ برخې، د کوډو په کلي کې اوسیده، دوه ځامن یې لرل. یو یې مرحوم احمد جامي او بل یې د کابل ښاروالۍ د املاکو د څانگۍ مدیر، نور رحمان ملکزی دی چې په کابل کې اوسیږي.
څلورمه کورنۍ د اروابناد سید محمد ملکزي ټبر دی. دوئ له چار قلعه څخه لومړی پشد، بیا د همدغه کلي ختیځې برخې ته چې ټانگو نومیږي، کوچیدلي او میشت شوي دي. ټانگو د سرکانو ولسوالۍ مرکز ته نژدې د سیند د غاړې کلی دی. د دوناهي په کلي کې د ملکزو بل کور د خان حاجي (حاجي گک) او په ناوه پاس کې د ډاکټر محمد ملکزی کورنۍ ده. د سید محمد ملکزي د ټبر ډیری وگړي کوزې پښتونخوا ته کډه او هلته آباد شوي دي. مرحوم فیض محمد، اروابناد ټیکه دار عبد الکریم خان، شمشیر خان، ملک گل کریم، قومندان عبدالوکیل، مامور سلطان، تاج محمد، انجنیر جان محمد او حاجي محمد امین او حاجي حبیب الرحمن د ټانگو په ملکزو کې یاد خلک دي. د اسمار په شنگر کې هم یو شمیر ملکزي اوسیږي، خو داسې ښکاري چې د دوئ مشران نژدې یوه نیمه پیړۍ پخوا د کوزې پښتونخوا د درگۍ له سیمې څخه اول باجوړ، بیا دیر ته او له هغه ځایه دلته راغلي او استوگن شوي دي.

غواړم د چار قلعه د ملکزو په اړه دلته لږ تم شم. زما اروابښاد نيکه، ميرزا شاه پسند ملکزی نه يواځې د نرنګ، باډيل، پشد، سرکانو، څوکۍ او چغسرای په مهمو جرګو مرکو کې د جګ غږ او يو منلي سړي په توګه پيژندل کيده، بلکې د يادو سيمو په کچه د ښه قلم ميرزا هم وو. کله چې کونړيانو د خپلواکۍ په څلورمې جبهې (ارنوۍ او چترال) کې د نائب سالارعبد الوکيل خان نورستاني او غازي مير زمان خان په مشرۍ ډيره ميړانه او شهامت وښود، نو شاه امان الله خان د کونړ مشران د مننې په خاطر د خپلو ليدلو لپاره ور وغوښتل. د ملاقات په پای کې اعليحضرت امان الله خان له کونړ څخه د غازي مير زمان خان په مشرۍ له راغلو مشرانو څخه پوښتنه وکړه چې تاسې د دې بهادرۍ او وفادارۍ په اړه له ما څخه د څه شي غوښتنه لرئ؟ نو لوی خان (مير زمان خان) مرحوم ميرزا شاه پسند ملکزي ته د مشورې لپاره مخ کړ چې څه فکر کوې؟ هغوئ ورته وويل چې تاسې مشر ياست، څرنګه چې تا ته مناسب ښکاري. خو زما يوه مشوره به دا وي که امير مهرباني وکړي او د چغسرای څخه د ښکته ولسواليو د غلې دانې د ماليـاتو لپاره ځايي ګودامونه جوړ کړي. ځکه زموږ خلک نه شي کولاې هر کال دوه ځلې د خپلو فصلونو ماليه اسمار ته راوړي. هماغه وو چې غازي امان الله خان د هغه کال ماليه چورلته معاف او د را روان کال لپاره په اړونده سيمو کې نوي ګودامونه جوړ کړل. دا رغنده وړانديز، د ميرزا شاه پسند ملکزي درايت او ځيرکتيا په ګوته کوي.

**قاضي غلام حيدر ملکزی**



اروابښـاد قـاضي غـلام حيـدر ملكـزى د خپلې سيمې د يو ډير مخـور او شـمله ور ولسي مشر، ميرزا شاه پسند ملكزي مشر ځوی دی، په ۱۲۹۱هجري لمريـز کـې د نرنگ د چار قلعه پـه کـلي کـې زيږيـدلی دی. لومړنۍ ديني زده کړې يې په خپـل کلي کې پيل کړې خو لا تنکې ځوان وو چې اول پيښور ته او لږه موده وروسته، هندوستان تـه لاړ او د ديوبنـد پـه مشهورې مدرسې کې يې ځان شـامل کـړ. پنځـه کالـه وروسـته فـارغ او د خپـل پـلار د مړينـې د خـبرو پـه اوريـدو سره يـې د طبابـت پـه برخـه کـې تحصيلات نيمگړي پريښودل او بيرته وطن ته راغی. لـه راتـگ سره سـم يې د چار قلعه پـه کـلي کـې يـوه دينـي مدرسـه پرانيسـته، لـه څـه مـودې تدريس وروسته د صدراعظم، سردار محمد هاشـم د حکومـت لـه خـوا پـه کامديش او برگيمټال کې قاضي وگمارل شو.

مرحوم د لوگر په محمد آغې، د پروان په جبل السراج، د قندهار پـه نـوزاد او د کابل د سروبي په ولسواليو کې د قاضي په توگـه دنـدې اجـراء او پـه ۱۳۳۸ لمريز کې تقاعد شوی دی. اروابښاد نـه يـواځې يـو ډيـر تکـړه دينـي عالم او شرعي قاضي وو، بلکې هغه په خپلې سيمې کې يو ولسي مخه ور او منلی شخصيت گڼل کيده. دغه ديوبندی عالم، خوله ور سپين ږيری او د قضايي او شرعي چارو متخصص، د زړه د ناروغۍ له امله د ۱۳۶۰ لمريز کال د لړم د مياشتې په پنځلسمه نيټه په کابل کې وفات او د قلعـه زمـان خان په هديره کـې خـاورو تـه وسـپارل شـو. اروابښـاد قـاضي غـلام حيـدر ملكزی، زما د اروابښاد پلار، استاذ محمد امين ملكزي مشر ورور دی.

## استاد محمد امین ملکزی

زما اروابناد پلار، استاد محمد امین ملکزی د خپلې سیمې د یو پیژندل شوي میرزا، شاه پسند ملکزي ځوی د نرنګ د چار قعله کلي کې په ۱۳۰۳ هجري لمریز کې زیږیدلی دی. لومړنۍ دیني زده کړې یې په خپل کلي کې پیل کړې او د ځوانۍ په درشل کې د کوزې پښتونخوا سوات ته لاړ او هلته یې خپلې دیني زده کړې پوره کړې. په ۱۳۳۱ لمریز کې د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل او په ۱۳۳٦ کال کې فارغ شو چې د لیسانس معادل ګڼل کیده. لومړنۍ دنده یې د استقلال په لیسې کې د ښوونکي په توګه وه، بیا یې د یوې لسیزې لپاره په پغمان کې د شرعیاتو په ستر تعلیمي مرکز کې د استاذۍ دنده اجراء کړه. د امام ابوحنیفه دغه عالي مرکز بیا وروسته د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د شرعیاتو په پوهنځي ونومول شو.

پخوانی ولسمشر، پوهاند برهان الدین رباني، د عدلیې پخواني وزیر، شهید وفي الله سمیعي، پخوانی قاضي القضاة، پوهاند عبدالسلام عظیمي او د دعوت او جهاد پوهنتون پخوانی مرستیال رئیس، اروابناد پوهاند اسد الله شینواری یې شاګردان او نژدې دوستان وو. مرحوم ملکزی په ۱۳۴۷ لمریز کال کې کونړ ته راغی او د عمرا خان، کامدیش او نرنګ په لیسو کې یې د ثور د کرغیړنې کودتا تر لومړیو دریو میاشتو پورې د ښوونکي په توګه خپله دنده سرته ورسوله. په ۱۳۵۱ لمریز کال کې یې د کونړ د غوره استاد مډال او د معارف د وزیر لخوا را استول شوې ځانګړې جایزه تر لاسه کړه. دغه مهال هغه د نرنګ په لیسې کې استاذ وو.

استاذ ملکزي په سپینه ږیره د هجرت د سپیرو د ښتو او د جهاد د تودو سنګرونو ډېره اوږده او ویاړمنه تجربه درلوده. سره د دی چې په حنفي فقهې کې په لبنیاتو او سبزیجاتو کې زکات نشته، خو هغه به همیشه د مستحقو خلکو برخه بیلوله. زه د الله تعالی لپاره ګواهي ورکوم تر هغه ځایه چې زما شخصي انګیرنه او تجربه ده، ما په خپل ټول ژوند کې له خپل پلار څخه درواغ نه دي اوریدلي او نه یې د چا حق خوړلی دی. دغه عالم، مجاهد او د زرګونو شاګردانو او پوهانو استاذ، د ۱۳٦۹هجري لمریز کال د مرغومي په میاشت کې (۱۹۹۰- ډیسمبر) په پیښور کې د زړه د ناروغۍ له کبله وفات شو. جنازه یې د نرنګ، چار قلعه ته یوړل شوه چې په خپلې پلرنۍ هدیرې کې د بی شمیره سیمه ییزو خلکو او دوستانو له خوا خاورو ته وسپارل شي.

## محرر محمد عمر ملکزی



اروانښاد محمد عمر ملکزی، د نرنګ او اړونده سیمو د یو ښاغلي، میرزا شاه پسند ملکزي ځوی دی، په ۱۳۰۷ لمریز کال کې د چار قلعه په کلي زیږیدلی دی. زده کړې یې د هغه وخت له دیني عالمانو څخه په خپل کلي کې سرته رسولې دي. مرحوم د خپلې خصوصي تعلیمي دورې په پای کې، د ماموریت ټول وخت د قضا، ښارنوالۍ او عدلي ارګانونو سره د محرر او اداري چارو د مسئول په توګه تیر کړی دی. مرحوم یو بهترین محرر، په حقوقي دعوو او چارو ښه خبر او د کلیوالي شخړو په حل او فصل کې کافي تجربه درلوده. په لعل او سر

جنګل، بغلان، هزاره جاتو او کونړ کې له دیرشو کالو څخه زیات خدمت کړی او د شورویانو د خونړي یرغل په لومړنیو میاشتو کې د خپلو اولادونو سره پیښور ته په هجرت کولو اړ شوی دی.

سره د دې چې په وروستیو کلونو کې یې صحت دومره مړنی نه وو، خو ډیره غټه حوصله یې درلودله. پاتې عمر یې عبادت او د خلکو لاسنیوي ته وقف کړی وو. د محرر ملکزي بله ځانګړتیا دا وه چې هیڅکله یې د چا په چارو کې لاسوهنه نه کوله؛ لږې خبرې یې کولې او د وطن او وطنوالو په درد، ځوریده. دغه خاکساره او آرام طبیعته انسان په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د نوي کالو په عمر په پیښور کې وفات او جنازه یې کونړ ته یووړل شوه چې د خپل پلار، ورونو او خویندو په څنګ کې د ګڼ شمیر خپلوانو او دوستانو له خوا خاورو ته وسپارل شي.

## حقوق پوه، عبد القیوم بزګر (ملکزی)




حقوقپوه، عبدالقیوم بزګر (ملکزی) د نرنګ ولسوالۍ د چهار قلعه په کلي کې د خپل چاپیریال د یو ډیر مخور او منور پلار، میرزا شاه پسند ملکزی په کور کې د ۱۳۱۰ لمریز کال د مرغومي په میاشت کې دې نړۍ ته سترګې پرانستې دي. لومړنۍ زده کړې یې د سیمې د دیني عالمانو څخه وکړې، بیا کابل ته لاړ او د دولتي وظیفې تر څنګ یې د ابن سینا د شپې لیسه ولوستله. په ۱۳۵۲ لمریز کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه یې د لیسانس شهادت نامه واخیستله او بیرته دولتي چوکاټ ته ستون شو. اروابناد تکړه

لیکوال، شاعر او ژباړن وو؛ د هغه ډیرې لیکنې او شعرونه د هغه وخت په پښتون ږغ، پیام حق، له ناروې څخه خپرېدونکې دعوت مجلې او نورو خپرونو کې چاپ شوې دي. د کونړ اړوند یوه لیکنه یې د اریانا دائرة المعارف کې خپره شوې چې تر اوسه ترې د یوې معتبرې سرچینې په ډول کار اخیستل کیږي. هغه د هېواد په ورځپاڼې، افغان کونسلګرۍ (پیښور) د مشرانو په جرګه کې د پښتو ژبې د پرمختیا د مُدیر، لویې څارنوالۍ د تفتیش په څانګه او ځینې نورو ادارو کې کار کړی دی.

د نورو ملیونونو هیواد والو په څیر، ارواښاد هم د روسي یرغلګرو د وحشتونو له لاسه اړ شو چې وطن پریږدي او له خپلې کورنۍ سره پیښور ته د هجرت لاره ونیسي. دغه په خپل ولس مین او د هیواد په سیاسي او حقوقي چارو آګاه شخصیت د ۲۰۰۵م کال د ډسمبر په څلورمه په پیښور کې د ماخوستن د لمانځه پر مهال د زړه د لنډې ناروغۍ په پاي کې خپله ارواه، ستر خالق ته وسپارله. د عبد القیوم بزګر (ملکزي) جنازه کونړ ته یووړل شوه او د خپل پلار، وروڼو او خویندو تر څنګ د چار قلعه په کلي کې د بې شمیره وطنوالو په وړاندې خاورو ته وسپارل شوه.

## حاجي فضل محمد ملکزی



ارواښاد حاجي فضل محمد ملکزی، د مرحوم عبدالخالق ملکزي ځوی؛ په ۱۹۵۱م کال کې د نرنګ د چار قلعه په کلي کې پیدا شوی دی. کله چې د نرنګ د منځنې ښوونځي څخه فارغ شو، نو درې کاله وروسته یې په اسعد آباد کې د عمراخان له لیسې څخه د دولسم ټولګي شهادت نامه ترلاسه کړه. په ۱۹۷۱م

کال کې د کانکور د عمومي ازموینې له لارې، د کابل پوهنتون د ادبیاتو د عربي ژبې ډیپارټمنټ ته کامیاب شو. په ۱۹۷۳م کې د سعودي عربستان د دولتي بورس له لارې د مدینې منورې اسلامي پوهنتون ته واستول شو او په ۱۹۷۸م کې یې خپل لیسانس واخیست. څرنګه چې همدغه کال په کابل کې کمونستانو تازه کودتا کړې وه، نو اړ شو چې د کابل په ځای پېښور ته لاړ شي.

د جمعیت اسلامي د مشر پوهاند رباني سره د نژدې پېژندګلوۍ او په عربي ژبې باندی د تسلط له مخې، د دعوت او تنظیم د کمیټې مرستیال وټاکل شو. یو کال وروسته یې په جهاد کې د برخې اخیستنې په خاطر، جبهه جوړه کړه او کونړ ته لاړ. په ۱۹۸۵م کال کې د اتحاد اسلامي له مشر پوهاند سره د هغه په تنظیم (د افغانستان اسلامي اتحاد) کې د مرکزي کمیټې غړی او د کونړ ولایت عمومي آمر مقرر شو. اروابناد هم په خپل تنظیم کې او هم د ختیځو ولایتونو په جبهو او سیاسي ګوندونو کې د یو مهم شخصیت په توګه ځان ته ځای پیدا کړ.

په ۱۹۹۲م کال کې د ډاکټر نجیب الله د واکمني د ختمیدو او واک ته د مجاهدینو د رسیدو په درشل کې، فضل محمد ملکزی کابل ته لاړ. هلته د څه مودې لپاره په پغمان کې د پوهاند سیاف د مالي چارو د مسئول او مشاور په توګه پاتې شو. دغه مهال کورنیو جنګونو زور واخیست کوم چې د اروابناد ملکزي لپاره د منلو نه وو، نو هر ډول سیاسي فعالیت یې څنګ ته کړ او په پېښور کې یې د امام بخاري په پوهنتون کې د استاذۍ دنده غوره وګڼله. وخت نا وخته به یې د تبلیغي جماعت سره لیرې او نږدې سفرونه هم کول او پاتې وخت به یې په کور کې په مطالعه تیرولو.

په ۲۰۱۸م کې ورته ناروغي پیدا شوه او بالاخره د همدې ناروغۍ له کبله

د ۲۰۲۱م کال د فبرورۍ په شپږمه نیټه وفات او په پیښور کې خاورو ته وسپارل شو. ارواښاد فضل محمد ملکزی، د ډېر واک، شهرت او نفوذ سره سره، یو متواضع او بې کبره شخصیت وو. تر ممکنه حده یې هر چا ته د مرستې لاس ورکولو، هیڅکله یې د چا سپکه نه کوله او همیشه به یې موسکا په خوله وه.

## څارنپوه، کلیم الله ملکزی

د اتو کالو لپاره د هیواد مرستیال لوی څارنوال، کلیم الله ملکزی د ارواښاد قاضي غلام حیدر ملکزي ځوئ د ۱۳۳۱ لمریز کال د سلواغې په شپږ ویشتمه د ننګ د چار قلعه په کلي کې زیږیدلی دی. د خپل پلار د قضا د دندې له امله یې ابتدائیه ښوونځی د ننګ تر اړخه، په څو مختلفو ولایتونو کې او متوسطه یې د کابل په غازي لیسه کې سر ته رسولې ده. په ۱۳۴۷ لمریز کال کې یې خپلې ثانوي زده کړې د امام ابوحنیفه په عالي مدرسه کې چې د کابل په بګرامیو کې موقعیت لري، پای ته ورسولې. یو کال وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې شامل او په ۱۳۵۲ کال کې چې په افغانستان کې د جمهوریت لومړنی کال دی، د لیسانس شهادتنامه واخیسته.

لومړنۍ دولتي دنده یې د مرستیال څارنوال په توګه د څوکۍ په ولسوالۍ کې پیل کړه او اته ویشت کاله وروسته د یوې پراخې کاري تجربې په لاسته راوړلو سره، په ۱۳۸۱ لمریز کال کې د حامد کرزي د لومړنۍ لویې جرګې په ورځ د هیواد مرستیال لوی څارنوال وټاکل شو. څارنپوه ملکزي د خپل مسلک په مختلفو څانګو کې د لوړو تحصیلاتو په موخه، مصر، ازبکستان، ایټالیا او متحدو عربي اماراتو ته سفرونه وکړل، ډیپلومې او

شهادتنامې يې تر لاسه کړې. نوموړي تر دی دمه، څلور کتابونه ليکلي چې په هغو کې د حقوقي مقالو ټولګه، سير ايجاد فعاليت و تشکيلات څارنوالي در افغانستان، د جزا د قانون شرحه او د جزا حقوق. دا وروستی کتاب يې د افغانستان د بهرنيو چارو د وزارت له خوا د کال غوره کتاب بلل شوی او ليکوال يې په جايزې نازول شوی دی. د دولت په رسمي چوکاټ کې له دندې وروسته، هغه د يوې مودې لپاره د اسيايې بانک له لوري د افغانستان د ماليې وزارت د حقوقي مشاور په توګه کار کړی او نن سبا په خپل کور کې د عدلي او جزايي اصولو پورې په يوې تړلې موضوع باندې په ليکنې او څېړنې بوخت دی.

## عبد القادر ملکزی

پوهنيار عبد القادر ملکزی په ۱۳۳۴ لمريز کال کې د نرنګ ولسوالۍ په چار قلعه کې د اروابناد محرر، محمد عمر ملکزي په کور کې زيږيدلی دی. لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې يې د نرنګ په ليسې کې پوره کړې او په ۱۳۵۳ کال کې د کانکور د عمومي ازموينې په پايله کې د کابل پوهنتون د کرنې او مالدارۍ پوهنځي ته بريالی شو. نوموړی د ۱۳۵٦ لمريز کال په ژمي کې له پوهنتون څخه د ليسانس په درجه فارغ او د عالي نمرو په درلودلو سره، د ننګرهار د زراعت په پوهنځي کې چې د کابل پوهنتون پورې تړلې وو، د اسستانت استاذ په توګه مقرر شو.

د تدريس په څنګ کې، د پوهنتون اړوند په يو تحقياتي فارم کې يې د ۱۳٦٥ کال تر پايه څېړنې وکړې او د روسي وحشتونو له کبله يې پيښور ته هجرت وکړ. د کډوالۍ په مهال، پوهنيار ملکزي د آی، آر، سي په مؤسسه کې د انګريزي ژبې د استاد په صفت د څو کالو لپاره درس ورکړ

او بیا د (اومر) په نوم د ماین پاکۍ د مؤسسې په اداري څانګه کې چې د پېښور په حیات آباد کې وه، کار وکړ. نوموړی مؤسسې د زرګونو افغانـانو د ژوند په خوندي کولو او د ړندو ماینونو په خنثی کولو کې ښـه غوښـنه ونـده درلوده او خدمتونه یې د قدر وړ دي. استاذ عبـد القـادر ملکـزی اوسـمهال په کابل کې اوسي او د یو خصوصي مکتب د مدیریت چارې پـرمخ بیـایي او د جنګ په تورو وریځو کې، د نوي کول لپاره د رڼا په لټون بوخت دی.

## ډاکټر فرید بزګر (ملکزی)

ډاکټر محمد فرید بزګـر (ملکـزی) د اروانښـاد عبـد القیـوم بزګـر (ملکـزي) ځوی، د ۱۳۳۹ لمریز کال د غبرګولي په دیارلسمه د نرنګ د چهارقلعـه پـه کلي کې زیږېـدلی دی. لـومړنۍ زده کـړې یـې د نرنـګ پـه لیسـې کـې او ثانوي دوره یې په ۱۳۵۸کال کې د کابل د حبیبیـې پـه لیسـې کـې بشـپړه کړې ده. د کانکور له بریالۍ ازموینې وروسته د کابل پوهنتون د معالجوي طب پوهنځي ته کامیاب او په ۱۳٦۵ لمریز کال کې فارغ شو. ډاکټر فرید د کابل په عدلي طب کې له یو څه وخت دندې وروسته په ۱۹۸۸م کې له خپلې کورنۍ سره پېښور ته کډه شو. د کډوالۍ په چاپیریال کې یې د بیلا بیلو  نړیوالو او افغاني مؤسسو او عبوري دولت سره د ډاکټر په صـفت کـار وکړ او په ترڅ کې یې د ادارې، ژورنالیزم او روغتیا په برخو کـې زده کـړې جاري وسـاتلې. ۱۵ کالـه یـې د OIR International سره د روغتیـایي زده کړو، صحي پروژو او HIV Aids د پروژو د مشر پـه صـفت او د سـلامتۍ د مجلې د مسئول په صفت کار وکړ. ډاکټر فرید د بشري سرچینـو د ادارې او روغتیایي څارنې په برخه کې دوه جلا جلا ماسترۍ لـري چـې د هنـد د تجارت د ملي انستیتوت څخه یې اخیستې دي.

په ۱۹۹۲م کې يې د ختيځ بيارغونې مؤسسې (کور) بنسټ کېښود چې د خپرونو، صحت، روزنې او ماشومانو برخې يې تر اوسه هم فعالې دي. بزګر په مصر، تايلنډ، هند، سريلانکا، مراکش او پاکستان کې لنډ مهالي روغتيايي اداري او روزنيز کورسونه لوستي او له يونيسف سره د سيمه ييز ټرينر او د عامې روغيتا له وزارت سره د نشه اي توکو د غوښتنې د راکمولو په برخه کې د سلاکار دنده ترسره کړې ده. بزګر ۲۷ ټوکه مخلتف النوع کتابونه، رسالې او کيسې پښتو او فارسي ته ژباړلی چې په هغو کې د اپينو لار، هغه نجلۍ چې له مار سره يې واده وکړ، د سند باد پيښې (د ماشومانو لپاره انځوريزه کيسه) د طرابلس زمريان، د درملو د استعمال عملي لارښود، ايډز څه شی دی؟ حفظ الصحه شخصی و محيطی د يادولو وړ دي. نوموړی اوسمهال د فريد بزګر د بنسټ او کور د مؤسسې مشري کوي او په کابل کې اوسيږي.

## محمد طارق بزګر (ملکزی)

محمد طارق بزګر (ملکزی) يوه ځوانه کلتوري څېره ده، له هيواده د باندې د افغان کلتور او ارزښتونو د ژوندي ساتلو په پار، له ۱۹۹۷م کال راهيسي د ناروې په هيواد کې د دعوت او افغان سباوون په نوم خپرونې کوي. د دعوت انټرنيټي خپرونه اوسمهال، د افغان قلموالو په مرستې د هيواد د سياسي، فرهنګي او ټولنيزو پېښو د يو مهم أرشيف او د ورځنيو مسايلو اړوند د ولس د نظرياتو او عقايدو د انعکاس يوه مهمه وسيله ده. همدارنګه بزګر د پښتو ژبې د يو ټلويزيوني چينل د جوړيدو لپاره هڅې کوي ترڅو د وړيا ټولنيزو وسايلو له لارې د هيوادوالو ترمنځ د اړيکو يو پل

جوړ کړي. بزګر په ۱۳۴۵ لمریز کال کې د نرنګ د چار قلعه په کلي کې، د کونړ د یو پیژندل شوي او تعلیم یافته شخصیت، عبدالقیوم بزګر(ملکزي) په کور کې زیږیدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د کابل ښار په مختلفو ښوونځیو کې سرته رسولې دي. کله چې شوروي اتحاد په افغانستان باندې خونړی ناتار ګډ کړ، نو هغه د نادریې لیسې په یولسم ټولګي کې وو. سره د دې چې کورنۍ یې لا په کابل کې وه، هغه پېښور ته هجرت وکړ. هلته یې اسلامیه کالج او بیا د پېښور په پوهنتون کې سیاسي علوم او اسلامیات ولوستل.

په ۱۹۸۸م کال کې د ناروې هیواد ته کډه شو او په Nord University Bodø کې یې ژورنالیزم ولوست. ورپسې یې په ژورنالیزم کې نورې لوړې زده کړې او د ترجمانۍ بنسټیزې زده کړې د ( Oslo Metropolitan University (OsloMet–storbyuniversitetet کې تر سره کړې. نوموړي وکولای شول د دعوت له پیل څخه (۱۹۸۸) تر دوه زرم کال پورې ۲۳۰ ګڼې په پښتو، دري، انګلیسي او نارویژي ژبو خپرې او د دنیا ګڼو هیوادونو ته په خپل شخصي لګښت سره واستوي. د ډاکټر نبي مصداق، استاذ سیستاني، مجاور احمد زیار او رحمت آریا په څیر تکړه څېړونکي او لیکوالان په دې باور دي چې په تک تنها صورت، په یو پردي هیواد او چاپیریال کې د اقتصادي ستونزو سره سره، د دعوت مجلې چلول او په څنګ کې د دعوت میډیا ۲۴ویبپاڼې او افغان سباوون په څیر د یوې خبري رسنۍ چلول او هغه هم د دومره کلونو لپاره جاري ساتل، د هر چا د وس کار نه دی.

د دعوت جریده اوس بریښنايي ده او ۲۴ ساعته تازه خبرونه او څېړنیزې لیکنې خپروي. بزګر په دې وروستیو کې «په کییف کې یوه افغانه

ښاپیرۍ» په نوم کتاب سربېره، له پښتو څخه انګریزي ته « یو زر لنډۍ» او «یو زر پښتو متلونه» ژباړلي دي. همدارنګه «د ناروېژۍ - پښتو لوی قاموس» چې پنځوس زره لغاتونه لري او «زموږ کاکا مراد» چاپ ته تیار کړي دي. د ورځنـي ژوند د لګښـتونو او روزۍ د ګټلو لپاره، د ناروې د دولتي ټلویزیون ((NRK سره د ژورنالست په توګه کار کړی او په څنګ کې یې د کابل ډزې (Skuddene i Kabul) مستند فلم چې په شهید ولسمشر، محمد داود باندې را څرخي، د بزګر او ورسره ټیم په هڅو جوړ شوی او ډېرې جایزې یې ګټلې دي. بزګر د اوسلو د تعلیم له ادارې سره د اړتیا په وخت کې د ټلیفون له لارې ژباړې هم کوي. په امریکا او اروپا کې یې د یو شمیر کلتوري ټولنو څخه تقدیر نامې ترلاسه کړې دي. همدا شان یې ګڼ شمیر هیوادونو ته د علمي او کلتوري کنفرانسونو په موخه سفرونه کړي ترڅو د خپل هیواد، ژبې او کلتور په اړه مقالې وړاندې کړي. د محمد طارق بزګر ملکزي ارواښاد پلار، عبد القیوم بزګر ملکزی، زما د ارواښاد پلار، محمد امین ملکزي کشر ورور دی.

## سمیع الله ملکزی

ارواښاد سمیع الله ملکزی، د نرنګ او باډیل ولسوالۍ د پیژندل شوي عالم او استاد، محمد امین ملکزی ځوی دی. په ۱۳۴۶ لمریز (۱۹۶۷م) کال کې د چار قلعه کلي کې زیږیدلی دی. د لومړنیو زده کړو په پار د نرنګ په لیسې کې شامل شو، ولی د شوروي یرغل له وجې، د خپلې کورنۍ سره د دیوه ګل درې بیا پیښور ته هجرت وکړ. هلته یې د راحت آباد په اسلامي مرکز کې خپلې زده کړې له سره پیل او دوه کاله وروسته یې د معهد شرعي څخه د دولسم ټولګي برې لیک واخیست. په ۱۹۸۵م کال کې د

کانکور له ازموينې وروسته د دعوت او جهاد پوهنتون د شرعياتو پوهنځي ته بريالی شو.
په ۱۹۸۹م کې له فراغت وروسته يې د اتحاد په عالي ليسې او د افغان مهاجرينو په نورو ښوونځيو کې د يوې لسيزې لپاره د ښوونکي په توګه دنده ترسره کړه. هغه په دې ترڅ کې دوه لاسته راوړنې هم درلودې؛ د دوبي د رخصتيو په مهال به د مجاهدينو سنګر ته تللو او درس به يې هم ورکاوه. بله يې دا وه چې په همدې وخت کې يې په پښتو ژبه د ميراث د شرعي احکامو په اړه يو کتاب وليکلو، کوم چې د مشهورو ديني عالمانو د پاملرنې وړ او د پوهنتون د محصلينو لپاره يوه مهمه څېړنيزه سرچينه وګرځيده.
په ۱۹۹۲م کال کې يې د فقه مقارن په څانګه کې د دعوت او جهاد له پوهنتون څخه ماستري واخيسته او په هيواد کې د ناروا کورنۍ جګړې سره د مخالفت له کبله يې هر ډول تنظيمي سياست ته شا کړه. په پيښور کې يې د شهدو (عسلو) تجارت پيل او د خپلو اولادونو پالنې او روزنې ته يې ځان وزګار کړ. يو ځوی يې عبيد الله ملکزی ښه شاعر او په ټولنيزو رسنيو کې ځليدلی ځوان دی. ژوند له سميع الله ملکزي سره وفا ونکړه؛ د ۲۰۲۰م کال د می د مياشتې په اوومه نيټه چې د روژې څوارلسمه مبارکه ورځ وه، د ۵۴ کلنۍ په عمر د کورونا د وژونکې ناروغۍ له کبله يې خپله ساه، د ارواو خالق ته حواله او په پيښور کې خاورو ته وسپارل شو. زه په دې مناسبت د ټولو هغو دوستانو څخه مننه کوم چې ځما د دې ځوانيمرګ ورور په غم کې يې له ما سره خواخوږي او غمرازي وکړه.

## ۱۵- نورګل او مزار دره

د نورگل او مزار درې ولسوالي د هیواد په ټولو مختلفو نظامونو کې د ډیرو کونړیو وزیرانو په درلودلو سره مشهوره ده. له اسعد آباد سره ۴۴ کیلو متره او له جلال آباد سره ۳۷ کیلو متره واټن لري. نورگل پخوا د څوکۍ اړوند علاقداري وه، په ۱۳٦۷ لمریز کال کې یې دوهمې درجې ولسوالۍ ته ارتقا وکړه. مساحت یې ۳۵۱ کیلو متره مربع دی او ٦۴ لوی او واړه کلي لري. د نورگل او مزار دره د علم، سیاست او آبادو زراعتي مځکو ولسوالي ده، څه باندی دوه زره هکتاره زراعتي مځکه لري، برني ځنگلونه یې تک شنه او په لسگونو ډولونو خود رویه بوټي لري. ختیځې څنډې یې د څوکۍ د دیوه گل درې او خاص کونړ سره نښتې دي؛ شمال ته یې چپه دره او لویدیځ ته یې د ننگرهار د دره نور او ښیوې ولسوالۍ پرتې دي. د نورگل هواره سیمه په دوو برخو ویشل شوې ده، یو ته بر نورگل او بل ته یې کوز نورگل ویل کیږي.

## د نورګل او مزار درې غټ کلي

سورۍ تیږه، توره تیږه، پټنۍ، بر پټنۍ، غازي آباد، سیرۍ، کربوړۍ، سینزي، باړيزي، غونډۍ، توده چینه، چانچي، شین کوړک، مسود، ودیر، ګربز، اورګ، معاض، دور کنډک، شیخ قلعه، فیض الله قلعه، ګروا قلعه، میا قلعه، روزي قلعه، کینل، شولت، ده مجګل، واما ګل، کار مګل، لود لام، ورینه، شاه نور کلی او غونډۍ. جبه ګۍ، کنډۍ، تیتک، کوزه بیله، بره بیله، نورګل علیا، شاهنور کلی، غنډۍ کلی، پانډ غاړه، کرچندو، مانو بانډه، مانو خیل، دارو خیل، خاشاک، دیم پور، شادي کلی، کوچیانو کلی او پمن. د یادونې وړ ده چې د مزار دره، د نور ګل د شمالي برخې څخه پیل کیږي او د شوماش تر پاسني کونډ پورې پنځه ویشت کیلومتره اوږد والی لري او د استوګنو اکثریت یې صافیان دي.

## اریت او شوماش

مشهور لیکوال او کلتوري څیړه، اکبر کرګر د شوماش په اړه وایي چې هغه یو ستر کلی دی، د مزار درې د پاسنۍ برخې په شمال ختیځ کې پروت دی. خلک یې اریایي نژادي د پشه اي توکم څخه دي، ژبه یې ځانګړې لهجه لري. د اټکل له مخې، د شوماش د استوګنو مجموعي شمیر پنځو زرو تنو ته رسي، ولی یو تریخ حقیقت دا دی چې خلک یې اکثره په کورنیو دښمنیو کې ژوند کوي، اقتصاد یې په اهلي حیواناتو او د ځنګل په لرګیو روان دی او د خلکو غټ کسب او مشغولا یې کرهنه او مالداري ده. دلته د هلکانو لپاره یو منځنۍ او د نجونو لپاره یو لومړنی

ښوونځی د دولت له خوا تاسیس شوی دی.
د اریت دره د مزار درې شمال او شمال لوېدیځ پلو ته پرته ده او د ولسوالۍ په کچه تر ټولو لویه سیمه ده. بر چم، کوز چم او کنده یې غټ کلي دي او ویل کیږي چې د نفوسو شمیر یې له ۱۵۰۰۰ تنو څخه زیات دی. د اریت اړونده ځینې نور کلي هم شته چې په هغو کې کندا، بړي کندا، اوشن کنلک، سلام بټ، رانسپاټ، خلیلا او ماما ګل نومیږي. د اریت په شمال کې د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ د اتران کلی پروت دی. په اریت کې د رسمي ښوونځیو شمیر پنځه دی او د شوماش له خلکو سره د پشه اي ژبې په لهجو کې توپیر شته. د ثور له اومې د مخه، اریت دوه ملکان درلودل یو یې ملک عبد الله جان او بل یې ملک محمد عمر وو، شوماش یو ملک درلود چې عزم الدین نومیده.
په اریت او شوماش کې دستور دا دی چې ښځې په پټیو او کروندو کې کار کوي او له غرونو څخه لرګي او واښه راوړي، خو نارینه په کورونو کې کار کوي، ماشومان ساتي او شیروار شاربي. میرمنې یې زیاتره پګړۍ پر سر کوي خو په دی توپیر سره چې پیغله نجلۍ توره او میړوښه یا واده شوې سپینه پګړۍ پر سر کوي. ښځې یې په غوږونو کې زیات سوري کوي او اوږدې والۍ کاروي. همدا رنګه میرمنې یې زیاتره کونجکې په کمیسونو او ګنډونو ټک وهي. سړي یې زړور، تورزن او چست او چالاک دي. د خوراک مهمه او زیاته برخه یې پنیر، غوښې او حبوبات دي چې د دوئ په خپله سیمه کې په طبیعي ډول راشنه کیږي او دوئ تری کار اخلي. په مزار دره کې یوه اصطلاح ده چې وايي: که په اریت او شوماش کې میلمه شوې نو کوربه درته وايي (لالا پنډیر) یعنی پنیر ډیر ډیر خوره او ډوډۍ لږه لږه. ځکه هلته د کر ځمکې کمې او حیوانات ډیر دي.

## د نورګل او مزار درې مشهور شخصیتونه

### عبد الوهاب صافی

نوموړی د نورګل او مزار درې د یو مشهور عالم او قاضي، فیض محمد صافی ځوی دی او په معاض قلعه کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې ترسره کړې، بیا په پغمان کې د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په عالي مدرسه کې شامل شو، وروسته د کابل پوهنتون ته بریالی شو او د شرعیاتو له پوهنځي څخه یې د قانون په څانګه کې خپل لیسانس واخیست. نوموړی د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ په مهال د عدلیې وزیر او د یوې مودې لپاره لوی څارنوال وو. عبد الوهاب صافی، د ډاکټر نجیب په کابینې کې ډیر مخور وزیر ګڼل کیده او د اساسي قانون په تدوین او د مسودې په جوړولو کې یې لوی لاس درلود.

### مفتاح الدین صافی

مفتاح الدین صافی د ۱۳۱۵ هجري لمریز کال د وږي په میاشت کې، د مزار درې د اباز خان په کور کې زیږیدلی دی. صافی د خپل لیاقت او ګوندي فعالیت له مخې، د سرحداتو او قبایلو د وزارت تر مرستیالۍ او ختیځ زون د ریاست تر مقام ورسید. لومړنۍ زده کړې یې په کونړ کې، د لیسانس دوره په کابل کې او لوړ تحصیلات یې د امریکا په متحدو ایالتونو کې سرته ورسول. نوموړی یو تکړه لیکوال، ښه شاعر، داستان

ليکونکی او ژباړونکی دی. د يو شميرغربي شاعرانو او ليکوالانو اثار په پښتو ژبه ژباړلي او خپاره کړي دي. د پښتو او دري ترڅنګ، په انګريزۍ ژبې او ادب کې ښه مهارت درلود او شعرونه يې ليکلي دي. (رژيدلي ارمانونه) يې د شپږو لنډو کيسو ټولګه ده چې په دی وروستيو کې تازه چاپ شوی ده. دغه پخوانی ډيپلومات، صاحب منصب او ليکوال په ۱۳۹۸ لمريز کال کې چې د ۲۰۱۹م د جون سره سمون خوري، د هالنډ په هيواد کې ومړ او تر شا يې ډيرې علمي څيړنې او ادبي ليکنې پريښې دي. د بيلګې په توګه د ځينو نومونه يی دا دي: نړيوالې سندرې (ژباړه) سپيدې (د شعرونو ژباړه) مات وزر (د لنډو کيسو ژباړه) ادبي او هنري څيړنې، نيمګړي انځورونه (شعري ټولګه) ده. نوموړی د عدليې د پخواني وزير او لوي څارنوال، قانونپوه عبدالوهاب صافي د ترور ځوی وو.

## شمس الهدی شمس

د افغان ملتپال ولسواک ګوند (افغان ملت) د يوې ډلې مشر، شمس الهدی شمس په ۱۳۱٦ لمريز کال کې د کونړ د کوز نورګل په سيمه کې پيدا شوی دی. د اروابښاد کورنۍ چې د قاضيانو په نوم ياديږي؛ يوه مذهبي کورنۍ ده؛ پلار يې نور الهدی نوميده او د افغانستان د ملي اردو ډګروال وو. شمس خپلې لومړنۍ زده کړې د نورګل په علاقدارۍ کې پيل کړې بيا يې د خپل پلار په څير، د کابل په حربي پوهنتون کې شامل او په ۱۳۴۴ کې فارغ شو. د يو صاحب منصب په توګه، خپله مسلکي دنده يې د ننګرهار په يولسمې فرقې کې پيل کړه. د غوايي له کرغيړنې کودتا څو اونۍ وروسته د جګړنۍ په رتبې د کورنيو چارو ته تبديل شو، مګر سمدلاسه په کور کښينول شو.

د ۱۳۵۷ کال په ژمي کې نوموړی پیښور ته کډه شو او هلته يې د خپلې مشرۍ لاندې ګوندي فعاليت پيل کړ او د کوزې پښتونخوا د نشنلستو سياسي مشرانو، هر يو ولي خان، اسفند يار خان، افضل خان لالا او د بلور له کورنۍ سره اړيکې مزبوتې شوې. دغه ګوند وايي چې موږ د روسي يرغل په مهال، د کونړ او ننګرهار په ځينو غرنيو سيمو کې خال خال جنګي جبهې درلودلې، ښه مقاومت او جهاد مو کړی دی. سياستوال او ليکوال، اروا ښاد شمس الهدی شمس د کډوالۍ له ژوند وروسته بيرته کونړ ته راغی. د ۲۰۰۵م کال د ا کتوبر د مياشتې په نهمې نيټې د زړه د ناروغۍ له امله، په داسې حال کې چې ځان يې ولسي جرګې ته نوماند کړی وو، په خپل کلي کې وفات او خاورو ته وسپارل شو.
د يادونې وړ ده، کله چې د افغان ملت د ګوند بنسټګر مشر، انجنير غلام محمد فرهاد په ۱۹۸۴م کال کې ومړ، نو دغه ګوند په دريو ټوټو وويشل شو. د يوې انشعابي ډلې مشري قدرت الله حداد، د بلې ډلې محمد امين واکمن او د دريم ګروپ قيادت د شمس په لاس کې وو. دا مهال د افغان ملت د يوې ډلې مشر، ډاکټر انوارالحق احدي د شورای نظار په ټکټ د ډاکټر اشرف غني په کابينې کې د کرنې وزير دی.

## محمد اکبر کرګر

محمد اکبر کرګر د محمد امان ځوی په ۱۳۳۲هجري لمريز کال کې د نورګل ولسوالۍ د مزار درې په يوې بزګرې کورنۍ کې زيږيدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې د مزار په درې کې ترسره کړې، بيا کابل ته لاړ او د ابن سينا د عالي ليسې څخه فارغ شو. په ۱۳۵٦ لمريز کال کې د کابل

پوهنتـون د ادبیـاتو او بشـري علومـو لـه پـوهنځي څخـه یـې د فلسـفي او ټولنیزو پوهنو په څانګې کې د لیسانس شهادتنامه واخیسته۔ کرګر آن لـه لسم ټولګي څخه د پښتو ټولنې د زیري په جریده کې په لیکلو پیل وکړ او بیا د هیواد د نورو خپرونو سره هم همکار پـاتې شـو. لـه پوهنتـون څخـه د فراغت وروسته یې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څیړنو پـه نړیـوال مرکز کې په کار پیل وکړ او د ۱۳۵۸ کال په لومړیو وختونو کې له سیاسي زندان وروسته د «حقیقت نقلاب ثور» په ورځپاڼې کـې کـار پیـل کـړ. پـه ۱۳۶۰ لمریز کې د راډیو افغانستان په اداري کې د خپرونو د لوي رئیس په توګه، بیا د افغانستان د چاپ او خپرونو د دولتي کمیټـې د مشر۔ پـه توګـه چې د وزارت له پوست سره انډول وه، وټاکل شو۔ پـه ۱۳۶۷ لمریـز کـې د افغانسـتان د خلـق ګونـد د حـزبي خپرونـو مشر۔ او دوه کالـه وروسـته د افغانستان د لیکوالو ټولنې د منتخب مرستیال په توګه وټاکل شو۔ ۱۹۹۲م کال کې په پیښور کې د بي بي سي راډیو (نوی کور، نوی ژوند) په پـروژه کې د لیکوال او ورپسې د معلوماتو د راټولولو د څانګې مسئول وټاکل شو. کرګر په ۱۹۹۹م کې انګلستان ته کـډه وکـړه او لـه ۲۰۰۴ - ۲۰۱۲م کـال پورې د ژبو د زده کړو په کالج کې د پښتو ژبي د ښـوونکي پـه توګـه دنـده ترسره کړه. کرګر واده لري او د پنځو تعلیم یافته لوڼو او یو زوی پلار دی۔ کرګر یو څیړونکي، نقاد او ناول نګار دی. تراوسه یې ۳۹ کیسې، ناولونـه، ادبي څیړنې، علمي ژباړې او د تصوف او شعر په هکله شاهکارونه لـیکلي او ژباړلي چې زیاتره یې چاپ او خپاره شوي دي. د یـو څـو نومونـه یـې دا دی: شیبې، د زمانو سندره، انځورونه، کـه هینـداره؟ یادونـه او نکلونـه، دا ټول د لنډو کیسو ټولګې دي. غنـي د شـګو پـه محـل کـې، د مـیرزا خـان عرفاني، فلسفي نړۍ لید، اقبال او د شاعر د خـودۍ قلمـرو او قـرآن، لـپ

ټاپ او کلاشینکوف له انګریزی ژباړه ده.

## زرغونه کرګر

زرغونه کرګر، د مشهور لیکوال محمد اکبر کرګر لور ده او د کونړ پـه مـزار درې کې زیږیدلې ده. لومړنۍ او د لیسې زده کړې یې په کابل کې تر سره کړې او په پیښور کې یې د سید جمال الدین افغاني پـه پوهنتـون کـې ژورنالیزم لوستې دی. اوس مهال په لندن کـې ژونـد کـوي؛ د بي بي سي لندن میشته بریالۍ خبریاله ده او په نړیوالې برخې کی د پـرډوسرۍ دنـده ترسره کوی. زرغونه، تر دې وړانـدې د افغانسـتان لپـاره د بي بي سي پـه راډیویي پروګرامونو کې د دري او پښتو پروګرامونو ویانده وه. د ښځو لپاره یې په پښتو او دري ژبو ځانګړي پروګرامونه جوړ کړي او د افغانستان دننه یې ګڼ شمیر ښځینه خبریالې روزلې دي.

زرغونه د افغان میرمنو او نجونو د ژوند په هکله په انګلیسی ژبی د مشهور کتاب «ګرانې زرۍ» لیکواله هم ده چی په ۲۰۱۱ کـال کـی د برتـانیی د یوی نامتو چاپي ادارې له خوا چـاپ شـو. زرغـونې د خپـل مسـلکي ژونـد ډیره برخه د ښځو او نجونو لپاره په لیکلو، راپورتاژونو او په نړیوالـو فلمونـو باندې راپورونو ته بیله کـړې ده. همدارنګـه هغـې پـه ۲۰۱۳م کـال کـې د «نجـونې راپورتـه کیـږي» ډاکـومنټرۍ لپـاره پـه افغانسـتان کـې د آمنـې «امینه» د ژوند کیسه لیکلی چی په امریکا کې د لـومړي ځـل لپـاره خپـره شوه. زرغونه اوس هم د افغانستان ښځینه لیکوالانو سره د دوئ د لیکنو د پیاوړتیا او په انګریزي کې د دغو لیکنو د چاپ په برخه کـې لارښـوونې او مرستې کوي. زرغونې کرګر واده کړی، د دوو بچو مور ده د پښتو، دري او انګریزي ژبو تر څنګ په اردو ژبې هم خـبرې او هـم تـرې ژبـاړې کـولاې شي.

## ډگر جنرال عبد الله حبيبي

جنرال عبد الله حبيبي په ۱۳۳۱هجري لمريز کال کې د مزار پـه درې کـې پيدا شوی دی. لومړنۍ ښوونځی يې پخپل کلي کې ولوست بيا د کابل په حربي ښوونځي کې شامل شو. په ۱۳۵۱ کې د حربي پوهنځي څخه يې د توپچي په مسلک کـې خپلـه ډيپلومـه واخيسـته. د لـوړو تحصـيلاتو لپـاره شـوروي اتحـاد تـه واسـتول شـو او څلـور کالـه وروسـته يـې د ماسـترۍ شـهادتنامه ترلاسـه او بيرتـه وطـن تـه راسـتون شـو. پـه مختلفـو جبهـو او نظامي دفترونو کې له کار ورسته په ۱۳٦۹ کال کـې يـې د تـورن جنرالـۍ رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۳۹۵ کې د ولسي جرګې څخه د بـاور د رايـې پـه لاسته راوړلـو سره د مـلي دفـاع وزيـر وټاکـل شـو؛ خـو يـو کـال وروسـته د شاهين په قل اردو کې د سلو څخه د زياتو عسکرو او پوځيـانو د مـرګ لـه امله استعفا ته اړ شو. لږه موده وروسته قزاقستان ته د افغانسـتان د سـفير په توګه واستول شو او د دې ليکنې تر مهاله په همدغې دندې کې بوخت دی.

## پوهاند، ډاکټر فريد سينزی

د يوې څيړنې له مخې، پوهاند ډاکټر فريد سينزی دوهـم افغـان دی چـې په ۳۲ کلنۍ کې يې د انګلستان د اکسفورډ له پوهنتون څخه پـه سياسـت او نړيوالـو اړيکـو کـې خپلـه پـي، ايـچ، ډي «ډکتـورا» ترلاسـه کـړې ده. نوموړی د نورګل د مزار درې د يو بل پوهانـد، ډاکټـر محمـد داود سـينزي څوی او د خلقي رژيم د لوی درستيز، جنرال غلام نبـي وسـتلي وراره دی.

ډاکټر فرید د ۱۹۷۰م کال د اپریل په میاشت کې په کابل کې زیږیدلی او په ډیر کوچنیوالي کې د خپل مور او پلار سره د امریکا متحدو ایالتونو تـه تللی دی. هلته یې په دریو مختلفو ایالتونو کې خپل بنسټیز تعلـیم سر تـه رسولی؛ لیسانس یې په کالیفورنیا کې او ماسټري یې د نیویـارک د کولمبیـا له پوهنتون څخه اخیستې، هلته چې ډاکټر محمد اشرف غنـي اسـتاذ وو. ډاکټر فرید دوه نورې ځانګړتیاوې هم لري، هغـه پـه ۱۹۹۵م کـال کـې د ملګرو ملتونو د پنځوسمې کلیزې په عمومي غونډې کې چې د ګڼ شـمیر هیوادونو مشران هم ناست وو، د ټولې امریکا د ځوانانو په استازیتوب وینا وکړه. فرید د خپلې محصلې په ترڅ کې، لومړې د کلیفورنیا په ایالت کـې او بیـا پـه نیویـارک کـې د کولمبیـا پـه پوهنتـون کـې د مسـلمانو ځوانـانو د فدراسیون مشر وو.

پوهاند فرید سینزی له یوې نیمې لسیزې راهیسـې د کالیفورنیـا د «سـینټا کلارا» په پوهنتون کې د اسلام او سیاست او د منځني ختیځ د سیاسـتونو او شخړو پـه هکلـه درس ورکـوي. هغـه یـو کتـاب « د امریکـا مسـلمانان څرنګه تعلیم یافته کړو؟» د بل لیکوال سره په ګډه په ۲۰۰۹م کې لیکلی او دوهم کتاب یې « آیا سیاسي اسلام د ډیموکراسۍ عمر ته ننوتې؟» پـه ۲۰۱۳م کې په خپله لیکلی، ډیر لوستونکي او په امازون آنلایـن کـې ښـه بازار لري. همدا شان، نومـوړی پـه واشـنګټن ډي سي کـې د دو څیړنیـزو مؤسسو «ټولنیزې پالیسۍ او پوهه» او « د نړیوالې پالیسۍ مرکز» مشرـ دی. ډاکټـر فریـد سـینزي واده کـړی، یـو ځـوی لـري او میـرمن یـې پـه انګریزي ژبې نهه کتابوبه لیکلي چې دوه یې د افغانستان په هکله ناولونه دي. د ډاکټر فرید نیا، د نرنګ د ارواښاد قاضي مهتاب ګل صـافي مشرـه لور ده.

## د نورګل او مزار نور یاد شخصیتونه

په جهادي شخصیتونو کې؛ مولوي شهید عبد المتین شوماشی، مولوي محمد عمر، شهید قاضي عبد المتین، شهید قاضي بابا ګل، قومندان حسن خان، ارواښاد قومندان سردار خان او ورور یې مرحوم قومندان عبدالغني. ملک تېمور، ملک جوره باز، ملک احمد خان، ملک سیدال، ډګروال غلام عمر، حکیم خان اکا، ارسلا خان، ملک شاه محمود خان، حیاء الدین، ګلستان، سید کریم خان، ملک سکندر، وهاب جان، حاجی عبد الرحیم، باز محمد خان او جلال خان. د غوایي د کودتا وروسته د خلقي رژیم لومړنې لوی درستیز، جنرال غلام نبي وستلي، د هغه ورور او د کابل پوهنتون د زراعت د پوهنځي استاذ، پوهاند ډاکټر محمد دواد سینزی، د کابل پوهنتون د جغرافیا استاذ، پوهاند لطف الله صافی، د افغانستان د هوایي مدافع پوهنتون رئیس، داود شیرآقا حرکت او د پوهنتون استاذ بهاء الدین حرکت. د هیواد نومیالې او پیژندل شوی ژورنالست، غلام جیلاني ځواک چې اوسمهال د کابل نیوز ټلویزیون له مشرانو څخه ګڼل کیږي، د کوز نورګل استوګن او د ملتپالي سیاستوال، شمس الهدی شمس د کاکا ځوی دی.

## ۱٦- وټه پور

وټه پور، د اسعد آباد شمال ته د لسو کیلو مترو په واټن د پیچ درې په خوله کې د سیند دواړو غاړو ته پرته ولسوالي ده. د ولایت د اداري معیارونو له مخې، وټه پور د دوهمې درجې ولسوالی ده؛ شمال ته یې د

نورستان وانټ وایګل، ختیځ ته یې شیګل، لویدیځ ته یې ماڼوګی او جنوب ته یې اسعد آباد او لړه برخه یې د نرنګ سره ګډه پوله لري. ټول مساحت یې ۲۵٦ کیلو متر مربع دی. د وټه پور د استوګنو غوڅ اکثریت پښتانه دي، البته د ګوجر او نورستانیانو یو لږ شمیر خلک هم دلته میشت دي چې د پښتو تر اړخه، پخپلو مورنیو ژبو هم ګړیږي. د مناګي برېښنا کوټ بند، د پیچ درې پر سیند په همدې ولسوالۍ کې جوړیږي چې څلور سوه کیلو واټه برېښنا به تولیدوي، ولی پوره ظرفیت یې له یو میګا واټ څخه هم زیات دی.

د غوایي له خونړۍ کودتا وړاندې (۱۹۷۸م) دلته د وټه پور په ولسوالۍ کې یواځې ماموند، نورستاني، ګوجر، دیګان او اخوند زادګان اوسېدل. مګر د جماعة الدعوة الی القران والسنة اروانباد مشر، جمیل الرحمن هغه مهال چې نوموړی د حزب اسلامي د کونړ ولایتي مشر ـ وو دلته له پیچ څخه صافي راوستل. صافو له ځایي خلکو څخه په ډیره ارزانه بیه مځکې او جایدادونه واخیستل. ورو ورو یې د خپل سیاسي نفوذ او تنظیمی تشکیلاتو دائره پراخه کړه، فعلا په وټه پور کې د دوئ خبره میره او شمیر یې له نورو کم نه دی.

## د وټه پور غټ کلي

وټه پور ۹۷ لوی او واړه کلي او باندې لري چې د مشهور کليو نومونه يې په دې ډول دي: شامير کوټ، ځانګار، سيمتام، کټار قلعه، بر کرمول، کوز کرمول، کرمول ډاګ، پيرونۍ، لودم، شينګام، کور باغ، څپرې، قمچۍ او بره قمچۍ. ګوجګل، ډونګل، ماشو ګل، اتيګل، پنجي ګل، ماشير ګل، ستي ګل او ميران. همدارنګه نور مشهور کلي يې اسلام قلعه، کارين، دروازګۍ، ديوز (دهوز) ديوز نورستان، ديوز وران کنډو، ديوز لوی کلې، ګمبير نورستان، ګمبير پاس کلی، قرو لوې کلې، قرو بانډه، شړلو کلی، آهنګران، چم، غاره، غونډۍ، صدر بانډه، چمدين، منات بانډه، سر اغزو بانډه، خاطر پاټه، ملکانه، درګۍ، اوچال، ډاګ، شګۍ، سيد انور بانډه، محمود خيل، بادين خيل، کنج او صافی کلی د يادولو وړ دي. په وټه پور کې په لسګونو کليوالې پراختيايي، قومي او د ځوانانو شوراګانې جوړې شوې دي او د مدني ټولنو ځوانان ډير فعال او لاس په کار ښکاري. د رنګاخېلو، ميرجان خېلو، ناني خېلو او شاربي خېلو هم يې پخواني مشران او هم يې نوی کول، د تعليم يافته طبقې په سر کې راځي.

## د وټه پور ټولنيز او سياسي مشران

د وټه پور ولسوالۍ په ټولنيزو او سياسي مشرانو کې د رنګاخيلو څو نومونه ځانګړی ځای لري. په دوئ کې حاجي جمدر خان د نور محمد خان ځوی او د حاجي اميد يار (اميد وار) لمسی، د وټه پور ډير ياد شخصيت ګڼل کيږي. د حاجي اميد يار ميرمن د کټار قلعه د ملک کامران خور وه،

دوه ځامن يې درلودل، يو نور محمد خان او بل محمد عمر خان او يوه لور يې هم لرله. د کامران خان بله خور د حاجي ګلروز خان ميرمن او د غازي مير زمان خان مور وه. له بله پلوه، نور محمد خان چې د لوې خان سکنی ترورزی وو، د مشری خور ښبښتن يې هم وو. د غازي جمدر خان رنګا خيل نيکه د وټه پور سيمې ته د باجوړ د بړوزو څخه راغلي وو. د پوهاند جمدر ځوی او زما محترم دوست، شير شاه جمدر د خپلو مشرانو له خولې ما ته وويل « دوئ د امير فولاد اولاده ده او د غور څخه دلته راغلي دي. دوئ لومړی د سلطان غياث الدين غوري د پاچاهۍ په وخت کې پيښور ته کوچيدلي وو، بيا د مغلو د واکمنۍ په دوران کې باجوړ ته لاړل او له هغه ځايه وټه پور ته راغلل او همدلته پاتی شول. د رنګا خيلو بله څانګه د شلتن په ولسوالۍ کی ميشت ده».

له تاريخي پلوه، د امير عبد الرحمن خان د حکومت په دوره کې د ډيورند ليکې دې څنډې ميشتو پښتنو ته د سياسي اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر، د سپاه سالار غلام حيدر خان څرخي له خوا تذکرې يا د معرفت پاڼی د تاجکو په نوم وويشل شوې. د غازي امان الله خان په وخت کی هم په دولتي فرمانونو کې د دې سيمې مشرانو ته د تاجکو نوم وکارول شو چې طبعا صحيح نه دی او د پښتنو د هويت سره جفا ده. نور محمد خان (د جمدر خان پلار) د امير حبيب الله خان د پاچاهۍ په مهال په ځوانۍ کی وفات شو او درې ځامن يی لرل؛ مشر يې جمدر خان، بيا اکبر خان او کشر يی محمد امين خان نوميده. د غازی امان الله خان د سلطنت په مهال، جمدر خان شل کلن ځلمي وو چې د استقلال جګړه پيل شوه. نوموړي د خپل ماما (غازي مير زمان خان) تر مشرۍ لاندې د وټه پور د غازي کامل خان، غازي سالارزې، غازي ميرعلم خان، غازي حسن

جان، غازي غلام حسین، غازي ګلنام او نورو ولسي- خلکو په ملتیا د اسمار، ارنوۍ او چترال په جګړو کې پوره او فعاله ونډه واخیسته. د استقلال د څلورمې جبهې د بریالیتوب په ویاړ، امان الله خان، لوی خان ته د فرقه مشرۍ، خان محمد خان ته د لوا مشرۍ او جمدر خان ته د غنډ مشرۍ عسکري رتبې ورکړې.


د غازي جمدر خان یو ورور، محمد امین خان په جنوبي کې د غازي امان الله خان په ضد د ګوډ ملا په مشرۍ د خلکو د بغاوت په ځپلو کې د خپل ماما (غازي میر زمان خان) ترڅنګ د دریدلو او میړانې له امله د کرنیلۍ عسکري رتبه تر لاسه کړه او بل ورور یې حاجي محمد اکبر خان په قطغن، بیا په په اسمار کی حکمران وټاکل شو. د ساپي کال د پاڅون او د ځینو په تعبیر (بغاوت) په ترځ کې حاجي جمدر خان د حکومت په طرفدارۍ په چونۍ کی پاتې شو، خو صدراعظم هاشم خان نوموړی د دواړو ورونو، حاجي محمد اکبر خان او محمد امین خان سره په ۱۳۲٦ لمریز کال کې لومړی هرات بیا بلخ ته تبعید کړل. همدارنګه د لوی خان د کورنۍ غړي، د پیچ سلطان محمد خان، د باډیل میر سلام خان، د کور باغ ملک عبد القادر خان، د ننګرهار د خوږیانو ملک قیس او د ګوشتې د حسن خان په ګډون، یاد مشران له خپلو سیمو څخه هم تبعید شول. حکومت ځینی مشران سیده د کابل په دهمزنګ کی بندیان کړل او څه یې قندهار، هرات، فاریاب، شبرغان او مزارشریف ته په جبري ډول واستول.

د اتلس کلن تبعید او داخلي جلا وطنۍ وروسته، د صدراعظم محمد یوسف خان حکومت نوی اساسي قانون جوړ کړ او له برکته یې دغو قومي شخصیتونو او د دوئ کورنیو ته اجازه ورکړل شوه چې بیرته خپلو کورونو او

ولسونو ته را وګرځي او خپل جايدادونه ترلاسه کړي. غازي جمدر خان د فيض اباد په علاقه دارۍ کې د جلا وطنۍ په مهال په حق ورسيد او د شاه جهان په قلعه کې خاورو ته وسپارل شو. مګر ډير کلونه وروسته يې ځوی، پوهاند ډاکتر قاسم جمدر د خپل پلار مړی وټه پور ته راوړ او خاورو ته يې وسپارلو. د اروا ښاد جمدر له پنځو زامنو څخه چې سکندر جمدر، محمد ولی جمدر، غلام فاروق جمدر، محمد قاسم جمدر او سلطان محمود جمدر نوميږی، يواځی د کابل پوهنتون پخواني استاذ، پوهاند محمد قاسم جمدر ژوندی دی، په المان کې اوسيږي. د جمدر د غټې کورنۍ نژدی ټول غړي له هيواده د باندې په اروپا، امريکا او استراليا کی ديره دي، ولی له خپلې سيمې او ولس سره اړيکې ساتي او تګ راتګ کوي.

د اروا ښاد حاجي محمد اکبر خان له څلورو ځامنو څخه دوه يې؛ شاه محمود اکبر او عبد الغفور اکبر وفات شوي دي. د کابل پوهنتون د پل تخنيک پخوانی استاد، ډاکتر غلام رسول اکبر او د افغانستان د راډيو ټلويزيون پخوانی نطاق، تاج محمد اکبر دا مهال د استراليا د ملبورن په ښار کې له خپلو کورنيو سره ژوند کوي. د مرحوم محمد امين خان د شپږو زامنو له ډلی څخه څلور ځامن يې هر يو: د کابل پوهنتون پخوانې استاذ او د حامد کرزی د کابينی د پوهنی وزير، پوهاند عبد الرسول امين، محمد نوروز خان امين، محمد رسول امين او پيلوټ ظاهر شاه امين مړه دي، البته احمد شاه امين په لندن کې او ممتاز امين په استراليا کی له خپلو اولادونو سره يو ځای اوسيږي.

## وکيل محکم خان



اروا ښاد وکیل محکم خان چې اصلي نوم یې محمد اکرم خان دی، د غازي ملک محمد عمر خان ځوی، د ملک امید یار خان لمسی او د الله یار خان کړوسی دی. نوموړی په ۱۲۹۳ هجري لمریز کال کې د کونړ د وټه پور په ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. محکم خان په قوم رنګاخیل دی، نیکونه یې نژدی یوه نیمه پیړۍ وړاندی له باجوړ څخه وټه پور ته راکوچیدلي او همدلته آباد شوي دي. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې د سیمې د هغه مهال له مشهورو عالمانو څخه سرته ورسولې او د لیک لوست مهمه برخه یې همدلته بشپړ کړه. اروانباد یو شتمن سړی وو، خو په تواضع، میلمه پالنې او ولسي خدمتونو یې حتی مخالفین هم معترف دي. ښایي همدا ښه اخلاق او نیک شهرت د دې لامل شو چې په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د اساسي قانون د مشورتي جرګې افتخاري غړی وټاکل شي. هغه مهال چې نورستان ته سړک تیریده، نو هغه د خپلو خلکو سره یو ځای په داو طلبه توګه برخه واخیسته او قاشقار ته یې د ترانسپورتي لارې د جوړیدو په برخه کې د پام وړ خدمت وکړ.

مرحوم محکم خان بیا د انتخاباتو له لارې، د ولسي جرګې په دولسمې او دیارلسمې دورې کې د کونړ د خلکو استازیتوب وکړ او د هیڅ ډول اخلاقي، سیاسي او ټولنیز فساد داغ یې په سپینې لمنې ونه لګیدلو. محکم خان څلور ورونه او یولس خویندې درلودې، دوه ودونه یې کړي وو، اوه

ځامن او څلور لوڼې يې درلودې. په جرمني کې د اروا ښاد وکيل محکم خان کشر ځوی او زما محترم دوست، حاجي عبدالواسع ما ته له جرمني څخه په ټليفون کې وويل « د غوايي د خونړۍ کودتا لږ وروسته، وکيل صيب کابل ته په سفر تللی وو، بيرته د جلال آباد - اسعد آباد په لويه لاره کې د خپل يو ځوان ځوئ سره چې د سرکاڼو په کنډک کې يې عسکري خدمت کاوه، له موټره ښکته او د خلقيانو لخوا ونيول شول. دا دی دري څلويښت کاله وشول خو زما د شهيد پلار او شهيد ورور د مرګ نيټه او قبرونه لاهم ګمنامه او لا درکه دي». د يادونې ده چې د محکم خان مشر ځوی، ډاکټر عبدالقيوم د طبابت په ډګر کې د مهمو خدمتونو تر څنګ، يو فعاله سياسي او ټولنيز شخصيت وو. په پيښور، باجوړ او کونړ کې يې ګڼ شمير روغتيايي کلينکونه جوړ کړي وو، په پيښور کې د افغان ډاکټرانو د اتحاديې مشر وو، په لسګونو مسلکي او کدري غړي يې درلودل. نوموړی په ۱۹۹۰م کال کې د زړه د ناروغۍ له امله په پيښور کې وفات او جنازه يې په کونړ کې خاورو ته وسپارل شوه.

## پوهاند رسول امين

د پوهنې پخوانی وزير او ليکوال، پوهاند رسول امين د ۱۹۳۹م کال د می د مياشتې په لسمه نيټه د وټه پور په ولسوالۍ کې زيږيدلی او د پلار نوم يې محمد امين خان وو. لومړنۍ زده کړې يې پخپله سيمه کې او لوړ تحصيلات يې د پيښور په فار ورډ سکول او اسلاميه کالج کې سرته ورسولې. په ۱۹٦٦م کې د ماسترۍ د ترلاسه کولو وروسته بيرته افغانستان ته ستون شو او د پښتو ټولنې غړيتوب يې ترلاسه کړ. د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي کې يې د ټولنيزو علومو د

استاد په توګه د څېړنيزو مسلکي ليکنو لړۍ جاري وساتله خو په ګونـدي سياست کې يې چندان برخه وانخيسته. په ۱۳۵۸ لمريز کال کې د خلق او پرچم د خونړي رژيم سره د مخالفت له امله په زندان کې واچول شـو او د شوروي اتحاد د سرو لښکرو له راتګ سره سم، د نـورو زرګونـو بنـديانو پـه ډله کې دی هم آزاد او پرته له ځنډه پېښور ته مهاجر شو.

د اتيايمې لسيزې په لومړيو کلونو کـې يـې پـه پېښـور کـې د ملـي اسـلامي محاذ په تنظيم کې سياسي او تنظيمي فعاليت تر اړخه، د افغان اطلاعـاتي مرکز سره همکاري درلوده او په ۱۹۸۵م کال کې يې د (وفـا) پـه نـوم د ازاد افغانسـتان د ليکوالـو يـوه ټولنـه جـوړه کـړه. دغـه ټولنـه بيـا د افغانسـتان د مطالعاتو په مرکز بدله شوه او د خپلواکۍ مجله، د وفا مجله، د وفا اخبـار، د افغانانو جريده او د مشهورو ليکوالانو په سلګونو کتابونه يې د دغه مرکـز لـه لارې چاپ او خپاره کړل. د افغانستان د مسئلې په اړه د ايټاليا په روم کې، رسول امين د افغانانو د ډلې يو مخکښ غړی وو. د جرمنـي پـه بـن کـې پـه منځ مهالي حکومت له موافقې وروسته، نومـوړی د پـوهنې د وزيـر پـه توګـه وټاکل شو، په کابينه کې له شپږو مياشتو غړيتـوب وروسـته، د افغانسـتان د مطالعاتو د رئيس په توګه خپله دنـده پـرمخ وړلـه او د سـياسي فعـاليتونو پـر ځای يې کلتوري او علمي څېړونه ته مخه کړه.

نوموړی د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په يو ديرشمه د استراليا د ملبورن پـه ښـار کې د ورپېښې ناروغۍ له امله له دې نړۍ سره د تل لپاره مخـه ښـه وکـړه او جنازه يې کونړ ته راوړل شوه ترڅو په خپلې پلرنۍ هديره کې خـاورو تـه وسپارل شي. ما له ارواښاد سره پـه وروسـتي ځـل د انجنيـر مسـيح الملـک جلالا په کور کې وليدل. نومـوړی د کاليفورنيـا د يـونين سـټي (ښـار) تـه راغلی وو، له ميشتو کونړو او د دغه ښار لـه يـادو افغانـانو سره يـې ليـدنې

کتنې درلودې.

## پوهاند محمد قاسم جمدر

پوهاند ډاکتر محمد قاسم جمدر، د ارواښاد حاجي جمدر خان ځوی دی، په ۱۳۲۰ لمريز کال کې د وټه پور د شاميرکوټ په کلي کې زيږيدلی دی. په ډير کوچنيوالي کې يې ديني او عنعنوي زده کړی پيل کړې خو کورنۍ يې د سياسي نزاکتونو او سيمه ييزو شرارتونو له مخې، د حکومت له خوا لومړی هرات او دوه کاله وروسته د بلخ ولايت د فيض اباد ولسوالۍ ته چې اوسمهال د جوزجان پورې تړلې ده، تبعيد شوه. نوموړي د فيض آباد لومړنی ښوونځې ولوست، بيا په ۱۳۳۳ کال کې د کابل د ابن سينا ليسې ته لاړ. درې کاله وروسته له دغې ليسې فارغ او د کابل په عالي دار المعلمين کې شامل شو. په ۱۳۳۹ لمريز کې د کابل پوهنتون د فزيک او رياضي ډيپارټمنټ ته بريالی او څلور کاله وروسته يې د ساينس له پوهنځي څخه خپل ليسانس ترلاسه کړ. سره له دې چې د يونسکو له خوا په دنده و گمارل شو، خو هغه د ننگرهار طب په پوهنځي کې د استاذۍ دنده غوره وبلله او بيا د همدې پوهنځي د فزيک او رياضي د څانگې امر مقرر شو.

په ۱۹۷۲م کال کی يې د شوروي اتحاد د خارکوف له پوهنتون څخه د فزيک په څانگه کې خپله ماستري واخيسته. له راتگ وورسته، د ننگرهار د طب پوهنځي او يو کال وروسته د کابل په پولي تخنيک کې يې د استاذۍ دنده جاري وساتله. په ۱۳۵۷ کال کی د عالي تحصيلاتو په وزارت کې اداري رئيس وټاکل شو او په ۱۹۸۶م کی يی په مسکو کې د نوي کيدو وړ انرژۍ په برخه کی د ساينسي علومو له ډيپارټمنټ څخه د

ډکتورا په ترلاسه کولو بریالی شو. د پوهاندی د کدري رتبې ترڅنګ، ډاکتر محمد قاسم جمدر د کابل د پولي تخنیک د انستیتیوت رئیس او د عالي تحصیلاتو د اکاډمیکو چارو د انسجام د لومړني مشر په توګه، هیواد کې د علمي کدرونو د روزنی په ډګر کې مټې را ونغښتی.
پوهاند جمدر په ۱۹۸۹م کی پیښور ته مهاجر شو، یو کال وروسته د جرمني هیواد سیاسي پناه ورکړه او هلته یې د مونشن ګلادبخش په ښار کې افغاني ټولنه جوړه کړه. د ولسمشر کرزي د بلنې له امله په ۲۰۰۳م کال کې کابل ته لاړ ترڅو د بیارغونې د پلان لپاره د ماسترۍ د پروګرامونو محصلین وروزي، دغه بهیر د ۲۰۱۵م پورې دوام وموند. ډاکټر جمدر د عالي زده کړو د محصلینو لپاره شپږ تدریسي- او علمي کتابونه او ۳۵ علمي مقالې د ساینس، تعلیم او تربیې په برخه کې لیکلې او چاپ کړې دي. هغه د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) تر اړخه په دري، ازبکي، انګلیسي، روسي او جرمني ژبو خبرې او لیکنی کوي.
پوهاند محمد قاسم جمدر د وټه پور د یاد شخصیت، حاجي امید یار خان کړوسی او د غازي میر زمان خان د لور ځوی دی. واده لري، د درې ځامنو او درې لوڼو پلار دی. د خپل اکاډمیک خدمت له امله یې د تعلیم او تربیی د لومړۍ درجې مډال، د غازي میر بچه خان مډال، د ننګرهار د طب پوهنځي د پنځوس کلنۍ مډال او د پولي تخنیک د ښو اکاډمیکو خدمتونو مډال تر لاسه کړي دی.

## تاج محمد اکبر

د شهید ولسمشر- محمد داود د واکمنۍ په مهال د مره ورې او پیچ

ولسوال او د کابل د راډيو، ټلويزيون پخوانی وياند، تاج محمد اکبر د وټه پور اوسيدونکې دی. په ۱۳۴۷ لمريز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو او ژورناليزم له پوهنځي څخه فارغ شوی دی. ما له نوموړی سره چې اوس د استراليا د ملبورن په ښار کې ميشت دی، د هغه د ژوند په هکله يوه لنډه ټليفوني مرکه وکړه، د خپل ځان په هکله يې داسې وويـل « ځرنگـه چـې زموږ کورنۍ د ځينو سياسي ملحوظاتو او مخالفتونو له امله د هيواد لويديځ او بيا شمال تـه جـبرا تبعيـد شـوې وه، نـو زه لـه کـونړ څخـه ډيـر ليـرى د ۱۹۴۷م کال په سپټمبر کې په هرات کې زيږيدلی يم. لـومړنۍ ښـوونه او روزنه مې هم د خپل کلي او ولسوالۍ په ځای د آقچې، مزار او د کابل پـه ابن سينا او رحمان بابا ليسو کې تر سره شوې ده» کله چې هغه د ۱۹۴۷م کال خبره وکړه، نو ما ته دغه تاريخ جالب ښکاره شـو او بيـا مـی وپوښـته؛ څـه فکـر کـوې د پاکسـتان د جوړيـدو او هنـد د خپلـواکۍ پـه کـال سـتا پيدايښت يو خاص کيفيت نه لري؟ نـو پـه خنـدا يـې راتـه وويـل « بلکـل همداسې ده، موږ درې واړه سم دم همزولي يو».


تاج اکبر د روسانو د بربنډ يرغل څخه لږ وروسته پاکستان ته پناه يو وړه، د مهاجرت په مهال يې د پيښـور لـه راډيـو سره همکـاري پيـل کـړه او د يـو مسلکي ژورنالست په توگه يې خپل اونيز پروگرام پـر مـخ بيولـو چـې ډيـره برخه يې سياسي تبصرې او خبري برخه وه. په پاکستان کې له درې کاله تم کيدو وروسته، نوموړی د پنجاب د واگې له لارې هندوسـتان تـه لاړ او څلور کال وروسته له هغه ځای څخه د ملگـرو ملتونـو پـه همکـارۍ، د يـو سياسي کډوال په توگه د استراليا د ملبورن ښار ته کـډه شـو. نـژدې دري ديرش کاله وشول چې هملته لـه خپلـې کـورنۍ سره اوسـيږي او د ميشـتو افغانانو لپاره د خبري او تفريحي خدمتونو په لړ کې، له يوې سيمه ييـزې

راډيو څخه خپروني کوي.

## ډاکټر غلام رسول اکبر

ډاکټر غلام رسول اکبر د وته پور د ياد شخصيت، اروا ښاد محمد اکبر ځوئ دی، په ۱۹۴۵م کال کې زيږيدلی دی. په کابل کې يې پولي تخنيک لوستی او په ۱۹۸۵م کال کې يې د مسکو له دولتي پوهنتون څخه د جيالوجي په څانګه کې خپله ډکټورا (پي، ايچ، ډي) اخيستې ده. له فراغت وروسته په پولي تخنيک کې د استاذی تر څنګ يې د عينک د مسو په کان (معدن) کې د يو جيالوجست په توګه دنده تر سره کړې کوم چې د کانونو او صنايعو د وزارت برخه وه. د کډوالۍ په مهال، په پيښور کې د مجاهدينو په عبوری حکومت کې د مسلکي کورسونو استاذ وو چې بيا د استراليا د ملبورن ښار ته کډه شو. هلته يې هم په ځايي پوهنتون (RMIT) کې د يو رضا کار په صفت درس ورکړ او په دی وروستيو کې يې تقاعد اخيستې دی. ډاکټر غلام رسول اکبر، د تاج محمد اکبر مشر ورور دی، پنځه ځامن او يوه لور لري او ټول يې د خپلې وړې مسافرې ټولنې او هلته ميشتو افغانانو سره کلتوري اړيکې پالي او په غم ښادۍ کې يو بل ته لاس ورکوي.

## سناتور، عبد الخالق اخلاص



سناتور، ديوبندی عالم او ليکوال، عبد الخالق اخلاص د وته پور د دهوز (ديوز) کلي د ملا جان اخوند زاده ځوی دی، په ۱۲۷۸ هجري لمريز

(۱۸۹۹م) کې زيږيدلی او په خټه ګربز صافی دی. پلار يې تکړه ديني عالم او درې ورونه يې درلودل: عبد الکريم، نورا جان او عبد الجبار چې هر يو يې د خپل وخت ښه عالمان او پوهه خلک وو. اروا ښاد اخلاص درې ځامن درلودل؛ غلام قادر، غلام رحمن او غلام ياسين. ليکوال، نصير احمد د مرحوم اخلاص د رسمي ماموريتونو په اړه وايي « اروا ښاد خپله لومړۍ دولتي دنده په ۱۳۰۳ لمريز کال کې د نظامي کنډک د کاتب په صفت پيل کړه او د کنډک مشرۍ رتبې ته ورسيد. په ۱۳۱۰ لمريز کې د ولس د استازي او سناتور په توګه وټاکل شو او درې کلنه قانوني دوره يې پای ته ورسوله. په ۱۳۱۴ کې د چغسرای د ابتدائيه ښوونځي سرمعلم شو، کوم چې ده پخپله د حکومت په همکارۍ جوړ کړی وو. په ۱۳۱۷ لمريز کې د «مشرقی اتحاد» د اخبار مرستيال او يو کال وروسته د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې مدير وټاکل شو. په ۱۳۲۶ کال کې د دوهم ځل لپاره د مشرانو جرګې غړې شو. له درې کلنې استازولۍ وروسته يې تقاعد واخيست او ځان يې تاليف او ادبي ليکنو ته وزګار کړ».

ارواښاد اخلاص ګڼ شمير کتابونه ليکلي، له دغې ډلې څخه يو يې د تصحيح التلاوة فی علم القرأة مهم کتاب دی او په ۱۳۱۰ لمريز کال کې يې ليکلی دی، ۳۷ بابونه او ۳۸ فصلونه لري. دوهم کتاب يې «د نهضت منظومه رساله» په درې ژبه ليکلې ده. په دې رسالې کې نوموړي د افغانستان د اومې هجري پيړۍ د نامتو شاعر ابو نصر فراهی «نصاب الصبيان» په طرز د پښتو ضروري نومونه معرفي کړي دي. دريم کتاب يې د «نورستان يا جديد الاسلام» په نوم دی، په دې ليکنې کې مؤلف له اسلام څخه د مخه، د نورستان د خلکو کلتور او رواجونه څيړلي دي. څلورم يې هم له کافرستان څخه د نورستان کيدو په هکله دی او هغه

چاپیریال یې انځور کړی چې دغه ستر مذهبي بدلون څرنګه را منځ ته شو او خلکو د دغه نوي غورځنګ سره څه ډول ځانونه هم رنګه او عادت کړل .

پنځمه لیکنه یې د لوړو تعلیماتو په اړه ده چې غالبا تر اوسه نه ده چاپ شوې. شپږمه لیکنه یې منظومه بڼه لري «سیف الامان» هغه د منګلو د ګوډ ملا په هکله ده چې د ۱۳۰۲ لمریز کال د بغاوت له پیل څخه تر پایه تشریح کوي. د لیکنې یوه برخه یی د هغه د خپلو سترګو لیدلی پیښې دي. اووم کتاب یې د «منتج الفرائض فی المیراث» دی، دا هم په منظوم او دري ژبې دی. اتم کتاب یې د تاریخي پیښو لړۍ ده چې «د استقلال څلورمه جبهه» نومیږي، د استقلال د جنګ او چترال د جهاد په باره کی پوره معلومات ورکوي اکثره یی د لیکوال د خپلو سترګو مشاهده ده. بل کتاب یې د کال د دولسو میاشتو، مهالونو او تقویم (جنتري) په اړه دی، درې برخی لري: اوله برخه یې د فارسی نظم دی د لمریز هجري، قمري هجري او میلادي میاشتو د نومونو ترتیب او اندازې په ګوته کوي. د کتاب دویمه برخه د پښتو نثر دی چی د هر کال د میاشتو د پیل او پای وختونه څرګندوي. دریمه برخه یې د وختونو مهال ویش، د استواء لیکه او د سیوري په اساس د وخت اندازه، مهالونه، د ساعت او د قیقو حساب، په هر موسم او برج کې د هغې کیفیت ښودل شوی او داسې ښکاري چې مرحوم په علم نجوم کی هم پوره مهارت درلود. هغه د پښتو تر څنګ، په دري کی نثر او هم نظمونه لیکل چې ځینې یې د کابل مجلې، اتحاد مشرقي او د هیواد په نورو مطبوعاتو کی خپاره شوي دي.

ورپسې کتاب یې د انسانانو د منشأ او پیدایښت اړوند دی. بل یې د روسانو د ظلمونو سره تړاو لري چې تر اوسه نه دی چاپ شوی او د

مهاجرت د ناخوالو شپو ورځو ژوند په کې انځور شوی دی. دولسم کتاب یې د «مختصر حالات شاهان کابل» په نوم دی. د افغانستان د پاچاهانو لنډ لنډ تاریخونه دي؛ په دري ژبې د نظم په بڼه لیکل شوی او د هر واکمن د پیل او ختم وختونه یی په ګوته کړی دي. وروستنی رساله یې د «رهنمای مناسک حج» په نوم ده چی په ۱۳۳۵ کال کې یې لیکلې ده، د حج او عمرې احکام او اداب یې په ډیره او ښه روانه توګه څرګند کړي دي.

دغه نومیالی عالم، شاعر او د خپلو خلکو استازی، د کمونستي رژیم د وحشت د لاسه په سپینه ږیره پیښور ته کډه شو. د افغان مهاجرینو لپاره په صوابۍ کې جوړ شوي پنډ غالي (کمپ) کې اوسیده، ولی قلمي مبارزه یې تر مرګه همداسې جاري وساتله. مولوي عبد الخالق اخلاص د ۱۹۸۸م کال د جنورۍ د میاشتې په نولسمه نیټه چی د ۱۳۶۷هجري شمسي سره سمون خوري، خپل ساه د ارواحو خالق ته وسپارله او په همدغه پنډ غالي کې د مهاجرینو لپاره په جوړې شوې هدیرې کې خاورو ته وسپارل شو.

## د کونړ مرستیاله والي، بریښنا شیرزۍ

آغلې بریښنا شیرزۍ د علي احمد لور او د وتېه پور د مشهور مدني فعال، سید رحمان رحماني (بیکور) میرمن ده چې د ۱۳۵۱ لمریز کال د وري د میاشتې په شپږمه نیټه (مارچ،۱۹۷۲م) د کابل ولایت په پغمان کې زیږیدلې ده. په ۱۳۵۷ کال کې د پغمان د نسوانو په لومړني ښوونځي کې شامل او په ۱۳۶۸ کې د خیر خانې مینې د سرور سنګري د نجونو له لیسې څخه فارغه شوه. د کانکور په ازموینه کې د کابل د طب پوهنځي

ته بریالۍ شوه، خو دوه کاله وروسته په کابل کې د سیاسي او نظامي حالاتو د خرابیدو په پایله کې یې د خپلې کورنۍ سره کوزې پښتونخوا ته هجرت وکړ. هلته یې نهه کاله د GTZ مؤسسې سره د ښوونکې په توګه کار وکړ. بیرته وطن ته راستنه شوه او د اسعد آباد د فاطمې د نجونو په لیسې کې یې د معلمې په توګه خپله دنده بیا پیل کړه. په ۱۳۸۸ لمریز کال کې یې د کونړ راډیو ټلویزیون اداره کې د خبریالۍ په توګه دنده پیل کړه. د رسمي کار ترڅنګ یې د کونړ په دار المعلمین کې د پښتو څانګه ولوستله او په ۱۳۹۰ کې فارغه شوه. په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د کونړ ولایت د سید جمال الدین افغاني پوهنتون په دریم صنف کې شامله او په ۱۳۹۴ کال کې یې د پښتو ادبیاتو له څانګې څخه د لیسانس ډیپلومه ترلاسه کړه.

د کونړ ولایت د سولې شورى په غړیتوب سربیره، په دریو لویو جرګو کې یې د یوې فعالې میرمنې په توګه برخه درلوده. له ۱۳۸۹ لمریز کال راهیسی تر ننه، د کونړ ولایت د میرمنو له خوا، د میرمنو د کلتوري وړتیا او عامه پوهاوي لپاره، د مشهورې میاشتینۍ مجلې (لوپټې) مسئوله مدیره ده. آغلې شیرزۍ د ۱۳۹۹ کال د تلې په میاشت کې د ولسمشر ډاکټرغني د ځانګړي فرمان له مخې، د کونړ ولایت په ټولنیزو او اقتصادي چارو کې د والي مرستیاله وټاکل شوه.

## خبریال، ذبیح الله غازي

د هیواد په څلورو ختیځو ولایتونو کې د نیویارک ټایمز او امریکا غږ ځیرکه او غښتلی خبریال، ذبیح الله غازي د حیات الله رباني ځوی په ۱۹۹۲م کال کې د وټه پور په شامیرکوټ کې زیږیدلی دی. له ابتدائیه تر دولسم

ټولګي زده کړې يې په خپل کلي او سيمه کې سرته ورسولې او په ۱۳۸۹هجري لمريز کې د کانکور له لارې د ننګرهار پوهنتون، د ښوونې او روزنې د پوهنځي پښتو څانګې ته کامياب شو. په ۱۳۹۴ لمريز کال کې يې ليسانس واخيست او په همدې پوهنتون او همدې څانګه کې يې دوه کاله وروسته خپله د ماسترۍ مرحله په بريا سره، سرته ورسوله. غازي لا تنکې ځوان او د لېسې په لسم ټولګي کې وو چې په کونړ کې يې د (ځلا) له راډيو سره خبريالي پيل کړه او ښه وځليده.

په ۲۰۱۴م کې يې د امريکا غږ د پښتو برخې او ور سره د نړيوالې معتبرې ورځپاڼې، نيويارک ټايمز د ختيځ زون خبريالي هم شروع او په لږ وخت کې يې ډېر پاخه او ګړندي ګامونه واخيستل. د خپلو مسلکي ليکنو، راپورتاژونو او مرکو په وړاندې کولو سره، نوموړی په ننګرهار کې د ازادو خبريالانو د دفاع د کمېټې مشر ـ وټاکل شو. ذبيح الله غازي د شعر او شاعرۍ ښه استعداد او ځانګړې سليقه لري، خو اوس د شعر په ځای د زړه راښکونکو منظرو له انځورونو سره ناشنا مينه پيدا شوی او په ټولنيزو رسنيو کې وخت نا وخته د ده له خوا اخيستل شوي تصويرونه، بيا بيا کتل کيږي. بايد ووايم چې نوموړي په دې وروستيو کې د ښې خبريالۍ څو جائزې ترګوتو کړې دي چې د ده کاري وړتيا او مسلکيتوب څرګندوي.

## ډاکټر جمال الدين اسحاق

ډاکټر جمال الدين اسحاق، د وټه پور د يو قومي مشرـ حاجي غلام نبي ځوی او د ملک غلام اسحاق لمسی، د ۱۳۵۰ کال د تلې مياشت کې کې زيږيدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د هجرت په مهال په خيبر

پښتونخوا کې ترسره کړې او د کانکور له لارې د ننګرهار د طب پوهنځي ته بريالی شو. په ۱۳۸۱ لمريز کال کې د طب له پوهنځي فارغ شو، ورپسې بيرته پاکستان ته لاړ او په ۱۳۹۲ لمريز کې يې د عامې روغتيا په برخې کې خپله ماسټري واخيستله. د مسلکي دندې پيل يې د نورستان ولايت د عامې روغتيا د رياست مرستيالي وه. ډاکټر اسحاق، د ډاکټرۍ د مسلک سره، تجارت ته هم مخه کړه، يو ساختماني شرکت يې جوړ کړ. د هيواد په ځينو ولايتونو کې يې د بيارغونې د چوکاټ دننه، ډير روغتيايي مرکزونه، پلونه، ښوونځي او د پاکو اوبو شبکې جوړې او فعاله کړې. ډاکټر اسحاق په ولسمشريزو ټاکنو کې د تحول او بدلون ټيم غړی او په کونړ کې د ډاکټر اشرف غني د کمپاين ولايتي مسئول وو. د اشرف غني له خوا د بادغيس د والي په توګه وټاکل شو، خو بدمرغې اوږدې روغتيايي ستونزې، د هغه په ځوانۍ او ارمانونو سرې اوبه توئ کړې. زرګونو خواخوږو او دوستانو يې جنازه وکړه او په خپل کلي کې يې خاورو ته وسپارلو.

## سميع الله ترون

سميع الله ترون د حاجي مکرم خان ځوی او د محبوب خان لمسی، په ۱۳۵۹ لمريز کال کې د وټه پور ولسوالۍ د کرمول په کلي کې زيږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې او د قرانکريم حفظ يې په خپل کلي کې کړی او په ۱۳۷۸ کال کي د اسعد آباد د عمرا خان له ليسې څخه فارغ شوی دی. د کانکور په ازموينې کې له بريا وروسته، د ننګرهار پوهنتون ته لاړ او څلور کاله وروسته يې د حقوقو له پوهنځي څخه ليسانس واخيست. د محصلۍ په جريان کي يې د شعرونو دوه کتابونه «تا ته دې در پاتې وي» او بل «زه دې نور، نوم په ژبه نه اخلمه» له چاپه را ووتل. د خوځښت په نوم د

یوې سیاسي مجلې د مدیریت وروسته د غازي آباد ولسوالۍ، ولسوال وټاکل شو خو خپل فرهنګي کاروانه یې جاري وساتل او د شعرونو بل کتاب یې « د بلا لاس» په نوم خپور کړ. اوس مهال یې دولتي دندې پریښې او په آزاد تجارت بوخت دی. دا هم د ټرون د شعر یوه بیلګه:

د زړه کنډول کې مې تحفه ورته ایمان ونیوه
کافر جانان را نه د کور دیوال ته ځان ونیوه
د کابل پیغله بم وژلې ده لیوان ترې تاو دي
تورې بلبلې ترې مښوکه کې پیزوان ونیوه

## د وټه پور، نور یاد مشران

د وټه د نورو مشهورو خلکو له ډلې څخه د حکمتیار د اسلامي حزب دوه مهم جهادي قوماندان هر یو، مولوي رحمت خان څانګاری او د کونړ د عالمانو د شورى مشر، مولوي محمد هاشم منیب دي. مولوي منیب د خپل ځوی سره یو ځای د ۲۰۱۲ کال د اپریل په شپږمه نیټه د جمعې لمانځه ته په لار، په یوې ځانمرګې چاودنې کې شهید شو. حاجي محمد روزی حقیار، د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ د مهال وکیل، ملک غلام حسین، د دوشا خیلو ملک پردیس خان او د پیرونۍ مولوي محمد امین، نور هغه یاد کسان دي چې د وټه پور په خلکو سربیره د کونړ اکثره خلک یې پیژني او درناوی یې کوي. حاجي ګل محمد خان، حاجي فضل الرحمن، غلام رسول همت چې په غلا م پاچا باندې مشهور دی، حاجي محمد اشرف، قوماندان رسول محمد، مولوي انعام، قوماندان عبد القدیر، انجینر امین، د ولایتي شورا غړی شاه ولي همت او د علماو د شورا غړی، مولوي عبدالرحمن چې دواړه په یو ترهګریز برید کې شهیدان شول، د یادونې وړ

دي.

## کونړي دودونه او کلیوال رواجونه

جرګه او جرګه ماري
جانان له ما نه مرور دی
د آسمان ستوري به جرګه ورته لېږمه
عالمه ټول شئ جرګه وکړئ
لیلی پټی غواړي لونګ په کې کرینه

کونړیان، لکه د هیواد د نورو قومونو او سیمو په څیر د جرګو او مرکو د غښتلي میکانزم تر څنګه، جلا جلا رسمونه، رواجونه او تړې لري. دغه ملي، فولکوریک او کلیوال دودونه په میراثي اوعنعنوي ډول له یو نسل څخه بل نسل ته انتقالیږي. کله له نورو سره یو شانته وي او کله بیا خپله ځانګړیتا، جلا رنګ او بیله ښکلا لري. په قبیلوي ټولنو کې د ژوند چارې د دیني ارزښتونو او ملي باورونو، جرګو مرکو او د مشرانو له خوا د غوره شوو پرنسیپونو له لارې پر مخ بیول کیږي. د ټولنې عام وګړي دغو عنعنو او د سپین ږیرو پریکړو ته د سرو کرښو په سترګه ګوري او له هغو څخه پښنه هاخوا کول ورته په ډیره درنه بیه پریوځي.
د جرګې په هکله د غازي آباد یو تن محصل، رحمت قیوم د خپل مونوګراف په یوه برخه کې د استاذ روهي تعریف داسې رانقلوي « جرګه د ولس د ارادې مظهر او د قومي تړون سمبول دی. جرګه د هغو باصلاحیته او تجربه کارو ولسي خلکوغونډې ته ویل کیږي چې د قبیلوي رواجونو په

سیوري کې د شخړو د هوارولو او یا د کوم تړون د منظورولو لپاره جوړه شوي وي». په عام ډول، جرګې په ډېرو مهمو وختونو او حساسو شرائطو کې د قبیلو تر منځ د تخاصم د شتون په صورت کې د تفاهم په خاطر را غونډتل کېږي. یو بل عالم او اروا پوه، ډاکټر کبیر ستوری بیا داسی وایي « جرګه یو ولسي- نظام دی چې ډیموکراټیکه ځانګړنه لري. جرګه د منطقې، قبیلې او قام په سویه راغونډیږي، کله هغه ډیره اوږده او د ورځو ورځو لپاره وي خو دایمي نه وي، مؤقته او خپلواکه بڼه لري. څرنګه چې په زیاترو جرګو کې د خپلې سویې خلک راغونډیږي، نو له دی کبله خپلو پریکړو ته د عمل جامه اغوستلې شي».

ډاکټر ستوري لیکي «جرګه د هر چا له خوا راغونډتل کېدلې شي، مګر ډیری وخت د کمزوري او مظلوم له خوا وي. که هغه په ملي کچه وي بیا د واکمنانو له خوا رابلل کیږي او هغې ته لویه جرګه وایي» جرګه ټولنیزې، سیاسي او حقوقي پرېکړې کولې شي او په جرګه کې د هر چا رایه معتبره او یو شان ګڼل کېږي. خبرې ترهغې روانې وي ترڅو ټولې خواوې په خوښۍ او اتفاق سره یوې موافقې ته ورسېږي. قبیلوي جرګو په افغان لیکوالانو سربېره، د نړۍ د یو شمېر څېړونکو پام هم ځانته را اړولی او د خپلو ګرویژنو موضوع ئې ګرځولې ده. جرګه یو پوخ اجتماعي او فلسفي بنسټ لري او د ورځنیو ربړو او چارو د سمبالولو جوګه او پوره وړتیا لري. د دې خبرې ښه بیلګه په قندهار کې د شیر سرخ ۱۷۴۷م کال جرګه وه چې احمد شاه بابا یې پاچا کړ.

ډاکټر ستوری وایی «زموږ په ټولنه کې د پښتو ویلو او پښتو کولو تر مینځ یو توپیر پروت دی. مثلا ننګ، ناموس، غیرت، میړانه، میلمه پالنه، خیر ښېګڼه، توره، وفا، ورور ولي، انصاف، پنا ورکول، د روغ نا روغ پوښتنه،

په ښه بده کې ګډون او د ژوند په چارو کې د مشرانو او دوستانو سره سلا مشوره، پښتو ګڼل کیږي. له دې وجې بې ناموسه، بېغیرته او کنجوس انسان په خپل کلي او ټبر کې درناوی له لاسه ورکوي. په همزولو کې ناسته ولاړه ورسره کمېږي، د راکړې ورکړې باور پرې نه کیږي او خلک ور سره پریکون کوي. دغه ډول سرغړونکی انسان، ولو که پښتو هم وایي، بې پښتو شمیرل کیږي او په ټولنه کې خپل وقار له لاسه ورکوي»
ټولنیز عدالت او ولسي چلند، د خلکو د اخلاقي او سلوکي نظم په ټینګولو او جاري ساتلو کې د یو غیر حکومتي سیستم رول لوبوي. ځینې رواجونه اوعنعنې لنډ مهالې او زود ګذره وي چې د زمان په یو ټاکلي پړاو کې د یوې اړتیا له مخې منځ ته راځي او بیا له منځه ځي. لیدل کیږي چې یو شمیر پخواني رواجونه له منځه تللي، ټولنې نوي خویونه او معیارونه خپل کړي دي. دغه ډول بدلولونه د انساني ذهنیت د ارتقا، پراختیا او د بل د منلو شعور ګڼل کیږي.
جرګه په حساسو وختونو او دوه ډوله شرایطو کې راغوښتل کېږي: لومړی دا چې د دعوې دواړه لوري یا مدعیان په خپل منځ کې کومې روغې ته ونه رسیږي. دوهم دا چې یو زورور پر کمزوري زیاتي وکړي، نو په روایتي ډول قومي جرګه راغونډیږي. که چیرې یو اړخ د مشرانو پریکړه ونه مني، ولسي خلک د سرتمبه سړي کور ته اور اچوي، څاروې یې حلالوي او تیرې کونکی له کلي کوره شړي او مړی ژوندی ورسره پریږدي. جرګه زموږ په کلیوال شفاهي ادب او شعر او شاعرۍ کې هم یو پراخه او ځانګړی مقام لري. د جرګې مرکچیان باید دواړو متخاصمو او سیالو خواوو ته د منلو وړ وي. د شخړې دواړه خواوې، د جرګې غړو ته واک ورکوي، تر واک وروسته دواړه خواوې جرګه مار ته د موضوع د اهمیت له

مخې مچلغه ورکوي. بيا د دواړو اړخونو غوښتنو، اعتراضونو او دلايلو ته غوږ نيول کيږي، د هغو په رڼا کې پريکړه کيږي او اړونده خواو ته اورول کيږي. که د جرګې پريکړه دواړو اړخونو ته د منلو وړ وي، نو هغوئ خپله پريکړه پلې او طرفين پخلا کوي. که کوم لورى په راتلونکې کې د فيصلي نه سرغړونه وکړي، جرګه مار بيا د خپلې فيصلې نه دفاع کوي او ناغيړه طرف ناغه او جريمه کوي.

کونړيان نه يواځې دا چې د کور دننه، له دوستانو او ګاونډيانو سره خپلې تا ويلى ما ويلى او زاره چاودې لانجې د خبرو او جرګو له لارې هواروي، بلکې له دښمنانو سره هم خپلې دښمنۍ او د وينو په رنګ کې رنګ شوې غوټې، د جرګو په واسطه پرانيزي. ليدلي مو دي چې يوه ډيره وړه مسئله په کلونو کلونو د محاکمو له لارې نه حل کيږي خو د جرګو له لارې په ډيره کمه موده کې حل کيږي. په جزايي عدالت کې قاضي يوازې په مجرم حکم کوي خو دا نه ګوري چې دا حکم به د دواړو خواو ترمنځ دښمني ختمه کړي که نه؟ مګر په ترميمي عدالت کې د راتلونکې دښمنۍ مخنيوى هم په خيال کې ساتل کيږي. په اسلامي اصولو کې، بخښنه د غچ اخيستنې څخه غوره ده کومه چې د جرګو مرکو له لارې کيږي او دواړه خواوې يو بل ښښي.

## میلمه پالنه:

د کونړ خلک لکه د نورو هیوادوالو پـه ځـانګړي ډول د پښـتنو د سـیمو پـه شان دودونه لري. حجرې او دیرې یې له میلمنو ډکې او د هـر اشـنا او نـا اشنا پر مخ یې دروازې بیرته وي. د کور ښه لوښي او اسباب د میلمه لپاره ساتي او د ټولو نه ښه خواړه میلمه ته ورکـوي. د کـونړ کلیـوالې دیـرې پـه حقیقت کې د مکتب حیثیت لري چې ځوانان د خپلو مشرانو څخه ادب او تربیه، د پښتونولۍ اصول او نرخونـه زده کـوي او د بنـدارونو مرکزونـه هـم وي. کله چې میلمانه ډیـر شي یـا ښـه بـده وي، نـو بیـا ګاونـډیان راغـلي میلمانه په خپلو حجرو باندی تقسیموي او سبا ناری هم ورکوي.

## ناغه:

لکه څرنګه چې په پښتنو کې قانون ته نرخ ویل کیږي، همدارنګـه ناغـه د جریمې دوهم نوم دی چې له ملامت او پړ کس څخه اخیستل کیږي. پـه نرخ کې د جرایمو لپاره د ناغې اندازه ټاکلې (مشخصه) وي، نو څومره چې ګناه او سرغړنه ستره وي، په هماغه کچه ناغه هم درنه او سخته وي.

## تیره ایښودل:

تیره ایښودل په کونړیانو کې یو ډېر پخوانی قـومي رواج او ولسي۔ دسـتور دی چې تر ننه پوری په کلیوالو سیمو کې خپل وزن او ارزښت لري. تیـره د دواړو خواو ترمنځ هغه وخت ایښـودل کیـږي کلـه چـې د طرفینـو تـرمنځ کومه ناغیره او یا ناوړه پیښه رامنځ تـه شـې. پـه دغسـی یـو حالـت کـې د نږدی او لیرې پرتو قومونو مشران راټولیږي او د لانجې د سوله ییز حل په

خاطر پریکړه کوي. کله چې جرګه مار مشران پریکړه وکړي، نو دواړه لوري به د جرګې خبره مني او هیڅوک به له هغې څخه سرغړونه نه کوي چې دې حالت ته تیګه ایښودل ویل کیږی. که چیرې کوم لوری سرغړونه کوي نو بیا قومي مشران په ملامت اړخ باندې ناغه ږدي چې د نغدو پیسو یا بل کوم تاوان په بڼه وي.

## بدل:

بدل ډیر کله د پیغور په پایله کې اخیستل کیږي؛ دا هغه رواجي او کلاسیک دستور دي چې پښتانه د رسمي او قانوني لارو پر ځای؛ پخپل مټ د بدل اخیستلو ته ملا تړي. له بده مرغه، په کلیوالو سیمو کې چې ګناه د هر چا وي خو قربانیان یې ډیر کله پیغلې نجونې وي چې د مړي په بدل کې مقابل لوري ته ورکول کیږي. له بله پلوه، کله چې د مقتول ورثې ته یو تن په ګوته شي چې «کشنده» ورته ورکول کیږي، بیا هغه کس پټ ګرځي او یا بل وطن ته تښتي. خو که په سپینه ږیره هم د مقتول وارث ته په لاس ورشي، ژوندی یې نه پریږدي او خپل غچ او بدل ور څخه اخلي.

## برمته:

د برمتې رواج تر ډیر ځایه د ډیورنډ د لیکې د پورې غاړې پښتنو تر منځ ډیر دود لري، ولې د کونړ په غرنیو باندو او لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې اوس هم باب ده. د بیلګې په توګه، که د یو کلي کوم سړی په چا باندې پور (قرض) ولري او مقابل لوری منکر شي یا وتښتي، نو د پور څښتن د نورو خپلوانو او دوستانو په مرسته د پوروړي د کلي هر سړي چې په لاس ورشي، برمته کوي. کور ته یې بیایي او ترهغه وخته یې نه پریږدي تر څو یې د ده پور یا حق نه وي سپارلی. داسې هم شوي چې د برمتې پیښې د

وينو په تويولو او اوږدو كورنيو شخړو باندې بدلې شوې دي. مګر كله چې حق، حقدار ته وسپارل شي بيا برمته د جرګو او مركو له لارې ځای په ځای حل كېږي او هر سړی په خپله مخه ځي.

## ننواتې:

د عربي ژبې د «عذر» كلمه د پښتو له ننواتې سره مرادفه «هم توله» ده. د انساني پرګنو ترمنځ هر چيرې او هر وخت دعوې دنګلې او نادودې رامنځ ته كيږي، ولی د پښتنو په قبيلوي قاموس كې ننواتې يو جلا ارزښت لري. ننواتې هلته كيږي يا ورته اړتيا ليدل كيږي، كله چې څوک په چا تيری او ظلم وكړي. نو تيری كونكی اړخ د پښيمانۍ او عذر په خاطر د هغه چا ننواتې كوي چې احساس او شخصيت يې ټكنی شوی وي يا يې مالي صدمه ليدلی وي. ځينی خلک ننواتې ته د مقابل اړخ د كمزورۍ او بې وسۍ له زاويې څخه ګوري، خو حقيقت دا دی چې ننواتې د مظلمې د رفع كولو يو معقول ميكانيزم او عملي بديل دی چې له پيړيو پيړيو راهيسی زموږ په ټولنه كې د يو اصل په توګه رواج لري. په كليوالو سيمو او باندېو كې، پړ (ملامت) كس د خپلې منطقې ملايان، سپين ږيري او قومي مشران راټولوي او د هغه شخص كور ته له يو ډنګر (څاروي) سره ورځي. يا يوه زړه بوډۍ قرانكريم په سر، د عذر او بښنې د غوښتلو په نيت ورولي او مقابل لورې بښنه ورته كوي. پيغور بيا هغه بد صفت يا ټولنيزه منفي ټاپه ده چې مقابل لوری د خپلې غلطۍ منلو او يا غچ اخيستلو ته چمتو كوي. د كونړيانو په ديرو او درو كې د ننواتې په اړه د دوئ په شفاهي ادبياتو كې دغه لاندينۍ ټپې ډيرې اوريدل كيږي:

په ننواتې به زه ورشم

په مرور اشنا به واچوم لاسونه

سر مې سرتور، قرآن په غیږ کې
د بې وفا یار ننواتې له ورځمه

منلی استاد، عبد الحي حبیبي زموږ په دودیزه ټولنه کې د ننواتې د اهمیت په اړه داسی وایي « ننواتې په پښتنو کې د عذر غوښتنې یـو عنعنـوي ډول دی او د کلونو کلونو دښمنۍ او عداوتونه په ننواتې سره له منځه ځې. هغه داسې چې د یو خورا لوی کار او لـوی خصـومت د عـذر او بخښـنې لپـاره، مجرم سرې د خپل کلي یا قام سـپین ږیـري او دوسـتان مقابـل لـوري تـه ورلیږي. کله نا کله چې ډوک ډیر مجرم او د بښلو قابـل نـه وي نـو خپلـې تور سرې په ننواتې ورلیږي، دا ننواتې دومره اهمیت لري چې پښتون مري خو ننواتي نه کوي او که یې وکړي نو د مقابل اړخ پښـتون هـم هغـه هـرو مرو مني او همدا د پښتنو یو عمده صـفت دی او لـه هغـې وروسـته د غـچ اخیستلو ویره او ډار له منځه ځي».

## چیغه:

اگر چې چیغه یا د نجات او ژغـورنې لپـاره غـږ د کونړیـانو یـو پخـوانی دود دی، خو نن سبا د پخوا په څیر چندان نه استعمالیږي. پخوا به چې کله د یو کلي په کوم کس یا قوم د بل کس لـه خـوا تیـرې وشـو، نـو کوڅـه پـه کوڅه او کلي په کلي به یوه ناره شوه چې لـه فـلاني سره ظلـم وشـو! پـه ځینـو سیمو کـې بـه سـورني او نغـارې وډنگـول شـوې او تواچیـانو بـه پـه هیجاني غږونو خپل سـتوني ډډ کـړل. منـډې بـه شـوې، چـا بـه ټوپـک را اخیستی وو، چا غاړه کې، چا لور او چا تبرگی. بیا به د کلي امام او مخورو سپین ږیرو د تېري کوونکي څخه د رامنځ ته شوي ظلم تپوس کولو تر څو جوته کړي چې آیا ربښتیا هم تیری شوی که هسـې هـوایي دعـوه ده؟ خـو

روسي يرغل، بې شميره هجرتونو او نوی ټکنالوژۍ د خلکو په کړو وړو او کلاسيکو طريقو کې ژور بدلونونه راوستل، دغه رواجونه ورو ورو مخ په کميدو څه چې حتی په ورکيدو دي. اوس هر څوک خپل غم پخپله خوري او نه غواړي چې په ټولنه کې کمزوری او بې وسه وګڼل شي.

## اشر (ګډ کار):

حشر يوه عربي کلمه ده چې د خلکو راغونډولو او راټولو ته ويل کېږي. ولی زموږ زياتره خلک هغه په اشر سره تلفظ کوي او د ډيورنډ ليکې ته څيرمه ولسونه ورته پګړه هم وايي. اشر يوه عام فهمه اصطلاح ده چې کله يو کار د يو کس له وسه پوره نه وي نو بيا خپلو دوستانو او کليوالو باندې غږ کوي چې له هغه سره مرسته او لاسنيوی وکړي. لکه د غنمو لو، د جوارو ټکول، غوبل کول، کوهي کيندل، د جوماتونو د بامونو اخيړول، د ويالو او لښتيو پراخول او پاکول. البته د اشرګرندي سړي له خوا ټولو رابلل شو ميلمنو ته ښايسته ډوډۍ او ميلمستيا ورکول کيږي او مالي يا نغدي معاوضه په کې نه وي. د اشر او بيګار ترمنځ يو توپير شته او هغه دا چې بيګار د زور او جبر بڼه لري او اشر د خوښې په توګه برخه اخيستنه ده. اشر په عين حال کې د پور شکل هم لري که يو کس د چا سره اشر وکړي نو هغه هم اړ دی، د هغه نفر په اشر کې برخه واخلي چې له ده سره يې مرسته کړې ده.

شک نشته چې دا يوه مذهبي او ديني فلسفه هم لري چې په ټولنيزو کارونو کې يو بل ته لاس ورکول د اخروي اجر تر څنګ انساني اړيکې مزبوتوي، د خواخوږۍ او همکارۍ احساس پياوړی کوي. اوس چې تراکتورنه او نور موډرن وسايل را پيدا شوي، دغه کلاسيک اغيزمن دود اوس سوکه سوکه مخ په له منځه تللو ښکاري. همدا شان په هغه وخت

کې خیریه مؤسسې او بهرني کومکونه نه وو، نو عام ولس دا ټول کارونه په خپله کول. بل دا چې پخوا پیسې لږې وې، مگر همت او خواخوږي ډېره وه. په تیرو څلورو لسیزو کې چې مونږ یو لوی تاوان کړی هغه د درویزې او خیرات کلتور دی چې زمونږ ولس او حکومت دواړه د نورو سترگو او لاسونو ته گوري.

## سپورتي لوبې

د کونړ ځوانان او حتی د پاخه عمر خلک، په درو، میرو، ډاگونو، غرونو، جبو، بیلو، کلیو او باندو کې د خوند، روغتیا او پلرنیو روایتونو او ارزښتونو د ژوندي ساتلو په پار، ډول ډول سپورتي لوبي کوي. له بده مرغه، د دې خروارونو ډالرو او بې توله خیراتونو سره سره، کونړیان له مودرنو او مجهزو لوبغالو څخه چورلټه محروم دي. هلکان په خلپو منځونو کې د مکتبونو په میدانونو، د غرونو په لمنو او یا هم په زړو هدیرو کې خپلې لوبې او سیالۍ کوي. په دغو کلیوالو لوبو کې والیبال، میداني ځغاستې، خوسی، تیږه اچول، مچینوغزه ویشتل، ډنډاس، غرگي جنگ، د غوزانو جنگول، تود کاڼې، ټیقان (توشلې) خر حلال او خر مردار، توپ ډنډه او د قیطو «پرې لوبې» شاملې دي. د زرکو او سیسیو ښکار، د کبانو نیول، د مرغیو نیول هم د ځوانانو لپاره د سپورت او ښکار په زړه پورې نورې مشغولاوې دي. په دې وروستیو څو کلونو کې په کونړ کې د کریکټ، بوکس وهل، شترنج، فټبال، تکواندو، د بدن ښکلا، هاکي او جمناستک ځینې کلبونه پرانستل شوي او بلا مینه وال لري.

پخوا والیبال تر ټولو زیاته او مشهوره لوبه وه، د ښوونځییو د زده کوونکو او ښوونکو او کلیوالو ترمنځ به یې سیالۍ کیدلې، حتی د نورو ولایتونو څخه به تکړه ټیمونه دلته راتلل. خو له هجرت څخه بیرته راستنو شوو ځوانانو له

ځان سره د کریکټ لوبه سوغات راوړه او نورې لوبې یې شاته پرېښودې دي. سوبت «صحبت» په انډیوالۍ او شریک ډول د خوړو تیارولو او پخولو ته وایي. پخوا به معمولا ځوانان او پېغلې جلا جلا له خپلو همزولو سره راټولېدل او د خپلې وسې له مخې به یې خوارکي توکي په یوې حجرې یا دیرې کې په ګډه پخول. ټوکې ټکالې به یې کولې، سیتار او منګی به یې وهلو او تر نیمې شپې به ناست وو. اوسمهال فیسبوک، یوټیوب او سیاسي بحثونو د دغه کلیوال دود ځای نیولی او اجتماعیت په فردیت بدل شوی دی.

په تیرو وختونو کې د نجونو لپاره د نانځکو واده د ساتیرۍ او خندا ګانو خوړې او ښې شیبې وې. په عین حال کې نجونو به د خپلو حویلیو، د کور مخ ته چوترو او چوپالونو کې لرغونې لوبې کولې چې له میندو او نیاګانو څخه ورته په میراث پاتې دي. میرګاټې، د پیغلوټو تر منځ ډېر رواج و، چیندرۍ به د جینکو ترمنځ په کلیوالو او اطرافي سیمو کې ډېره کیده چې اوس هم خال خال پاتې ده. مګر اوس دغه لوبې هم مخ په ورکیدو دی او نجونې په ټلویزیوني سریالونو او موبایل ټلیفونونو باندی خپل وخت تیروي. د کال د اخرې چارشنبې ورځ، د برات شپه او ځینو مشهورو زیارتونو ته تګ نورې هغه میلې وې چې ښځو به ښایسته جامې اغوستې او ډله ډله به روانې وې. د زیارتونو دغه میلې زیاتره د بې امنیو او هم د سلفي او پنج پیري فکر د پلویانو له خوا تقریبا له منځه وړل شوې او چندان نه په سترګو کیږي.

**موسیقي او سندریز هنرونه**

وايي چې « پښتانه موسيقي خوښوي خو هنرمندان نه نازوي، بلکې په ښه سترګه ورته نه ګوري او ډمان ورته وايي» سندرغاړي او هنرمندان داسې خلک دي چې پخپلو جادو ګرو غږونو او مستو حرکتونو د خلکو ولولې راپاروي او د مينه والو په جذبو سيوری اچوي. کونړيان هم د خپلې ساعت تيرۍ لپاره او هم د ودونو او سنت ګريو په مهال موسيقي اوري، په خپلو حجرو او ديرو کې منګي، دوکړۍ، باجې، ډولونه، ربابونه، سيتارونه، بنجوګانې او شپيلۍ ساتي. زه شخصا په دې باور يم چې د موسيقي د حلال والي او حرمت په هکله ډيرې خبرې شته چې بحث ور باندې وشي. دا موضوع بايد د دين قدرمنو عالمانو او مفتيانو ته پريښودل شي. ځرنګه چې زه شرعي عالم نه يم، په دې هکله د زيات څه ويلو جرئت نه شم کولاې.

## ګلنار بېګم

د پښتو د سندريز هنر په دنيا کې، اروا ښاده ګلنار بېګم داسې تکړه سندرغاړې وه چې هر څوک يې له نوم او غږ سره اشنا دي. د تعجب خبره دا ده، ډير کم خلک پوهيږي چې ګلنار بيګم د خاص کونړ د شالۍ په کلي کې د ۱۹۴۲م کال د مارچ په اومه د ګل محمد خان په کور کې زيږيدلې وه. اروانښاده په ډير وړوکوالي کې له خپلې کورنۍ سره پيښور ته لاړه او د مردان په شهباز ګړۍ کې ديره شوه. څه موده وروسته يې کورنۍ بنو (کرمه ايجنسۍ) ته کډه شوه، ګلنار بيګم هلته د يوې بلې سندرغاړې له ورور سره واده وکړ. د بنو د سيمې مشهور شاعر او ليکوال، غازي سيال د ګلنار بيګم د هنر اصلي استاذ او پالونکی ګڼل کيږي. نوموړې ګلنار بيګم لومړی د پيښور راډيو ته ور وپيژندله بيا يې لاهور ته بوتله او په فلمي دنيا کې يې د سندرو ويلو سره اشنا کړه. اروانښاد سيال د

۱۳۹۸ لمریز کال د لیندۍ په شپږمه د ۸٦ کلنۍ په عمر وفات شو، ګلنار بیګم باندې د (سندرې روح) په نوم یو کتاب یې لیکلی دی. د اروابښادې د لومړنۍ مشهورې فلمي سندرې « راغلې مسافره یم اشنا راځه راځه. په مینه مینه ما له په خندا راځه راځه» شاعر غازي سیال دی چې په لاهور کې یې ریکارډ کړې ده. د اروابښادې یوې سترګې لیدل نه شو کولای او هیڅکله چا د سټیج په سر نه ده لیدلې. ډاکټر عبد اللطیف یاد پخپل کتاب «پښتنې قبیلې او شجرې» کې لیکي « ګلنار بیګم د کونړ د پښتنو د یوې معتبرې کورنۍ لور وه، نو په همدې خاطر یې هیڅ کله هم خپل مخ ښکاره نه کړ» دغه وتلې هنرمنده د ۱۹۹۵م کال د اکتوبر په لومړۍ نیټې په بنو کې خپل پور، پوره او هملته خاورو ته وسپارل شوه.

## ګلا جان استاذ

د کونړ بله مشهوره او هنري څیره، ګلا جان استاذ دی. د پلار نوم یې دوا جان او د خاص کونړ د صاحب جم د کلي اوسیدونکی وو. د کونړ دغه کلی په دوو برخو ویشل شوی دی، یو یې صاحب جم او بل چارکۍ نومېږي. ګلا جان استاد تر دولسم ټولګي پورې زده کړې کړې وې. لومړی ځل یې د منور استاد سره په خاص کونړ کې د حاجي خدای رضا د زوې په واده کې میداني سیل وکړ، ضمنا یې د حضرت باز استاد سره نژدی والی د نومورې د شهرت لامل وګرځیدې. د غوایي د خونړۍ کودتا وروسته یې نظامي زده کړې وکړې او لومړی بریدمن شو. د استاذ زاخیل او نورو مشهورو هنرمندانو سره به یې په کابل راډیو کې سندرې ویلې، کلیو او باندو ته به بلل کیده او د مرحوم حضرت باز استاد پیښې او تقلید به یې کولو. د ۱۹۸۵م کال په وروستیو کې له کابل څخه کونړ ته په لاره

وو، چې چورلکه يې جلال آباد ته نژدی وويشتل شو او ځای په ځـای يـې خپل ژوند له لاسه ورکړ. نوموړی درې ځامن لري چې يو تـن يـې سـندرې وايي او ټوکې ټکـالې هـم کـوي. ويـل کيـږي چـې لـور گـانې هـم لـري. نوموړي بلا سندرې ثبت کړې دي، خو يوه سندره يې د شهرت جگو څوکو ته وخته چې سروکې يې په دی ډول دی:

ريديه گله، گله ريديه ببو جانې له دې وړمه
ريدي گلونه، جنکو راوړه ما ليدلي په اوربل کې
د خدای لپاره، عالمه تاسې ورته وگورئ سيځل کي
ياري نه کوي، جينکۍ ټولې دي ټگانې چل او ول کي
سودمند به نه شې، که ورته ټول عمر زاری وکړې مينه

د کـوز نرنـگ مشـهور سـيتارغږونکی، مرحـوم جمـدر او د کـوز نرنـگ بـل هنرمند، اروانباد نادر خان چې په نادر باجه وان مشهور وو. ما دواړه په څو ودونو کې له نژدې څخه ليدلي وو. د نورگل ولسوالۍ عبد الرحمن اور چې د حضرت باز استاذ د ډلـې سـړی او د خـوږ غـږ څښـتن وو، د هجـرت پـه مهال په ناصر باغ کې وفات شو. همدا شـان پـه ديـوه گـل، مـزار درې او پيچ کې ځيني محلي سندرغاړي شـته چـې د مـلي ورځـو، ودونـو او سـنت گيريو په محفلونو کې رباب، سيتار او باجې غږوي. په څوکۍ او ديوه گـل درې کې بـه د جـلاتي او محبـوبې، سـيف الملـوک او بـدرې جمالـې، گـل اندامې او ترابان، ديوانو او پيريانو کيسـې بـه وې. د څـوکۍ شيرحسـن او عزيز خان به منگې وهلو، عبد الظـاهر او مـامور محمـد حسـين بـه سـيتار وهلو، ادم خان باجه مار، د بابړو گوډا، د ديوه گـل شريـف، وکيـل خـان، غلام نبي، محمد اعظم او حسين خان دا ټـول د څـوکۍ شـوقي او امـاتور

سندر غاړي وو.

## واده او د پيغلې خوښول

الله تعالی په قرانکريم کې فرمايي « وَمِنْ ايَٰاتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓاْ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ - د الله د قدرت له نښو څخه يوه دا ده چې له تاسې څخه يې ستاسې جوړه پيدا کړې چې ارام ورسره وکړئ او ستاسې په منځ کې يې مينه او خواخوږي اچولې ده» د پيغمبر (ص) په يو صحيح حديث کې راغلي « يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَ أَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ؛ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ - ای د ځوانانو ډلې! که تاسو کې څوک د واده کولو وس لري، نو ويې کړئ. ځکه چې هغه د سترګو او فرج (جنسي آلې) د ساتنې او ژغورنې ښه وسيله ده، که څوک بې وسه وي، بيا دې روژې ونيسي چې د شهوت په کمولو کې مرسته کوي» د يو ځوان او يوې پيغلې لپاره واده کول، نه يوازې دا چې د ګډ ژوند بنسټ دې، بلکې هغه د بشري پرګنو د تسلسل او پايښت لپاره يو اړين شرط دی. واده د نړۍ د هرې طبقې، دين او کلتور د پيروانو او منونکو په منځ کې يو ځانګړی ځای او حتی د تقدس مقام لري.

نن سبا ډيرې ځوانان او پيغلې هڅه کوي چې لومړی د کالج او پوهنتون شهادتنامه تر ګوتو کړي، ترڅو په خپلو پښو ودريږي او د مور پلار د اوږو بار نه شي. پخوا به نه يوازې په کليوالو سيمو او بانډو کې، حتی په ښارونو کې به ميندو او پلرونو د جينۍ د خيښۍ او واده ټولې چارې سمبالولې. خو اوس په غټو او تعليم لرونکو کورنيو کې دغه دود ورو ورو

پیکه او ښاري بڼه خپله کړې ده. په کونړ کې مور او پلار د خپل ځلمي ځوي د واده په ټولو پړاوونو کې مخکښ رول لري او ډېر کله پریکړې همدوئ کوي. په دوديزو ودونو کې کورنۍ معمولا د خپلې شړۍ سره سمې پښې غزوي او د خپل ټبر دننه یا د ځان په اندول کورنيو سره د خپلوۍ تارونه تړي. د خواستګارۍ لپاره هلک خپل مور او پلار له څو تنو نژدې دوستانو، ملا امام او د چم ګاونډ له سپين ږيرو سره د پيغلې د غوښتنې په نيت استوي. دغه جرګې مرکې ځينی وخت ډيرې لانجمنې او اوږدې شي، کله بيا په لومړي وار راضي او د هوايي ډزو او نقلو په ويشلو سره، سمدستي هغه اعلان کړي.

د پنج پيريانو او سلفيانو (اهل الحديث) پلويان په دې اند دي چې د دوئ د غورځنګ او دعوت يوه ګټه دا راووته چې په کونړ کې د درونډ ولور (مهر) مسئله له منځه تللې او يا ډېره کمه شويده. ځکه پخوا به د نکاح په شپه ښې ډيرې چنې وهل کيدې او د سرو او سپينو زرو تر اړخه به د غټو پيسو غوښتنه هم کيدله. په غرنيو سيمو کې به د نغدو په ځای، د لسګونو ګډو (ميږو) بزو، سيرلو او غواګانو شميره ټاکل کيدله. له کلتوري پلوه، د نکريزو شپه د يوې ناوې په ژوند کې له خاطرو او يادونو ډکه شپه وي چې له واده څخه يوه ورځ مخکې ترسره کيږي. په دې شپه د هلک خپلواني، ګاونډيانې او د نژدې دوستانو ميرمنې او لونې راټوليږي او د هغوئ لپاره خواږه او خوندور خواړه برابروي. ځواني نجونې ترنيمې شپې چمبې وهي، ګډا ګاني کوي او سندرې وايي. فالونه اچول کيږي او ځينی ميندې او عمه ګانې د خپلو ځوانو اولادونو لپاره د ښايستوکو نجونو په لټه کې وي.

مګر د يو ټولنيز بدلون په توګه، نن سبا دغه د نکريزو د شپې محفلونه

زیاتره په کرایه شوو تالارونو کې نیول کیږي. ټولې ګډون کونکې یې میرمنې وي او یواځې د واده هلک ته اجازه وي چې د سټیج په سر کښیني. همدارنګه اوس د ډولۍ ځای ګل پوښو موټرو نیولی دی. پخوا به د کټ د دوو بازوګانو د پاسه یوه زانګو تړل کیده چې رنګا رنګ شالونه به ورباندې غوړیدلي وو او څلورو کسانو به وار په وار په اوږو وړله. پیسه دارو او په اصطلاح آزاد خیالو خلکو به د باجوړ، جلال آباد او حتی کابل څخه مشهور سندرغاړي راوستل او ځوانو هلکانو به ګرد چاپیره نڅا ګانې کولې. ګیسونه او غټ غټ څراغونه به د دیرو او حجرو په میدانونو کې بل وو او د سګرټو او چلمانو لوخړې به پورته کیدې.
په ځینو ځایونو کې یو ناشنا عادت دا دی چې هلک ته اجازه نه ورکول کیږي د واده په لومړۍ شپه د ناوې خوا ته ورشي. ناوې هم د نژدی خپلوانو د جینکو سره ټوله شپه په ټوکو او خنداګانو رڼه کوي او له میره سره نه شي لیدلاې. د واده په لومړي سهار د هلک د کورنۍ ټول غړي د چای په مهال د مخ ښکاره کولو په دستوره کې راټولیږي. هر څوک د خپلې وسې په حساب ناوې ته نغدې پیسې په مخ کې ږدي او د هغې له لوري هغه تحفې ورکول کیږي چې د پلار له کوره یې له ځانه سره راوړې وي. د واده ورځ، د ناري ورځ بلل کیدله خو اوس د ولیمې په نوم یادیږي. پخوا به چې کله ماشوم پیدا شو او هغه به هلک وو، نو نژدې خپلوانو به هوایي ډزې کولې، ملا امام ته به یې ځانګړې تحفې ورکولې او د سنت ګرۍ او نوم ایښودلو مراسم به ترسره کیدل چې مریجې ورته وایي. خو په تاسف سره، کله چې خلک پوهه شي، زیږیدلی ماشوم جینۍ ده بیا خاموشي وي او خوشحالي نه په سترګو کیږي. خو داسې ښکاري چې دا د مودرن جاهلیت ناوړه دود، مزه مزه په بدلیدو دی، ځکه ډیر کله

لوښي د ځامنو څخه غوره او د مور او پلار تکيه وي.

## جنازه او د مړي خښول

الله تعالی فرمايي ( کلُّ مَنْ عَليها فَان وَ يبقَی وَجْهُ رَبَّک ذوالجلالِ والاکرامِ - ټول هغه څوک چې په دې مځکې کې دي، هغوئ به پو پناه شي او يواځی ستا رب به پاتې وي چې د جلال او عزت څښتن دی) ژوند يوه ډالۍ، يو ازميښت او يو الهي امانت دی. انسان که هر څومره ځواکمن، بی وزلی، مشهور، گم نامې، هستمن او نيستمن وي، يوه ورځ به خپله ارواه، د اراوو خالق ته سپاري. د ځينو مذاهبو پيروان خپل مړي سوځوي، ځيني يې په غارونو او سمڅو کې همداسې ثابت ساتي، څوک ورته ښکلې دريشي واغوندي او له ډيزاين شوي تابوت سره يې په خاورو کې خښ کړي. مسلمانان يې له غسل وروسته په درناوي سره په سپين کفن کې تاو او بيا يې لحد کې کيږدي. د اسلامي شريعت يوه ځانگړتيا دا ده چې څومره ژر ممکن وي، مړی بايد خاورو ته وسپارل شي. د مړي د غمرازۍ موده مازې درې ورځې ده، په دريمې خيرات کول او څلويښتي نه شته. د غم له مخې د مخ وهل، چيغې وهل او د گريوان څيريول مړي ته هيڅ گټه نه رسوي، ولې د ژوندو خپلوانو د گناه او ناشکرۍ نښه بلل کيږي چې له شريعت سره ټکر لري.

په کونړ کې سلفي او پنج پيري غورځنگونه چې د همدې کتاب په پيل کې ورباندی نسبتا تفصيلي بحث شوی، د ځينو منفي پايلو ترڅنگ، گڼ شمير ښه بدلولونه هم رامنځ ته کړي دي. پخوا به د اسقاط په نوم خلکو په قرض او حتی سود سره پيسې اخيستلې ترڅو په هديره کې په خوارو او مسکينو خلکو باندې وويشل شي. همدا رنگه د مړي کور به مجبور وو چې

دوه درې غوايان او سيرلي حلال کړي او راغلو ميلمنو او کليوالو ته ډوډۍ برابره کړي. له نيکه مرغه په کونړ کې دغه ناوړه رواج تقريبا له منځه تللی او هر څوک د خپل مالي استطاعت له مخې يو څه خير خيرات کوي او يا يې په عام المنفعه کارونو کې مصرفوي. په تيرو وختونو کې داسې پيښې هم رامنځته کيدلې چې ځينو خلکو به د مړي کور ته پيسې په پور ورکولې. هر کله به چې د پور ورکونکي، د پوروړي سره په کومه موضوع خوابدي رامنځته شوه نو د مړي کور ته به يې پيغور ورکاوه چې ستا مړی خو زما د پور په پيسو ښخ شوې دې !؟

**پای**

## سرچينې (مأخذونه)

١- د دې کتاب د محتوی په اړه، له ٢٦ اړونده اشخاصو سره ځما ټليفوني او مخامخ مرکې.
٢- د کونړ د ولايت مقام او د رسنيو څانګه
٣- د سيمه ييزو ارګانونو د خپلواکې ادارې رسمي ويبپاڼه
٤- د سرحدونو او قبايلو د چارو وزارت رسمي سايټ
٥- د کورنيو چارو د وزارت خبري بولټن
٦- يونيسف، د ختيځ زون د ٢٠٠٢م  کال روغتيايي او پرمختيايی راپور
٧- په جلال آباد کې د UNHCR د سيمه ييز دفتر کلنۍ ارزونه
٨- په کونړ کې د PRT خبري لنک
٩- په کونړ کې د کرهنې په اړه د ADAPT راپور (١٣٨٩ هجري لمريز کال)
١٠- وړيا ويکيپېډيا / Wikipedia
١١- وړيا ګوګل سرچ / Google Search
١٢- پښتنې قبيلې او شجرې (ډاکټر عبد اللطيف ياد طالبي)
١٣- تاريخ مرصع (أفضل خان)
١٤- د کونړ ولايت سياسي او قومي جوړښتونه (شاه محمود مياخيل)
١٥- غازي آباد (د يو محصل، رحمت قيوم ليکنه / تيسس)
١٦- د غازي مير زمانخان ژوند او مبارزو ته يوه لنډه کتنه (ډاکټر عبد

الرحمان زماني)
۱۷- سرگذشت من (سید شمس الدین مجروح)
۱۸- تاریخ مختصر افغانستان (پوهاند حبیبي)
۱۹- گورګاني اورنګ او د هند د نیمې وچې پښتانه نوابان (استاذ شهسوار سنګروال)
۲۰- بي، بي، سي / پښتو (د کونړ په هکله یوه څېړنیزه مباحثه)
۲۱- د ۸ صبح ورځپاڼه (د کونړ په کانونو تالان ګډ دی / راپورتاژ)
۲۲- د پیام افتاب سایټ (ځنګل او د هغه اقتصادي اهمیت / خسرو مومند)
۲۳- د ملي احساس جریده (د هیواد ځنګلونه د زرغون چاپیریال بنسټ دی/ فضل وزیر هیله من)
۲۴- کلید راډیو، FM,۸۸ (د کونړ امنیتي وضعیت)
۲۵- د پژواک خبري آژانس (د پوهنې او انتخاباتو په اړه څلور مختلف راپورونه)
۲۶- د باختر خبري آژانس (دوه امنیتي راپورونه)
۲۷- د تاند، روهي، دعوت سباوون، سپرغۍ او افغان جرمن آنلاین ویبپاڼې / سایټونه
۲۸- د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز (د کونړ مشهورې درې/ عبدالمالک ساپی)
۲۹- د آزادۍ راډیو (د کونړ د اوبو او امنیت په اړه درې بیلا بیل راپورتاژونه)
۳۰- د الجزیرې نړیوال ټلویزیوني چینل (جنګ او پرمختګ / څېړنیزه مقاله)

# لیکلړ


ښې چارې! ............................................. ع
یو څو ټکي............................................. ق
د کونړ د غرونو لړۍ ..................................... ت
د کونړ سمسور ځنګلونه ................................... خ
د ځنګلونو په اړه سپارښتنې ............................... أأ
کونړ او سیلانیان........................................ دد
د کونړ څپانده سیندونه ................................... وو
د کونړ پر سیند د بندونو، د نه جوړېدو لاملونه .................... حح
د کونړ پر سیند ۲۳ جوړ شوي پلونه .......................... نن
کونړ میشتي قومونه......................................... سس
د پښتنو سترې پنځه ستېې................................. عع
لومړی، کرلاڼي ............................................ عع
دوهم، غرغښت ............................................ عع
دریم، سړبن ............................................... فف
څلورم، بیټني............................................. فف

پنځم، غلجیان / لودیان ............................ صص
صافي (ساپي)............................... شش
ساپي کال.................................. ثث
مشواڼي.................................... غغ
شینواري .................................. ظظ
سالارزي................................... ببب
یوسفزي ................................... ججج
بابړ ...................................... ددد
ترکاڼي .................................... ددد
خلیل ...................................... ههه
سرکاڼي .................................... ووو
الکوزي.................................... ززز
ګګیاڼي....................................ححح
مومند (مهمند) ............................. ططط
ماموند .................................... ييي
ملاګوري.................................. ككك
بزرګ خیل .................................. للل
د کونړ سادات (پاچایان)...................... ممم
نابغه، سید جمال الدین افغاني................. سسس
سید شمس الدین مجروح ....................... ققق
پوهاند سید بهاء الدین مجروح................... ثثث
مستوره شال................................ ذذذ
سید فضل اکبر ............................... ضضض

د پشد سيدان ........................................ ظظظظ
سيد محمود پاچا ........................................ ظظظظ
سيد سردار پاچا ........................................ وووو
سيد جمال الدين حسني ........................................ حححح
سيد سکندر شاه فقيري ........................................ طططط
سيد سليمان شاه سعادتيار ........................................ طططط
انجنير سيد فريد الله فريد ........................................ كككك
ډاکټر خليل الله هاشميان ........................................ لللل
د اسلامپور او نرنگ سيدان ........................................ مممم
د خاص کونړ او وټه پور سيدان ........................................ عععع
د نورگل او بهسودو سيدان ........................................ صصصص
د څوکۍ سيدان ........................................ صصصص
په کونړ کې د پنج پيري او سلفي غورځنگونو بنسټگر ........................................ رررر
(شيخ جميل الرحمن) ........................................ رررر
د شيخ جميل الرحمن شهادت ........................................ خخخخ
له شيخ جميل الرحمن سره زما ليدنې ........................................ ذذذذ
پنج پيريان څوک دي؟ ........................................ غغغغ
آيا وهابيان، سلفيان دي؟ ........................................ بببب
د کونړ لوی ولسوالان او واليان ........................................ ههههه
د کونړ (۵۱۵) دولتي او خصوصي ښوونځي او تعليمي مرکزونه ........................................ ززززز
د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون ........................................ لللل
د کونړ کرهنيز او اقتصادي توليدات ........................................ نننن
په کونړ کې رسنۍ او مدني ټولنې ........................................ ففف

د کونړ ولایت د نفوسو څلور اټکلي شمیرنې.................قققق
د واکسینو د اداري انګیرنه او ارقام ..................ششششش
د حکومت رسمي احصائیه او شمیرنې..................... ثثثث
د کونړ ولایت د اداري واحدونو پیژندګلوي .....................ذذذذ
د ولایت مرکز، اسعد آباد ..............................غغغغ
غازي، میر زمان خان ..............................ججججج
محمد هاشم زماني..................................ححححح
ډاکټر عبد الرحمن زماني ...............................ییییی
د ډنډونو، ملک سید محمد ............................ممممم
وکیل، نعمت الله کریاب............................. ننننن
سناتور، رفیع الله حیدري............................. ننننن
خبریال، سید عبدالله نظامي ...........................سسسسس
د اسعد آباد مخور مشران ........................... ععععع
د کیرالې (کرهالې) غمیزه ........................ فففف
هغه چینار وچ وو!..................................ررررر
۲- اسمار.......................................تتتتت
د اسمار مشهور کلي ................................ثثثثث
قوماندان، ملک محمد زرین ...........................خخخخخ
وکیل، محمد هاشم مشواڼی.............................ذذذذذ
سناتور، سخي مشواڼی ..................................ذذذذذ
سېد آغا میاخېل...................................ضضضضض
شیر زمان صادق............................... غغغغغ
۳- چپه دره ..........................................ظظظظظ

د چپې درې مشهور کلي ........................ ظظظظظظ
د پیچ سلطان محمد خان ...............................أأأأأأأ
وکیل، سمیع الله خان صافی ......................... ججججججج
جنرال مطیع الله خان صافی ...............................ەەەەەەە
۴- ځوکۍ ................................................ ووووووو
د ځوکۍ او دیوه ګل غټ کلي ........................ ززززززز
چلس ....................................................... ححححححح
مولوي فقیرالله (صاحب الحق)...................... ححححححح
لوی څارنوال، عبد الهادي خلیل زی ........................كككككككك
حاجي جانداد خان صافی ...............................ننننننن
مولوي شهزاده شاهد ........................ سسسسسس
ډاکټر عطاء الله فیضي.................... صصصصصص
وړمه صافۍ.......................... صصصصصص
ډاکټر عبد الرشید جلیلي .................... ققققق
ډاکټر داود جنبش .................... ششششش
وکیل جاوید صافی ..................... تتتتتتت
بادام ظریفي فقیر ..................... تتتتتتت
د ځوکۍ او دیوه ګل درې مخه ور مشران .................... خخخخخخ
۵- خاص کونړ .................................... ذذذذذذ
د خاص کونړ غټ او مشهور کلي ..................... ضضضضضض
ډاکټر محمد کبیر ستوری ........................ ظظظظظظ
قاضي، عصمت الله روحاني .........................أأأأأأأأ
د منګوال میاعلي صیب..........................ججججججج

شاه محمود میاخیل ........................ ججججججج
د خاص کونړ نور مشهور خلک ........................ ههههههه
٦- دانګام ........................................ حححححححح
د دانګام مخور مشران.................................. حححححححح
د دانګام غټ کلي ........................................ طططططططط
٧- سرکاڼو ........................................ يييييييي
د شونکړۍ دره........................................ ككككككككك
د سرکاڼو مخور مشران ........................................ للللللل
د سرکاڼو میا صاحب ........................................ نننننننن
ولسوال، نور ستار درانی ........................................ سسسسسسس
وکیل، عصمت الله خان درانی ........................................ عععععععع
څارنوال، عبد الشکور الکوزی ........................................ عععععععع
٨- د شلتن ولسوالي ........................................ فففففف
د شلتن مشهور ملکان او سپین ږیري........................................ ققققق
٩- شیګل ........................................ ررررررر
د شیګل مشهور کلي ........................................ ششششششش
حاجي کشمیر خان........................................ ثثثثثث
وحید الله سباوون ........................................ ذذذذذذ
ډاکټر محمد ابراهیم شینواری ........................................ ضضضضضضض
جمال الدین سیار ........................................ غغغغغغغ
د شیګل یاد مشران ........................................ ظظظظظظظ
١٠- غازي آباد ........................................ ظظظظظظظ
د غازي آباد مشهور کلي ........................................ ببببببب

د څونک غازي ........................... جججججججج
د چترال شاهزاده، عبد الملک جلالا خان ................. دددددددد
شجاع الملک جلالا ............................. وووووووو
د جلالا مرستندویه خیریه ټولنه ........................ حححححححح
عبدالله غمخور ................................ طططططططط
څېړنپوه، عبدالقیوم زاهد مشوانی ......................... لللللللل
ډاکټر محمد یونس بارګامی ............................. مممممممم
د غازي آباد ځینې مخور مشران ......................... نننننننن
۱۱- ماڼوګې (پیچ دره) ........................... نننننننن
د ګوړنګل دره ................................. سسسسسسسس
د شوړیک دره .................................. عععععععع
د ماڼوګي مشهور کلي ............................. فففففففف
د ماڼوګي مشهور خلک ............................. صصصصصصصص
میر اعظم خان صافی ............................. قققققققق
میرزا فضل رحمن صافی ............................ قققققققق
ډاکټر اسد الله فضلي ............................. تتتتتتتت
ډاکټر شمس الرحمن توره کی ........................... ثثثثثثثث
حاجي میا حسن عادل .............................. خخخخخخخخ
سناتور، صالح محمد صالح ........................... ذذذذذذذذ
عطاء الله فضلي ................................ ذذذذذذذذ
امیر، شاه ځلمی ................................ ضضضضضضضض
محمد طاهر شرر صافی ............................. ضضضضضضضض
شفیع الله تاند ................................ ظظظظظظظظ

۱۲- مره وره .................................................. أأأأأأأأأأ
د مره ورې مشهور کلي ............................ببببببببب
مولوي، حمد الله جان ماموندزی ........................ دددددددددد
حاجي سیفور (سیف الرحمن ماموند) ............................ززززززززز
حضرت رحمان ماموند.............................. ططططططططط
محمد ادریس ماموندزی..............................ككككككككك
فرید ماموندزي ............................................. مممممممممم
۱۳- ناړۍ ...................................................... مممممممممم
د ناړۍ مشهور ولسي مشران.......................... عععععععععع
د ناړۍ غټ کلي .............................................. عععععععععع
ساو او ساوجي ژبه ........................................ عععععععععع
محمد نواز حقیقت سانین ............................. ففففففففف
۱۴- نرنگ او باډیل.................................... صصصصصصصصص
د باډیل دره.................................................. ققققققققق
د باډیل درې مشران ..........................................ثثثثثثثثث
قاضي مهتاب گل صافی .......................................... ذذذذذذذذذ
ځارنوال عبد الرزاق صافی ............................... غغغغغغغغغ
ځارنوال لطف الله صافی............................... ظظظظظظظظظ
پوهاند عبد الحق ایمل ................................... ظظظظظظظظظ
وکیل، غلام محمد صافی .................................. ببببببببب
انجنیر، عبد الوکیل متین ........................................ هههههههههه
پوهاند محمد صدیق رازقي نږیوال.................................. وووووووووو
حبیب خان ....................................................ززززززززز

حاجي محمد حنيف شهباز خيل.........................ححححححححححح
ډاکټر شېر حسن حسن ..........................ططططططططططط
شاعر، ممتاز ارمان ...........................ييييييييييي
د نرنګ ولسوالۍ ياد مشران......................... ككككككككككك
ملکزي څوک دي؟ .................................. ممممممممممم
د قلعټک ملکزي .............................. ععععععععععع
د نرنګ ملکزي..................................ففففففففففف
قاضي غلام حيدر ملکزی .................................. ررررررررررر
استاد محمد امين ملکزی.......................... تتتتتتتتتتت
محرر محمد عمر ملکزی.......................... ثثثثثثثثثثث
حقوق پوه، عبد القيوم بزګر (ملکزی) .....................خخخخخخخخخخخ
حاجي فضل محمد ملکزی.................................ذذذذذذذذذذذ
څارنپوه، کليم الله ملکزی .............................. غغغغغغغغغغغ
عبد القادر ملکزی ...............................ظظظظظظظظظظظ
ډاکټر فريد بزګر (ملکزی) .............................. أأأأأأأأأأأ
محمد طارق بزګر (ملکزی) ......................ببببببببببب
سميع الله ملکزی ................................ ددددددددددد
۱۵- نورګل او مزار دره ................................ ههههههههههه
د نورګل او مزار درې غټ کلي.......................... ززززززززززز
اريت او شوماش .......................................... ززززززززززز
د نورګل او مزار درې مشهور شخصيتونه...........ططططططططططط
عبد الوهاب صافی ............................ططططططططططط
مفتاح الدين صافی............................ططططططططططط

شمس الهدی شمس........................ يييييييييييي
محمد اکبر کرګر........................كككككككككككك
زرغونه کرګر..................................مممممممممممم
ډګر جنرال عبد الله حبيبي ..............نننننننننننن
پوهاند، ډاکټر فريد سينزی .............نننننننننننن
د نورګل او مزار نور ياد شخصيتونه ........ عععععععععععع
۱٦- وټه پور ..................................... عععععععععععع
د وټه پور غټ او مشهور کلي.......صصصصصصصصصصصص
د وټه پور ټولنيز او سياسي مشران ..صصصصصصصصصصصص
وکيل محکم خان.................. شششششششششششش
پوهاند رسول امين ............................ ثثثثثثثثثثثث
پوهاند محمد قاسم جمدر...........................ذذذذذذذذذذذذ
تاج محمد اکبر ............................ضضضضضضضضضضضض
ډاکټر غلام رسول اکبر .......................... ظظظظظظظظظظظظ
سناتور، عبد الخالق اخلاص ........................ ظظظظظظظظظظظظ
د کونړ مرستياله والي، بريښنا شيرزی...................جججججججججججج
خبريال، ذبيح الله غازي..................................دددددددددددد
ډاکټر جمال الدين اسحاق ....................................هههههههههههه
سميع الله تړون.............................................. وووووووووووو
د وټه پور، نور ياد مشران .......................................زززززززززززز
کونړي دودونه او کليوال رواجونه .........................حححححححححححح
ميلمه پالنه: ............................................ لللللللللللل
ناغه: ................................................... لللللللللللل

تیره ایښودل: ........................................ لللللللللللل
بدل: ......................................... مممممممممممم
برمته: ......................................... مممممممممممم
نواتې: ................................... نننننننننننن
چېغه: .........................سسسسسسسسسسسس
اشر (ګډ کار): ................................. عععععععععععع
سپورتي لوبې ..................فففففففففففف
موسیقي او سندریز هنرونه......صصصصصصصصصصصص
ګلنار بېګم ...........................................ققققققققققق
ګلا جان استاذ.................................... رررررررررررر
واده او د پیغلې خوښول.................... تتتتتتتتتتتت
جنازه او د مړي خښول ..........ضضضضضضضضضضضض
سرچینې (مأخذونه) ..............................ظظظظظظظظظظظظ